
مکمل و مدلل

د قرآن او حدیثو په رڼا کښې

د مسجد ونو مسئلې

(له عیدگاه سره)



مؤلف
مولانا رفعت قاسمی
مدرس دار العلوم دیوبند



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

دکتاب ځانګړتیاوې :-

دکتاب نوم	دمسجدونو مسئلې
مؤلف	مولانا رفعت "قاسمي"
پښتو کوونکی	عبدالله ګل ريان
دچاپ کال	۱۳۸۵ هـ ش
دچاپ شمیر	۱۰۰۰ ټوکه
دوهم چاپ	۲۰۰ ټوکه
کمپوز اوډیزائن :	نورالقرآن علمي اداره
کمپوزر	عبدالله " عزام "
اصلاح اوسمون :	ابو خالد مولوي عبدالاحد
ډیزائنر	. محمدالله "وفا"
خپرونکی	: محمد ساجد دګرخنده تليفون شميره(۰۳۳۳-۷۸۲۵۴۸۴)

فهرست

فهرست

سرلیک	مخ

ر لیک — مخ

سرلیک

سرلیک	مخ

سرليک

فهرست

سرلیک	مخ

سرليک مخ

فهرست

سرلیک | مخ

فهرست


سرلیک | مخ

فهرست

سرلیک	مخ
دمتولی دندې	۲۳۲
که متولی په خپله خپل نوم ثبت کړي	۲۳۷
غیرمسلم متولی کیدل	۲۳۷
لمونځ نه کوونکی متولی کیدل	۲۳۸
آیا متولی به دوقف کوونکي له کورنی ځخه	۲۳۸
دمسجد اضافه عوائد د وقف کوونکي اولاد ته	۲۳۹
دمسجد په تولیت کښې وراثت	۲۴۰
که متولی د واقف دشرائطو خلاف عمل وکړ	۲۴۱
دمتولی واک او اختیار	۲۴۱
دمتولی دلیرې کولو اسباب	۲۴۱
منتظم له مسجد ځخه معاش اخستلای شي	۲۴۲
دمتولی تبدیلول	۲۴۲
دمسجد بانی (جوړوونکی)	۲۴۳
په خپلو پیسو جوړشوی مسجد خپل بلل	۲۴۴
متولی ته دمسجد دشیانو د استعمال حق	۲۴۴
که دمتولی خیانت ثابت شي	۲۴۵
که متولی امام نوکر وګنې	۲۴۶
دمتولی او مام مرورتیا	۲۴۶
متولی دمسجد پیسې معاف کولای شي ؟	۲۴۷
که متولی امام ته تر وخت وړاندې معاش ورکړي	۲۴۸
که عوائد هم زیات وو خومتولی،	۲۴۸
متولی او دوقف خرځول	۲۴۹
که متولی خلک له مسجد ځخه منع کول	۲۵۰
په مسجدونو کښې له لمونځ کولو ممانعت	۲۵۰
دعیدګاه په نوم دمسجدونو بل نظام	۲۵۳
داخترونو داجتماع اهمیت	۲۵۴
ملکي او دیني کارونه	۲۵۵
دتبلیغ او د دیني احکامو	۲۵۵
دمسجد او عیدګاه ترمنځ فرق	۲۵۶

سرلیک

مخ



دنورالقرآن اداري یادښت

محترمومسلمانوورڼو! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دمسجدونو مسئلې دوهم خل تصحیح شواودا دي اوس ددوهم خل لپاره چاپ شو اوتاسوته زیری درکوو چې دمولنارفعت قاسمی صاحب اتلس کتابونه زموږ دنورالقرآن اداري دکمپوز اوترجمې ترپړاو تیرشو اوس ني له چاپه وروسته چې ځینې غلطي پکښې پاته وي دادي اوس ددوهم خل لپاره له چاپه وروسته تصحیح کیږي چې انشاء الله تاسوئي ښه په اطمنان کتلای شئ اوهمداسې داټول کتابونه ترتصحیح لاندی دی چې ژربه انشاء الله ټول کتابونه همداسې تصحیح شي.

چې ددې کتابونو دچاپ لړۍ دمکتبه رشیدیه سرکی روډ په واک کې ده اوکه دکومې بلې اداري لخوا چاپیږي هغه زموږ د داړې لخوانه بلکه شاید زموږ دترجمې نقل به وي.

دنورالقران اداري خادم

ابوخالدمولوی عبدالاحد «مجروح»

ضروري یادونه :


یوازې لوی خدای ﷻ هغه ذات دی چې .
ټول کارونه ئې په پوره معنی بشپړ او
مکمل دي خوانسان هغه ناقص او بې توانه
موجود دی چې هیڅ یو کار ئې هم بې
نمګړتیا نه وي.
ګرانو لوستونکو ! که تاسو ته دلیکنې .
تصحیح . چاپ . جلد سازي او دارنګه په
هره برخه کې کومه غلطي په نظر درغله
دمهرباني او بشري تقاضا له مخې یې مونږ
ته زمونږ په نمبر یاادرس خبر راکړی. ترڅو
په دوهم چاپ کښې ئې اصلاح کړو. او تاسو
ته لوی خدای ﷻ اجر اوثواب درکړي .

د مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه لخوا
فون: 081- 266223
موبائیل: 0333- 7825484

دليكوال سريزه

حمده ونصلی علی رسوله الکریم

ه ديني حكمونو او مسئلو كښي. داحقر ډير كتابونه خپاره شوي دي هغه
ه خاص او عامو خلكو كښي مقبول هم دي او س الحمد لله. دمؤلف
پارسم كتاب (دمسجدونو او عيدگاه مسئلي) ستاسو په وړاندي دي. په
ي كتاب كي دمسجدونو او عيدگاه داړوند حكمونو او مسئلو
راټولولو په هكله هڅه شوي ده. په هغوئ كښي لكه: قبضه شوي ځمكي.
هديه ځمكي، دوران شويو مسجدونو دځمكو احكام راغلي دي
مسجدونو نار وا قبضه، دهغوئ ورانول. هغوئ ته زيان رسول يا دمسجد
په ځمكه دنورو شيانو جوړول روادي او كه نه؟
مسجدونو متولي، مشر او غړي څوك كيدلاي شي او دهغوئ شرعي اختيارات
څه دي؟
مسجدونو دامامانو او خطيبانو حقوق او فرائض څه دي؟
لنډه داچي دمسجدونو او عيدگاوو په هكله مي نژدي يو زر مسئلي،
دخداى ﷻ په فضل، ددیوبند ددارالعلوم په بركت اودهمدي مركز
داستاذانو اومفتيانو په پاملرنه راټولي كړي دي. الله ﷻ دي دډير وخت
لپاره دهغوى دمهرباني سيوري له ښي روغتياسره ولري. الله ﷻ دي
داكتاب هم دنورو په څير مقبول وگرځوي ترڅوراته داخرت توښه وي. الله
ﷻ دي په راټلونكي كي هم دكار اوخدمت توفيق راكړي (امين)
دلوستونكو له تېنگاره سره، سره دكتاب ليكل اوچاپ كول، زما دمشر
ورور محمد اسعد صديقي دناڅاپي مړيني له امله وځنډيدل. نوموړي د۱۴۲۱
كال دربيع الاول په نهمه نيټه (۱۳ جون ۲۰۰۰) دزړه ددريدلو له امله وفات
شو. له لوستونكو څخه مرحوم ورور ته ددعا په هيله يم.
دعاغوښتونكى



ددیوبند ددارلعلوم دتدریس خادم

د۱۴۲۱ ه ق کال دشوال المکرم پنځمه نیټه

دجنوري لومړي ورځ ۲۰۰۱ م

ددیوبندددارالعلوم دسترمحدث،فقیه النفس حضرت مولانا مفتي سعیداحمد مدظله پالنپوري

تقریظ

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد!

مساجد دالله تعالی کورونه دي. یعني محترم ځایونه دي ځکه هلته دالله تعالی عبادت کیږي. له همدي ځایه دلارښووني انوار پیداکیږي اودکلیو دهستوګنو زړونو ته خپرېږي. دنور دسورة په ۳۸،۳۵ ایتونو کښي، په دي هکله تفصیل راغلي دي.

مسجدونه دالله تعالی شعائر دي ، یعني دالله تعالی ددین غوره بیلګي دي .له مسجدونو څخه دملت پیژندنه کیږي دهغوئ درناوي اوادب ساتل په هر مسلمان لازم دي.

دمسجدونو ادب څه دي ؟ دهغوئ ادب څرنګه وساتل شي ؟ دایوه پراخه موضوع ده په قران کریم ، حدیث اوفقهي په کتابونو کښي دمسجدونو بي شمیره احکام بیان شوي دي په کتابونو کي راغلي دي. په عربي او اردو ژبو ځیني رسالي هم پکښي لیکل شوي دي. خوزموږ محترم دوست جناب مولانا قاري محمد رفعت قاسمي صاحب په قران کریم ،دحدیثونو په کتابونو ،فقه اوفتااوو کښي څیړنه کړي اوستره ذخیره یي راټوله کړي ده. لکه څرنګه چي دهغه طریقه ده چي دهري خبري حواله لیکي ، په دي کتاب کي یي هم داهوډ کړي دي چي کومه خبره پکښي له حوالي پرته نه وي.


ماچي کله دکتاب پرمظامینوباندی نظرواچاوو خوشحاله سوم چي ټول ضروري مسائل پکښي راغلي دي.
الله تعالی دي داکتاب قبول کړي او دنوموړي دنورو کتابونو په خیر دي ګټور وګرځوي (امین) ددیوبند ددارالعلوم دخادم سعید احمد (عفاالله) پالنپوري لیکنه.

ددیوبند ددارلعلوم دمفتي ،ددارالعلوم دفتاواوو مرتب ، حضرت مولانا مفتي محمدظفیرالدین صاحب دامت برکاتهم

تصدیق

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی وصحبه اجمعین ــ

امابعد!
مولانا قاري محمدرفعت قاسمي صاحب ، ددیوبند ددارالعلوم مدرس په مختلفو مسئلو کښي په لس ګونو کتابونه ترتیب کړي اوچاپ کړي دي ټول کتابونه یي په خاصو اوعام خلګو کښي مقبول دي . دواړو طبقو ورڅخه ګټه اخیستي ده .
دامهال دنوموړي یو نوي کتاب د(مسائل مسجد) په نوم لیکل شوي دي په لیدلو یي زړه خوشحاله کیږي . دډیرو مسئلو دراټولو هڅه یي پکښي کړي ده او تر ډیره حده پکښي بریالي دي . دیادولو وړخبره داده چي دټولو هغو مشهورو فتاواوو څخه یي ګټه اخیستي ده چي دباوري مفتیانوله لوري چاپ شوي دي . په فتاواوو کښي چي دمسجدونو په هکله څومره




مسائل راغلي دي ، ټولي ټولي یي راټولي کړي دي . لوستونکوته به پکښي خورا اساني وي .

ماپه مختلفو ځایونو کښي دامسئلي وکتلي ،ماشاءالله ډیرزیار یې پکښي ګاللي دي ، الله تعالی دي داخدمت قبول اوداخرت توښه دي ورته وګرځوي . هیله ده متدین مسلمانان داکتاب له ځان سره ولري ترڅو یې دا ړتیا په وخت کي په درد وخوري . زه له خپله لوري ،نوموړي ته مبارکي وایم خدای تعالی دي وکړي څو همدالړۍ همداسي جاري وي .

ددعاغوښتونکي ،محمدظفیرالدین غفرله

ددیوبند ددارالعلوم مفتي

۱۲،۱۴۲۱،۱۳ هـ ق



دديوبند ددارالعلوم دمفتي . دحضرت مفتي عزيزالرحمن (رح)
دلمسي ،حضرت مولاناكفيل الرحمن (نشاط) . عثماني صاحب

ارشاد

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله ، دمولانا محمدرفعت صاحب چي دديوبند ددارالعلوم استاذ دي ، په مختلفو موضوعاتو كښي يي پنځلس كتابونه چاپ شوي دي . په هره موضوع كښي يي مسائل داسي راغونډ كړي دي چي لوستونكي ته دااړتيا نشته چي ډير كتابونه وګوري يا ډير وخت مصرف كړي بلكي په ځو دقيقو كښي كولاي شي خپل مطلوبه مسئله ومومي اوځان ورباندي داډه كړي . په دي تركتلو لاندي كتاب كښي ، دمسجدونواوعيدګاه په هكله نژدي ټولي مسئلي راغلي دي . اوپه ښه سليقه يي ضروري مسائل راټول كړي دي . مااحقر دنوموړي مرتب په غوښتنه دبشپړ كتاب مسوده وكتله اوګټه مي تري ترلاسه كړه .اوس ترمطالعي وروسته په ډير باور او ډاډ سره پوهيږم چي انشاء الله دنوموړي همداهڅه به ، خاص اوعام خلګو ته خوراګټوره وي . په دي ترڅ كښي يي دمسجدونو دعظمت اواهميت په هكله هم ډير معلومات ترلاسه كيدلاي شي .

زما دعاده چي الله ﷻ دي دكتاب ترتيب كوونكي داجر په وركړه ونازوي اوداتأليف دي هم دنورو تأليفاتو په څير مقبول وګرځوي . امين يارب العالمين

كفيل الرحمن نشاط عثماني ١٢ ذى الحجة ١٤٢١ ه ق

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَـٰئِكَ أَن يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ

دتفسيرلنډيز: دمسجدونو ودانول دهغو خلگو کار دي چي په الله تعالی اودقيامت په ورځ ايمان لري. دلمونځونو پابندي کوي او زکات ورکوي، پرته له الله تعالی له بل چاڅخه نه ويريږي نواميد دي همداخلگ په خپلو مقصدونو کي بريالي شي

مطلب دادي، هغه څوك مسجدونه ودانوي چي په عقيده اوعمل کښي دالهي احکامو تابعيت لري، په اخرت ايمان لري دلمونځواوزکوة پابندي لري له الله تعالی څخه پرته له چاويره نه لري.

دلته په الله تعالی اودقيامت په ورځ دايمان يادونه شوي ده خو په رسول الله ﷺ باندي دايمان يادونه شوي نه ده په اصل کي که څوك په الله تعالی ايمان لري، هغه بله لاره نه لري چي په رسول باندي بي باور نه وي. که دالله تعالی ايمان له زړه منل کيږي نويه فطري ډول په الله تعالی باندي دايمان سره په رسول ﷺ باندي ايمان شامل دي.

رسول الله ﷺ يوه ورځ له صحابه وو څخه وپوښتل دا تاسو پوهيږي، په الله تعالی باندي ايمان درلودل څه شي دي؟ "صحابه وو عرض وکړ: الله تعالی اورسول ﷺ ورباندي ښه پوهيږي

رسول الله ﷺ وفرمايل «په الله تعالی ايمان دادي چي انسان داشهادت ورکړي چي پرته له الله تعالی بل څوك دعبادت وړنه دي اوداچي محمد ﷺ دالله تعالی رسول دي»

ددي مبارك حديث څخه ښکاره کيږي چي په رسول باندي ايمان، په الله تعالی باندي په ايمان کښي شامل دي. (مظهري دصحيحين ۇ په حواله).



ددي ايت ځيني اړوند مسئلي

داچي دمسجدونو دودانول په اړوند اياتونو کښي ښودل شوي دي چي داکار مشرك اوکافر کولاي نشي بلکي دادنيك مسلمان کار دي مطلب پکښي دمسجدونو سرپرستي اوانتظام مسئوليت دي.
حاصل دادي چي کوم کافر داسلامي وقف متولي ، منتظمه اواداره کوونکي کول روانه دي. څو که د در اوديوال يادظاهري جوړښت کار غير مسلم شخص وکړي نو کومه خبره نشته (دمراغي تفسير).
همداشان که کوم غير مسلم کس داثواب وګڼي ، مسجدونه ودان کړي يا دمسجد دودانولو لپاره مسلمانانو ته مرسته ورکړي ، دهغي مرستي منل ته دي صورت رواده چي دبيا لپاره پکښي زيان نه وي ، دقبضي يااحسان اچولو ويره پکښي نه وي. «رد المحتار - شامي ، مراغي» داچي په دي آيت کښي دمسجد ودانول يوازي دصالح مسلمان کار بلل شوي دي. داځرګنده وي چي کوم شخص دمسجد دساتني ،پاکولو يانورو ضرورياتو خيال ساتي يادعبادت دالله تعالى دذکر، دنبي زده کړي اويادقران دتلاوت لپاره مسجد ته راځي. دده داکړه وړه دهغه دبشپړي ايمانداري شاهدان دي.
امام ترمذي اواما م ابن ماجه دابوسعيد خدريؓ په روايت رانقل کړي دي چي: (رسول الله ﷺ فرمايي: که تاسو څوك وليدچي هغه مسجد ته دتللو پابند دي. دهغه دايمان شاهدي ووایاست. ځکه الله تعالى فرمايي «إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ» دصحيحن وو په حديث کښي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: «هغه څوك چي سهار اوبيګاه مسجد ته راځي. الله تعالى ورته دجنت يوه درجه برابره وي.»

سلمان فارسي ﷺ روایت کوي چي رسول الله ﷺ فرمايي « څوك چي مسجد ته راځي ، هغه دالله تعالی زيارت کوونکي ميلمه دي . په کورني داحق دي چي دميلمه عزت وساتي » (مظهري دطبراني ، ابن جرير اوبهيقي په حواله) .

دقران مفسر قاضي ثناء الله پاني پتي (رح) وايي دمسجد په ودانولو کښي داهم راځي چي مسجد دهغه څه پاك کړي دکومولپاره چي جوړشوي نه دي لکه . پيرل پلورل ، دنيايي خبري ، دورك شوي شي پلټنه ، ددنيا شيانوله خلگو څخه غوښتنه . عبث اشعار ويل ، جگړه ، شروشور ، اونور....

(مظهري معارف القران څلورم ټوک ۳۳۱)

دمسجدونو اهميت اوعظمت

داچي په لمانځه پوري ستر. ستر مقصدونه تړلي دي دهغوئ دتحصيل اوبشپړتيا لپاره دالازمه ده چي دلمانځه لپاره اجتماعي نظام هم وي . په اسلامي شريعت کښي دانظام دمسجد اوجماعت په بڼه جوړشوي دی. که څ ك په غور سره وگوري، پوهيږي چي دامت ددينې زندگي په جوړښت،تنظيم اوتربيت کښي مسجد اوجماعت ځومره دخيل دي . له همدي امله رسول الله ﷺ له يوه لوري په جماعت سره په لمونځ کولو خورا تاکيد کړي دي اوپه پريښودلو يي سخته ناخوښي ښودلي ده له بلي خوا بي دمسجدونو په اهميت تاکيد کړي دي، چي تر کعبة الله وروسته يي مسجد چي هغه هم دخدای ﷺ کور بلل کيږي ديني مرکز ښودلی دي دالله ﷺ په نزدي دمسجد عظمت اومحبوبيت اودمسجد برکتونه ښودلي دي . رسول الله ﷺ امت ترغيب اوتشويق کړی دي چي که صورتا کله هم چيري وي دزړه او روح توجه مسجد ته واړوی . همدا راز يي دمسجدونو دحقوقو اواداب ښودنه هم کړي ده

ابو هريرة ﷺ وايي (قال رسول الله ﷺ احب البلاد الى الله مساجدها وابغض البلاد الى الله اسواقها) (رواه مسلم)

(رسول الله ﷺ وفرمايل تر ښارونو (اوكليو) الله ﷻ ته مسجدونه گران دي او ترټولو (ښارونه) ورته مبغوض (غضب كړى شوى) بازارونه دي.)

تشريح : دانسان دژوند دوه اړخونه دي. لومړى ملكوتي اوروحاني چې نوراني اولطيف اړخ دي اوبل مادي اوحيواني لوري چې تياره اوكثيف اړخ دي.

دروحاني اړخ تقاضا دالله ﷻ دعبادت اوذكر په څير سپيڅلى دندي اوكارونه دي. په همدى دا اړخ بشپړ كيږي اوبيا انسان دخداى ﷻ دخاص رحمت اومحبت وړگرځى.

دا همداسي ځانگړو اوسپيڅلو كړو وړو مركزونه، مسجدونه دي. هغوئ چې په ذكر اوعبادت ودان وي. له همدي وجهي ورته ((بيت الله)) له ويلو سره څه مناسبت لري.

له همدي امله الله ﷻ ته تر ښارونو اوكليو گران اوخوښ مسجدونه دي.

بازارونه دخپلي موضوع په لحاظ،دانسانانو دمادي اوحيواني غوښتنو دپوره كولو مركزونه دي. هلته تلل انسان له خداى ﷻ څخه غافل كوي. دهغه ځاى فضا دغفلت، منكراتو اوگناهونو له امله تياره اومكدره وي. له همدي امله الله ﷻ تر نورو ودانيو همداځايونه مبغوض اوناخوښه دي.

ددي مبارك حديث روح اومنشأ داده چې دايمان څښتنان له مسجدونو سره زياتي اړيكي ساتي اوبازارونو ته يوازي دضرورتونو دپوره كولو لپاره ځي، زړه ورسره نه نژدي كوي اوله درواغو خطا ايستلواوبيديني څخه پكښي ځان ساتي.له همدي پابنديو سره دبازار تللو اجازه شته آن

رسول الله ﷺ دداسي سوداګرانو لپاره دجنت زيري کړي دي چي له امانت اوديانت سره تجارت کوي.

دا داسي دي لکه له بيت الخلاء سره، چي خورا ناولی ځای دی انسان تعلق ساتي ځکه انساني اړتيا لري،که هلته په تللوراتللو کښي هم ديني احکام مراعات شي ورته دثواب هيله کيږي.

(معارف الحديث دريم ټوک ۱۷۱ مخ، حجة الله البالغه ۳۰۲ مخ اومظاهر حق لومړی ټوک ۵۹۵)

چيري چي دمسجداړتياوي هلته يي دودانولو اجر

مسجد دخدای ﷻ کور او داسلام ديوي ستري فريضي د اداء کولو مرکز دي دلمانځه لپاره دټولي ځمکي مخ دسجد ځای دي خو اجر اوثواب ،حکمت اومصلحت يي په مسجد کښي په جماعت سره په اداء کولو کښي ډيرذي .له همدي امله رسول الله ﷺ دمسجد دودانولو اجر اوثواب اودهغه اداب اوشرائط په تفصيل سره بيان کړي دي.

دليکوال داخبره (چيري چي دمسجد اړتيا وي) يوه مهم حقيقت ته اشاره ده دمسجد دودانولو اجر خو زيات دي اما که څوک له بل مسجد سره خواکښي مسجد ودانوي داشوق يي بي محله مصرف دي دمسجد ودانول هلته غوره دي چي ورته اړتيا وي) .

دعمر ﷺ دخلافت په موده کښي چي به کومي سيمي فتح شوي اودمسجد دودانولو اړتيا به محسوس شوه. عمر ﷺ به داسي حکم صادرکاوو :
((په يوه ښار کښي داسي دوه مسجدونه مه ودانوي چي يوبل ته زيان ورسوي))

(دکشاف تفسير .لومړی ټوک ۱۰۸ مخ .دمشکوة شرح مرقاة لومړی ټوک ۴۵۹).

له عثمان ﷺ څخه روايت دی وايي : { سمعت رسول الله ﷺ من بني مسجدايبتغی به وجه الله ، بنی الله له بيتا فی الجنة } (رواه البخاري ومسلم) .

(رسول الله ﷺ وفرمایل څوك چي مسجد ودان كړي.په هغه كښي يوازي دالله ﷻ رضا وغواړي ،الله ﷻ به ورته په جنت كښي (ښكلي) مانۍ جوړه كړي)
علامه طيبي وايي : په دي حديث شريف كښي بيتاً په كلمه كښي تنوين دزياتوالي اوتعظيم لپاره دي .
(مرقاة شرح مشكوة لومړی ټوک ۴۴۹ مخ)
ابي ذر ﷺ وايي :(قال رسول الله ﷺ من بنى لله مسجدا قدر مفحص قطاة بني الله له بيتا فى الجنة) - (رواه البزار واللفظ له والطبراني فى الصغير ورجاله ثقات وابن حبان فى صحيحه)
(الترغيب ومجموع الذوائد ۲ټوک ۷مخ وتخريج العراقى على الاحيا۱ټوک مخ۱۴۵)
(له ابوذر ﷺ څخه روايت دي وايي (رسول الله ﷺ فرمايي : كه څوك دخداى ﷻ درضا لپاره دمفحص قطاة (دكرك دځالي) په اندازه مسجد ودان كړي.الله تعالى به ورته په جنت كښي ښكلي مانۍ جوړه كړي)
عمر ابن الخطاب ﷺ وايي: (سمعت رسول الله ﷺ يقول من بنى لله مسجدا يذكر فيه ، بني الله له بيتا فى الجنة- (رواه ابن ماجة وابن حبان في صحيحه)
(له رسول الله ﷺ څخه مي واوريدل ويل يي كه څوك دالله ﷻ لپاره مسجد جوړ كړي چي پكښي دالله ﷻ ذكر (عبادت) كيږي ،الله ﷻ به ورته په جنت كښي (ښكلي) مانۍ جوړه كړي .
تشريح : څوك چي الله ﷻ ته كور (مسجد) جوړ كړي الله ﷻ به هغه ته كور جوړ كړي . څرګنده ده چي هريو يي له خپل حال سره سم جوړه وي .بنده به يي دخپل وس برابر جوړه وي .او احكم الحاكمين ذات به يي دخپل شان برابر جوړ وي .

داحمد په مسند کښې یوروایت افضل منه (ترهغه غوره) اوپه بل روایت کښې اوسع منه (ترهغه پراخ) الفاظ راغلي دي
(الترغيب، ومجمع الزوائد ۲ ټوک ۷.۸ مخونه)
نو په دي کښې دشك ځای نه پاته کیږي چي دهر عمل ثواب لس گونه ورکول کیږي. دیوه مسجدبدل به لس مانۍ څرنگه نه وي.
دمفحص القطاة له اندازي څخه مطلب مبالغه ده. یعني دخورا واړه مسجد په جوړولو کښې هم ورته اجر اوثواب رسیږي. خو ددي حقیر په خیال کښې داسي راځي چي ددي خبري مصداق دادي دیوه مسجدپه ودانولو کښې ډیر کسان گډون وکړي اوځیني بې وزله خلگ په خوراکمه اندازه پکښې مرسته ولري چي دهمدي کمي برخي دودانولو معادل وي معني داچي که هرڅومره مرسته پکښې وکړي داجر اوثواب مستحق دي.
دابن ماجه اوابن خزیمه په روایتونو کښې دمفحص قطاة اواصغر) الفاظ راغلي دي. یعني دکرك دهگۍ داچولو دځاي په اندازه یاترهغه هم وړوکي دعمر﵁ دحکم له روایت څخه ځرگندیږي چي مسجد دي هلته ودانیږي چیري چي ورته اړتیاوي
ابی هريرة ﵁ وايي: (رسول الله ﷺ وويل: ان مما يلحق المؤمن من عمله وحسناته بعدموته علماًعمله ونشره او ولداً صالحاً تركه اومصحفاً ورثه اومسجداً بناه اوبيتاً لابن السبيل بناه اونهراً اجراه اوصدقة اخرجها من ماله فى صحته وحياته تلحقه من بعد موته.
(رواه ابن ماجه باسناد حسن واللفظ له وابن خزيمة فى صحيحه والبيهقي)
ژباړه: (رسول الله ﷺ وويل. هغه اعمال چي ثواب يي دانسان ترمړيني وروسته پاته وي، په هغوئ کښې علم دي. چي نورو ته يي ښيي اوخپروي يي. یا ورڅخه نیك اولاد پاته شي. یا ﵁ (چي دخپلوانو او نورو خلگو

دتلاوت لپاره تري پاته شي، يا يي مسجدودان کړي وي يا يي دمسافرينو لپاره مسافر خانه ودانه کړي وي يا يي کوم نهر کندلي وي يا په خپله له خپل مال څخه صدقه ورکړي ددي ټولو شيانو ثواب يي ترمرګ وروسته ورته رسيږي »

تشريح : درسول الله ﷺ په ډيرو حديثونو کښي.ډيرداسي اعمال ښودل شوي دي چي دانسان ترمړينه وروسته يي ثواب جاري وي.دهمدي حديثونوله ټولګی څخه همداسي اعمال ځينو علماوو لس اوځينو څوارلس اوځينو بيا تر دي زيات اوکم ښودلي دي خورښتيا خبره داده چي دداسي عملونو محدودلول ستو نزمنه خبره ده له حديثونو څخه هم دداسي اعمالو اندازه نه ښکاري و ان مما يلحق ، له من څخه داسي ښکاري چي له نورو عملو څخه داهم دي. دا اعمال « جاريه صدقه » بلل کيږي. اوهغه اعمال بلل کيږي چي ګټه يي ترډيره وخته خلګو ته رسيږي.
(الترغيب مخ ۳۸۴ - ۳۸۷ لومړی ټوک. معارف الحديث ۳ ټوک ۱۸۱ مخ ،نسائي شريف لومړی ټوک ۱۱۲ مخ ،مسلم لومړی ټوک ۲۰۱ مخ ،ابن ماجه لومړی ټوک ۵۴ مخ ،مظاهر حق لومړی ټوک ۵۹۵ مخ)

دمسجدونو قدرتي نظام

دجامع مسجد مرتبه څرګنده ده ، په اونۍ کښي يوځل زيات شمير کسان په خپل غولي راغونډوي . دکلي په مسجد کښي پنځه وخته دمحلي ديندراه خلګ په مسجد کښي نور اني کيږي . دکلي په مسجد کښي چي دجماعت اهتمام کيږي ، هغسي دلاروپه مسجدونو کښي نه کيږي.
که په غور سره وکتل شي . په ټولنه التزام اودهغي حيثيت هم يوه ستره مرتبه لري . دالله ﷻ حکمت دي چي په فرض لمونځونو کښي ، اجتماع جوړيږي اوتيت پر ك خلګ دپيو ستون څرګندونه کوي . په قران کريم

کښي چي دزړونو دتأليف (نژديوالي) داحسان يادونه شوي ده. هغه شپه اوورځ هم دلته اعلانيږي. لکه چي ورته مستقل نظام جوړشوي دي. چي په قدرتي اوفطري ډول ټول مؤمنان دراغونډيدلو هڅه کوي مورږ همدا نظام د(مسجد نظام) بولو

دهمدي نظام دلويوالي احساس انساني خلقت له پيل څخه په زړونو کښي الله ﷻ ايښي دي اودرسول الله ﷺ په واسطه هغه ښه غښتلي شو که غور وشي په هره محله اوکلي کښي هم دانظام کلك اومضبوطه وي ځکه په هغه کښي دنيوي اوديني، حسن اومعنوي ډيري ګټي دي.

دانظام چي مورږ يي دمسجد نظام بولو خورا تدريجي ترقي پکښي مراعات شوي ده داونۍ په ترڅ کښي دکلي خلګ په ورځ کښي پنځه ځله راټوليږي اولمونځونه کوي. همدا وختونه معلوم دي، څوك ورڅخه دتخلف جرئت کولاي نشي. ترڅوټول يو وخت په عبادت مشغول وي.

دايو حقيقت دي چي په نړۍ کښي داسي څوك پيدا کيدلاي نشي چي په يوازي سر کارونه سرته ورسوي. بلکه په دنيايي ژوند کښي مرسته کوونکي اوحاميانو ته اړ دي. له دوستانو، ورونو، خير خواهانو أوبي شماره ملګرو سره ښه ژوند جوړولاشي.

همداشان دالهی احکامو په سرته رسولوکښي هم شريکانو اومرستندويانو ته اړتيالري. ترڅو ديوه خداى ﷻ منونکي، ديوه رسول امتيان ديوه قراني قانون ،پيروان، دالله ﷻ په عبادت کښي يوځاى سره راغونډ شي، ديوه هدف لپاره په عاجزي سره خپله بي وزلي څرګنده کړي. لوي خداى ﷻ ته دخپلو مقصدونو دحصول لپاره دعا او زاري وکړي. په منظم ډول دشيطان مقابله وکړي. که يو دبل مرسته ونلري، منظم صف

ونلري ، ددښمن لښکر ته موقع په لاس ورکوي له ماتي سره یي مخ مخ
کوي.
همدا تنظیم به خلاص نه وي . له هر اړخه به کلك وي له ظاهري راټولیدلو سره ، سره به باطني غونډیدل هم وي دصفونو په سموالي کښي دزړونو نژدیوالي هم راځي ، له ظاهري پاکي څخه باطني هم پیداکیږي دیوه اصل ټول پابند اودیوه امیر یا امام ټول تر امرلاندي وي
اسلام دمسجد په نوم داسي کلك نظام جوړ کړي دي چي مسجد یي یوخاص کور بللي دي چي نه دچا خاص ملکیت وي اونه هم ځانګړي قبضه بلکي دالله ﷻ کور یي بولي . په هغه کښي ټول مسلمانان په مساوي ډول شریك وي . دراغونډیدلو وخت یي معلوم دي ترڅو ټول په همداسي ټولنه کښي راټول شي . ټول یوځای دامام شاته اوږه په اوږه سره لګیدلي ودریږي . په ناسته ولاړه کښي دهمدي یوه امام پیروي وکړي نه ترامام وړاندي څوك ټیټ شي اونه هم قیام اوقعده تري وړاندي وکړي ټول یوډول عمل کوي ، که امیر وي که فقیر همداسي یي متابعت کوي . یوځای دعبودیت (بندګي) اظهار کوي . داسي احساس کوي چي ګواکي الله ﷻ ویني اوکنه داخویي یقین وي چي هغه ذات موږ ویني.
تر اونۍ وروسته ، په یوه خاصه ورځ (جمعه) یو ګام اوچت اخلي دکلیو اومحلو خلګ له پاکي سره له کورونو راوزی ، دمسجد په لاره ښکلي منظره جوړوي ، له هر لوري له هره کوره و مسجد ته راځي نسبتا پاك ، په ځیرو کښي وقار څرګند دټول ښار ګوټي یوځای کیږي . لولي ،اوري ، تسبیح ، تهلیل اوتلاوت کوي...
امام راځي ، مؤذن دوهم اذان کوي ، دخلګو توجه دامام لورته ګرځي ، امام تلقین اوتبلیغ کوي .اواز یي لوریږي سترګي یي سري کیږي ، زړونه

ورسره غورځي ، په بدنونو لړزه راځي ، الهي خشيت اودالله ﷻ مينه سره
ګډيږي عجيب کيفيت پيداکوي . خطبه ختميږي ، لمونځ اداکيږي
خوڅرنګه ؟
څرنګه چي يوامام الله اکبر وايي دټول ښار ګوټي مسلمانان ورسره الله اکبر
وايي ، چي يوتن (امام) رکوع ته ځي ټول ورسره رکوع کوي . چي هغه
سجدې ته ځي ټول ورسره سجده کوي. دامير اوغريب توپير له منځه ځي
له بله لوري ، غوره والي دادي چي په دي نظام کښي ديوه امام پيروي ده
دلښکر اوپوځ دمشر او امير داطاعت زده کړه ورکوي ، ديوي قوماندي
دتعميل تکرار کوي ، په همدي ډول ځانګه کښي په لکونو او کروړونو روپي
داوبو په څير لګيږي خوبياهم په پوره يقين اوباور سره کيدلاي نشي څو
همداسي نظم وساتلاي شي : خودمسجدونو په نظام کښي دامام دپيروي
داشان دي چي هيڅوک تري سر نه غړوي . له لس کلنۍ تر مړيني دهمدي
نظم مشق اوتکرار کوي . کمال دادي چي دکومي ورځي دناغي اورخصتي
نوم نشته (الا ماشاء الله)
ايا تردي ور لوړ نظام هم شته ؟ دنړۍ هيڅ سياسي نظام دمسجدونو نظام
ته رسيدلاي نه شواي .

دنيايي اوديني اصلاح

په اونۍ کښي چي داباشکوه عبادت اداکيږي ، هلته دژوند دهري څانګي
ماهر خلګ ګډون کوي علماء ، صوفيان ، سوداګران ، بي وزله اوغريب
خلګ اوهغوئ چي له علم څخه کومه برخه نلري .
هريوبل ته دبصيرت اوعبرت په سترګه ګوري ، دالله ﷻ دقدرت نقشه يي
په وړاندي پرته وي. رئيسان اوسوداګران دمسلمانانو اقتصادي حالت ته
... جه کوي ، علمايي علمي اوديني ارخ ګوري . دصوفيانو نظر دزړونو

تزکیې ته اوړي ، بې وزلو ته دزیارګاللوحوصله اوفقیرانو ته د په خاز دویسا احساس پیدا کیږي . ناپوهانو ته په زړه کي دزده کړې شوق اوبې عمله خلګو ته دعمل جذبه ژوندي کیږي
تاسو فکر وکړي . داکومه ورځ اوکوم مسجد دي دادجمعي ورځ اوجامع مسجد دي چي روح خوشحاله کوونکي منظره یي سترګي خړوي .
یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا نُودِي لِلصَّلَاةِ مِن یَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللهِ وَذَرُوا الْبَیْعَ ذَٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (الجمعة ۲) .
دااونیز نظام ، چي دمسجدونو دنظام په لړۍ کښي په هره میاشت کښي څلورځله اوکله هم پنځه ځله رامنځته کیږي ، ورځخه خلګو اوهیواد ته تل ګټه رسیږي .
کلنۍ منظم
په دي تنظیم دکال دوولس میاشتي تیریږي ، ورسره دوه ورځي څه نوري بیلګي هم لري چي په هغوئ کښي دانظام نور هم ګټور اواهمیت لري .
داپوښتنه ضرور راولاړیږي چي کوم داسي مسجد به هم وي چي دټولي نړۍ مسلمانان پکښي راغونډیږي ، اودادمسجدونو نظام دومره نړیوال وي .
دلوی الله ﷻ په لکونو لکونو واره شکر دي چي دي نظام داکمي هم پوره کړي دي ، په دي دوو ورځو کښي ، یوه ورځ په کال کښي داسي هم ده چي دامهم پکښي ترسره کیږي . داد ذی الحجی میاشت اودابراهیمي سنت دیاد دتازه کولو ورځ ده . داهم دیوه مسجد فیض اوبرکت دي چي دټولي نړۍ دمسلمانانو استاذی پکښي په یوه تاریخ ،یوه ورځ اویوه ښارکښي راغونډیږي . ددي مسجد نوم ،مسجدحرام دي کوم چي (بیت الله) هم بلل

دمولانا مفتي محمدظفيرالدين صاحب (مدظله)په وينا ، دمسجد يودعظمت شان دادي چي کله به - رسول الله ﷺ له سفر څخه راغي په مسجد کښي به يي دوه رکعته لمونځ وکړ اوله خلګو سره به يي هلته کتل رسول الله ﷺ به صحابه وو ته هم ويل چي له سفر څخه دراتلو په وخت کښي مسجد ته لاړشي ، لمونځ وکړی اوبيا دخپل مقصد په لور لاړشي (مسلم شريف . لومړي ټوک ۲۴۸ مخ

اعتکاف هم چي يوه سنت طريقه ده اوډيري ګټي لري ورته مسجد شرط دي .

مسجد کوم ځای ته ويل کيږي ؟

مسئله : مسجد دداسي ځای ،داسي ځمکي ، داسي تعمير نوم دی چي دالله ﷻ دخاص عبادت(فرض عين) لمانځه د اداء لپاره وقف شوي وي .

{دفرض عين قيدځکه شته چي دجنازي دلمانځه اوداخترونو دلمونځونو دځای (عيدګاه) احکام بيل دي.} (رفعت قاسمي) .

په داسي ځای ،تعمير ، دروازه اوديوال ،بام يا خاله جوړول شرط نه دي .

(طحطاوي دوهم ټوک ۵۳۲ مخ قاضي خان څلورم ټوک ۷۱۲ مخ

اَلمسجَدُ و المسجِدُ - دسجدي ځای ،دعبادت ځای.

المسجدالحرام - بيت الله شريف .

المسجد الاقصی - دبيت المقدس مسجد .

المسجدان - دمکي اومديني مسجدونه .

سَجَدَ ،سُجُوداً - دعبادت لپاره په ځمکه تندی (وچوي) اينبودل .

السَّجادَة - ډير سجده کوونکي .

السَّجادَةُ وَالمَسْجَدَة -دلمانځه (سجدی) ځای (مصباح اللغات مخ ۳۶۱) .

مسئله : که ځای زيات وي ، مسجد دوه برخي لري يو تعمير اوبله خالي برخه . په تعميري برخه کښي يي په يخ اوباد باران کښي لمونځ کيږي ورته مسجد شتوي (ژمني مسجد) ويل کيږي اوپه جماعت ځای ورځخه تعبير کيږي. په بی تعميره ځای کښي دتودوخي په وخت کښي لمونځ کيږي اودمسجد صيفي (اوړني مسجد) په نوم ياديږي . په دي ترتيب په يخني کښي دننه په تعمير کښي اودتودوخي په وخت کښي دمسجد په صحن کښي دجماعت لمونځ کيږي. دادواړي برخي په مسجد کښي شاملي دي اودمسجد په نوم ياديږي .

(شامي لومړي ټوک ۱۷۱ مخ فتاوی رحيميه دوهم ټوک ۱۵۰ مخ).

مسئله : مسجد په لغت کي دسجدي ځای ته وايي خو په اسلام کښي مسجد دهغه ځای نوم دي چي دمسلمانانو دلمانځه لپاره وقف شوي وي

(آپ کي مسائل دريم ټوک ۱۱۳ مخ مرقاة شرح مشکوة لومړي ټوک ۴۴۱ مخ)

مسجد جوړول فرض دی که واجب ؟

مسئله : په هر ښار ،قصبه اوکلي کښي داړتيا په اندازه دمسجد لپاره ځمکه وقف کول کفايي فرض دي . ورباندي تعمير جوړول فرض نه بلکي مستحب دي .

(امداد الاحکام لومړي ټوک ۴۴۹ مخ شامي دريم ټوک ۱۰۳ مخ

دمسجد لګښت له شخصي پيسو کيږي اوکه له چندي (مرستي) ؟

مسئله : که دمسجد دودانوونکي او اولاد يي داځواك وو چي دمسجد اړتياوي پوره کولاي شي ، کوم شکايت پکښي نه راپيداکيږي ، دنورو لپاره دخل اوانتظام، چنده کول اوهلته دتعميرودانولو حق نشته . نه

دتصرف حق څوك لري. كه څه شكايت وي. منتظم اومتولي يي رفع كړي
كه ورسره پيسي نه وي دمسجد دارتياوو دپوره كولو لپاره چندي
اومرسته غوښتلاي شي.
(فتاوى محموديه). پنځلسم ټوك ۱۸۵مخ)

دزيانمن شوي شي بدل مسجد ته وركول.

مسئله : كه څومره زيان رسيدلي وي، دهغه دبيعي ترلاسه كول يوحق دي
كه هغه بدل اوبيه په خپل مصرف رسوي اوكه يي مسجد ته وركوي.
جائز دي. داهغه وخت چي دازيان دسړي مملوك شي ته رسيدلي وي.
(فتاوى محموديه دولسم ټوك ۲۸۹ مخ)

له حكومت څخه دمسجد لپاره دمرستي اخيستل.

پوښتنه : دحكومت له خزانې څخه دلاټري، ټكس اوهرډول روا اوناروا
مالياتو لاس ته راغلي مال دمسجدونو دودانولو، پراخولو اوترميم لپاره
استعمال كيدلاي شي اوكه نه ؟

ځواب : كه حكومت روا اوناروا شتمني سره خلطه اوګډه كړي وي. اوله
دي ګډي شتمني څخه دمسجد لپاره پيسي وركړي. داحرام نه دي دهغوئ
اخيستل اوپه مسجد لګول شرعا روا دي.
څكه چي حرام پكښي استهلاك شوي دي. ګډول دهلاك حكم لري. داچي
حكومت روا اوناروا سره ګډ كړي اودهغوئ مالك دي. كوم شي چي يي په
ناروالاره ترلاسه كړي دي دهغوئ بدل وركول لازم دي.

(فتاوى محموديه ج ۱۵ ص۲۴۳)

مسئله : له حكومت څخه داسي پور اخيستل چي سود ورته وركړي.
دمسجدلپاره يي اخيستل روا نه دي.

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۵۷)

دمسجد شتمني په مدرسه کښي لګول

مسئله : مسجد ته دراغلو پیسو مصرف په مسجد کښي لازمي دي دمدرسي یانورو شیانو په ودانولو یا دنورو اړتیاوو په پوره کولو کښي یي لګښت روانه دي مسجد هم دخدای ﷻ لپاره دي اومدرسه هم دخدای ﷻ لپاره ده ، خودیوه شتمني په بل کښي لګول جواز نلري . لکه چي دیوه مسجد پیسي په بل مسجد مصرف کول هم جائز نه دي اودیوي مدرسي مال په بله مدرسه کښي لګول هم روانه دي . ځکه ټول حساب به ګډوډ کیږي . خوکه مدرسه اصل وه اودمدرسي لپاره مسجدهم جوړیږي نو دهغه مسجد مصارف له مدرسي څخه پوره کیدلاي شي .

(فتاوی محمودیه دولسم ټوک ۲۲۵ مخ)

په مسجد کښي داهل تشیع دچندې حکم

مسئله : داهل سنت والجماعت اوداثناعشریه ترمینځ په عقیده کښي ښکاره توپیر دي . نو په دیني اومذهبي معاملوکښي دي له هغوئ څخه چنده اومرسته نه اخیستله کیږي . که یي هغوئ ورکوي یو له اهل سنتو ته دي هبه کړي اوبیا دي هغه دلته ولګوي . که یي پیسي ورکړي اوبیرته ردول یي مناسب نه ښکاره کیدل نوبیا دي په بیت الخلآء اودلامبلو په ځای کښي استعمال کړي . یا دي د مسجد دبیا کورتعمیر جوړولو لپاره استعمال کړي .

(فتاوی رحیمیه ۲ ټوک ۸۹ مخ).

په مسجدکښې دکفر دحالت دپیسو لګول

پوښتنه : که یوځوك نوی اسلام ومنې اوشتمنې ورسره وي . آیاهغه شتمني په مسجدونو کښې مصرف کولای شي ؟

ځواب : ځینې پیسې داسې وي چې په هیڅ مذهب کښې حلالې اوروان وي . لکه دغلا ، چور اوغصب پیسې . که داسې پیسې دکفر په حالت کښې ورسره وي .نو دنوي مسلمان شوي شخص لپاره يې حکم دادې چې هغه دې اصـــل مالك ته بیرته ورکړي . که داورته ممکن نه وي اومالك يې دثواب اهل وي یعني مسلمان وي،هغه دې دثواب درسیدلو په نیت صدقه کړي. که ورته دامعلومات نه وو چې مالك يې مسلمان دی که کافر . په دې صورت کښې دې له وبال ځخه دخلاصون په نیت هغه صدقه کړي اوله خپل ملکیت څخه دې وباسي .

ځینې شتمني اوپیسې داسې وي،چې مسلمان ته شرعاً حلالې نه وي،خوغیر مسلم ته په صحیح ملکیت کښې ورپاته وي .لکه دشرابو دکاروبار پانګه اودخنزیر دکار د کاروبار پیسې چې هغه ته رواه وي اوهغه يې صحیح مالك دی .

که له چاسره همداسې پیسې وي اومسلمان شو هغه پیسې په نیکو کارونو کښې لګولاي شي. په مسجد اومدرسه کښې يې مصرف کولاي شي، ترمسلمان کیدلو وروسته له هغه څخه که بل مسلمان داپیسې واخلي هغه يې هم په نیکو کارونو کښې مصرف کولاي شي .

(نظام الفتاوی ج۱ص ۳۳۲ دشامي لومړی توک ۲۴۷ مخ .اودبذل لومړی توک ۳۷ مخ په حواله)

په مسجد کښي دتور بازار دکارکوونکي دپیسو لګول

پوښتنه : که کوم سوداګر په تور بازار کښي کارکوي، که مسجدته مرسته ورکړي، دهغه روپۍ په مسجد کښي مصرف کیدلاي شي او که نه ؟

ځواب : په دي ډول هم ملکیت حاصل کیدلاي شي په مسجد کښي یي هم مصرف کولاي شي . خوداطریقه داسي ده چي بي عزتی وسره تړلي ده اودمال هم ورکړه دزیان خطر شته .

مسئله : که کوم بدعتي شخص مسجد ته مرسته ورکړي ، په مسجد کښي یي لګول روا دي

(فتاوی محمودیه اتلسم ټوک ۲۱۹ مخ).

مسئله : دسودپیسي په مسجدکښي لګول صحیح او روا نه دي . که څه هم (سودخور) مړشوي اوپه خوب کي یي چاته ویلي وي ، بیا هم روانه دي (فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۷۷) .

مسئله : په ناروا لاره ترلاسه شوي پیسي ، په مسجد کښي لګول رواکار نه دي .


(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۹۳).

مسئله : حرام مال په مسجد کښي مصرف کول ناروا دي . که په حرام مال سره څمکه واخیستله شي اومسجد ورباندي ودان شي هلته لمونځ کول مکروه دي .

(فتاوی محمودیه (ج ۱۰ ص ۱۳۸).

مسئله : که په حرام مال څمکه واخیستله شي ، بیع بیرته فسخ شي اوبیا یي په حلال مال سره واخلي اومسجد ورباندي ودان کړي ، هلته لمونځ صحیح دي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۳۹).



مسئله : که څوك ناروا کاروبار کوي اومسجد ته مرسته ورکوي ، ورته ودي ويل شي چي حلالي پيسي دمسجد لپاره ورکړي ، نارواا ومشتبه دي نه ورکوي ، که هغه شخص ووايي چي زه حلالي پيسي ورکوم . داچي هغه مسلمان دي له اخرت څخه ويريږي ، پور اخلي اوهغه ورکوي . دهغه خبره دي ومنله شي . که په شرعي دليل ثابت نشي چي داپيسي حرامي دي ، نو ورڅخه اخيستل اوپه مسجد يي لګول روا دي.

(نظام الفتاوی ج۱ ص ۲۰۷).

په مسجدکښي دهغه چامرسته چي عايد يي مخلوط وي

پوښتنه : دهغه چاچي مال يي حلال نه وي خو دشتمني دلاس ته راوړلو داسي لاري هم لري چي حلال مال ورباندي ګټي ، ايا دهغه مرسته په مسجد کښي لګول روا ده ، په داسي حال کښي چي هغه وايي زه په مرسته کښي حلال مال ورکوم ؟

ځواب : له داسي شخص څخه مرسته اخيستل روا ده .

(فتاوی محموديه ج۱ ص۴۹۱).

دمسجد اومدرسي له مال څخه په يوه اوبل په پور سره دپيسو خرڅول

پوښتنه : که دا اړتيا پيداشي چي دمسجد مال په مدرسه کښي مصرف شي ، آيا له مسجد څخه دمدرسي له پاره داسي پور اخيستل روا دي ؟
ځواب : که دپور په بيرته ورکولو باور وي اودضائع کيدلو احتمال يي نه وي نو دمسجد دمشرانو په مشوره پور ورکول روا دي .
(فتاوی محموديه ج۱ ص۴۹۱).

دسوال کوونکي پيسي په مسجد کښي لګول

مسئله : پرته له اړتيا سوال کول ګناه ده . خو که کوم بي وزله پيسي غواړي اوخلګ يي په خپله خوښه ورکوي ، هغه يي څښتن کيږي اوکه همدافقير دغه پيسي په مسجد کښي ولګوي ، داصحيح ده دهغه په مصلی لمونځ صحيح ده خوداپوهول يي په کار دي چي پرته له ضرورت څخه سوال (فقر) کول ناروا دي .

(فتاوی محموديه ج۱ص۴۹۲) .

مسئله : په مسجد کښي دننه دڅه سوال کول منع دي ، داسي خلګ دي له مسجد څخه بهر کښيني . اوپه مسجد کښي ورته څه ورکول هم ښه نه دي . خوکه څوك دکوم اړسړی لپاره دمرستي غوښتنه وکړي جواز لري .
مسئله : فقير ته په مسجد کښي څه ورکول صحيح دي ، خو که په مسجد کښي سوال کول عادت کيږي نو بهر دي څه ورکوي .
(آپ کی مسائل ج ۳ ص۱۴۲) .

دمسجدمرسته په عمومي کارونو کښې لګول

پوښتنه : څو تنو دمسجد لپاره مرسته ټوله کړه ، خوهغه په عمومي کارونو کښې لګوي حسابونه يې له رسيدونو معلوم وي .

ځواب : داسي چنده ټولول ، که دلته ټوليږي يا کورونو تـه پسي ځي ، له هغوئ څخه دي اجازه واخلي يا دي بيرته ورکړي . داچي رسيدونه هم لري څه ستونزه نـه ده . يادي اعـلان وکړي چي دامرستـه پـه يوه بـل کـار کښي لګيږي که دچاخوښه نه وي ، بيرته دي ورکړي . دااعـلان دي داسي وکړي چي مستقيم يا بالواسطه دمرسته کوونکو غوږونو تـه ورسيږي . يا دي چاپ کړي اوتوزيع دي کړي يا دي په محلو اومسجدونو کښي اعلان کړي . مقصد دادي چي يا دي پـه پراخـه کچـه سره اعلان کړي اويـا دي مرسته بيرته ورکړي . نوره ذمه واري نشته

(فتاوی محمودیه ج ١٢ ص ٣٠٢).

دپګړۍ (سرقلفي) پيسي په مسجد کښي لګول

مسئله : دپګړۍ په نوم ، دپيسو اخيستل کوم شرعي اصل نه لري ځکه يې هم استعمال په مسجد کښي روانه دي .

(فتاوی رحيميه)

دمسجدپیسي دتجارت لپاره چاته ورکول

پوښتنه : دمسجد پیسي چي دمتولي په اختیار کښي وي ، هغه یي دتجارت له پاره چاته ورکړي . هغه سړی دمسجد لپاره کومه برخه معلومه نه کړه ، دمسجد پیسي یي بیرته ورکړي . اوڅو روپي یي زیاتي ورکړي دازیاتي پیسي اخیستل روادي او کنه ؟

ځواب : دمسجد روپي له متولي سره امانت دي . دتجارت لپاره ورکول یي دي حق نه لري ، هیڅکله دي چاته نه ورکوي . که یي ورکوي دپور په بڼه دي ورکړي . دپور په وخت کښي دزیاتو پیسو غوښتنه روا نه ده ، داسود دي خو که پوروړي دقرض دبیرته ورکړي په وخت کښي پرته له کوم التزام څخه زیاتي پیسي ورکړي ، روا دي . له حدیث شریف څخه ثابت دي چي استعمال یي روا ده .

(فتاویٰ محمودیه ج۱۲ ص۳۰۴).

حکومت ته دمسجد دپیسو ورکول

مسئله : دمسجد پیسي وقف او امانت دي . متولي تـه دهغویٔ بـل خـای لگول روا نه دي .

(فتاویٰ محمودیه ج ۱۸ ص ۱۸۸) .

مسئله : دمسجد شتمني په شخصی اړتیا کښي استعمالول ناروا دي . که یي څوك ولگوي توبه او استغفار دي وکړي او هغه مبلغ دي بیرته ورکړي . دمحلي په خلگو لازمه ده ترڅو یي له هغه څخه واخلي .

(ستاسو مسایل ج ۳ ص ۱۴۸).

دمسجد لپاره مرسته ترلاسه کول اومدرسه ورباندي جوړول

مسئله : که دمسجد لپاره مرسته وشي . په مدرسه کښي يي استعمال روانه دي لکه دلمانځه لپاره چي ځمکه وقف شي هلته مدرسه جوړول اوددرس لپاره مشخص کول روانه دي . همداسي ځای ماشومانو ته درس ويل هم ښه نه دي ، ترڅو دمسجد احترام وساتل شي .
دزکات ،صدقه الفطر (سرسايي) اودقرباني دڅرمني بيه دمسجد يا مدرسي په ودانولو کښي لګول روانه دي . هغه يوازي دبي وزله خلګو حق دي

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۲۹).

دمسجد اومدرسي په نوم ګډه مرسته غوښتل

پوښتنه : ديوه کلي خلګ که مسجد اومدرسه ودانوي اوهغوئ ته يوځای مرسته (چنده) ټولوي . که خلګو ته همداسي ووايي چي موږ مسجد اومدرسه يوځای جوړ وو اوچنده هم ورته ګډه غواړو همداسي روا دي اوکه چنده بيله ، بيله ټوله شي ؟

ځواب : دمسجد اومدرسی لپاره يوځای چنده راغونډول روا دي . چي داسي اعلان وکړي چي موږ دواړه ودانوو اوخلګ دواړوته چنده ورکوي نوبيا څه تر دد پکښي دي . که چنده بيله ، بيله ټوله شي هم صحيح ده . بيا دي په بل نه مصرفوي ديوه چنده اومرسته دي په هغه لګوي هغه به په هغه لګوي

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۷۸).

مسئله : که دچندي دور کوونکو خوښه وه ، له مسجد څخه بهر دمسجد دکارونو لپاره دفتر جوړول دمسجد په پيسو روا ده

(ستاسو مسئلې ج ۳ ص ۱۴۰)

له غير مسلمان څخه دمسجد لپاره مرسته اخستل

پوښتنه : که دمسجد په ودانولو کښې غير مسلم مرسته وکړي ، دهغې په مسجد کښې لګول جائز دي ؟

ځواب : که دااحتمال نه وو چي په ټول اهل اسلام باندي احسان اړوي او نه دااحتمال وي چي مسلمانان خوشحاله کړي او دي خپل ديني شعائر پکښې ترسره کوي يا دخپلو شعائرو ستاينه کوي ، بيا دداسي مرستي اخستل او مصرف کول روا دي .

(امداد الفتاوی ج۲ ص ۲۸۸ وفتاوی محموديه ج۱ ص ۴۷۰).

مسئله : که دغير مسلم په مرسته ورکولو کښې داويره نه وي چي هغه پکښې کوم غلط مقصد لري . بيا مرسته اخستل جائز دي .

(فتاوی محموديه ج ۱۷ ص ۳۵۲).

مسئله : که غير مسلم په دي باور مرسته کوي چي پکښې ثواب دي ، مرسته دي ومنله شي او که دااحتمال وو چي په راتلوونکي کښې په مسلمانانو احسان بولي بيا غوره داده چي مرسته يي ونه منله شي .

(فتاوی رحيميه ج۱۰ ص ۲۳۲ فتاوی محموديه ج۲ ص ۱۸۸) ج ۱۵ ص ۱۲۸ ج ۲ ص ۴۷۲ نظام الفتاوی ج۱ ص ۳۱۳).

مسئله : که دمسجد په لاره کښې دمرستي له پاره صندوق کښيښودل شي ، که خلګ مرستي په ډول پيسي پکښې اچوي دهغو پيسو لګول په مسجد کښې روا دي . دافرق نه کوي چي هغه پيسي مسلمان پکښې اچولي دي او که غير مسلمان .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۴۷)

مسجد ته دشرابو دکاروبار پیسي ورکول

مسئله : دشراب دکاروبار پیسي دي دمسجد په چنده کښي نه اخستل کیږي. که يي له حلال عاید څخه لکه پور مرسته ورکوله، جواز لري. که دچاعاید مخلوط وي خوله حلال څخه چنده ورکړي صحیح ده. که په مخلوط عاید کښي حلال غالب وو بیا يي هم مرسته صحیح ده.

(فتاوای محمودیه ج ۱۷ ص ۳۵۵

مسئله : که دشرابو دکاروبار په پیسو مسجد ودان شي، هلته لمونځ کول مکروه دي. هلته که لمونځ وشي له کراهت سره صحیح دي. بیا دي احتیاط ورسره کیږي.

(فتاوی محمودیه ج۱۰ ص ۱۵۲).

مسجد ته دخنزیر له ویښتانو څخه دبرش دجوړونکي اعانه

که څوك دخنزیر له ویښتانو څخه دبرش دجوړولو کار کوي. په دي لاره اجوره اخلي، له هغو پیسو څخه مسجد ته مرسته ورکول روا ده. دامعاوضه او اجوره اخیستل هم حرامه نه. ده خو په ځپله همداسي معامله کول حرامه ده. ځکه دامام ابوحنیفه په مذهب کښي دخنزیر له ویښتانو گټه اخستل جواز نه لري. (فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۳۴۷ ج ۱ ص ۵۱۲)

مسئله : ددیني اړتیاو له پاره، په مسجد کښي مرسته غوښتونکو اومرسته ورکوونکو ته (مرحبا) ښه راغلاست اوسبحان الله ویل صحیح دي. خوچی دلمونځ کوونکو لمونځ چي اخلال نشي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۲۸۴)

مسئله : په مسجد کښي ددنيا خبري لکه دپيرلو اوپلورلو . ددعواوو خبري ، دکروندي اوباغونو خبري منع دي . دمسجد دوداني . دامام داجوري لپاره مرسته غوښتل په مسجد کښي منع نه دي په دي شرط چي شور اوشغب پکښي نه وي . لکه نن سبا چي کيږي ، يوه اوبل ته طعنه ورکوي ، له کمي مرسته کوونکي سره جګړه کيږي غرض داچي دمسجد درنښت نه ساتل کيږي . داهرڅه منع دي .

دختم لپاره چي مرسته غوښتله کيږي ، ډير ي په زور غواړي ، ريا پکښي کوي ، مقابله سره کوي دامنع دي . په مسجد کښي تلاوت ، تسبيح ، درود او استغفار داسي وويل شي چي لمونځ کوونکو ته تشويش پيدانشي . که په مسجد کښي زده کړه کيږي هم صحيح ده .

(فتاوی محموديه ج۱ ص ۴۸۴) .

پوښتنه : دمسجد دچندي (مرستي) په روپو اخستله شوي ميوه (يا شريني) داسي ويشل ځرنګه دي چي هغو کسانو ته يي هم ورکړي چاچي مرسته کړي نه وي ؟

ځواب : که مرسته ورکونکو اجازه کړي وي نوداسي څه ويشل روا دي اوکه اجازه نه وه ، روا نه دي . که دمرسته کوونکو دنورو لپاره چي چنده يي ورکړي نه وي اجازه وه ، نو هغوي ته هم روا ده . (

فتاوی محموديه ج ۲ ص ۱۸۷) .

مسئله : دشيريني لپاره ټوله شوي مرسته دي دور کوونکو په اجازه دمسجد په نورو ضرورياتو ولګول شي .

(فتاوی رحيميه ج ۲ ص ۱۰۷) .

مالي جريمه اخستل اوبيا په مسجد لګول

پوښتنه : په يوه ټولنه کښي څه قوانين داسي وي چي څوك ورڅخه تخلف وکړي ، سياستاً له هغوئ څخه دجريمي په توګه پيسي اخستلي کېږي همداسي پيسي په مسجد کښي لګول جواز لري کنه ؟

ځواب : باوري خبره داده چي داسي جريمه اخيستل جواز نه لري که داسي جريمه واخستله شي ، بيرته دي مسترد شي په مسجد او نورو ځايونو کښي يي لګول روا نه دي .

(فتاوى محموديه ج ٦ ص ١٩٣ دردالمحتار ج ٣ ص ٣٧٥ مخ په حواله).

دمسجد لپاره په زور مرسته اخستل

مسئله : په زوره مرسته اوچنده اخستل ناروا دي . که يي څوك په خپله خوښه ورکوي تري اخلي دي او جبر ورباندي ګناه ده . همداسي مال په مسجد کښي لګول هم ناروا دي . که چا په زور مرسته اخستي وه ، دهغي بيرته ورکول لازمي دي .

(فتاوى محموديه ج ٦ ص ١٢٠ دشامي ج ١ ص ٢٨٨ مخ په حواله).

مسئله : په زور سره مرسته اخستل ناروا دي . له چا څخه چي په زور اخستله شوي وي ، هغه دي عفوه کوي ، دخداى ﷻ په نوم دي ورکوي او دورکړي دقبول دعادي کوي . هغه مسجد ته دي ورځي ، توبه دي کاږي ، لمونځ يي په هغه مسجد کښي روا دي .

دمسجد له پاره غير مسلم څخه مرسته اخستل بي غيرتي ده .

(فتاوى محموديه ج ١٨ ص ١٨١).

دمسجد دپیسو دپور دورکولو لپاره په سود پیسي اخستل

پوښتنه : له چا سره دمسجد امانت روپي ايښي وي هغه يي مصرف کړي بيا يي له بل چا څخه په سود ، ناروا گڼه ، پيسي واخستي او دمسجد امانت يي ورکړ . آيا ددي ډول پيسو مصرف په مسجد کښي روا دي ؟

ځواب : په سود قرض اخستل ، هغه روپي حرامي نه دي له هغوئ څخه دمسجد دامانت ورکول روا دي . البته هغه پيسي چي له قرض سره يي دسود په نوم ورکوي . دهغي ورکول ناروا دي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۶۹) .

مسئله : احمد له محمود څخه دمسجد دودانولو لپاره روپي پور کړي . بيا يي له حرامي گټي څخه هغه پور ورکړ . داپيسي له مسجد لپاره حلالي دي ځکه هغه اخستل شوي روپي دحرامي گټي نه دي . دلته يي حراموالي مؤثر نه دي . ددي کار حرمت بيله خبره ده .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۶۷) .

دسود خور له ترکه شوي شتمني څخه دمسجد مصرف

مسئله : له والدينو څخه په ترکه سره اولاد ته مال حلال پاته کيږي ، هغه په مسجد کښي لگول شرعا روا ده .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۶۹) .

ديوه مسجد روپۍ په بل مسجد لگول

پوښتنه : دوه مسجد ونه دي ، يو شتمني لري اوبل يي نه لري . دشتمن

اوفرش لانشته دشتمن مسجد پیسي په دا بي شتو مسجد لګول کیدلای شي؟

خواب که هغه پیسي دمرستي اوچندي وي دمرستي دور کوونکو په خزه: همدې مسجد پیسي په هغه بل بي شتو مسجد لګول کیدلای شي

(فتاوی محمودیه ج ١٨ ص ١٥٧).

په مسجد دغلا دلرګیو او حرام مال لګول

مسئله : دغلا یا بلي حرامي شتمني په واسطه که مسجد جوړیږي حکم یي دادي چي هلته به لمونځ نه کوي خو هغه به له بي احترامي څخه ساتي ، هلته دحائضي میرمني اوناولیو ننوتل ناروا دي . هغه مسجد دي خوندي شي . که یي خمکه دغصب اوغلادپیسو نه وي او په حلالو پیسو یي اخستي وي . روا لاره یي داده چي ودانی دي ونړوي اودحلالي شتمني په مصرف دي بیا جوړکړي ترڅو دګټي اخستلو شي .

(فتاوی رحیمیه ج ١٠ ص ٢٤٢ دمنیة المساجد ص ٢٢ اوکبیري ص ٥٧١ په حواله).

مسئله : که له پلتني څخه څرګنده شي چي سمټ دغلا مال دي . دهغه اخستل په مسجد کنبي یي لګول که څه هم داوداسه په ځای کنبي وي . روا نه دي . په غلا سره یي ملکیت هم نه حاصلیږي . نو اخستل یي بي مور ده دي . دالله تعالی په کور کنبي دي حلال مال مصرف کیږي ، ناپاکه شتمني دي نه پري لګوي...

(فتاوی محمودیه ج ١٥ ص ١٢٨).

په مسجد کښې دموندل شویو پیسو مصرف کول

مسئله :: موندل شوي پيسي د(لقطه) حکم لري دڅښتن پلټنه دي وشي وردي کړي که يي څښتن ونه موندل شو ، بي وزله خلګو ته دي په صدقه کښي ورکړي ، په مسجد کښي دي نه مصرف کوني
.(فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۲۴۷).

په مسجد کښي دقرباني دڅرمنو دبيعی مصرف کول

مسئله : که دقرباني څرمني دمسجد متولي ته ورکړل شي، هغه يي څښتن شي بيا يی خرڅي کړي او پيسي يي په مسجد مصرف کړي روا دي . که بي هغه څښتن نشي اوخرڅي يی کړي بيه يی په مسجد مصرف کړي داسي روا نه دي .
په دي صورت کي دي هغه خرڅي کړي اوبيه دي خيرات کړي . ځکه دقرباني پوستکي خرڅول اوپيسي بي صدقه کول لازمي خبره ده . بيه يي مسجد ته ورکول جائز نه دي . خو که يي څښتن په خپله خرڅي نه کړي بل چاته يي وبخښي اوهغه يي خرڅي کړي بيا که يي قيمت هرځاي ولګوي صحيح دي .

(فتاوی محموديه ج ۴ ص ۳۳۱).

دزکات پيسو ته حيله جوړول اوپه مسجد لګول

مسئله : دمسجد په ودانولو يا دامام او مؤذن دمعاش او اجوري په ورکولو کښي دزکات پيسي ورکول جائز نه دي . نو دمسجد په لګښت کښي دي هيڅکله دزکات مال نه مصرفوي حيله جوړول اوبيا ورکول يي هم نه دي پکار .

(فتاوی رحيميه ج ۲ ص ۹۴)

دمسجد لپاره دچندي په روپو دوکانونه جوړول

مسئله : دکوم مقصد لپاره چي مرسته اخستله کيږي يا يي په کوم نوم خلگ ورکوي له هغه مدرك څخه پرته دهغوي مصرف کول ناجائز دي که هغه ددوکان جوړول وي يا بل مورد .

(فتاوی محموديه ج ۱۲ ص ۳۲۳)

مسئله : که له مرسته کوونکو څخه داوداسه دځای دجوړولو په نوم مرسته واخستله شي نو هغه دي بل ځای نه مصرفيږي که يي بل ځای مصرف کړي وه بيرته ورکول يي واجب دي اوکه يي مرسته کوونکي بيرته وغواړي داحق لري او ورکړه يي ضروري ده

(فتاوی محموديه ج ۱۲ ص ۳۲۴)

په سود پيسي اخستل اوپه مسجد لگول

مسئله : کومي پيسي چي په سود اخستلي شي هم هغه رقم حرام نه دي دهغوئ مصرف په مسجد کښي هم صحيح دي خو په سود دپيسو ورکول اوسود وربانديي اخستل گناه دي له هغوئ راگرځيدل ضرور دي .

(فتاوی محموديه ج ۱۲ ص ۲۸۲)

مسئله : که دمسجد منتظمين په سود پيسي واخلي اودمسجد په ودانولو يي ولگوي هغه گنهکار دي دهغه سود دمسجد له پيسو څخه ورکول هم گناه ده او ضمان (بدله) يي هم وربانديي شته دخيراهل کسان دي په خلاص زړه له پاکي گټي څخه مسجد ودان کړي .

(نظام الفتاوی ج ۱ ص ۳۲۳)

دفلم دممثل گټه په مسجد کښي لګول

مسئله : کومي پیسي چي په حرامه لاره ترلاسه کیږي نه دي مسجد ته منل کیږي اونه هم مدرسي ته هغوي په بي وزلو صدقه کول لازم دي که بي وزله بالغ کسان یا دهغوي نابالغه کسان زده کړي کوي هغوئ ته دي صدقه ورکیږي همدا سي کسان دي دمدرسي مسئولینو ته چنده نه ورکوي.
(فتاوی محمودیه ج ١٢ ص ٢٩٨).

مسئله : په حرام یا مشتبه شتمني دمسجد ودانول شرعا جواز نلري
(فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ٩٩).

دمزار (زیارت) له چندي څخه دمسجد دامام اجوره

پوښتنه : دیوه مزار په انګړ کښي مسجد دي خلګ ځي راځي دمزار ترڅنګ چي کوم صندوق دمرستي دغونډولو لپاره ایښودل شوي دي هلته روپي اچوي غیر مسلمانان هم دلته پیسي اچوي دچانیت معلوم نه دي له همدي پیسو څخه دمسجد دامام او مؤذن اجوره ورکول جواز لري؟

ځواب : ښکاره خو داده چي داروپي دمسجد او مزار دخوندي ساتلو لپاره خلګ دلته اچوي همداپیسي ددوارو دارتیاپه پوره کولو کښي صحیح دي که هلته وربان‌دي کومه ښوونځي ودانه شي هم مناسب دي ترڅومسجد هم ودان وي اودمزار څښتن ته يي هم ثواب ورسیږي له هغوئ څخه دمدرسي لپاره په زور سره پیسي اخستل د چا حق نه دي.
(فتاوی محمودیه ج ١٥ ص ٢٧١).

دمسجد دخوندي ساتلو لپاره په مقدمه (دعوه) کښي دمسجد دپيسو لګول

مسئله : دمسجد په وقف ځمکه کښي په زور سره مدرسه جوړول حق نه دي که څه هم ددېني زده کړي مدرسه جوړول او دتعليم عامول لوي اجر لري خو ناحقه طريقه دي ورته نه کارول کيږي دهغي لپاره له متولي سره جګړه کول هغه له دندي ګوښه کول دعوه ورسره کول بد او ګناه ده .
که په همداسي دعوه کښي دمسجد حفاظت وي دهغه دشتمني حفاظت وي نو دمتولي لپاره داجائز دي چي دمسجد له پيسو څخه دا مصرف وکړي چي داپه اصل کښي دمسجد لپاره دي .

(فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۲۳۵) .

دمسجد له پيسو څخه له بي وزله سره مرسته کول

پوښتنه : که دکوم مسجد زياته شتمني وي له هغي څخه کوم بي وزله ته پور ورکول روا دي او که نه ؟

ځواب : داسي ورکړي ته اجازه نشته

(فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۱۷۳) .

په مسجد کښي دبيعاني (بياني) دپيسو لګول

پوښتنه : يو شخص دمسجد متولي دي دمسجد اړوند کوم ځاى يي خرڅ کړي څه پيسي يي مخته دبيعاني په توګه واخستلي هغه سړى پښيمانه شو متولي همدا ځاى په بل چا خرڅ کړ هغه دبيعاني پيسي ورڅخه پاته شوي او دهغه سړى دوعده خلافي له امله يي بيرته ورنکړي دهمداسي پيسو لګول په مسجد کښي روا دي او که نه ؟

ځواب : که په کوم سبب بائع یا مشتري دپیرونکي او پریدونکي دسودا وعده پوره نکړاي شواي دبیعاني ورکړه ضروري ده دهغي ګرځول جائز نه دي نو متولي ته لازمه ده چي هغه بیعانه بیرته ورکړي داسي روپي په مسجد کښي لګول هم روا نه دي

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۲۲).

دمسجد له عاید څخه دمعاش وضع کول

پوښتنه : که دمسجد کوم خادم له خپل کار څخه غیر حاضر شي دهغه دغیر حاضري دورځو معاش ګرځول اومسجد ته ورکول جواز لري که نه ؟ دمسجد دمشرانو داحق شته چي هغه ته دغیر حاضرو ورځو معاش ورکړي ؟

ځواب : دمسجد مشرانو ته لازمه ده چي دخادم درخصتي انتظام ولري مثلا په میاشت کښي یوه ورځ یا دوه ورځي په کال کښي پنځلس ورځي یا یوه میاشت یا له حالاتو سره سم یوډول ورته درخصت اندازه وښیي که ترهغه زیات غیر حاضر شي بیا به معاش ورڅخه ګرځوي دمسجد دشتمني ورسره دااختیار نشته چي بي مورده یي ولګوي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۴۷).

مسئله : که ددندي په پیل کښي له امام یا نورو سره خبره شوي وه چي درخصت دورځو معاش او اجوره بهٔ هم ورکوله کیږي نو بیا درخصت دورځو اجوره ورته ورکول روا ده که داسي خبره شوي نه وه بیا به له رواج اوعرف سره سم دهغو ورځو معاش ورکول کیږي چي هغه نور ورکوي نور زیاتوالي دمسجد دمسئولینو ترمصلحت پوري اړه لري .

(نظام الفتاوی ج ۱ ص ۳۰۲).

دیوه شي لپاره دوقف پیسي بل ځای لګول

پوښتنه : که وقف شوي شتمني بیله ، بیله وه څوکسان سره یوځای شول او ورسره موقوفات یي یوځای کړل دیوه مسجد عاید یي په بل کښي مصرف کړ داسي مصرف جائز دي ؟

ځواب : دکوم مسجد لپاره چي کومه شتمني ورکړل شوي وي ، ذهغي مصرف بل ځای روا نه دي .

مسئله : داچي دیوه مسجد پیسي په بل مسجد کښي مصرف کول ناروا دي . نو دمسجد شتمني به په ښوونځیو کښي لګول څرنګه روا وي . څوک چي یي مصرفوي هغوي ګنهکار دي . په هغوئ یي پریکړه لازمه ده په وقف شیانو کښي دداسي کسانو مشر اومسئول مقرر کول هم روا نه دي .
(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۲۲) (فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۸۵) .

مسئله : کومه شتمني چي مسجد ته وقف شوي وي . هغه د یتیمانو دهستوګني ته وقف کول جائز نه دي ددرمختار خبره ده چي که دوو کسانو بیل بیل مسجدونه ودانول ، یا یوه شخص مسجد اومدرسه ودانوله دهر یوه لپاره مال بیل وقف شوي وو قاضي ته داحق نشته چي دیوه وقف عاید په بل وقف ځای مصرف کړي (درمختار له شامي سره ج ۳ ص ۵۱۵) .
هوکه وقف کوونکي ، په وقف پاڼه کښي لیکلي وو چي له اړتیا څخه زیاته شتمني دي بي وزلو ته دمرستي په توګه ورکړي ، یا دي دکوم خیر په کار کښي ولګوي له هغي لیکني سره سم یي نور ځایونه مصرف کول صحیح دي

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۸۵) .

دیوه مسجد روپۍ په بل کښي لګول

مسئله : کوم شي چي یوه مسجد ته په ځانګړي ډول وقف شوي وي . دهغه شي عاید په بل مسجد کښي مصرف کول جواز نلري . خو که دمسجد دودانولو له پاره په څنګ کښي ورسره دیني مدرسه جوړیږي شرعا روا دي .ځکه داهم دمسجد دمصلحت اوخیر لپاره ده خو ددنیاي علومو زده کړه دمسجد په مصلحت اوګڼه نه ده . هلته یي مصرف کول جواز نلري دیني تعلیم ، که دقران کریم زده کړه وي که دشرعیه علومو زده کړه وي که په هره ژبه عربي ،اردو ، ګجراتي (پښتو ، دري) یا بله ژبه وي . ددي مسجد دشتمني مصرف پکښي جائز دي .

(فتاوی محمودیه ج۱۰ ص ۱۸۲).

دسود پیسي دمسجد په رڼا کولو یا نورڅه کښي لګول

مسئله : ناروا عاید په مسجد کښي مصرف کول جواز نلري . که دبریښنا مزي یا پیوزي (پنکي) په ناروا پیسو اخستل شوي وو . هغه دي لري کړي او دحلالي شتمني په پیسو دي نور واخلي . که په داسي کار سره فتنه پیدا کیدله بیا دي هغه پیسي کومي چي په سود اخستلي شوي دي . مالك ته یعني هغه چاته چي سود ورڅخه اخستل شوي دي ورکړي . که اصل مالك معلوم نه وو ، بیا دي هرومرو پیسي بي وزلو خلګو ته صدقه اوخیرات ورکړي .خو وړاندي دي داتحقیق وکړل شي چي دا پیسي چي مصرف شوي دي . دسود دي اوکه نه دي که چا دهمداسي پیسو دمصرف رڼا ته لمونځونه کړي وو هغه صحیح دي

(فتاوی محمودیه ج۱۲ ص ۲۲۲).

بي وارثه شتمنۍ په مسجد کښي مصرف کول

داسي څوك چي وارث نلري اوځه پرېږدي . کوم وصيت يي هم کړي نه وو .
نژدي او ليري يي هم داسي څوك نه وو چي مال اوشتمني يي ورته ترکه
شي . دهغه پاته شتمني دي په مسجد اومدرسه کښي مصرف شي .
(فتاوى محموديه دولسم توک ۲۷۱ مخ ددرمختار پنځم توک ۴۸۸ مخ اوشامي دوهم توک ۸۹ مخ په حواله)

مسئله : داسي څوك مړشو چي کوم وارث يي نه درلود . دهغه دتکفين
اوتجهيز لپاره يي مرسته (چنده) ورته ټوله کړه . که له تکفين او تدفين
څخه يي همدا دمرستي پيسي زياتي شوي دمرستي کوونکو په اجازه دي
هغه پاته پيسي په مسجد مصرف کړي .

(فتاوى محموديه ج ۱۲ ص ۲۷۹).

په اجاره شوي ځمکه دمسجد ودانول

مسئله : دنوي(۹۰) کلونو لپاره پـه اجـاره شوي ځمکـه کـه مـسجد ودان
شوي وو . لـه حکومت څخـه اخستله شوي نـه وه . نـه حکومت خلگـو تـه
ورکوله چي ورباندي مسجد ودان کړي . حکومت داحق هم ورباندي لري
چي هغـه ځمکـه بيرتـه وګرځوي نـه داسي ځاى ، داشرعي مـسجد نـه دي .
بلکـه يـو عبـادت ځـاى دي . دجماعـت دلمانځـه ثـواب ورتـه رسـيږي خـو
دمسجد دلمانځه ثواب نلري .

(فتاوى رحيميه ج ۲ ص ۱۴۷ ددرمختار ج ۳ ص ۵۰۴ په حواله).
داچي مجبوري وي اوپرته له اجاري ځمکي نه پيداکيږي نو دمسجد
دثواب هيله پکښي شته) .

مسئله : دشرعي مسجد دتحقيق لپاره داضروري ده چي هغه ځمکه دتل
لپاره دمسجد وقف وي . که هغه ځمکه دڅه مودي له پاره اجاره يا کرايه

شوي وي . يا دمالك له اجازي پرته دغصب په ډول نيولي اوبيا مسجد ورباندي ودان شوي وي هغه شرعي مسجد نه دي
(فتاوى رحيميه ج ۲ ص ۱۲۸ دعالمگيري ج ۳ ص ۲۳۸ په حواله. هدايه اولين ۲۲۴ ص كتاب الوقف وكفايت المفتي ج ۷ ص ۴۲).

له ودانيو پرته ، په ډګر ځمکه دمسجد بنسټ ايښودل

په دي ودانيو ډګرونو ، ځنګله اوبيا بان ځمکي که مسلمانان دهستوګني دځايونو دجوړولو لپاره ځمکه واخلي اوهلته دمسجد اومدرسي دجوړولو لپاره هم يوه ټوټه ځمکه ځانګړي کړي . دودانيو دجوړولو کار هم پيل کوونکي وي اوهغوئ تبرکا دمسجد داساس ډبره کښيږدي . خو نژدي لس کلونو تير شي ، مسلمانان دکورونو دجوړولو ځواك ونه مومي ، دمسجد داساس تر ايښودلو وروسته اذان اولمونځ شوي نه وي ، دمسجد دودانولو قريني هم نه ښکاري نژدي نور کوم دمسلمانانو کلي هم نشته . مسجد ته دلته اړتيا هم نه ليدله کيږي ، دلته يوازي دتهداب اواساس په ايښودلو دمسجد حکم نه جاري کيږي .

(فتاوى رحيميه ج ۲ ص ۸۷ دعالمگيري ج ۲ ص ۴۱۴ په حواله)

په مشترکه ځمکه دمسجد ودانول

مسئله : که په مشترکه ځمکه دټولو مالکانو په خوښه مسجد جوړ شو . هلته لمونځ جائز دي . که څوك هلته دلمانځه دنه کولو هڅه وکړي ګناه ده . که نوي مسجد دټولو مالکانو داجازي په خلاف ودان شي ترڅو ټول څښتنان اجازه ورنکړي ، هلته دي لمونځ نه کيږي .

(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۱۲۲)

دمسجد ځمکه قبضه کول

مسئله : کومه ځمکه چي دمسجد لپاره وقف شوي ده . هغه ځان ته کول اوغصب کول حرام دي . هغه قبضه ختمول اومسجد ته پريښودل ضروري ده . هغه ځمکه ديوال کول ، دمسجد دگټي لپاره خوندي ساتل يي ضروري دي ترڅو بيا وربانديڅوك قبضه ونه لګوي .

(فتاوی محمودیه ج۱۲ ص۲۸۲).

دمسجد په ځمکه دکرايي لپاره دوکانونه ودانول

پوښتنه : يوه ځمکه دمسجد لپاره ځانګړي شوي ده . بل څوك ورباندي دوکان جوړوي اومسجد ته يي کرايه ورکوي . آيا داسي صحيح دي ؟

ځواب : يوداسي صورت دي چي دمسجد ځمکه چاته په کرايه ورکړي ، پيسي وراندي تري واخلي دوکان ورباندي جوړ کړي دکرايي سړی ته يي ورکړي ، ترهغه دي دهغه په واك کښي وي ترڅو ورکړل شوي کرايه پوره شي داصورت صحيح دي . کرايه والا کولاي شي دوکان پراخ کړي داسي هم جواز لري چي خالي ځمکه په کرايه ورکړي ،. هغه ورباندي دوکان جوړ کړي که دکرايي وخت ختم شي دوکان دي رنګ کرايه ورکړي هغه ورباندي دوکان جوړ کړي . که دکرايي وخت ختم شي ، دوکان دي رنګ اوځمکه دي بيرته مسجد ته پريږدي . يا دي دوکان جوړ مسجد ته پريږدي خو چي کوم مصرف يي شوي دي هغه دي له مسجد څخه وګرځوي

دخالي ځمکي په کرايه ورکولوکښي دي داشرط نه ږدي چي ددي ځمکي کرايه داده چي دوکان ورباندي جوړ کړي او تر دومره مودي وروسته به دوکان مسجد ته پريږدي .

دیوه مسجد روپي بل مسجد ته پور ورکول

پوښتنه : دمسجدونو اداري اومشران بیل . بیل وي یومسجد هیڅ پیسي نلري دیوه مسجد پیسي په بل مصرف کولای شي یا یي پور ورکولای شي ؟

ځواب : دمسجدونو دمسئولینو په مشوره سره دیوه مسجد پیسي بل ته پور ورکولای شي . بیرته ادایي ضروري ده . داهغه وخت چي متولي مشترك وي یا اداري هیئت مشترك وي . او دټولو اوقافو سرپرستي کوي

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۷۳ دردالمحتار ج ۲ ص ۵۷ په حواله).

دیوي ځمکي یوه برخه دمسجد لپاره بیل کول

پوښتنه : چادخپلي ځمکي څه برخه دمسجد په نیت او دعبادت ځای په توگه بیله کړه . احاطه یي کړه . لمونځونه پکښي کوي خو دروازه یي خپل لوري ته پري ایښي ده بله دروازه نلري آیا شرعا دامسجد دي ؟

ځواب : که هلته خلگو ته دلمانځه اجازه وي اذان اوجماعت کیږي ، دټولوراتلو لاره داسي وي چي ممانعت نه وي نو هغه شرعا مسجد دي .
(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۷۴ اورحیمیه ج ۲ ص ۱۰۲).

مسئله : که بشپړ وقف شوي وي ، بیرته دهغه منسوخ کول دچا حق نه دي . نه څوك پکښي دمالکانه تصرف حق لري یعني وقف کوونکي نه هغه خرڅولای اونه یي هم چاته بخښلای شي . نه پکښي وصیت کولای شي اونه هم هغه په گروي ورکولای شي .
(یعني دخدای ج لپاره (لوجه الله) یو شي وقف کول بیا چا ته پکښي ...

(رفعت قاسمي)

که غیر مسلم (نامسلمان) مسجد ودان کړي ؟

پوښتنه : دیوې کارخانې غیر مسلم مالك په کارخانه کښې یو مسجد جوړ وي . اوه اته کاله هلته مسلمان کارګران په جماعت سره لمونځونه کوي بیا داغیر مسلم مالك کارخانه په یوه مسلمان شخص باندې پلورې . بیا هم مسلمانان په هغه ځای کښې اوه اته کاله په جماعت سره لمونځونه کوي . خو وروسته همدامسلمان مالك غواړي له همدې ځایه مسجد بل ځای ته بدل کړي اوپه دې ځمکه یوشخصي ځای جوړ کړي ایا داسې تصرف روا دې ؟

ځواب : که غیر مسلمان شخص دامسجد دثواب په نیت جوړ کړي وي . هغه وقف دې دمسلمان مالك لپاره هم دهغه ړنګول جواز نلري . هغه شرعي مسجد دې .

که دغیر مسلم وقف صحیح نه وو او دې مسلمان مالك هم اوه اته میاشتې هلته په لمونځ کولوځه نه ویل اوپټه خوله پاته وو . همدا پټ خولي ، دهغه رضا ښيي . نو اوس یې ورته ړنګول جواز نلري . هغه شرعي مسجد دې .

(احسن الفتاوی ج ٦ ص ۴۵۲).

(که چا په کارخانه کښې کوم ځای دلمانځه لپاره داسې بیل کړ لکه په کورونو کښې کوم ځای ، چوتره یا بل ځای . دمسجد نیت یې کړي نه وي . هغه دمالك په اختیار کښې ده . دااختیار لري چې هغه ځای دلمانځه لپاره پریږدي اویا مسجد بل ځای ودان کړي . (رفعت)

مسئله : که غیر مسلمان دثواب په نیت مسجد جوړ کړي روا ده . خو که یهدې عمل سره کفار په مسلمانانو منت ږدي یا همداسې احتمال وي نو دغه کار منل جائز نه دې .

(احسن الفتاوی ج ۲ ص ۴۴۰)

که غیر مسلم دمسجد لپاره ځمکه وقف کړي

مسئله : که غیر مسلم مسجد جوړ ول ښه کار بولي . دهغه لپاره چندو ورکول یا ځمکه وقف کول صحیح دي . هلته دي مسجد جوړ کړي او هغه پیسي دي ورباندي ولګوي . په شامي کښي دغیر مسلم دوقف بحث موجود دي . دایي حاصل ده .

(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۲۹۵)

په دولتي مقبوضه ځمکه مسجد جوړول

پوښتنه : که کومه کورني دډېر وخت لپاره په یوه دولتي ځمکه قبضه ولري . خو دولت ته کلني کرایه ورکوي خو دهغي مځکي یوه برخه دمسجد او ښوونځی لپاره وقف وکړي . حکومت درباندي اعتراض کوي خودمسجد په نوم اوریدلو ورته اجازه ورکوي اودهغي ځمکي حدود ورته معلوموي . مسجد جوړ دي پنځه شپږ کاله پکښي لمونځونه کیږي . آیا دا شرعي مسجد دي ؟

ځواب : داټوله ځمکه ددولت په ملکیت کښي ده . دهغه چا په تصرف کښي چي ده دهغوئ مملوك نه ده . هغوي ي کرایه ورکوي . هغه ځمکه وقف کول مسجد یا ښوونځي ورباندي جوړول یي حق نه دي . خو که ددولت له لوري ورته دمسجد اوښوونځی دجوړولو اجازه ورکړل شوي وه . بیا دي دولت ورځخه کرایه نه اخلي . تردي اجازي وروسته دي دمسجد اوښوونځي لپاره ځای په ګوته کړي . اوهلته دي ودان کړي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۳۴) .

دمسجد دځمکي بدلول


پوښتنه : که چا له مسجد څخه لري يوه ټوټه ځمکه وقف کړه اوهغه شخص وفات شي داچي داوقف شوي ځمکه له مسجد څخه لري ده که همدا ځمکه په داسي ځمکه بدله شي چي مسجد ته نژدي وي . داسي بدلون شرعا جواز لري ؟

ځواب : که هغه چا چي داځمکي ي وقف کړي ده دبدلولو اجازه کړي وه بدلول يي کومه ستونزه نه لري . که واقف په دي هکله کومه خبره کړي نه وه . نو له استبدال څخه دمتوليانو هدف څه دي ؟
که داځمکه عايدلري اومتوليان غواړي دعايد دزياتوالي لپاره يي بدله کړي نو داسي بدلون جواز نلري . که داخالي ځمکه اوس بي ګټي وه خو دمسجد نژدي والي له امله دمسجد په ګټه وه چي يا ورباندي پراخيده ،يا ورباندي ساتل کيده اوپه راتلونکي کي ورباندي داوداسه ځاى يا دامام حجره جوړول پکښي مقصود وو نو داسي بدلون مجاز دي .
(فتاوى رحيميه ج ۱۰ ص ۲۳۴ محموديه ج ۱۸ ص ۲۵۲).

مسجد ته دوقف شوي ځاى پلورل

مسئله : کوم ځاى چي مسجد ته وقف شوي وي دهغه پلورل دچا حق نه دي . که يي متولي خرڅ کړي بيع يي فسخ کيږي اوبيرته دوقف حيثيت پيدا کوي .

(فتاوى محموديه ج ۱۵ ص ۳۰۲).



په غصب شوي ځمکه مسجد جوړول

مسئله : دبل چا په ځمکه ، دهغه له اجازي پرته مسجد جوړول جائز نه دي هلته لمونځ پکښې مکروه تحريمي دي دبل په ځمکه پرته له اجازي دوکان جوړول اوکرايه يي مسجد ته ورکول هم ناروا ده .که ځمکه دمسلمان وي که دغير مسلمان ان داچي دغير مسلم په ځمکه کي هم دا تصرف لالويه گناه ده .

(فتاوى محموديه ص ۱۲۸ ج ۲).

پرته له ضرورته دمسجد نړول

مسئله : کوم ځای چي دشرعي مسجد حيثيت ولري . پرته له احتياجه چي يا دتنگوالي يا زوړ والي عذر وي نور دهغه ړنگول ناروا دي

که متولي ديوه دنياي غرض لپاره بل مسجد جوړوي او زوړ ورانوي موخه پکښې خدايي نيت نه وي . هغه دضرار دمسجد په څير دي . خو که په حلاله شتمني ودان شوي وي . اووقف يي هم په شرعي ډول شوي وي لمونځ کول پکښې روا دي .

(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۲۶۲ او دولسم توک ص ۲۸۰).

مسئله : که دضرورت په اساس بل مسجد جوړيږي اودځمکي مالك هم په خپله خوښه ورته ځمکه ورکوي هلته په منظم ډول لمونځ اوجماعت کيږي . دمالك وربانديمالکانه واك نه وي نو هغه شرعي مسجد دي اودضرار دمسجد په حکم کښي نه دي .

(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۱۲۸).

دمسجد ځمکه ، امام په خپل نوم کول

مسئله : کومه ځمکه چې وقف شوي وي . په هغه باندي دچا قبضه روا نه ده بلکي غصب ده که يي امام په نوم کړي ، لازما دي پريږدي ، دمسجد په نوم دي کړي ، کنه داخرت په ورځ به تري پوښتل کيږي . دهمداسي امام ، امامت تحريمي مکروه دي اوله امامت څخه دګوښه کولو وړ دي .

(فتاوى محموديه ج ۱۵ ص۳۱۱)

دمسجد لپاره په وقف شوي ځمکه کښي ښوونځی يا هديره جوړول

پوښتنه : يوچا دمسجد په نوم خپله يوه ټوټه ځمکه وبخښله . يو جامع مسجد يي ورباندي جوړ کړ زياته برخه يي دصحن په ډول استعماليده . که دهغه سړی چې همدا ځمکه يي وقف کړي ترمړيني وروسته ، دمړه شوي وارثان ، دمسجد متولي او يا نور لمونځ کوونکي هغه خالي برخه ښوونځي يا هديري ته ورکړي داشرعا جواز لري ؟

ځواب : ناروا ده . دکوم څه لپاره چي ځمکه وقف شوي وي ، دهغه په خلاف يي استعمال ناروا دي . متولي اولمونځ کوونکو هيچا ته داحق نشته چي دوقف کوونکي دمقصد په خلاف يي دبل څه لپاره استعمال کړي .

(فتاوى محموديه ج ۲ ص۲۱۰).

هغه ځمکه چې دمدرسې په نوم اخستله شوې ده مسجد ته يې وقف کول

مسئله : دمدرسې لپاره ځمکه اخستل هغه دده په ملکيت کښې ده محض دمدرسې په نيت هغه نه وقف کيږي . که يې دمسجد په نوم وقف کړي لاغوره ده . داوقف کول يې حق دي .

(فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۳۳۵)

دمدرسې دودانۍ دپاسه دمسجد ودانول

پوښتنه : چا دمدرسې دودانۍ دپاسه مسجد جوړ کړ . دمحلې اوکلي خلکو شکايت درلود چې دمدرسې زده کوونکي شر اوشور کوي ايا دامسجد شرعامسجد دي؟

ځواب : داشرعا مسجد نه دي ځکه لانديني برخه يې مدرسه ده . دلته لمونځ کيږي خودمسجد دلمانځه ثواب نلري .

(فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۲۸۹)

ترمسجد بهر ، په ځمکه دوکانونه جوړول

پوښتنه : مسجد ته نژدې دعامه مصلحت لپاره يوه ټوټه مځکه خالي پاته ده . هلته کوهي يا نورڅه دي ، مالك يې معلوم نه دي . په دې حالت کې دکلي دخلکو په اتفاق هلته دوکانونه جوړ وي اوپيسې يې دمسجد په ګټه استعمالوي . داجائز دي ؟

ځواب : دمسجد داسې ځمکه دې دامام اومؤذن دمعاش او اجورې په برخه کښې وکارول شي . که داسې کار مسجد ته زيان نه وي اودامام اومؤذن هم خوښه وي نوداسې جائز دي .

دمسجد دګټي لپاره دوقف شوي ځمکه خرڅول

مسئله : کومه ځمکه چي دمسجد لپاره وقف شوي وي . دهغې دخرڅولو حق نشته . نه واقف ، نه متولي اونه دوقف کوونکي ورثي ته خو کوم ځمکه چي دمسجد دمصالحواوګټې لپاره وقف شوي وي دمسجد دودانولو لپاره دواقف یاورثي ، متولي اوکلیوالو په ګډه مشوره خرڅیدلای شي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۳۰ .درمختار ج ۳ ص ۳۲۷ .مخ پهحو.

دمسجد په نوم دځمکي بدلول

پوښتنه : یوه توټه ځمکه دمسجد لپاره وقف ده خو له مسجد څخه لرې لیرې ده . مسجد ته بې کومه ګټه نه رسیږي . یوه چاته ددي ځمکي ضرورت دي هغه داځمکه په دوه برابره زراعتي ځمکه بدلوي . ددي ځمکي عاید زیاتیږي آیا داسي بدلون روا دي . اودازیاته ځمکه خو به سود نه بلل کیږي ؟

ځواب : که ددي ځمکي مسجد ته ګټه نه رسیږي ، په بله ګټوره ځمکه یې بدلول جائز دي اودازیاته ځمکه ورکول سود نه دي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۳۴۲ ا)

په دولتي ځمکه پرته له اجازي مسجد ودانول

پوښتنه :: دچا کور دسړك په غاړه دي . ترڅنګ يي يوميداني دي چي دولتي ځمکه ده وربانديي دلمانځه لپاره يوه چوتره جوړه شوي ده . لمونځونه ورباندي کيږي . داځاى مسجد کول څرنګه دي ؟

ځواب : داچي همدغه ځمکه دحکومت ده ، حدود يي معلوم دي نو دمسجد جوړولو لپاره يي دحکومت اجازه اخستل ضرور دي . پرته له اجازي شرعي اوقانوني خطره پکښي ده .

(فتاوى محموديه ج۱۰ص ۱۹۷).

مسئله : په اوسني حالت (چي پرته له اجازي دلمانځه ځاى جوړ شوي دي ، له دي هڅي سره ،سره چي اجازه ترلاسه شي .) ددي عبادت ځاى دمسجد په څير احترام ساتل ضرور دي . هيله ده دمسجد لمونځونو ثواب پکښي وي .

(فتاوى محموديه ج۱۰ص ۱۹۹).

مسئله : په غصب شوي ځمکه مسجد جوړول ترهغو صحيح نه دي ترڅو يي مالك اجازه ونکړي . که دحکومت پرکوم دفتر يا اداره قبضه ولګوي اوهلته مسجد جوړ کړي هم غصب ده .

(آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۳۴).

مسئله : دغير مسلم کس په ځمکه له اجازي پرته مسجد جوړول روانه دي . که وربانديي ودان شي دي غير مسلم مالك ته داحق شته چي داودان شوي مسجد يا مدرسه رنګ کړي . که يي مسلمانان دهغوئ خپلول غواړي مالك ته دى بيه ورکړي اودهغه په خوښه دي تري واخلي

(آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۳۴ او نظام الفتاوى ج ۱ ص ۳۱۱).

په ورانه ځمکه دمسجد ودانول

پوښتنه : داوبو دېند خوا کښې مخروبه ځمکه ده . که هلته څوك وربانديي چت جوړ کړي ، لمونځونه وربانديي کوي . له حکومت څخه يې هم دمسجد په نوم سند تر لاسه کړي ايا هغه شرعامسجد دي ؟

ځواب : که هغه ځمکه دچا ملکيت نه وي ، مخروبه او ددولت ملك وي . دټولو په اجازه هلته اذانونه او دجماعت لمونځونه کيږي . ددولت کاغذ هم لري ، نو بيا دچا لپاره دهغې قبضه کول جائز نه دي . څوك چې دهغه ځای په مسجد جوړولو کښې خنډ پيدا کوي . هغه په غلط دي . هغسي دي نه کوي مسلمانان دي په هغه ځای باقاعده مسجد جوړ کړي .

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۲۰۱)

دمسجد په ځمکه دمدرسي لپاره ودانۍ جوړول

پوښتنه : دمسجد په اړوند ځمکه ، تعمير جوړول اووربانديي دمسجد بودجه مصرف کول اوبيا پرته له عوض اوبدل څخه مدرسي ته سپارل روا دي ؟

ځواب : دمسجد په ځمکه دمسجد په روپيوتعمير جوړول اوبيا پرته له بدل څخه مدرسي ته پريښودل جائز نه دي . دمدرسي په روپيو دمسجد په ځمکه تعمير جوړول داسي کيږي چې په مشوره جوړ شي اومدرسه مسجد ته کرايه مقرره کړي . ځمکه به دمسجد وي او تعمير به دمدرسي او مدرسه به دځمکي کرايه مسجد ته ورکوي .
يا داسي چې تعمير هم دمسجد په روپيو جوړشي . مدرسي ته په کرايه ورکړل شي . داهم جواز لري .

(فتاوی محموديه ج ۴ ص ۱۷۷) .

له کور څخه مسجد جوړول

پوښتنه : چا په محکمه کښې دخلګو په وړاندې اقرار وکړ چې تردې وروسته دې عام مسلمانان زما په کور کښې تل پنځه وخته لمونځ په جماعت سره کوي . زما میرمن چې ترڅو ژوندي وي دلته به هستوګنه کوي . نو ر ټول کور به مسلمانانو ته پاته کیږي عامو مسلمانانو پکښې لمونځونه کول . څو دده تر مړینې وروسته دهغه میرمن او نور خپلوان دلمانځه لپاره ځنډ جوړ وي . خپل کورونه جوړ وي اوهغه ځای قبضه کوي . حکم یې څه دی ؟

ځواب : که هغه شخص دروغتیا په حالت خپل کور مسجد کړي وي لاره یې بیله کړي وي . عامو خلګو ته یې اجازه ورکړي وي اوهغوئ منظم اذانونه اودجماعت لمونځونه کړي وي نو هغه شرعا مسجد دی . اوس یې دمیرمنې یانورو خپلوانو حق پکښې نشته . که یې دعوه وکړه هغه لغو اوباطله ده .

که دمړینې دوخت په ناروغي کښې یې هغه مسجد کړي وي نو هغه دوصیت دحکم په اساس ، دریمه برخه یې مسجد اودوه برخې یې دوارثانو تراجازې پورې اړه لري .

(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۱۲۴ دعالمګیري ج ۴ ص ۴۲۸ مخ په حواله) .

مسئله : مسجد دچا په ملکیت کښې نه دی . داچې کلیوال مسجد خپل ملکیت بولي ، په دې خبره تغیر پکښې نه راځي ، لمونځ پکښې صحیح اود مسجد ثواب ورته رسیږي .

(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۴۹ درد المحتار ج ۳ ص ۵۱۰ په حواله) .

چيري چي دمالك په اجازه اذان او دجماعت لمونځ کيږي ، هغه مسجد دي .

پوښتنه : که دچا په اجازه دهغه په ځمکه کښي خلګو په خپله مرسته (چنده) مسجد ودان کړ څو کلونه يي هلته پکښي لمونځونه کول خو وروسته هغه سړی وويل : زه داځمکه نه وقف کوم ،که څوك پکښي لمونځونه کوي اوکه يي نه کوي زه يي بندوم . په دي صورت کښي لمونځ کوونکي پکښي دلمونځ کولو حق لري اوکه بنديدلاي شي؟

ځواب : داچي دهغه سړی په اجازه مسجد جوړ شوي دي . لمونځونه پکښي په جماعت سره شوي دي . هغه سړی هم خلګ تري منع کړي نه دي نو هغه شرعي مسجد دي ، اوس حق نلري چي څوك له لمونځ کولوپکښي منع کړي .

(فتاوی محموديه ج۲ ص۱۷۰ دردالمحتار ج۱ ۲۸۲ مخ په حواله) .

مسئله : که څوك ځمکه وقف کړي په ژبني (شفاهتي ډول داخبره وکړي ، خلکو ته هلته دلمانځه کولو اجازه ورکړي . خلګ هم پکښي اذان اودجماعت لمونځونه وکړي . له خپل ملکيت څخه يي لاره بيله کړي نو هغه په اتفاق سره مسجد بلل کيږي . که څه هم ليکلي اقرار ته يي وار ورغلي نه وي . هلته دنورو مسجدونو په ډول لمونځ صحيح دي . دوقف کوونکي وارثانو ته هيڅ داسي حق نشته چي هغه دوقف داحکامو خلاف وي اودهغه دوراثت په ډول دعوه کول غلط ده .

(فتاوی محموديه ج۱۰ ص ۱۹۳) .

مسئله : مسجد جوړولو لپاره داخبري ضروري دي

۱: وقف کوونکي به دځمکي صحیح مالك وي که هلته تعمیر وي که خالي وي دوقف کولوشرعي اختیار به ورسره وي

۲: وقف به له خپل ملکیت څخه داسي بیلوي چي دوقف کوونکي یا بل شخص به ورباندي حق نه وي.

۳: وقف دي متولي ته سپاري، یا دي دوقف کوونکي په اجازه هلته دجماعت لمونځ اداکیږي. که داخبري تحقیق وموممي نو هغه ځمکه یا تعمیر دمسجد حکم لري. دمسجد کیدلو لپاره دوقف کوونکي نیت معتبر دي. که په نیت کښې صراحت موجود وو خوکوم مشکل نشته که صراحت پکښې نه وو بیا به قرائینو او شواهدو ته کتل کیږي چي څرنګوالي یې څرګند کړي.

(کفایت المفتي ج ۳ ص ۱۵۲).

که دمسجد نقشه غیر مسلم چمتو کړه.

مسئله: کوم کارونه چي په مسجدونو پوري اړه لري، غوره داده چي هغه مسلمانان وکړي په تیره هله چي که غیرمسلم کوم خدمت وکړي اوبیا په مسلمانانو منت ږدي. یا کوم دیني فساد پیښوي...

. خو پوښتنه دلته ده چي که یوه مسلمان انجنر تر توان زیاته حق الزحمه غوښته او غیرمسلم په مناسبه اجوره کار کاوو. بیا دي هغه کار وکړي هغه به دملازم په توګه کار کوي اوبیا به په مسلمانانو څه احسان نه بولي نو نقشه کښل او نور کارونه یې کولای شي.

(فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۲۳۲ دامداد الفتاوی ج ۲ ص ۱۹۰ سره مل).

که غیر مسلم دمسجد اساس کښیږدي

مسئله : غیر مسلم که بناوي . انجنر وي یا دسمت او لوري دپیژندلو ماهر وي یا داسلام دمراسمو داعزاز نیت یي وي ، که هغه دمسجد اساس کښیږدي صحیح دي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۳۲).

دمسجد داساس دایښودلو دوخت دعاء

ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم (فتاوی محمودیه ج۱ ص ۴۸۲

)

محمد رفعت قاسمي (دکتاب مؤلف) وایي : مناسب دادي چي یو متقي مسلمان دمسجد اساس کښیږدي یعني دمسجد دکار پیل دي داسي څوك وکړي چي اهل وي او دابراهیم ﷺ هغه قرآني دعا چي دکعبي دودانولو په وخت کښي یي ویلي وه ووایي .

ایا دمسجد داساس ایښودل ، دمسجدحکم لري

پوښتنه : دیوه مسجد بشپړه ودانۍ جوړول مسجد بلل کیږي او که یوازي دهغه اساس ایښودل کافي دي ؟

که یوازي اساس ایښودل کافي وي ، نوهغه مسجد چي اساس یي ایښودل شوي خو جوړشوي نه دي . هلته او دس کول ، غسل کول ، دحیواناتو څرول دکارګرانو سګرت څکول څرنګه دي ؟

ځواب : هغه ځکه چي ترجوړولو وړاندي پکښي اذان اودجماعت لمونځونه کیږي اونیت هم داوي چي دابه پسي مسجد کوو ، هغه مسجد

دي دنورو مسجدونو په څير يي احترام لازم دي کوم شيان چي په مسجد کښي منع دي هغه په دي ځمکه کښي منع دي

(عالمگيری ج ۳ ص ۳۳۸)

که همداسي نه وو اونيت يي کړي وو چي دتعمير تر بشپړ کيدلو وروسته به پکښي اذان اوجماعت کيږي نو بيا دوداني تر بشپړ کيدلو وروسته دمسجد حکم لري.

(فتاوى محموديه ج۱ص ۴۹۸ ستاسي مسائل ج ۳ ص ۱۵۵).

دمسجد حدود معلومول

په ځيني مسجدونو کښي دنورو اړتيا وو ځای له مسجد څخه بيل وي هغه کومه ستونزه نلري ، دمسجد حدود پيژندل کيږي خو په ځينو مسجدونو کښي ورسره لگيدلي وي . دمسجد حد ترهغه نه معلوميږي ترڅو يي وقف کوونکي اودمسجد جوړونکي ورته ونه ښيي.

څوک چي په مسجد کښي داعتکاف اراده لري ترهر څه وړاندي ورته ضروري خبره داده چي دمسجد حدود وپيژني له مسجد جوړونکي يا متولي څخه يي پوښتنه وکړي . دمسجد اهل هم بايد دمسجد حدود وپيژني ، نقشه ولري يا لږ ترلږه اعتکاف په پيل کښي معتکفين سره کښيني او دمسجد حدود ځان ته معلوم کړي.

په ځيني مسجدونو کښي داودس کولو ځای له مسجد سره لگيدلي وي ، هلته خلگ داوداسه ځای هم مسجد گڼي ، خو داودس کولو ځای مسجد نه دي . معتکف دي له عذر څخه پرته هلته نه ځی کنه اعتکاف يي خرابيږي . دمسجد اود اوداسه دځای حد اواندازه بايد معلوم وي . دمسجد دورتلو دلاري زيني هم دمسجد برخه نه ده .

معتکف ته له شرعي ضرورت څخه پرته ، هلته تلل ښه نه دي په ځینې
مسجدونو کښي داوبو ډنډونه (حوضونه) جوړ شوي دي ، هغه هم له
مسجد څخه بهر ځای دي . دمسجد او حوض حد معلومول هم ضروري
خبره ده ځینې مسجدونه ترڅنګ دجنازي دلمانځه لپاره ځایونه لري .
هغه هم دمسجد برخه نه ده دمعتکف ورتلل ورته جواز نه لري .
ځیني مسجدونه ترڅنګ دامام لپاره خوني لري هغه هم دمسجد په حکم
کښي نه ده اوپه ځینو کښي نوري خوني دي چي دامام دهستوګني لپاره نه
وي خو دهغه کارونو لپاره وي . هغه هم که د مسجد باندي له لوري
دمسجد لپاره مشخص شوي نه وي . دمسجد حکم نلري او معتکف ته دي
ورتلل ښه نه دي .

په ځینو مسجدونو کښي دمسجد ترڅنګ دماشومانو دزده کړي لپاره
خوني وي ، هغه هم که دمسجد په نیت نه وي جوړي شوي دمسجد حکم
نلري . هغي ته هم دمعتکف ورتلل جواز نلري . ځیني مسجدونه دسامان
دایښودلو لپاره بیله خونه لري ، هغه هم که دمسجد په نیت جوړه شوي نه
وي . مسجد نه دي معتکف دي هلته هم نه ځي .
له دي بیان څخه معلومیږي چي معتکف ته ځومره لازمي ده چي دمسجد
حدود وپیژني . اوبیا په اعتکاف کښي کښیني . داعتکاف په موده کښي
له شرعي عذر څخه پرته دمسجد له حدودو څخه وتل ورته ښه نه دي ، کنه
اعتکاف یې ماتیږي .

(احکام اعتکاف ص ۳۵ مولانا محمد تقي عثماني) .

دکلیوالو دنده

۱:- دکلیوالو دنده ده چې وړاندې لاتحقیق وکړي چې زموږ په مسجد کښې څوك په اعتکاف کښې کښېني که نه ؟ که څوك نه کښېناست بیا دې فکر وکړي چې یو څوك کښېنوي

۲:- چاته اجوره ورکول اوپه اعتکاف کښې کښېنول جواز نلري . څکه په عبادت کښې اجوره ورکول یا اجوره اخستل دواړه ناروا دي .

۳:- که کلیوال دکوم عذر له امله په اعتکاف کښې کښېناستلای نه شواي دبل کلي یو کس دي ، دي ته وهڅوي څو ددوئ په کلي کښې په اعتکاف کښې کښېني . انشاء الله دهمدي کلي دخلګو داسنت ادا کیدلای شي .

(فتاوی دارالعلوم ج ٦ ص ۵۱۲).

داعتکاف ستر رکن دادي چې معتکف ، داعتکاف په موده کښې دمسجد په حدودو کښې دننه پاته شي . له ضروري اړتیا وو پرته دیو شیبي لپاره هم تر ي لاړ نشي . که پرته له شرعي عذر څخه ووزي اعتکاف یي ماتیږي .
(احکام اعتکاف ص ۳۳ مولانا محمد تقی عثماني).

دمسجد دحدودو مطلب

دير خلګ دمسجد دحدودو په مطلب نه پوهيږي . له همدي امله اعتکاف ماتيږي . له همدي امله داورته لازمه ده چې دمسجد حدود ځان ته معلوم کړي اوپه مطلب يي پوه شي .

په عامه محاوره کښې خو دمسجد ټوله احاطه مسجد بلل کيږي . خو په شرعي اعتبار سره دمسجدټوله احاطه مسجد نه دي بلکي هغه برخه

مسجد دي چي باني (جوړوونکي) يي مسجد بللي دي اودمسجد په نوم

يي وقف کړي دي .

ددي خبري معني داده چي دمسجد په نوم وقف کول بيله خبره

اودمسجد داړتيا وو لپاره ځمکه وقف کول بيله خبره ده . شرعي مسجد

هغه دي چي يوازي دلمانځه کولو لپاره جوړ شوي وي . په هر مسجدکي

داسي ځايونه شته چي مسجد نه دي خودمسجد داړتيا وو لپاره دي

هغوي وقف ځايونه دي خومسجد نه دي لکه د اودس ځای ، دغسل ځای

دجنازي دلمانځه ځای ، دامام خونه ، دسامان دايښودلو خونه ، داوبو

دتودولو ځای تول هغه ځايونه دي چي دمسجد حکم ورباندي نه جاري

کيږي . دجنابت په حال کښي دي ځايونو ته تلاي شي . دمعتکف ورته

پرته له ضرورت څخه جواز نلري . که پرته له عذر څخه هلته ديوي شيبي

لپاره هم ځي اعتکاف ماتيږي .

(احکام اعتکاف محمد تقی عثماني ص ٢٢)

مسئله : دمسجد حد هغه برخه ده چي دلمانځه لپاره ټاکلي شوي ده . لله

دجنوب سړی تلل پرته له غسل څخه منع ده . داوداسه ځای له

وتلي دي .

دسرک دپراخولو لپاره

پوښتنه : دسرک خواکښي مسجد دی

کار سره نیم مسجد ورانيږي . خو

کور دي هغه وايي : که تاسو م

دشمال لورته ځمکه درکرم مس

ده چي خپله طرحه څرنګه کړ

ځواب : یوځل چي یوځای مسجدجوړ شو هغه ټول عمر مسجد دي . هغه ځرځول ، بدلول،بل ځای و دوکان ، مسافر خانه ، جوړول یا مړی خښول هرڅه پکښي ناروا دي .خو دپورتني پوښتني په موضوع کښي که دولت هغه په زور سره په سړك کښي راولي نه دي ورڅخه پیسي اخستلي کیږي اونه ورسره جګړه کیږي . نه دي احساسات راپارول کیږي اونه دي له غیر مسلم شتمن سړی سره دتبادلي خبره کیږي . که دولت دځپلي خوښي مطابق کوم ځای ونیسي . غیر مسلم دمسجد دپراخولو لپاره دځمکي ورکول خیر ګڼي او ورکوي یي ، هغه دي په مسجد کښي شامله شي دارتیا په صورت کښي یي همدا صورت مناسب دي .

(فتاوی محمودیه ج ١٨ ص ١٢٧ باب احکام مساجد).

مسئله : ترممکن حده دیهڅه وشي چي مسجد په خپل حال پاته شي . خوندي وي له بي ادبي وساتل شي . که یي سامان ضایع کیده بل مسجد ته دي واستول شي . که یي ودانی ړنګیدله ، لوازم دي بل مسجد ته

دا ځمکه دي له بي احترامي څخه خوندي وساتله شي . که که هم نه پریښودله ، هغه دي وقف کوونکي یا یي وارثان یا ... ل دګنجائش ... رت کښي ورباندي خرڅه کړي . خو ددي لپاره چي دد... ه نشي اوبل حکومت یا بل ځوك بده ګټه تري ... ه زیان د غم وړ وي وګالل شي اودپیسو له ... دمح... کښي داسي هم جواز شته چي ... حاي ...

... یمیه ج ١ ص ١٢۴ شامي ج ٣ ص ٥١٣ ، ٥١٩ ... لبا ... (١٠.

په سرک دچت درولو حکم

پوښتنه : دمسجددتنگوالي له امله لمونځ کوونکي بهر په سرك باندې چت تړي . لمونځونه کوي . که دسرك دمسئولينو اجازه وي ، خلگوته ستونزه نه وي څکه چت ۱۲،۱۵ فوټه تر سرك لوړ وي نو آيا لمونځ ورباندي جائز دي اودجماعت دلمانځه ثواب ورباندي مرتب دي ؟

ځواب : په سرك چت تړل ، ورباندي لمونځ کول شرعا جائز دي که دمسجد له صحن سره هم چت متصل وي اودمسجد صفونه ترهغه ځايه رسيدلي وي نو دجماعت دلمانځه ثواب لري خو داچت دشرعي مسجدحکم نلري څکه مسجد ټول لاندي باندي وقف وي خو دلته ترچت دلاندي سرك ددولت ملکيت دي .

(فتاوى محموديه ج ٧ ص ١٨٣).

د دوه پوړيزه مسجد حکم

که دوه منزله مسجد جوړ شي لانديني برخه يي بي کاره پاته کيږي . معمولا تودوخه بهانه کوي خلگ په پاس مسجد کښي لمونځونه کوي . خواصل مسجد دلاندي دي . اوله ضرورت څخه پرته پورته دمسجد په چت باندي گرځيدل هم مکروه دي نو په داسي حالاتو کښي دوه پوړيزه مسجد مناسب نه دي .

که تل دمسجد په لانديني برخه کښي لمونځونه کيږي . دځاى دتنگوالي له امله مقتديان پورته هم ولاړ وي نو شرعا جائز دي چي دسهولت لپاره دوهم پوړ جوړ شي اوبيا په چت باندي بل چت جوړول ممانعت نلري .
(فتاوى محموديه ج ٧ ص ١٨٤ دردالمحتار ج ١ ص ٧٨٢ په حواله).

مسئله : دمسجد په بام هغه وخت لمونځ مکروه دي چي په بام باندي کليوالو دلمانځه لپاره ځای جوړ کړي نه وي ، يوازي هغه دبام صفت ولري خو که دوهم پوړ ودان کړي بيا دبام حکم نلري

(امداد الاحکام ج١ ص ۴۴۰).

دمسجد بدلول

مسئله : له خپله لوري دي څوك دمسجد دځای دبدلولو يا خرڅولو خبره نه کوي خو که نور خلگ ځمکه نه پريږدي اوبل ځای مناسب ځمکه يايي بيغه ورکوي نو مجبورا دي هغه ځای پريږدي اوبل ځای دي مسجد ودان کړي .

(فتاوی محموديه ج١٢ ص ٢٧٥).

دمسجد پښتولان (گاډر) دهمسايه په ديوال ايښودل

مسئله : مسجد دخدای تعالی کور دي . په هغه دبل چا ځمکه پرته له اجازي نيول يا دبل چا په ديوال دمسجد پښتول ، گاډر ، يا لينټر يا بل څه ايښودل يا داسي کړکي پريښودل چي دبل چا دکور دپردي په خلاف وي داهرڅه شرعا ناروا دي . داحق تلفي ده . گناه ده . که مسجد ته دکومي ځمکي اړتيا وه په بيه دي واخلي . که دکوم ديوال يوه برخه په مسجد کښي راتله بيه دي ورکړي . که په کړکي ورکولو ديل چا کور ښکاره کيده ، بله چاره دي وکړي اوکه داسي حق تلفي شوي وي دهغه دي معذرت وغواړي . کنه په اخرت کښي يي له پوښتلو خلاصون نشته .

(فتاوی محموديه ج٢ ص٢٧٢)

مسئله : دمسجد ديوال دي له کومي ودانۍ يا دوکان سره مشترك نه وي . که څه هم هغه ودانۍ يا دوکان دمسجد لپاره وقف شوي وي .

(فتاوی رحيميه ج٢ ص ١٨٠).

مسئله : که څوك مځکه واخلي اووقف يې نکړي . هغه دمسجد نه ده . په هغې کښې دمالك دتصرف حق شته . خو که مسجد تنگ وو او پراخولو ته يې اړتيا وه . له مالك څخه دې په بيه واخلي هغه هم دمالك په رضايت (فتاوی محموديه ج ١٠ ص ١٧٨ ددرمختار ج ٣ ص ٣٢٧ په حواله) (يعني په زور سره دې نه ترې اخلي چې جائز نه ده ـ محمدرفعت قاسمي) .

دمسجد په ديوال نقشې جوړول

مسئله : دقبلې له لورې پرته په نورو ديوالونو نقش جوړول صحيح دي خو دوقف له مال څخه جائز نه دي . زيات مصرف کول هلته هم مکروه ده .

(فتاوی محموديه ج ٢ ص ١٧٣ دکبيري ص ٥٧١ او مجمع الانهر ج ١ ص ١٢٧ او بحر الرائق ج ٢ ص ٣٧ په حواله)

مسئله : ددرمختار اودشامي دلومړي ټوک د٤٤٢له عبارت څخه معلوميږي چې له محراب څخه پرته په نورو ځايونو نقش جوړول په حلال مال باندې روا ده . خو دقبلې لورته داسې انځورونه کښل چې دلمونځ کوونکو توجه ورته اوړي مکروه دي . هغه لورته باريك انځورونه هم مکروه دي اودوقف له مال څخه خو داټول مکروه دي .

هغه شيان چې دتعمير دکلکوالي لپاره ضروري وي . هغه داړتيا وړ مصرف دوقف له مال څخه هم جائز دي . نور دښکلا لپاره دوقف له مال څخه حرام دي . که متولي دوقف شتمني په زينتي شيانو کښي ولگوي هغه ددې مال ضامن دي . که دوقف مال زيات وو اودمسجد دودانۍ اړتياورته نه وه . ضر وريات يې پوره وو اوداشتمني بيخي زياته وه . له متولي سره داويره وه چې داشتمني ساتل کيدلای نشي نور ظالمان وربانديې تيري کوي اوهغه په خپل کار کښي لگولې په داسي جبري وخت کښې دزياتو پيسو مصرف دښکلا په شيانو کښې هم جائز دي .

دمسجد په دیوالونو داسي هنداري لګول چي څهره پکښي ښکاره کیږي خو مقصد پکښي دمسجد ښکلا وي که تصویر پکښي ښکاره کیده داله تصویر نمانځنو سره ورته والي دي په داسي مسجد کښي چي همداسي هنداري پکښي لګیدلي لمونځ صحیح دي لمونځ کوونکي دي تیټ ګوري ترڅو ورته خشوع پیداشي که هغه لورته ګوري خشوع یي کمیږي او لمونځ یي مکروه دي.

(فتاوی محمودیه ج ٦ ص ١٨٠، فتاوی رحیمیه ج٢ ص ١٧٠. دابن ماجه ج١ ص ٢٤٥ په حواله. شامي ج١ ص ٦٠٧، کفایت المفتي ج ٣ ص ١٤٠، کتاب الفقه ج١ ص ٤٥٧ او احسن الفتاوی ج ٦ ص ٤٥٩)

که پني (پایزار) په پښو وي اومسجد ته ننوزي

مسئله : که دیوه مسجد ودانی ونړول شي اوبل تعمیر ورباندي ودانوي دهمدي مسجد دځای دومره احترام ضرور دي لکه دجوړ مسجد. پني ،بوټونه یا څپلکي که نوي یا پاکي وي کومه ستونزه نشته خو دادب غوښتنه داده چي بوټونه وکاږي.

(فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ١١١ اوآپ کی مسائل ج ٣ ص ١٣٨).

مسئله : په ځینیو مسجدونو کښي دبوټونو دایښودلو لپاره کومه بکسه جوړه شوي نه وي. که بوټونه پاك اووچ وي نو مسجد نه ناولي کوي.

(آپ کی مسائل ج ٣ ص ١٣٨ کفایت المفتي ص ١٥٠).

دمسجد دجوړولو په وخت کښي له بوټونو سره پکښې ګرځیدل

یوازي په نیت اودالان اومیدانی په معلومولو دمسجد احکام په کو
ځای نه جاري کیږي بلکي په اذان اوجماعت سره مسجد والي ثابتیږي او
بیا دمسجد احکام ورباندي جاري کیږي.
دتعمیر په وخت کښي دمعمار اومزدور راتلل یوحکم لري اوکه اذان او
جماعت پکښي کیږي بل حکم لري. کوم ځای چي دلمانځه اوجماعت ل
پاره غوره کیږي اودجماعت لمونځ هم پکښي کیږي دجوړ مسجد احکا
ورباندي جاري کیږي. هلته بوټونه په پښو کول اوپکښي ګرځیدل داحترام
خلاف خبره ده.

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۲۷ (دعالمګیري ج ۴ ص ۹۳ په حواله)

دمسجد دجوړولو په وخت کښي هلته چلم څکول

پوښتنه: دمسجد دجوړولو په وخت کښي دمسجد په غولي کښي چلم
څکول څرنګه دي؟

ځواب: په مسجد کښي حقه (چلم) څکول ناجائز دي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۳۴۱)

دمسجد مینار به څومره لوړ وي؟

مسئله: دمینار په هکله په شریعت کښي حد ټاکل شوي نه دي
خودمسجد جوړښت دي داسي وي چي کتونکي وپوهیږي چي دامسجد
دي. په عام ډول دوه منارونه معمول دي څوک څلور او څوک لازیات
منارونه جوړوي خو داشرعي امر نه دي اونه پکښي ممانعت راغلي دي

خوبي موجبه دپیسو مصرف کول دي په تیره دوقف پیسي چي خورا احتیاط پکښي لازم دي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۲۵).

گنبده، مینار اومحراب که ضرورت ورته وو شرعا جواز لري.

(محمودیه ج ۱۰ ص ۱۵۹).

له مسجد سره شخصي کور جوړول

پوښتنه: دمسجد شایا اړخ ته دچاځمکه ده. هغه په خپله ځمکه کښي ودانی جوړوي. که څه هم هغه ځمکه دده خپل ملکیت ده اوهغه دمسجدله دیوال څخه خپله ودانی پیل کوي خو په قانون کښي یا دبام داوبو لاره بنده شي. خوهغه شخص دومره ځمکه نه پرېږدي، آیا په قانوني توگه هغه دحکومت په زور ورڅخه اخستلاي شي؟

ځواب: دمسجددبام داوبو لاره پرېښودل دمسجد حق دي نو دمسجد دخوندیتوب لپاره دهغه شخص ددي کار مخنیوي ضرور دي.

دمسجد کبیر تعریف

مسئله: څلویښت ذراع (نیم گز) اوږ د څلویښت ذراع سور ور. په بل روایت شپېته ذراع اوږداوشپېته ذراع سورو ر مسجد. مسجد کبیر بلل کیږي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۲۸ ددرالمختار ج ۱ ص ۲۰۲ په حواله).

مسئله: که له څلویښت په څلویښت شرعي گز څخه مسجد وړوکي وو، هغه کوچني مسجد (مسجد صغیر) بلل کیږي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۸۲ امداد الاحکام ج ۱ ص ۴۴۴).

په يوه مسجد باندي د ((مسجد حرم)) نوم اينبودل

پوښتنه : داچي دانوم دكعبي دي نو مسجد په همدي يادولاي شو ؟

ځواب : غلام احمد قادياني داغولونه كړي وه چي خپل نوم يي دنبي ﷺ نوم غوره كړي وو ،دخپلي ميرمني نوم ام المؤمنين ، دمسجد نوم دسرور دو عالم مسجد ، هديره يي دمديني هديره بللي وو . په دي توگه يي خپله ځله دخاتم النبين له امت ځخه دگوښه كولو هڅه كوله ...

ځوك دي، دخپل مسجد نوم مسجد حرم نه ږدي چي مسلمانان ورباندي ونه غولېږي، كه څه هم مسلمانان داتلبيس نه كوي خوبيا هم له مغالطي او دوكي ځخه ليري كيدل ضروري دي .

(فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۱۴۷).

دمسجد غرباء نوم اينبودل

مسئله : دپيژندگلوي لپاره داسي نوم اينبودل كيدلاي شي ، په دي چي دلته اكثره بي وزله خلگ دي . يا بي وزله خلگو دامسجد جوړ كړي دي يا دبي وزله خلگو مسجد دي . نو داسي نوم اينبودل څه شرعي بدوالي نه لري . داسي نوم اينبودل كيدلاي شي .

(فتاوى رحيميه ج ۶ ص ۹۲)

په ډېره كښي نوم ليكل او په مسجد كښي اينبودل

پوښتنه : كه ځوك مسجدجوړ كړي اوبيا په يوه ډېره خپل نوم وكندي په مسجد كښي يي كښيږ دي ، جواز لري ؟

ځواب : دمسجد دودانولو دثواب دترلاسه كولو لپاره كه دخلگو ددعاء په هيله په ډېره خپل نوم كاږي اويا ددي لپاره چي نورخلگ هم تشويق



شي نو دنوم ليکل صحيح دي اوکه دشهرت لپاره نوم کندل کيږي صحيح نه ده .

(فتاوی محمودیه ج۱ ص ۵۱۴).

که يوکس يوازي خپل نوم په ډبره ليکي .

پوښتنه : يوجامع مسجد جوړيږي . خلګ ورسره مرسته کوي خو يوشخص ته نورو زياته هڅه کوي ، مرسته ډيره راغونډوي اونور کارونه هم ډير کوي او همداشخص په ډبره باندي دمسجد دتاسيس نيټه اوخپل نوم ليکي دمسجد په ديوال کښي يي ږدي خو نور خلګ په دي کارسره ناخوښه کيږي ، څرنګه داډبره دهغه شخص له نوم سره هلته نصب کيدل جواز لري ؟

ځواب : که داشخص دمسجد دودانولو دکار سرپرست اومشرنومول شوي وي بيا داسي عبارت په ډبره کاږي چي دامسجد دفلاني تر نظارت اوڅارني لاندي ودان شو نو شرعا کومه ستونزه نلري ، خو که هغه شخص په خپله دامطالبه کوي چي زما نوم دي وليکل شي . داداخلاص خلاف خبره ده . له دي څخه ښکاري چي هغه خپل شهرت غواړي اوداشهرت غوښتل يوغلط غرض دي . ثواب ختموي . په دنياکښي خو به يي نوم اوچت شي خو په اخرت کښي به دخالص عمل له ثواب څخه بي برخي وي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۴۲).

دمسجدپه میداني کښي تر ودانولو وروسته دکوهي کندل

مسئله : کوم ځای چي دلمانځه کولو لپاره وقف شوي وي . هغه ځای په مستقله توگه دبل څه لپاره استعمالول دواقف دموخي خلاف خبره ده . هغه ځای تل مسجد پاته کیږي احترام ساتل یي ضروري خبره ده . نو که په دغه ځای ترتعمیر اودواقف ترمړیني وروسته څاه کندله کیږي . نو دتل لپاره له لمانځه کولو پرته پاته شوه حال داچي هغه دلمانځه لپاره ځانگړي شوي وه هلته داوبو دوړلو لپاره هرپاك اوناولي ورځي ، په عامه څاه کښي جار اوجنجال وي لوښي ناپاکه وي ... داهرڅه دمسجد داحترام خلاف اومنع دي ورسره دمسجد ساحه هم تنگیږي .

(فتاوی محمودیه ج۱ص۵۰۲).

دمسجد تر ودانولو وروسته تري لاندي خوني جوړول

مسئله : دمسجد دودانولو په وخت تري لاندي کوټي (زیرخاني) جوړي شوي نه وي دمسجد دوداني تربشپړه کیدلو وروسته یي جوړول جواز نلري ؟

(فتاوی محمودیه ج۱ص ۱۶۹ ددرمختار ج ۳ ص ۵۷۲ په حواله اوطحطاوي ج ۲ ص ۵۳۷

مسئله : که دمسجد دړنگیدلو احتمال وو ، هغه یي دبیا ودانولو په نیت رنگ کړ کوم ځای چي دلمانځه لپاره ځانگړي شوي دي هغه مسجد دي . اوس که تري لاندي دوکانونه جوړوي اوکرایه ورباندي اخلي داکار جواز نلري دمسجد داحترام خلاف خبره ده . دوکاندار به خپل دپیرلو اوپلورلو کار کوي اوداپه مسجد کښي جواز نلري اوکرایه یي مسجد ته ورکول هم جواز نلري

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۹۰) .

مسئله : که دوهم پوړمسجد کړي اولاندیني پوړ دوکانونه کړي پورته لمونځ کیږي اوکښته بازاري کاروبار ، دادمسجد داحترام خلاف خبره ده . پاس اوکښته ټول مسجد دي ، کومه برخه یي دکرایه اخستلو لپاره ځانګړي کول جواز نلري .

(فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۲۱۵).

مسئله : دځمکي کومه برخه چي دمسجد لپاره ځانګړي او وقف شي یعني دلمانځه لپاره وټاکله شي پورته اوکښته (له تحت الثری ترثریا) ټول مسجد ګرځي ، دبنده حق ورڅخه غوځیږي ، دلاندي دوکان پاس مسجد صحیح نه دي . لاندني برخه هم مسجد ده هلته خرید اوفروخت اودهغوئ خبري هرڅه منع دي دمسجد احترام نه ساتل کیږي . پاك اوناولي هریو هلته ورځي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۲۲).

ترمسجد لاندي زیرخانه اوپورته صالون

پوښتنه : پخواني مسجد ددي لپاره ړنګوي چي نوي ودان کړي . په نوي ودانۍ کښي ترمسجد لاندي زیرخاني جوړوي اودپاسه داسي صالون چي هلته دواده ، عقیقي اونور مراسم سرته رسوي آن دمسجد دعاید دزیاتوالي لپاره به ورباندي کرایه اخلي . آیا داجواز لري .

ځواب : چیري چي مسجد جوړیږي دهغه لاندي باندي ټول مسجد دي . دواړه ځایه داسي کار ناروا ده کوم چي دمسجد دحرمت منافي وي . دمسجد پورته اوکښته برخه داحکم لري چي دبنده له تصرف څخه وزي . هال (صالون) جوړول دامعني لري چي ټول اړوند خلګ به دهغه داستعمال حق لري . په دي کښي به داسي کارونه هم وي چي له هغوئ څخه دمسجد

لوازمو دایښودلو ځای دي څه ستونزه نلري . ځکه دمسجد داحترام ضدکار نه دي

(فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۲۲۹).

مسئله : که دمسجد دپاسه دډیري اړتیاله مخي مدرسي ته ځای ورکړي جواز لري خوداهم هغه وخت چي دمسجد دجوړولو په وخت کښي یي دانیت کړي وي چي ترمسجد لاندي یادپاسه به مدرسه ودانوي . خوکه یي لومړي دمسجددمعلومه کړي وي . دمدرسي اراده یي لاندي یاباندي نه وي کړي او وروسته داسي ووایي چي په مسجد دپاسه یا لاندي دي مدرسه وي داسي جواز نلري .

(احسن المسائل ج ۷ ص ۴۴۳ عالمگیري ج ۲ ص ۴۵۵).

دلاندي مدرسه پاس مسجد

مسئله : دشرعي مسجد حال دادي چي لاندي باندي تول مسجد وي . داچي دلاندي مدرسه وي پاس مسجد او زیني ورته لگولي وي خلگ پاس دلمانځه لپاره خیژي داسي شرعا جواز نلري . په شامي اوبحر کښي همدا مسئلي ښکاره بیان شوي دي

(فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۲۲۲).

دلاندي مسجد اوپاس دهستوګنې ځای

پوښتنه : دخیراهل شخص دلاندي مسجد جوړ کړ اوپاس یې دهستوګنې ځای وو ، خلګ ورځي آیا دادشرعي مسجد حکم لري ؟ دوهم جماعت پکښې کیدلای شي

ځواب : له هغه وخته چې چې داځای یې وقف کړي ملکیت یې ختم دي داچې لاره یې بیله کړې نه ده . ټولو خلګو ته یې دراتلو اولمونځ کولو واك ورکړي نه دي نو شرعا مسجد نه دي .

پورته په مالکانه اختیار کې دده هستوګنه دلاندي اذان اوجماعت کیدل دمسجد کیدلو لپاره کافي نه دي . هلته ددوهم جماعت اجازه شته .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۴۸) .

لاندي دوکان پاس مسجد

پوښتنه : چا په خپله ځمکه دوکانونه جوړ کړل . پاس یې ورباندي مسجدجوړ کړ . له اول څخه یې لادانیت کړې وې چې لاندي به زما دوکانونه وي اوپاس دمسجد لپاره وقف ؟

ځواب : په داسي ډول داشرعي مسجد نه دي . هلته لمونځ کول دمسجد دلمانځه ثواب نلري .

که داځمکه وقف شوي وي دهغه شخص ملکیت نه ده نو دهغو دوکانونه کرایه په خپله مصرف کول ورته جواز نلري . داواجب ده چې هغه په مسجد ولګوي اوکه دادوکانونه دمسجد شي بیا دامسجد دشرعي مسجد حکم ومومي .

(فتاوی محمودیه ۱۰ ټوک ۱۸۳ مخ ،دعالمګیري ۲ ټوک ۴۵۵ مخ په حواله ، درمختار ۳ ټوک ۳۷۰ مخ اوکفایت المفتي ۳ ټوک ۱۲۱ مخ) .

دمسجد ترخنگ ځمکه په مسجد کښي داخلول

پوښتنه : دمسجد ترخنگ یوه ټوټه ځمکه دمدرسي په نوم نومولي شوي ده داځمکه په مسجد کښي ورگډولاي شو مدرسه هم پکښي وي او دخلگو دگڼه گوڼي له امله خلگ دجماعت په وخت کښي هلته هم دریږي په همدغه خای کښي دهغوئ اقتداء صحيح ده ؟

ځواب : که هغه ځمکه دچا ملکيت وي . او په مسجد دداخلولو اجازه ورکړي نوداخلول يي صحيح دي خو که بيله دمدرسي لپاره وقف شوي وي نو بيا دي په مسجد کښي نه شاملوي اوکه دمسجد لپاره وراندي لاوقف شوي وه بيا دي شامله کړي که دخلگو دزیاتوالي په وخت کښي هلته څوك دریږي اقتداء يي صحيح ده .

(فتاوی محموديه ١٠ټوک ٢٠٠مخ).

دبندشوي مسجد په صحن (غولي) کښي ددوکانونو جوړول

پوښتنه : که کوم مسجدبند وي ، لمونځونه پکښي نه کيږي ، که هلته دوکانونه جوړشي اوله پاسه ورباندي نوي مسجد ودان شي اوپه دي توگه مسجد هم له غصب څخه خوندي شي ځکه اوس هلته ناولي شيان اچول کيږي آيا داسي کول جائز دي ؟

ځواب : کوم خای چي يو ځل دمسجدلپاره وقف شي . هغه تل مسجد دي هغه دبل شي داستعمال لپاره هيڅکله هم صحيح نه دي . دمسجد دخوندي توب لپاره لازمه هڅه وشي اوهغه بيا دلمانځه کولو لپاره چمتو شي داصل مسجد په ځمکه دوکانونه جوړول اوپورته مسجد کول روانه دی

داوقافو دتخفف دقانون په چوکاټ کښې بايد دهغه دساتلو چاره وشي داسې هم کيدلای شي چې په ديوالونو يې احاطه کړي ، دروازه يې قلف وي اودلمانځه په وخت خلاصيږي که بله هيڅ لاره نه وه چې دغصب کولو مخه يې ونيوله شي بيا نو هميشه ستاسو يادشوي صورت دي
(فتاوی۱۲توک۲۷۰مخ).

دمسجد ترنقشي وروسته ، ترې لاندې دوکانونه جوړول

مسئله : که له نقشي سره برابر دمسجد دجوړولو کار پيل شوي وي دجماعت لمونځ هم پکښې شوي وي تروله ځمکه کومه چې ورته ورکړل شوي وه . په مسجد کښې نيوله شوي وه خووروسته دافکر پيداکيږي چې مسجد په تينځای کښې دي . او اوبه يې ورانوي تروله نقشه پورته تطبيق کوي خو دلاندې يې دوکانونه يا گدام جوړ وي . اوپه کرايه يې ورکوي . داپه کرايه ورکول صحيح نه دي . که دکار ترپيل وړاندې په پلان کښې دلاندې برخه له مسجد څخه بهر بللي شوي . او دوکانونه ورباندې جوړشوي واي . امکان يې وو خو اوس پکښې همدا گنجايش نشته .
(فتاوی رحيميه ج۲ص۸۱).

مسئله : که دمسجد دجوړولو په پيل کښې دمسجد مؤسس داسې نيت وکړی چې په دې نقشه کښې دوکانونه اوخونې شاملې کړی اودمسجد دگټو لپاره يې وقف کړی .داځايونه ترشرعي مسجد بهر دي . هلته ناولي کسان اوحايضه ميرمن ورتلای شي .

(محموديه ج ۳ ص۵۱۲)

خوکه يوځل مسجد جوړشي اوپه پيل کښې لاندې دوکانونه اوپاس خونې شاملې نه وې نودمسجد پورتنی برخه اولاندينی برخه دواړه مسجد دي

دهیڅ برخې دتصرف حق پکښې چاته نشته . هیڅ برخه ترې بهر کولای نشي نه یې دوکان اوخونه کولای شي اودمسجد په څیر یې احترام او درناوي لازم دی. دجنب (ناولی) اوحایضې ورتګ هلته ناروا دی.

(فتاوی رحیمیه دریم ټوک ۱۲۳ مخ اوجدید فقهي مسائل ۷۲ مخ).

دموقت مسجد حکم

پوښتنه : که پخوانی مسجد ونړول شي اوپه ځای یې دنوي مسجد دودانولو اراده وي . دهغه تربشپړ کیدلوپوري یوبل ځای دجماعت دلمانځه لپاره معلوم کړي .داصل مسجد تر ودانولو وروسته یې بیرته پرېږدي دهمدې عارضي اوموقتي مسجد حکم څه دی ؟

ځواب : که هلته دبل مسجد تر ودانولو په عارضه ډول لمونځ کیږي . هغه شرعي مسجد نه بلل کیږي،دشرعي مسجد حکم نلري . داسي حکم لري لکه څوك چي په کور کښي کومه ګوښه دلمانځه لپاره ګوښه کړي،هغه هم همیشني مسجد نه دی . په عیدګاه کښي هم دمسجد احکام نه جاري کیږي .داچي هغه ځای یي دموقت وخت لپاره مسجد ته ورکړی،دځمکي څښتن پکښي تصرف کولای شي .

(فتاوی محمودیه اتلسم ټوک ۱۹۰ مخ اوفتاوی رحیمیه دوهم ټوک ۱۷۵ مخ).

دضرار مسجد څه شي دي ؟

دمنافقينو د دسيسو يوه پيښه داده چي .

په مدينه منوره کښې تراسلام وړاندي يوسړی چي نوم يي ابوعامر وو عيسوي شو . نوموړی په ابوعامر راهب مشهور شو داهغه شخص دی چي زوی يي حنظله ﷺ په غسيل ملائکه مشهور شو خوهمدا ابو عامر دژوند تر اخيره په نصرانيت پاته شو

کله چي رسول الله ﷺ مديني منوري ته هجرت وکړ ابوعامر درسول الله ﷺ په حضور کښې داسلام په دين اعتراضونه وکړل .درسول الله ﷺ په ځوابونو يي هم زړه نه تر لاسه کيده . دايي هم ويل : که په موږ دواړو کښې هريو دروغ وايي هغه دي مردود اوله خپلوانو دي ليري په پرديسي کښې ومرې ويل يي که ستا دښمنان دبريدلپاره راځي زه ورسره مرسته کوم. همداسي يي وکړل اودحنين تر غزوي پوري دمسلمانانو په خلاف له دښمنانو سره ودريد .

کله چي دهوازون ستره اوغښتلي قبيله ماته شوه . نوموړی ناهيلی شو اودشام سيمي ته لاړ. هغه ځای دنصرانيانو مرکز وو .

نوموړی ترمرګه هلته وو ،هلته مړشو اوخپله ښيراورته ورسيدله .ربشتيا چاته چي رسوايي مقدره وي هغه به همداسي کارکوي.په خپله دعا اوغوښتنه خوار اوبي وزله کيږي ......

نوموړي دروم پاچا (قيصر) دي ته هڅا وو چي په مسلمانانو بريد وکړي اومسلمانان له مديني وباسي .

ددي دسيسو يوه کړی داوه چي ابوعامر دمديني هغو منافقينو ته ليك راواستاوو کوم چي له نوموړي سره په سازش اودسيسو کښې شريك وو .

په لیك کښې یې لیکلي وو چې زه به قیصر وهڅوم څو مدینې منورې ته درشي خو تاسو یو ځواك جوړ کړی ترڅو له قیصرسره بیا مرسته وکړي . ښه صورت یې دادی چې تاسو په مدینه کښې یو ځای جوړ کړی چې ښکاره یې نوم دمسجدوي ترڅومسلمانان دربانديبدگمانه نشي . هلته خلگ راټول کړی او وسله راغونډه کړی ترڅوبیادمسلمانانو په خلاف په مشوره سره معامله وکړو .

دابو عامر په مشوره دمدینې دوولس تنو منافقنو چې نومونه یې ابن اسحاق اونورو لیکلي دي .دقبا په سیمه کښې،چیرې چې رسول الله ﷺ دهجرت په وخت کښې هلته هستوگنه وکړه او یو مسجد یې جوړ کړ،دبل مسجد اساس کښیښود .

ددې لپاره چې مسلمانان وغولوي دا نیت یې وکړه چې رسول الله ﷺ په همدې مسجد کښې یو لمونځ وکړي .یو وفد (هیئت) یې درسول الله ﷺ حضور ته راواستاوو او هغوی رسول الله ﷺ ته عرض وکړچې: دقبا له اوسنی مسجد څخه خلگ لیرې دي کمزوري اوناروغ خلگ ورته رسیدلای نشي دقبا مسجد دومره پراخ هم نه دی چې دمحلې ټول خلگ پکښې ځای شي . له همدې امله موږ دیوه بل مسجد دجوړولو اقدام وکړ . که تاسو پکښې یو لمونځ وکړی،هغه به برکتناك شي .

رسول الله ﷺ دامهال دتبوك دغزا لپاره په تیاری نیولو لگیا وو.له هغوئ سره یې وعده وکړه له دې سفر څخه تر راگرځیدلو وروسته به په دې مسجد کښې لمونځ وکړم،خو له دې سفر څخه دراگرځیدلو په مهال چې مدینې منورې ته نژدې دیره شو. ددې مسجد په هکله وربانديایت نازل شو دمنافقانو همدا دسیسه رسوا شوه. رسول الله ﷺ خپل څو تنه ملگري چې عامربن سکن اووحشي دحمزه ﷺ وژونکی هم پکښې شامل

وو،واستول او امر يې ورته وکړ چې هغه مسجد وران کړي او وېې سوځوی داکسان لاړل اوهغه مسجد يې وران کړ داپيښه دقرطبي اومظهري په تفسيرونو کښې راغلې ده.

په مظهري تفسير کښې دمحمد بن يوسف صالحي په حواله داهم راغلي دي چې رسول الله ﷺ مديني منوري ته راغی دمسجد ضرار ځای خالي وو. رسول الله ﷺ عاصم بن عدي ﷺ ته اجازه ورکړه چې هلته دځان اپاره کور جوړ کړي. هغه عرض وکړ چې:

يارسول الله ﷺ ددي ځای په هکله په قران کريم کښې ايت راغلي دي،ماته په دي منحوس ځای کښې جوړول خوښ نه دي. خوثابت بن اقرم ﷺ اړ دي اوکورنلري که يې نوموړی جوړ کړي. رسول الله ﷺ هغه ته اجازه ورکړه اوثابت ﷺ هلته کور جوړکړ.خو دهغه په هغه ځای هستوګنه کښې يې اولاد ونه شو يا پاته نه شو.

مؤرخين ليکي چې هلته دمارغانوله هګيو هم بچې نه پاته کيږي... هغه ځای تر اوسه قباء مسجد ته نژدي همدغسي ويران پاته دی. داخوهغه واقعه وه دایاتونو په متن کښې:

په لومړي ايت کښې الله ﷻ فرمايي (وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مَسْجِدًا)

هدف پکښې داسي ده: لکه څرنګه چې په نورو منافيقنو عذاب نازل شوي ذلت او رسوايې ورباندي راغلي ده،دامنافقين هم پکښې شامل دي .کوموچې دمسجد په نوم يې داسي ودانۍ جوړه کړي ده چې موخه پکښې مسلمانانو ته زيان رسول دي .په دي ايت کښې ددي مسجد دودانولو موخې (اهداف) درې ښودلي شوي دي:

لومړی: ضراراً يعني مسلمانانو ته ضرر رسول. ضرر او ضرار په عربي ژبه کښې دواړه زيان رسولو ته ويل کيږي .ځيني پوهانو يې داتوپېرکړي

دی چي ضرر هغه زیان ته ویل کیږي چي دضرر رسونکی پکښی ګټه وي
اوضرار هغه ضرر رسولو ته ویل کیږی دده پکښي هیڅ ګټه نه وي داچي
ددي مسجد جوړونکو ته یي کومه ګټه ونه رسیدله نودضرار په لفظ
ورڅخه تعبیر وشو.

دوهم : تفریقاً بین المؤمنین ښودل شوی دي. یعنی ددي مسجد په
جوړولو کښي موخه دمسلمانانو دوه ځایه اومتفرق کول وو. یوه ټوټه
داچي دلته لمونځ کوونکي به دقبا له مسجد څخه ګوښه پاته شي.

دریم : غرض{ارصاداً لمن حارب الله } ښودل شوی دی. معني یي داده چي
له دي مسجد څخه داکار هم اخستل کیږي چي دالله ﷻ او درسول ﷺ
دښمنانو ته به پکښي پناه ورکوله کېږي اودمسلمانانو خلاف به دسیسې
(پلانونه) جوړیږي.

دضرار په مسجد یې اور ولي پوري کړ؟

ثابته شوه چي کوم مسجد په ﷺکښي یادشوی دی اودضرار په نوم یي
نومولی دي. درسول الله ﷺ په امر نړول شوی اوسوځول شوی دی. په
حقیقت کښي هغه نه مسجدوو اونه دلمانځه د اداء لپاره وو بلکي هغه
دري مقصدونه درلودل چي پورته یي یا دونه وشوه.

که نن سبا څوک دیوه مسجد په مقابل کښي،هغه ته نژدي بل
مسجد جوړکړي،هدف یي سیالي، تفرقه ، دبل مسجد جماعت ته زیان
رسول وي. یا نور فاسد اغراض ولري. سره له دي چي دداسي مسجد
جوړونکي ته ثواب نه رسیږي بلکي دمسلمانانو ترمنځ دبیلوالي
دراوستلو له امله ګنهګار کیږي. سره له هغه هم هغه ځای دشرعي مسجد
حیثیت لري. ټول احکام ورباندي جاري دي .ړنګول،سوځول یي جائز نه

دي څوك چي پکښي لمونځونه کوي.هغه ادا. شوي دي که څه هم داکار په خپل ځای گناه ده
داسي ښکاري چي څوك درياء له پاره يا دضد اوعناد لـه امله مسجد جوړ کړي سره له دي چي گناه کوي اوثواب يي نشته خوبيا هم هغه د ... په اصطلاح «مسجد ضرار» نه بلل کيږي مسجد ضراري ويل صحيح نه دي خو هغه ته ورته يي بللاي شي. دهغه جوړوونکي منع کولای شي لکه چي عمر ﷺ يوفرمان صادر کړ چي پکښي لارښوونه يي کړي وه چي ديوه مسجد ترڅنگ بل مسجد داسي ځای مه ودانوي چي دپخواني مسجد جماعت ته نيمگړتيا پيښنه شي.

(تفسير کشاف).

په دوهم ايت کښي دمسجد ضرار په هکله رسول الله ﷺ ته حکم شوی وو چي:
(لاتقم فيه ابدا) له قيام څخه هدف لمونځ کول دي يعني هلته هيڅکله هم لمونځ مه کوه.

مسئله : له دي څخه داسي څرگنديږي چي که چا له لومړنی مسجد سره نژدي،په ريا سره يا دمقابلي اوعنادله امله مسجد ودان کړ هلته لمونځ کول غوره نه دی خو کيږي.

په دي ايت کښي داهدايت هم ورکړل شوی دی چي لمونځ کول په مسجد کښي غوره دي چي اساس يي په تقوی سره ايښودل شوي وي اوهلته هغه کسان پکښي لمونځ کوي چي پاکي ورته خوښه وي اوالله ﷻ هم هغه مطهرين خوښوي.
دايت شريف له محتوی ښکاري چي همدامسجد دقبا مسجد دی چي رسول الله ﷺ پکښي لمونځونه کړي دي اودامطلب له حديثونو څخه هم ښکاره دي.

په څيني رواياتو کښي بيا راغلي دي چي مقصود ورڅخه نبوي مسجددي داخبره منافي نه ده څکه ددي مسجد اساس رسول الله ﷺ له وحي سره موافق په خپل لاس ايښي دي ،ښکاره ده چي اساس يي په تقوى باندي ايښودل شوي دي اوتر رسول الله ﷺ نور څوك مطهر وي څکه هم نبوي مسجد ددي آيت مصداق ضروري دي .

(فيه رجال يحبون ان يتطهروا) له دي ايت شريف څخه رسول الله ﷺ هغه مسجد احق بللي دي چي اساس يي له اول څخه په تقوى ايښودل شوي دي په دي مطلوب کښي نبوي مسجد اوقبا مسجد دواړه راځي .

دداسي مسجد يوصفت داښودل شوي دي چي پکښي به داسي کسان لمونځ کوي چي دطهارت اوپاکي ډير مراعات کوي له پاکي څخه مقصد له ظاهري ناولتيا څخه هم دي اوله گناه او رذيله اخلاقو څخه هم دي دقبا دمسجد اودنبوي مسجد لمونځ کوونکي ټول همدا صفات لري ...

فائده : له دي پيښي څخه داسي ښکاره کيږي چي دمسجد دفضليت معيار په دي پوري تړلي دي چي له الله تعالى سره په اخلاص لرلو ودان شي ، هلته پکښي رياء ، نوم ، شهرت يابل فاسد غرض نه وي داهم څرگنديږي چي دنيك ، صالح ،پوه اوعابد لمونځ کوونکو له امله دهغه فضيلت زياتيږي په هغه مسجد کښي چي پوهان ،صالحان اومتقيان لمونځونه کوي فضيلت پکښي زيات دي .

په دريم اوڅلورم ايات کښي دداسي مقبول اومنلي مسجد په مقابل کښي دمنافقينو له لوري دجوړ شوي ضرار مسجد بدي ويلي شوي ده .... بيا فرمايي دداسي مسجد ودانول شك اونفاق زياتوي ترهغه چي ژوندي وي همداشك ، نفاق اوحسد به يي زياتيږي

(معارف القران ج۴ ص ۴۲۱ ، ۴۲۵).



مسئله : دضرار مسجد چي په قران کريم کښي يي بيان شوي دي نو ذم اوبدي يي ويله شوي ده ، هلته پکښي مسجد والي مقصود نه دي ، هغه بنا چي ورڅخه مقصد مسجد وي هغه مسجد دي ، دنيت دخرابوالي له امله پکښي ثواب کم وي .

(امداد الاحکام ج۱ ص۴۲۱).

دمسجد دغولي ډبري دبوټونو په ځای لګول

پوښتنه : يو وړوکي مسجد يي ونړاوو ترڅو يي پراخ کړي ، دهغه دغولي فرش دډبرو وو هغه ډبري يي دبوټونو په ځای کښي ولګوي ، خلګو اعتراض کاوو چي په دي ډبرو سجدي شوي دي او اوس دبوټونو په ځای کښي لګول شوي دي دهغوئ بي عزتي کيږي ، آيا په هغوئ بوټونه ايښودل صحيح دي ؟

ځواب : دداسي ډبرو ايښودل هلته ښه نه دي چيري چي بوټونه ايښودل کيږي دادعزت منافي دي په کومو ډبرو چي لمونځونه شوي نه وي هغه دهغو حکم نه لري کوم چي دمسجد په غولي لګولي شوي دي .

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۷۲ دعالمګيري ج ۴ ص ۹۵ مخ په حواله وفتاوی رحيميه ج ۳ ص ۱۲۲).

په مسجدکښي دبوټونو له ځای څخه اقتداء کول

مسئله : دبوټونو ايښودلو ځای له مسجد څخه بهر دي يوازي په دي نه چي لاره ده نو اقتداء نه کيږي بلکي هغه ځای مسجد نه دي له مسجد څخه بهر دي له مسجد څخه بهر که دځلورو صفونو په اندازه ځای خالي پاته کيږي هم اقتداء نه کيږي ددي لپاره دي هلته دري ځلور تنه دريږي .

(فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۱۵۸ شامي ص ۳۹۳ په حواله).

مسئله : په مسجد کښې په قصدي توګه بوټونه بدلول سخته ګناه ده خو که داسې څپلکې پرتې وي چې پرته له مصرف څخه بل څه نه وي په پښو کول يې څه ستونزه نلري

(آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۵۲).

مسئله : په بوټونو که نجاست نه وو مسجد ته دننه وړل يې پروا نلري خو که دغلا ويره نه وي نو له مسجد څخه بهر ايښودل يې غوره دي که نجاست ورسره وو پاك کړې يې نه وو بيا يې دننه ايښودل ناجائز دي

(امداد الاحکام ج ۱ ص ۴۴۴).

دليلي له خونو څخه مسجد جوړول

پوښتنه : په يوه ليليه کښې ډير متعلمين هستوګنه کوي که هلته درې کوټې مسجد کړي خو دمسجد منظم شکل نلري پنځه وخته پکښې منظم لمونځ کيږي دامام اومؤذن منظم انتظام وي آن دجمعي لمونځ هم پکښې کيږي آيا دامسجد دنورو مسجدونو حکم لري ؟

ځواب : په دي مسجد دشرعي مسجد احکام نه جاري کيږي او دوهم جماعت (په يوه وخت دوه ځله په جماعت لمونځ کول) پکښې منع نه دي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۵۲).

مسئله : په يوه ودانۍ کښې دمسجد په نوم کومه خونه ځانګړې کول :مسجد حکم نلري اونه ورته دمسجد دلمانځه ثواب رسيږي خو که په جماعت پکښې لمونځونه کوي دجماعت دلمانځه ثواب ورته رسيږي.

(ستاسو مسئلي (ج ۳ ص ۱۳۸).

له اجازې څخه پرته خاوره وړل اوپه مسجد کښې مصرف کول

مسئله : دمسلمان یا غیرمسلمان له ځمکې څخه دمسجد لپاره پرته له اجازې خاوره وړل اودمسجد دودانولو په کارکښې لګول ناروا دي داسې کسان ظالمان اوګناه کاران دي دالله تعالی په کور دي حلال مال ولګول شي داسې خلګ دي له دې کارڅخه منع کړای شي کومه خاوره چې بې راوړې ده بیرته دې ورووړل شي یا دې له مالك څخه واخلي او روپۍ دې ورکړي .

(فتاوی محمودیه ج۱۲ص۳۰۱).

دلارې دپراخولو لپاره دمسجد ړنګول

پوښتنه : که په کوم مسجد لاره اوسړك راتلل اودهغه مسجد په بدل کښې بې دخلګو له نقشې سره برابر بل ځای مسجدجوړا وو ، جواز لري ؟

ځواب : مسجدونه دالله تعالی دي نه یې څوك دړنګولو اونه هم دبدلولو حق لري .

(فتاوی محمودیه ج۱۵ص۲۳۱).

دمسجد بې ځایه کول

مسئله : که یوځل شرعي مسجد جوړیږي هغه تل مسجد دي هغه لیرې کول یا په ځای یې مدرسه جوړول هیڅکله روانه دي مسجد همداسې مسجد ساتل ضرور دي هلته دې پکښې داذان اوجماعت انتظام وکړای شي دبیا لپاره یې خوندي کړي نه یې په قیمت ورکړي اونه هم دځای یاځمکې په بدل کښې چې داسې کار ناروا دي

(فتاوی محمودیه ج۱۵ص۲۴۲ اواحسن الفتاوی ج۲ص۴۵۱).

له مسجد څخه مدرسه جوړول

مسئله : کله چې شرعي مسجد جوړ شو هلته اذان اوجماعت لمونځ وشو هغه دهيڅ مصلحت په خاطر بدلول چې بل ځای جوړ شي جائز نه دي که دمسجد په څنګ کښي دغير مسلمانانو معبد جوړ شو او څوك وغواړي همدا مسجدٙ مدرسه بدل کړ ي اوپه عوض يي بل ځای په هم دي نوم مسجد جوړ کړي جواز نلري دغيرمسلمانانو معبد جوړول په مسجد اوجماعت اغيز نلري.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۳۴).

په نويو ودانيو کښي دمسجد جوړول

مسئله : دمسلمانانو لپاره مسجد خورا ضروري دي چيري چې هستوګنه غوره کوي هلته مسجد ودانوي که نوي ودانۍ جوړوي هلته هم مسجد جوړ وي خو دهغه دآبادولو فکر هم په کار دي داسي نه چې په يوه جذباتي جوش سره دمسجد کار پيل کړي اوسرته يي ونه رسوي ددي لپاره داضروري ده چې خلګ لمونځ کولو ته وهڅوي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۹۱).

بې اړتيا دمسجد ودانول

مسئله : دالله ﷻ درضا لپاره دمسجد بنا کول ډېر لوي خير اوثواب کار دي ديوه مسجد ورانول اودبل ودانول شرعا خورا بدکار دي خو که مسجد جوړ اووقف شي نوهغه ودان ساتل خورا ضروري دي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۳۸).

مسئله : که پخواني مسجدته دزيان رسيدلو اوعداوت په وجه څوك بل مسجد ودانوي نو ورته ثواب نه رسيږي داسي کار شرعا بد دي خو که يي

په شرعي ډول دمسجد ابادول وقف کړل ودانول يې ضروري دي هغه مسجدضرار ويل اوورانول ناجائز دی

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۱۹).

دکورني اعزاز لپاره مسجد ودانول

مسئله : دخدای ﷻ درضا لپاره مسجد ودانول لوی اجر لري خو دنورو اغراضو لپاره يي جوړول مقبول نه دي داسي ځای مسجد ودانول منع دي چي پخواني مسجد ته زيان رسيږي که دهغه مسجد پور پاته وو دهغه فکر کول بايد لومړی وکړي.　　(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۲۴).

قبله څه ده ؟

په اياتونو کښي الله تعالی رسول الله ﷺ اوصحابه کراموته تسلي ورکړي ده چي که څه هم مشرکانو تاسو له مکي څخه په وتلو اوهجرت کولومجبور کړي مديني ته مهاجر شوي : ترشپاړس ،اوه لس مياشتو وروسته مو مخونه کعبي ته وګرځول له دي څخه تاسوته کوم زيان نشته نه ستاسو لپاره دخواشيني سبب دي ځکه الله تعالی په يوه ځانګړي لوري کښي نه دي هرځای دي له همدي امله ختيز اولويديز توپير نلري که کعبه قبله وي اوکه بيت المقدس په دواړو کښي ذاتي ځانګړتيا نشته بلکي دالهي امر دتعميل له امله پکښي فضليت لري.

(دادحق راقابليت شرط نيست * بلکه شرط قابليت دادهست).

له همدي امله چي کعبه ته دمخ ګرځولو حکم دي پکښي فضيلت دي اوکه مومخونه بيت المقدس ته ګرځول هغه دخدای تعالی امراو پکښي فضيلت وو تاسو مه خواشيني کيږي دالله تعالی په حضور کښي دواړه يوډول دي خو چي دهغه حکم عملي کړي.

دخومیاشتو لپاره بیت المقدس ،قبله گرځول په عمل کښې اوهم درسول الله ﷺ په وینا کښې داخبره ثرگنده شوه چې کوم خاص ځای یا لوري قبله منل له دې امله نه دي چې معاذالله خدای ﷻ په دې ځای یا دې لوري کښې دې اوبل ځان نشته ، بلکې الله ﷻ هرځای اوهر لوري کښې موجود دې کوم خاص لوري قبله گرځول نور حکمتونه اومصلحتونه لري دالله تعالی توجه تر کومه خاص ځای یا لوري پورې مقید نه ده .

دعمل ثواب په دوه صورتونو کښې شته .

یا داچې هرشخص ته اختیار ورکړل شي چې که هر لوري ته مخ اړوي لمونځ دې کوي اویاداسې چې ټولوته ځانگړې لوري اوځای مقرر کړي . ښکاره ده چې په لومړنې صورت کښې دتشتت ، بیلتون اوافتراق منظره جوړ وي چې که لس تنه لمونځونه کوي.دهره یوه مخ به بیل لوري ته وي اودهریوه قبله به بیله وي...

په دوهم صورت کښې دتنظیم اواتحاد درس ورکول کیږي په دې ملحوظ دټول عالم لپاره یوه قبله جوړول مناسب ده که هغه بیت المقدس وي اوکه کعبه دواړه متبرك اومقدس مقامونه دي هرقوم ته اوپه هره زمانه کښې دالله تعالی له لوري احکام راځي ، تر یوه وخته دبیت المقدس دقبله جوړولو حکم وو وروسته درسول الله ﷺ او دهغه دصحابه وو دزړه له غوښتنې سره سم هغه حکم منسوخ اوکعبه دعالم قبله شوه الله تعالی فرمایي (قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ) ...

له دې آیاتونوڅخه چې (وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ) پکښې راغلي دي قبلې ته دمخ اړولوحقیقت ښکاره شو چې ددې مخ اړولو منشاء معاذالله ددې خاونو عبادت نه دې او نه الله تعالی لره کوم ځای ځانگړي دي بلکې دهغه

ذات په ټول عالم محیط او لوري ته یې توجه یو ډول ده نو چې کوم خاص ځای یا لوري یې خانګړي کړي دي نور حکمتونه پکښې دي .
(معارف القران ج۱ ص۲۴۵) .

که دپخواني مسجد دقبلي لوری سم نه وو

پوښتنه : پخواني مسجد بیا داستحکام لپاره نوي کوي ، کار یې روان دي نوي ودانی نژدي شپږ فوټه په سمت کښې فرق وموند دقبلي لوري هرومرو انداز بدل شو ، مسجد رنګ اوبیرته ودان کړي که په همدغه حال ورباندي سمټ واچوي ؟

ځواب : لمونځ له هرومره توپیر سره کیږي خو که دافرق لرې کوي دصفونو لپاره دي نښانونه ولګوي ترڅو خلګ له هغو نښو دقبلي لوري معلوم کړي دټول مسجد رنګولو ته اړتیا نشته .
(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۳۲ امداد الاحکام ج۱ ص ۴۴۵) .

مسئله : که معمولي فرق وي مسجد دي نه رنګوي دقبلي لوري ډیر پراخ دي اوري اوژمي چي لمر لویږي دهغو ځایونو منځ ټول دقبلي لوري دي لمونځ ورته صحیح دي نو تفرقه دي نه پیدا کوي.
(فتاوی محمودیه ج۱۸ ص۲۴۱) .

مسئله : فقهاوو دقبلي دلوري دمعلومولو لپاره ډیري لاري ښودلي دي یوه نښه دقطب ستوري دي بل داچي داوري اوژمي دلمر پریوتلو منځ دقبلي لوري دي .
(فتاوی محمودیه ج۱۵ ص ۱۲۳) .

مسئله : اوس دقطب نما په واسط دصفونو په ځایونو سمي نښې ولګوي اومسجد دقبلي دلوري دمعلومولولپاره مه رنګوي که پخوا همدا لمونځونه شوي دي اعاده یې نشته . (فتاوی محمودیه ج۱۲ ص۲۲۲) .

« داوس په نسبت دقبلې دلورې دمعلومولو لپاره پخوا سهولتونه نه وو که پخواني رنګوي دنوي مسجد دقبلې لورې دې سموې دلږ توپیر لپاره دې مسجد نه رنګوي لکه څرنګه چې پاس مفتي صاحب مشوره ورکړې وه هغسې دې عمل وکړي (رفعت قاسمي).

دمسجد دقبلې دلورې په لږ توپیر کښې حکم

پوښتنه : دیوه مسجد اوږدوالی نهه متره اوسور یې څلور نیم متره دې په همدې اندازه دقبلې لورې درې زرعې کوږ والې لرې یعنې که درې زرعې (یونیم گز) ددیوال یو لورې شاته شي نو لورې سمیږي نوداوسني مسجد حکم څه دی ؟

ځواب : په کم فرق لمونځ نه خرابیږي که دلویدیز په ځای شمال یا جنوب ته مخ شي بیا لمونځ نه کیږي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۱۱).

مسئله : هلته چې پخوا مسجدونه وي داسې مسلمانان هم نه وي چې له شرعي اصولو سره سم دقبلې لورې وټاکي ، دلمر ، سپوږمۍ اوستورو په واسطه هم دقبلې لورې معلومولای نه شواي درصد دالاتو په واسطه دې خپل زړه داده کړي اوهغه لور ته دې لمونځ کوي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۲۵۹ او کفایت المفتي ج ۳ ص ۱۳۲).

په کاږه نسبت دمسجد دودانولو حکم

پوښتنه : دیوه زاړه مسجد په بیا ودانولو کښې دقطب نما په واسطه معلومه شوه چې دقبلې لورې اته فوټه فرق لري آیاپه دې صورت کښې بیا معلوم شوې لورې ؟ په هغو پخوانیو دیوالونو مسجد ودان شي اوکه دقطب نما په واسطه په

ځواب : اول که کوږ والي ولیدل شي یا درباندي وپوهيږي نو هیڅکله دي په هغه بنسټ بیا مسجد نه ودانوي کیدلای شي پخوا چي دامسجد ودانیده دقبلي لوري سم نه وي تشخص شوي اونني الات هغه وخت نه وو اوس چي دسم پوهیدلو

اول : سباب موجود دي ،سمت دي سم کړي او دنورو مسجدونو لوري دي هم وګوري

دوهم : په قصدي توګه دي کوږ والي نه کوي که ورته صحیح معلومات نه کیده ، دشمال اوجنوب قوس دي جوړ کړي اوترنیم قوس پوري په کوږ والي کښي لمونځ صحیح دي دمسجد لوی والي او وړوکتوب هم په کوږ والي کښي فرق راولي خو دفوټ په اندازه مشکل دی .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۴۰).

دمسجد محراب جوړول

پوښتنه : په مسجدونو کښي چي محرابونه جوړيږي هغه شرعا روا دي ؟

ځواب : په فقهي کتابونو کښي عبارتونه سره فرق لري له ځینو ځخه معلومیږي چي درسول الله ﷺ اوصحابه وو رضی الله عنهم له دوري ځخه محراب ثابت دي ځیني وايي چي دتابعینو له زماني ځخه محراب راشروع شوي دي دتاریخ له کتابونو ځخه هم روایات سره توپیر لري دفقه علماء په محراب کښي دریدل او لمونځ کول مکروه ګڼي خو محراب جوړول مکروه نه بولي تر محراب بهر دریدل خو سجده په محراب کښي کول هم مکروه نه ګڼي دمحراب په هکله نور احکام هم شته له همدي تولګي ځخه ښکاري چي په مسجد کښي محراب جوړول جائز دي.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۲۲ دکبیري ۳۴۸ اوبحر ج ۲ ص ۴۵۹ په حواله) .

مسئله : دقبلي لوري ته ددیوال په منځني برخه کښي چي محراب جوړ ښت وي هغه محراب دي چي امام دصفونو ددواړو لورو ته په منځ کښي ودریږي.

(نظام الفتاوا ج ۱ ص ۳۲۱).

مسئله : که امام خپل قدمونه له محراب څخه بهر کښیږدي لمونځ یي مکروه نه دي

(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۴۸).

دمحراب په جوړولو دمسجد دلویدلو خطره ده

پوښتنه : که چا مسجد پراخ کړ اومحراب په منځ کښي پاته نه شو که په دیوال کښي بل محراب کارږي ددیوال دړنګیدلو ویره ده نو حکم یي څه دي ؟

ځواب : که په دیوال کښي دمحراب په جوړولو ددیوال دلویدلو خطره وه محراب دي نه جوړوي او امام دي په منځ کښي دریږي داسي چي دصف دواړو لورو ته مقتدیان برابر ولاړ وي.


(فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۲۲).

ایا محراب په مسجد کښي داخل دی ؟

پوښتنه : محراب په مسجد کښي دننه شمیرل کیږي که نه ؟ که خلګ ډیر وي بیا امام کولاي شي دمحراب دننه په لمانځه ودریږي ؟

ځواب : محراب په مسجد کښي دننه دي خو بیا هم امام باید تري بهر ودریږي یا بي یوه برخه بهر وي اوکه په محراب کښي ودریږي هم لمونځ بي کیږي

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۰۸).



دمحراب په ځای په لومړي صف کښي دریدل

پوښتنه : مثلاً که دمسجد غولي ددریو صفونو ځای وو دمحراب په برخه کښي هوا کرمه وه پکه نه وه . امام کولای شي دلومړي صف په ځای ودریږي ؟

ځواب : که دمقتدیانو ځای نه تنګیږي . دمحراب په ځای دي امام په لومړي صف کښي محراب ته مخامخ ودریږي (فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۲۳)

مسئله : دمسجد پخواني محراب دمسجد دبراخولو په وخت کښي ني ځایه کیدلای شي ترڅو دصف دواړه لوري برابر شي .
(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۱۰).

په محراب کښي دلمر انځور کښل

مسئلة : په محراب کښي نقش او دلمر تصویر رسم کول مکروه دي ځکه دلمونځ کوونکي په خشوع او خضوع کښي خلل پیدا کیږي خو دلمر له تصویر سره خوا کښي دربدل اولمونځ کول دلمر لمانځنه بلل صحیح نه دي

تصویر که دبي روح موجوداتو وي ،مکروه نه دي ، ځکه دهغه عبادت نه کیږي که دمسجد په محراب کښي دلمر تصویر وي هلته لمونځ کول ، دلمر لمانځنه نه ده خو دلمانځه لپاره په حضور کښي خلل پیدا کوي ، ځکه یي ترځنګ لمونځ کول مکروه دي .
(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۷۰ دشامي ج ۱ ص ۲۰۷).

په ستر مسجد کښي له ښي او کيڼ لوري صفونه لږول

پوښتنه : که ديوه جامع مسجد اوږ دوالي خورا زيات وو لومړی صف پوره کول ستونز من کار وو زاړه اوبيماران ورته رسيدلاي نه شواي آيا روا ده چي دصف ښي اوکيڼ لوري رالنډ کړي اودمسجد ښي اوکيڼ لوري خالي پاته شي خلک په دوهم صف کښي ودريږي ؟

ځواب : کومه برخه چي يوځل مسجد وبلله شوه ښي يا کيڼ لوري يي له مسجد څخه ايستل په هيڅ صورت جائز نه دي هغه برخه تل مسجد ده خو که همداسي عذرونه وو بيا دي دواړو لورو ته خالي ځای پريږدي ، امام دي په منځ کښي دريږي نو دوهم ، دريم اونور صفونه دي هم له لومړی سره برابر دروي . په دي صورت کښي دصف لنډون داول صف له فضيلت څخه لمونځ کوونکي بي برخي کيږي ددي صورت په مکروه والي کي اختلاف دي خو که رکعت پاته کيده ، مثلا امام رکوع ته تللي وو بيا په دوهم صف کښي دريدل مکروه نه دي بلکي درکعت دنيولو لپاره داکار افضل دي .

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۸۸ دشامي ج ۱ ص ۳۸۳ په حواله).

دمسجد په ځای په تعمير کښي دصفونو لويوالی اوکموالی

پوښتنه: په يوه تعمير کښي دجماعت لمونځونه کوي خو دتعمير دجوړښت له امله صفونه لوي او واړه وي ،داسي دجماعت اوجمعي لمونځ کيدلاي شي ؟

ځواب : دتعمير لوري په صفونو برابريدل ضروري نه دي دقبلي په لوري دي صفونه سم دروي که څه هم ځيني صفونه غټ او ځيني واړه وي پنځه وخته لمونځونه په جماعت پکښي ادا کول صحيح دي .

که په هغه تعمیر کښي هرچاته اجازه وي چي ورشي نو دجمعي لمونځ هم پکښي صحیح دي که هلته بل مسجد نه وي دمسجد جوړولو هڅه دي وشي

(فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۲۱۷).

مسئله : که دځای دتنگوالي له امله لومړی صف وړوکي او نور اوږده وي ، څه حرج نشته او جائز دي. (فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۳۲۹).

که امام دمسجد په منځ کښي ودریږي

مسئله : امام ته داسي ځای دریدل په کار دي چي په مسجد کښي دتنه دشمال او جنوب لوري په صفونو کښي برابر وي دادوتلي ځای اوغولي په هکله دي که محراب په منځ کښي وي خو تر مسجد بهر غولي دواړو لورو ته برابر نه وي امام دي داسي ځای دریږي چي دهمدي وتلي برخي په وسط کښي وي که له دننه محراب سره برابر نه وي کوم باك نه لري .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۵۲).

دمسجد په ځمکه مدرسي ته ځای جوړول

پوښتنه : دکلي دمسجد اړونده دوقف ځمکه ده دمدرسي مسئولین غواړي په هغي ځمکه دمدرسي لپاره ځای جوړ کړي اوکرایه یي دمسجد په ضروریاتو ولگوي اوداکرایه دډیرو کلونو داجاري په توگه وي داجاري تر پوره کولو وروسته مدرسه ددي ځای کرایه په خپلو مصارفو کښي صرف کړي آیا داسي معامله صحیح ده ؟

ځواب : داچي دي ځمکي ته اوس مسجد اړتیا نلري خودبیا لپاره دپراخیدلو په منظور ورته اړتیا لیدل کیږي که مدرسه ورباندی ځای جوړ کړي تر لاسه کول یي بیا ستونزمن کیږي اوکه دمسجد په موقوفه ځمکه

دمدرسي دوقف په پیسو تعمیر جوړ شي دادود وقف شوي شتمني سره خلط کیږي نو دامعامله سمه نه ده

که هسدي ځمکي نه دمسجد اړتیا او س نه وي او بیا هم ورته اړتیا نه لیدل کیږي دکرايي وړهم نه وي بیکاره وي اودمسجد دتعلق حکم ونلري نو دکلي اومحلي دخلګو په اتفاق سره هغه خرڅولای شي چي په بدل کښي یي بل ځای واخلي به دي شرط چي که دامځکه دبل لاس ته ورځي نو دضرر او تکلیف اندیښنه پکښي نه وي.

(فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۲۴۴).

دمسجد په زیاته ځمکه د درس ځای جوړول

پوښتنه : دمسجد په زیاته ځمکه درس ځای شته خو آیا دمدرسینو زده کوونکو لپاره ورباندي کوروونه جوړیدلای شي ؟

ځواب :هغه ځمکه چي دمسجد ده که ورباندي دزده کوونکو لپاره دهستوګني یا زده کړي لپاره ځای جوړیږي نو دهغه ځای کرایه دي په مناسب ډول مسجد ته ورکول کیږي.

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۹۵ فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۲۳۱).

دمدرسي ترسرپرستي لاندي دمسجد حکم

پوښتنه : هغه مسجد چي دمدرسي تر سرپرستي لاندي وي انتظام یي دمدرسي په غاړه ده دمدرس له لوري ورته امام او مؤذن ټاکل کیږي دمدرسي له لوري ورباندي دترمیم مصارف کیږي که هغه تنګ دي دمدرسي په ځمکه پراخ کیدلای شي ؟

خواب که هغه ځمکه دمدرسي مربوط وي دمدرسي داهل په مکر دمسجددپراخولو اړتیا محسوس شي هغه ځمکه په مسجد کښي داخلیدلاي اومسجد ورباندي پراخ کیدلاي شي
(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۵۹).

په مسجد کښي دمدرسي لاره

که مدرسه دمسجد مربوط وي له بله لوري یي لاره نه موندل کیږي نو مجبوراً دي په مسجد کښي هغي ته دتلو راتلو لاره ورکړي
(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۴۵).

دمسجد په دالان کښي مدرسه

پوښتنه: دمسجد شمالي او جنوبي دالانونه دزده کړي خایونه دي ، زده کوونکي پکښي درس وایي خو داوقاف مسئولین داکار نه خوښوي او درس منع کوي ایا داکار شرعا صحیح دي ؟

ځواب: که داوقف په رضا اوخوښه شوي وي خو لیري کول یي نشته اوکنه په کرایه دي معامله وکړي.

دمسجد عاید په مدرسه لګول

پوښتنه: مسجد عاید لري خو هغه دمدرسي ناظم په مدرسه لګوي دمسجد دترمیم او روښنایي مصارف له مرستي (چندي) یا دڅرمنو له بیعی پري کوي. داسي کار سم دي ؟

ځواب: داصورت صحیح نه دي دمسجد عاید دي په مدرسه نه لګوي داختر دقرباني دڅرمنو له بیعی څخه دي معاش نه ورکوي ، ترمیم دي ورباندي نه کوي که داسي کاروکړي همدغه مبلغ ورباندي پوره وړي
(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۹۹)

مسئله : که دمدرسي په پیسو څه شي اخستل کیږي هغه دي دمدرسي په اړتیا وو کښي استعمالیږي همدا شان که دمسجد په پیسو څه اخستل کیږي دمسجد په ضرورت کښي دي مصرفیږي که همداشي دکوم مقصد لپاره اخستل کیږي ، هغه پوره شي اوشي زیات شي مدرسي ته یې ضرورت نور نه وو خو دمسجد یا دمسجد دامام ورته ضرورت وو هغه دي له مدرسي څخه په بیه واخلي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۰۳).

مسئله : که دوکانونه جوړ کړي اومسجد ته یې وقف کړي که هغه خرځ کړي پیسي دمدرسي په تعلیمي چاور کښي لګول روانه دي که څه هم هغه مدرسه دمسجد متعلق وي . (فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۷۳).

دمدرسي په ځمکه دمسجد جوړول

پوښتنه : دمدرسي لپاره دضرورت په خاطر مسجد جوړیږي هغه شرعي مسجد دي ؟

ځواب : که نژدي بل مسجد نه وي یا موجود وي خو تنګ وي یاهلته لمانځه ته تلل دمدرسي مصالح پاته کیږي مثلا دوخت خبره وي یا دمدرسي حفاظت نه کیږي یا نور نو بیا دمدرسي په ځمکه دمسجد جوړول دمدرسي له ضروریاتو څخه دي اوهغه مسجد شرعي مسجد دي .

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۲۲).

دمسجدلپاره په وقف شوي ځمکه ،مدرسه ودانول

پوښتنه : يوه سړی دمسجد لپاره يوځای جوړ کړ اداري کسانو له هغه ځای ځخه په کرايه هستوګن شخص وايست اوپه هغه ځای مدرسه جوړ وي نو دمسجد عايد چي له دي ځايه ځخه په لاس راتلل ختم شول آيا دا روا دي ؟

ځواب : دمسجد لپاره په وقف شوي ځمکه مدرسه ودانول اودمسجدعايد ختمول جائز نه دي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۲۵۵).

دړنګ شوي مسجد په ځای مدرسه جوړول

پوښتنه : يومسجد په بشپړه توګه وران شوي وي اوس يوازي ځمکه پاته وي بله نښه نه ښکاري خلګ يي بي احترامي کوي آياهلته مدرسه ودانول جوازلري ؟

ځواب : دمسجد ځمکه که وزباندي ودانۍ وي اوکه نه وي ترقيامت پوري دمسجد په حکم کښي ده نو ځکه يي ادب ، احترام اوتعظيم واجب دي بي عزتي کول يي حرام دي که دمدرسي انتظام نه وي مسجد دي پريږدي بل ځای دي درسونه وايي په هغه ځمکه که مسجد نه ودانوي لږ ترلږ ديوالونه دي تري وګرځوي ترڅو يي بي عزتي ونشي کنه خو اوشا ټول مسلمانان ګنهکار دي له همدي امله په کوم افت دګرفتاري ويره شته ، دمسجد په ځای مدرسه جوړول شرعا جائز نه دي .

(فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۸۵ ددرمختار اوشامي ج ۳ ص ۵۱۳ په حواله).

په مسجد کښې دامام لپاره خونه جوړول

مسئله : دامام اونورو لپاره خوني جوړول لکه داوداسه دځای په څیر دمسجد په ضروریاتو کښې شامل دي.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۲۰۸)

دمسجد په بام دامام لپاره خونه جوړول

پوښتنه : یومسجد دري پوړیز دي دامام او مؤذن لپاره پکښې ځای نشته دمسجد په انګړاو احاطه کښې هم داسي ځای نشته چي خوني پکښې جوړي شي دبام دپاسه دامام لپاره ، کوټه ، دیني مدرسه یا دزده کوونکو دهستوګني دځای دجوړولو جواز شته ؟

ځواب : جواز نلري اودمسجد په بام دمسافرخانې جوړول هم جواز نلري.
(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۱۸ دبحرالرائق ج ۵ ص ۲۵۱ په حواله).

مسئله : دمسجد په بام دامام لپاره خونه جوړول جواز نلري داوداسه دځای. دغسل خاني اونورو ځایونو چي دمسجد دوداني بهر وي ورباندي دامام لپاره خونه جوړول جواز لري کوم ځای چي یوځل مسجد شوي دي هغه دقیامت تر ورځي مسجد دي.
(نظام الفتاوی ج ۱ ص ۳۱۳ شامي ج ۱ ص ۴۴۱ په حواله کفایت المفتي ج ۳ ص ۱۱۲).

امام له خپلي کورنۍ سره دمسجد په انګړ کښي اوسيدل

مسئله : دمسجد په انګړ کښي دامام او مؤذن لپاره هستوګنه صحيح ده خوله کورنۍ سره بي حجابي پيښيږي دماشومانو دشور او شرله امله دلمونځ کوونکو حضور خرابيږي اوستونزه راولاړ وي نو منع ده که دا وراني نه وي بيا جواز لري . (فتاوی رحیمیه ج۲ ص۹۵).

دامام خونه په مسجد کښي داخلول اوپاس خونه جوړول

پوښتنه : دمسجد ترځنګ خو بهر دامام لپاره يوه خونه ده اوس دمسجد دپراخولو اراده ده که دامام خونه په مسجد کښي داخله شي اوپاس وربانديې دامام لپاره خونه جوړه شي ، جواز لري ؟

ځواب : که داخونه دلمانځه لپاره په مسجد کښي داخليږي نو وربانديې دپاسه بله خونه دامام لپاره جواز نلري ، که هغه خونه دلمانځه لپاره په مسجد کښي نه داخليږي بلکي هدف پکښي داوي چي که ضرورت پيښيده لمونځ کوونکي به پکښي دريږي بياپاس وربانديې دامام لپاره خونه جوړول جواز لري .

(فتاوی محمودیه ج۱۵ص۲۱۲) .

په مسجد کښې دامام استراحت کول

پوښتنه : په داسې مسجد کښې چې دامام لپاره دهستوګنې خونه نه وي که امام په مسجد کښې کټ (څهار پائې) کښېږدي او پرې پریوزي جواز لري ؟

ځواب : داکار دمسجد ادب ساتلو خلاف دي او دنورو لپاره دتوحش سبب دي نن سبا په مسجد کښې کټ ایښودل بې ادبي ګڼل کیږي خو په داسې مسائلو کښې عام عرف ته کتل کیږي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۲۸ او احسن الفتاوی ج ٦ ص ۴۵۲)

که امام اومؤذن دمسجد اړوند شیان استعمال کړي

مسئله : په مسجد کښې دوه ډوله شیان وي یو داسې شیان چې کلیوال یې ورکوي هغه که اجازه ورکړي استعمالولای ئې شي دوهم هغه شیان چې منتظم ته اخستل شوي وي که هغه اجازه ورکړي استعمالولای یې شي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۰۲).

که امام په مسجد کښې تجارت کوي

مسئله : په مسجد کښې هلته چې لمونځ کیږي ، رخت یا بل څه ایښودل اوتجارت تحریمي مکروه دي که امام داخبره نه مني له امامت څخه ګوښه کول یې مناسب دي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۷۸)

« خوکه امام په خپله کوټه کښې او یا له مسجد څخه بهر تجارت کوي جائز دي .

مسئله : که دامام دخونې دروازه بهر دسړك لور ته وه هلته یې ورسره دمیرمنې هستوګنه منع نه ده . (رفعت) .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۷۳).



دمسجد دغلي خرڅوونكى ، ضامن دى

مسئله : كه چا دمسجد غله خرڅه كړه خرڅوونكي دپيسو ضامن دي چي هغه پيسي راوړي كه اخستي روپي ورنكړي خرڅوونكي به بي مسجد ته وركوي بيا يي اخستونكي بخښي اوكه يي تري اخلي
(فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۲۴۲).

دمسجد دونو دميوي حكم

پوښتنه : كه دمسجد په دننه غولي كښي ونه وه دهغي ميوه دچا حق دي اوكه دتبليغي جماعت كسان ر اغلل آيا هغوي يي تري خوړلاي شي ؟

ځواب : ښكاره ده چي هغه ونه دمسجد ده دوني دميوي بيه دي مسجد ته وركړه كيږي .
(فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۲۴۳).

« كه وني اينښودونكي هغه دټولو لمونځ كوونكو لپاره اينښي وي ټولو ته يي ميوه خوړل اجازه ده .
(رفعت قاسمي).

دمسجد په دوهم پوړ كښي دمسافرو هستوګنه

مسئله : دشرعي مسجد پورتني برخه هم شرعي مسجد دي هغه دمسافر خاني په توګه استعمالول منع دي دمسجد احترام ورسره ختميږي كه دمسافرو لپاره بيل كوم ځاى نه وو بيا دي پكښي هستوګنه وكړي خو دمسجد احترام دي لكه ځرنګه چي يي حق دي هغسي وساتي كه يي احترام ساتلي نه شو اجازه دي نه وركوله كيږي .
(فتاوى رحيميه ج ۲ ص ۹۲).

مسجدته دننوتلوددعادويلوځاى

پوښتنه : يوستر مسجد دي ، دډيري پراختياله امله يي داصل مسجد حدود بيل دي په داسي مسجد کښي به دعاد کومي دروازي په ننوتلو ويله کيږي ؟

ځواب : کوم ځاى چي لمانځه ته ټاکلي شوي دي اوهلته ناولي ځوک ورتللاي نشي که هغه چت ولري کنه ، هلته په ننوتلو دعا ويله کيږي کوم ځاى پټ يا لوڅ چي له مسجد سره لګيدلي وي خو دلمانځه لپاره ټاکلي شوي نه وي او په ناپاکه حالت (حائض ، جنوب) کښي ورتلل منع وي هغه ځاى مسجد نه دي که څه هم په احاطه کښي دننه وي هلته په ننوتلو ددعا ځاى نه دي

(فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۲۶۲ آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۴۰) .

مسئله : مسجد ته په ننوتلو لومړى ښي پښه دننه کول او دوتلو په وخت کښي لومړى کينه پښه ايښودل سنت دي دننوتلو په وخت کښي دادعا ويله کيږي . (**اللهم افتح لي ابواب رحمتک**) او دوتلو په وخت کښي دادعا ده . (**اللهم اني اسئلک من فضلک**) .

(مسلم شريف ج ۱ ص ۲۴۸) .

مسجد ته دراتلو اوتلو په وخت کښي سلام اچول

پوښتنه : اول که په مسجد کښي څوک نه وو دوتلو اوننوتلو په وخت کښي سلام اچول څرنګه دي ؟

دوهم کله خو ټول خلګ په لمانځه لګياوي او يوڅوک سلام اچوي يا څوک لمونځ کوي . څوک اودس اوڅوک دلمانځه په انتظار وي په دي وخت کښي څوک راشي سلام واچوي داڅرنګه دي ؟

دریم خینې خلک له سنو ولاړوني خو یو څوك له مسجد څخه وزي سلام اچوي داهم څرنګه دي؟

ځواب: لومړی داطریقه سمه ده، داسې دي وایي (السلام علینا وعلی عبادالله الصالحین) خو دننوتلو په وخت کښې ثواب لري اودوتلو په وخت کښې یې په کوم کتاب کښې کوم روایت لیدل شوي نه دي

دوهم: دا بالکل مکروه ده، دامسئله په رد المحتار کښې راغلې ده

دریم: داهم مکروه دی (فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۳۷۹)

مسئله: مسجد ته په ننوتلو سلام اچول کیږي خو شرط دادي چې خلګ ناست وي په تلاوت یادرس لګیا نه وي که خلګ مصروف وونو منع ده که په مسجد کښې څوك نه وو یا چا لمونځ کا وو نو دورتلو په وخت کښې په وروغږ چې لمونځ کوونکي یې نه اوري ووایي: (السلام علینا من ربنا وعلی عبادالله الصالحین).

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۵۲ دشامي ج ۱ ص ۵۷۲ په حواله آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۳۹ نظام الفتاوی ج ۱ ص ۳۱۰ احسن الفتاوی ج ۲ ص ۱۵۵ اودرمختار ج ۱ ص ۵۷۸)

په مسجد کښې تبلیغي نصاب په مائک (لاؤډسپیکر) کښې لوستل

پوښتنه: په مسجد کښې اذان یا دکوم عالم دتقریر لپاره مایك لګیدلي وي نو که قران کریم نعت، نظم یا تبلیغي نصاب یا بل څه پکښې واي اوهمدا مهال خلګ په لمونځونو مصروف وي روا دي که نه؟

ځواب: تبلیغي نصاب هغو کسانو ته ویل کیږي څوك چې هلته موجود وي که پرته له مایك څخه اواز اوریدل کیده نو بیا یې ولي په مایك کښې وایي مایك دي نه استعمالوي په تیره بیا که خلګ هم په لمانځه لګیا وو.

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۳۵).

په مسجد کښي دمرسته کوونکي دنوم اعلانول

پوښتنه : که په مسجد کښي په لاوډ سپیکر کښي دهغه چا نومونه اعلانوي چاچي مرسته کړې وي هدف پکښي داوي چي نور خلګ هم ترغیب شي . جواز لري ؟

ځواب : صحیح ده خو دافکر کول لازمي دی . چي مسجد دګتې ځای یا ذریعه نشي . له مسجد څخه بهرداسي انتظام کول په کار دي که داعلان مقصد داوي چي دده نوم ټولو ته معلوم وي دامقصد غلط دي دشهرت اونوم لپاره په مسجد کښي پیسي ورکول الله تعالی ته مقبول عمل نه دی .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۴۱۰).

په اعلان سره فیس (اجوره) اخستل

پوښتنه : کلیوال دڅه شي په هکله په لاوډ سپیکر کښي اعلان کوي ، دمسجد دچارو مسئولین داعلان په بدل کښي پیسي اخلي ددي حکم څه دي ؟

ځواب : دمسجد اهل ته ددي په استعمال معاوضه اخستل صحیح ده دور کوونکي په خوښه دمایك داستعمال په عوض معاوضه اخستل څه مشکل نه پیښوي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۴۱۰).

دمسجد په مايک کښي دچندې (مرستي) ورکوونکي نوم اعلانول

مسئله : دمسجد په مايك کښي داسي اعلان ترغيب هم دي اوفساد هم دي ترغيب ښکاره دي اومفسده دوه ډوله ده :

يو داچي نوم په نوم اعلانيږي خلگ يي توصيف کوي ځني خلگ دهمدي لپاره مرسته ورکوي چي نوم يي اعلان اوصفت يي وکړاي شي داداخلاص خلاف خبره ده ثواب يي ضايع کيږي .

دوهم داده چي که څوك کمه مرسته وکړي دنوم په اعلان سره خجل کيږي اوخلگ ورته په سپکه سترگه گوري دانار وا دي له همدي امله دداسي اعلان له کولو ځان ساتل په کار دی .

(فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۲۱۴).

په مسجد کښي دورک شوي شي اعلان کول

مسئله : په مسجد کښي که ورك شوي شي پيدا شي اعلان کول يي صحيح دي له مسجد څخه بهر که کوم شي ورك شي دهغه اعلان په مسجد کښي کول جائز نه دي رسول الله ﷺ دغسي سړی ته ښيرا کړي ده فرمايي ((لارد الله عليك)) (خدای ﷻ دي وکړي چي ورك شوی څيز دي ونه موندل شي) .

مسئله : په مسجد کښي داړوندي مدرسي لپاره داخترد قرباني دڅرمنو اعلان جائز دي يو يا دوه ځله دي کيږي خو دلمونځ کوونکي خيال دي ساتل کيږي چي اخلال نشي . (آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۴۲).

مسئله : په مسجد کښي دورك شوي پلټل پرته له اعلان څخه جائز دي اعلان که کوي داودس په ځای کښي يا په دروازه کښي دي وشي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۳۵۴).

مسئله : دورك شوي ماشوم اعلان دانساني موجود داهميت له امله په مسجد كښي صحيح دي كه په مسجد كښي كوم شي ومون‍دل شو دهغه داسي اعلان صحيح دي چي داشي موندل شوي دي داچي لاوډ سپيكر دمسجد لپاره دي نو هغه دگناه دكارونو استعمالول ناروا دي .

(آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۴۴ معارف السنن ج۱ ص ۳۱۲ كتاب الفقه ج۱ ص ۴۵۹).

كه دمسجد دمايک لاوډ سپيكرونه په منارونو كښي وي ، بيا اعلان كول

پوښتنه : دمسجد مايك دخلگو په مرسته اخستل شوي دي دخلگو نيت دادي چي پكښي اعلان وشي مايك دننه خو لاوډ سپيكرونه يي په منارو كښي دي نو په هغه كښي اعلان صحيح دي ؟

ځواب : كه پرته له اذان څخه دنورو شيانو اعلان كوي مثلا څۀ شي ورك شوي وي نوبل ځای دي اعلان كوي هر شي چي دلمانځه اومسجد اړوند نه وي دهغه اعلان دي له مسجد څخه بهر كوي دمسجد دمايك ، په منارونو كښي په لاوډ سپيكر دي اعلان نه كوي .

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۵۹ نظام الفتاوی ج۱ ص ۳۰۱).

مسئله : دمسجد دننه ، دلمونځ كوونكو دخبرتيا لپاره دجنازي دلمانځه اعلان جواز لري خو دورك شوي شي دپلټني اعلان په مسجد كښي ناروا دي .

(آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۴۳).

دمسجد دننه په مایک کښې اذان کول

پوښتنه : په یوه مسجد کښي لاوډ سپیکر دننه ایښي دي داذان لپاره مؤذن دلومړۍ صف په ځای دریږي او اذان کوي آیا دمسجد دننه اذان کول مکروه دی ؟

ځواب : په مسجد کښي دننه داذان کول له دې امله مکروه دي چي غږ بهر لیرې نه رسیږي نو داذان مقصد نه پوره کیږي له همدې امله په لوړ ځای اذان کول مستحب دي په خپله اذان داسي شي نه دي چي دمسجد داحترام خلاف وي نو داځکه په دي مسئله کښي چي اذان په مایك لري رسیږي داذان مقصد پوره کیږي نو ممانعت نلري.

(فتاوی محمودیه ۱۵، ۲۳۳)

په ډیرو مسجدونو کښي لاوډ سپیکر لګول

مسئله :داچي دیوه مسجد له لاوډ سپیکر څخه ټولو نژدې کلیوته غږ رسیږي اودلمانځه وختونه سره یو دي نو په نورو نژدې مسجدونو کښي دلاوډ سپیکر لګول ضرور نه دي دهغه لپاره دي دمسجد پیسي نه مصرفیږي. (فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۵۹).

له اذان څخه پرته دنورو شیانو لپاره دلاوډ سپیکر استعمال

پوښتنه : که په مسجد کښي څوك نه وو په کورو کښي سړی او میرمني په کارونو لګیاوي یا یي دا غږ نه اوریده نو سهار مهال په لاوډ سپیکر کښي داحادیثو لوستل څرنګه دي ؟

ځواب : داچي په مسجد کښي څوك نه وي په کورونو کښي هم سړی او میر مني په کارونو لګیاول اوریدلو ته متوجه نه وي نو په داسي حال کښي دحدیث شریف اورول بي مورده دي له هغه دي ځان وساتي

مسئله : په مسجد کښې که جلسه وه نو دحمد ، نعت ، وعظ او تقریر لپاره دمسجد لاوډ سپیکر استعمالیدلای شي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۲۲۱ . ۲۲۲).

په مسجد کښې دوعظ دفتې (نوار، کیسټ) اوریدل

مسئله : له راډیو یا ټایپ څخه دتلاوت یا وعظ اوریدل په مسجد او غیر مسجد کښې توپیر نلري او روا دي خو که په مسجد کښې داطریقه چې تلاوت یا وعظ له راډیو اوټایپ څخه اوري ، پیل شي . داویره شته چې بیا به دکورونو په څیر هر څه پکښې اوریدل کیږي دروا اوناروا توپیر به ورك شي نو له دې کار څخه ډډه کول ضروري دی .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۵۳).

په مسجد کښې چوکۍ ایښودل او وعظ کول

مسئله :که منبر نه وي ، چوکي ایښودل او ورباندي دوعظ لپاره کښیناستل صحیح دي دوعظ اوتقریر لپاره په مسجد کښې دلاوډ سپیکر استعمال هم جائز دی . (فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۴۸).

مسئله : دشرعي احکامو دبیان لپاره په مسجد کښې جلسه کول روا دي مقرر او واعظ ته لازمه ده چې په ډیر متانت اوتدبیر سره دالله تعالی او رسول الله ﷺ لارښووني خلگوته واوروي ، هغوئ ورباندي وپوهوي اوریدونکیو ته هم ضرور ده چې په خورا ادب سره هغه واوري .

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۴۷۴).

« په جلسه کښې شر اوشور ،طفه اوبد ویل اوهرهغه عمل چې دمسجد داحترام منافي وي ونه کړاي شي (محمد رفعت قاسمي ») .

مسئله : په مسجد کښې تقریر او درس که په اوږدو شپو کښې وي اوکه په ...ندو کښې لاوډ سپیکر دي . دمسجد دننه وي بهر یې غږ وتل ناروغانو

اونورو خلکو ته خوا توري توب پیداکوي اوریدل هغه وخت گټور وي
چي په ذوق اورغبت سره وشي.که چا داوریدلو ذوق درلود هغه دي
وهڅول شي چي مسجد ته راشي

(آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۴۵)

دمسجد له پیسو دمایک دبټرۍ رانیول

پوښتنه : که دمسجد دلاوډ سپیکر بټرۍ بي چارجه یا ورانه شوه دهغي مصرف دمسجد له روپو ورکول کیدلای شي ؟

ځواب : که دمسجد داړتیا لپاره په کارشوي وه . دمسجد له روپو څخه دي خرڅ ورکړل شي اوکنه بیل انتظام دي وشي

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۲۸).

په مسجد کښي لاس پاک (تولیا) یا نورڅه ایښودل

مسئله : په مسجد کښي لاس پاك (تولیا ، گانچه) او اینه ایښودل تکلفات دي ، کوم کسان چي په کور کښي همداسي تکلفات کوي ، مسجد کښي دي هم داشیان ځان ته برابر کړي داهغه څه دي چي نه ضرور دي چي په مسجدکی یي چمتو کړي اونه منع دي چي حرام وبلل شي .اصل خبره داده چي په کور کښي اودس وشي مسجد ته لاړ شي ، که څوك په مسجد کښي اودس کوي خپله تولیا دي ورسره راوړي.
تر اودس کولو وروسته په اینه کښي کتل نه شرعي کار دي اونه هم رواجي ددي عادت پریښودل غوره دي ، دمنبر دپاسه پوښ اچول هم یوتکلیفي کار دي په وره او دیوال باندي رختونه ځوړند کول هم په حدیث شریف کښي منع شوي دي خو که دتودوخي او یخني لحاظ پکښي کیږي کوم مشکل نشته :

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۳۲).

مسئله : دمسجد په دیوالونو آینه یا نور داسي تزین چي دلمونځ کوونکي ورته توجه اوړي مکروه دي

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۳۲).

په مسجد کښي تغداني

تغداني که سهار اوماښام پاکیږي ،بدبوی نه کوی په مسجد کښي ایښودل یي پر وا نلری اوکه بوی کوی اجازه ورته نشته تغدانی دمجبوری په وخت کښی استعمالیدلای شی که بهر ناړی توکړای شی یا په دسمال کښی تو کړای شی غوره ده.

(فتاوی رحیمیه ج ۶ ص ۱۲۰).

دروژي په میاشت کښي دمسجد تزئین

مسئله : درمضان په میاشت کښی تر نور کله لمونځ کوونکی ډیر وی که دهغوی دراحت اوسهولت لپاره رڼا څه زیاته شی روا اوغوره کار دي که یوازی دمسجد دښکلا لپاره رڼا تر حد زیاتیږی ناروا اومنع دي ، دشریعت په خلاف شیانو دمسجد ښکلا اوتزئن دهغه پاك ساتل ، دلمونځ کوونکو ډیر والي ښه بوی دلمونځ کوونکی خشوع اوخضوع اوپه ادب سره پکښی کښیناستل دي.

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۲۰).

دخدای ﷻ په دربار کښی ددنیا کارونه

مسئله :په مسجد کښی چي داړه خای دي هلته دي کښیني دلمونځ کوونکو مزاحمت دی نه کوی ، نه دي شر اوشور جوړ وي نه دي په صف کښی په زور خان ځایوی نه دي دلمونځ کوونکو ترمخ دتیریدلو جرات کوی ، نه دي دګوتو تکان باسی چی ممانعت یي راغلی دي داسی

حرکتونه چې دادب خلاف او په شریعت کښې ناخوښه دی ورڅخه دې ځان ساتې که موقع ووخت دې په ذکر اونفلونو تیروی اوکنه پټه خوله دې په ادب سره کښېني

(فتاوی عالمگیري ج ۲ ص ۲۱۵).

له دنیایي ویناوو څخه ځان ساتل

دمسجد له ادبونو څخه یوادب دادي چې هلته ددنیا له خبرو څخه ځان وساتې که هغه خبری روا وي اوکه ناروا ، په نننې زمانه کښې عوام او خواص په همدی گناه کښې څه ناڅه اخته دي ، ځکه به یې لږ په تفصیل سره بیان کوی:

((وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَداً)) (سورة جن ۲

)

ژباړه : مفسرین ددې دتشریح په ترځ کښې په مسجد کښې ددنیا دخبرو په هکله هم بیان لری وایي دادالله ﷻ کور دي اوهغه دتسبیح ، تقدیس اوعبادت لپاره ځانگړی دي.

دمسجد قدر او منزلت هم په دې کښې ده چې هلته له دنیا یې خبرو څخه ډډه وشي . هلته بوله توجه دخدای ﷻ لورته وي.

درسول الله ﷺ وړاندوینه او امت ته لارښوونه

زه داخبره ځکه رانقلوم چې څرگنده شي او کومه ستونزه چاته پیدانشي ، کنه هرچاته معلومه ده چې درسول الله ﷺ په زمانه کښې دمسجد څومره احترام وو ، خلف اوصحابه وو دهغه احترام څرنگه کا وو له حدیثونو څخه ښکاری چې داخبری هغه مهال دعامو مسلمانانو په خیال کښې هم نه راتلي.

رسول الله ﷺ دوړاند ويني په توګه وفرمايل : يوه زمانه به راشي چې ددې
خبرې به په مسجدونو کښې کيږي ، بيايې په تاکيد سره وفرمايل چې
مسلمانان به هغه مهال څه کوي فرمايي :

((فلا تجالسوا هم فليس لله فيهم حاجة))

(مشکوة ج١ ص٧١)

(له هغو خلګو سره (چې په مسجدونو کښې ددنيا خبرې کوي) مه کښينئ
، الله ﷻ ته په هغوی کې هيڅ اړتيا نشته)) .

فقيه ابوليث رحمة الله عليه له حضرت علی ﷜ څخه يو روايت رانقل کړی
دی چې هلته يې په خورا تاکيد سره ويلي دي ((په خلګو به يوه داسې
زمانه راځي چې له اسلام څخه به پرته له نوم او له قران څخه به پرته له
نښانه بل څه پاته نه وي هغوئ به مسجدونه ودانوي خو دالله ﷻ ذکر به
پکښې نه کيږي .

(تنبية الغافلين١٠١)

داروايتونه کتل ، هغه وخت چې پيش ګوي (وړاندوينه) شوي وه ، هغه
زموږ دزمانې په هکله ده له همدي امله دپوهې خاوندان دې ښه غور وکړي
اوعام مسلمانان دې په خپلو کړو وړو نظر وکړي .

څوک نه پوهيږي چې مسجد دالله ﷻ دربار او دهغه درحمت دڅرګندتيا
ځای دي نو په داسې سپيڅلی دربار کښې ... څو مره ناوړه ،
له عقل څخه ليري اوبدکا...

ددنیای کاروبار خای شر او شور ورسره لازم دي ، او همدا دخورا بد خای لوازم ،سپیڅلي دربار ته ورسوو ، هغه خای چې خدای ﷻ ته خورا گران دي ،رښتیا څومره ستره گناه ده ، الله ﷻ دي موږ ته ددین دپیژندلو توفیق راکړي.

په مسجد کښې دنیوی خبری کول

مسئله : په مسجد کښې په دنیا یي خبرو لگیا کیدل یو زیا نمن عمل دی درسول ﷺ داوړاندو وینه چې وایي « داسې زمانه راتلونکې ده چې په مسجد کښې به ددنیا خبری کیږي » .له هغوی سره مه کښېني ، خدای ﷻ دوی ته اړتیا نلری (مشکوة ج۱ص۷۰)

همدا څه ښيې ، بیا رسول الله ﷺ فرمایي :

« دنیا یي خبري نیکې داسې خوري لکه اور چې لرگی خوري (سوزوی) »

په یوه بل حدیث شریف کښې راځی (که په مسجد کښې ددنیا خبری کیږي ملائکې ورته وايي : « اي دالله ﷻ دښمنه ! پټه خوله شه » که بیا هم خبري کيدي ورته وایي (په تادي لعنت وي پټه خوله شه) .

(کتاب المدخل ج۲ص۵۵).

که په مسجد کښې دخبرو لپاره ناست نه وي خو ناڅاپه ددنیاخبری په ټيټ غږ وکړي ، څه ستونزه نه ده خو بیا هم تري ځان ساتل غوره دي .

(فتاوی رحیمیه ج۲ ص۱۲۱ امداد الاحکام ج۱ص۴۴۱).

په مسجد کښې له لمونځ کوونکو سره داسې خبره کول چې په کښې غلطوي یا دنقصان پیښدلو ویره وي مکروه ده .

(فتاوی دارالعلوم ج۴ ص۱۰۷ ددرمختار ج۱ص۲۰۲ په حواله).

مسئله : په مسجد کښې نا روا خبره په لوړ اواز کول مکروه تحریمي ده .

(کتاب الفقه ج۱ص۴۵۵ او احسن الفتاوی ج۲ص۴۵۲).

مسئله : په مسجد کښې ددنيا دخبرو لپاره کښيناستل ناروا دي ، خو که دعبادت لپاره راغلل اوبيا اړتيا پيښه شوه او مباح خبري يي داسي وکړې چي نورو عبادت کوونکو ته زيا نمني نه وي . صحيح دي خو غير مباح خبرې لکه چټيات . فحش او ددروغو قصې کول سمي نه دي .

(فتاوى محموديه ج۱ ص۵۰۸ اوآپ کی مسائل ج ۳ ص۱۵۱).

مسئله : دحال احوال پوښتنه کول ، يا يوه ضروري خبره کول منع نه دي ، خوبي معنى قصي کولو ته په مسجد کښې اجازه نشته .

(آپ کی مسائل ج ۳ ص۱۴۲ کفايت المفتى ج ۳ ص۱۷۰).

په مسجد کښې کښيناستل اومشوره کول

له غالمغال څخه پرته ، داسي کښيناستل اومشوره کول چي دمسجد ادب وساتل شي اودچالمانځه ته زيان ونه رسيږي او دلمانځه دضرورياتو په هکله لکه دامام تاکل دلمونځونو وختونه يا نورو اړوند شيانو په هکله مشوره کول ددنيا خبرې نه دي . (فتاوى محموديه ج ۱۵ ص۱۲۲)

مسئله : ددنيا خبري په مسجد کښې صحيح دي هغه چي ضروري وي . په دي شرط چي مسجد ته به دخبرو په نيت نه وي راغلی ، بې ضرورته مکروه دي چي پکښې سخت وعيد راغلی دی.

(امداد الاحکام ج۱ ص۴۵۲).

په مسجد کښې دنعت شريف ويل

مسئله : په مسجد کښې کښيناستل يا دريدل ، درسول الله ﷺ په شان کښې نعت ويل روا دي چي مضمون يي صحيح وي اوبهرني مفاسد پکښې نه وي.

مسئله :داسي قصايد چي پکښي دمسلمانانو بدى ويله شوي نه وي اوعبثيات پکښی نه وي په مسجد کښی يي ويل روا دي . که بيا هم ونه ويل شي غوره کار دي

غوره داده چي داسي قصيدي وويل شي چي له اوريدونکوسره ددنيا رغبت کم شي اوپه زړه کښی ديني سوز او جذبه پيدا کړی دژړا او زاريو ميلان زيات شی ، زړه دالهي عشق لور ته مايل شي که داسي شعرونه زيات هم ويل کيږي روا دی .

(غنيه ۱۰۴ اوکتاب الفقه ج۱ص ۴۵۹).

په مسجد کښی پيرل اوپلورل

مسئله : که په مسجد کښی څوك دکتاب په هکله تقرير وکړی ، دکتاب فضائل بيان کړی ، دکتاب بيه وښيي اوپه مسجد کښی يي پلورل پيل کړی يا څوك کوم ا نځور جوړ کړی په منبر يي کښيږدي ، صفت يي وکړی اوهلته يي خرڅوي په مسجد کښی داسي کار کول څرنگه دي؟

ځواب : په مسجد کښی داسي اخستل پلورل ناروا دي .

(فتاوى محموديه ج۱۵ص ۱۲۳او احسن الفتاوى ج۲ص ۴۴۹).

مسئله : له مسجد څخه بهر اخستل پلورل روا دي ، دمسجد دننه دراکړی ورکړی معامله لکه اخستل خرڅول ، مزدوري معلومول يا نور څه مکروه دي خو سوغات ورکول ، هبه کول مکروه نه دي ، دنکاح عقد خو په مسجد کښی مستحب دي . (کتاب الفقه ج۱ص ۴۵۲).

مسئله : په مسجد کښی دکومی خزندی وژل ښه نه دي ، بهر دي وايستل شي او ودي وژل شي. (فتاوى محموديه ج۱۵ص ۱۲۳).

په مسجد کښې دکعبې انځور (عکس) لګول

مسئله : دکعبې مبارکې یا درسول الله ﷺ دروضې تصویر چې دژوندي شي تصویر ورسره نه وي په مسجد کښې که ولګول شي پروا نلري خو چې څنګ ته وي اودلمونځ کوونکو نظر وربانديې نه لګیږي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۲۵۹).

مسئله : دلمانځه روح خشوع اوخضوع ده ، پرته له هغوی اوپرته له دي چې دزړه توجه دالله تعالی لورته وي ، لمونځ بي روح دي ، نو په مسجد کښې دقبلې په لوری انځورونه لګول له دي چې دلمانځه په حالت کښې خشوع اوخضوع ته زیان رسوي منع دي .

مسئله : ښکلې انځورونه اونقشونه ، چوکاټونه ، جنترې اونور لمونځ کوونکې غافل کوی ، په مسجد کښې رنګین دبرېښنا ګروپونه ، دعبادت ځای بدلول دی په تماشا ځای باندی نو ځکه هم له کراهت څخه خالی نه دي .

(فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۲۳۵ دمسلم شرح ، نووی ج ۱ ص ۲۰۸ په حواله اوجذب القلوب ۲۱۲).

مسئله : په مسجد کښې داسي عکسونه اولیکنې چې دکعبې یا نبوی مسجد عکسونه وي یا داسي نقشونه دمسجد په دیوال لګول چې دلمونځ کوونکو توجي اړوی مکروه دی .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۴۳).

دنبوي مسجد عکس ته مخ ګرځول او درود ویل

ترهرلمانځه وروسته دنقشې لورته کتل ، لاسونه تړل او درود ویل کوم شرعي اصل نلري نه په قران کریم کښې شته نه په نبوی سنتو کښې اونه هم دامت دصالحانو په قول اوفعل کښې هغه درود ویل چې په لمانځه کښې ویل کیږي هغه غوره دي ترلمانځه وړاندی او وروسته چې څومره توان

لري په ادب سره کښيني او درود دوايي داستره نيک مرغي او دبرکت وسيله ده رسول الله ﷺ خورا زيات حق لري او په حديث شريف کښې ددرود دويلو لوی فضيلت بيان شوی دي

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۲۴۴).

په مسجد کښې دانځور لرونکې کتاب لوستل

پوښتنه : کوم کتاب چي پکښې انځورونه وي آيا په مسجد کښې دهغه لوستل صحيح دي ؟

تصويرونه په اور لگيت او روپي هم وي او داشيان په جيب کښي پراته وي.

ځواب : هغه انځورونه چي په روپيو يا اور لگيت وي هغوی خورا واړه وي ددي وړو تصويرونو په حکم کښې تخفيف شته روپي هم داړتيا وړشی دي چاره نشته دضرورتونو دپوره کولو لپاره به له ځان سره ساتل کيږی خلاصون ورڅخه مشکل دي ځکه پرته له انځور څخه پيسی نه موندلی کيږي اوداسي انځورونو ته ډير نه کتل کيږی جذابيت پکښې نشته.

دکتابونو دانځورونو داحال نه دي دپيسو په انځورونو نه قياسيږي نودهغه په هکله دي دتخفيف پلټنه نه کيږی مسجدونه بايد له همداسي شيانو پاك وساتل شي.

(فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۱۵۹).

په مسجد کښې دمړه شوي شخص لپاره ختم کول

مسئله : ختم کول له لويانو څخه ثابت دي ختم کول او ثواب يي بخښل صحيح دي خوځوك دي دختم په کولو نه اړيستل کيږي که دچا زړه غوښتل گډون په کو ی اوکه يي زړه نه غوښتل گډون به نه کوی داسي څه

دي نه کوي چي ثابت شوی نه دي. (فتاوی محمودیه ج۱۲ ص ۴۱۸).

دپیش لمې (سحرې) لپاره دمسجد په بام نغاره وهل

مسئله: دپیش لمی لپاره دبیدارولو په مقصد دودانۍ په بام دنغارې (ډول وهل) اجازه لري خو په مسجد کښې یا دمسجد په بام جواز نلري.

(فتاوی محمودیه ج۱۵ ص۲۳۲).

(تر مسجدبهر دامام دخونې په بام یا داوداسه دځای په بام دسحرې لپاره دبیدارولو نغاره وهله کیدلاي شي. (رفعت)

دمسجد په بام دښکار لپاره گرځیدل

مسئله: دمسجد په بام دښکار کولو لپاره گرځیدل دي داهم جواز نلري چې ښکار مسجد ته په ننوتلو اړباسي ځو يي ونيسي، ځکه مسجد ناولی کوی

(فتاوی محمودیه ج۱۵ ص۲۵۴).

مسئله: دکوترې ښکار جواز لري خودمسجد احترام هم لازم دي، نو په مسجد کښې دي کوتره داسي نه نيسي چي دمسجد بي احترامي وشي.


(فتاوی محمودیه ج۱ ص۴۷۱).

مسجد ته دنه تللو سوگند کول

پوښتنه: که څوك مسجد ته له ورتللو سوگند وکړي څه حکم لري؟

ځواب: داسي ډول سوگند غلطی ده، مسجد ته دي ځی اودسوگند دي کفاره ورکړی

کفاره داده چي لس تنه بي وزله کسانو ته دي دوه وخته ډوډۍ ورکړي يا دي لسو تنو ته جامې ورکړي، که داوس نلری دری ورځی دي پر له پسې



روژه ونیسی بیا دي داسې سوګند نه اخلې (فتاوی محمودیه ج ۴ ص ۱۲۱).

دمسجد په دیوال کښی ددوکان الماری جوړول

پوښتنه: دسړك په غاړه یومسجد دي غولی یي دانسان ترقدهم دوه فوټه لوړ دي دمسجد خوا کښی یو وړوکی دوکان دي، که هغه پراخوی الماری یي دمسجد په دیوال کی تر غولی لاندي راځی داجواز لري؟

ځواب: که کوم ځای شرعا مسجد وبلل شی لاندی باندی ټول مسجد دي دمسجد په دیوال کښی لاندی الماری جوړول اوبیا مسجد ته کرایه ورکول، جواز نلري. (فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۲۲).

مسئله: دمسجد په دیوال کښی، که دیوال نه زیانمن کیږی، دقران کریم او نورو دیني کتابونو دایښودلو لپاره تخته لګول صحیح دي.
(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۲۷).

له مسجد څخه دوتلو لپاره تیمم کول

پوښتنه: که څوك په مسجد کښی بیده وي غسل ورباندی واوښت نو له مسجد څخه دوتلو لپاره غسل لازم دي؟

ځواب: له مسجد څخه دوتلو لپاره تیمم ضرور نه دي خو که دکومو عوارضو له امله سمدستي وتل ورته ګران وي بیا تیمم ورته لازم دي.
(فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۵۱۲ کفایت المفتی ج ۳ ص ۱۰۲).

مسجد ته په رسیدلو کښیناستل

مسئله : سنت خو دادي چې څوك مسجد ته ورشي تر کښيناستلو وړاندې دوه رکعته لمونځ تحية المسجد وکړي بيا کښيني خو څوك چې لومړی کښيني نو دا (ترك اولي) دي . (فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۱۲)

مسئله : اولی اومستحب داسي دي چې څوك مسجد ته وردننه شي ، که يي اودس وو اودوخت گنجايش وو نو بيا دوه رکعته تحية المسجد کوي بيا کښيني . داچې اوس داسي رواج شوي دي چې لومړی کښيني بيا تحية المسجد لمونځ کوي ، کوم شرعی اصل نلري .

(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۳۲ دردالمحتار ج ۱ ص ۷۳۵ په حواله ، بخاری ج ۱ ص ۶۳ اومسلم ج ۱ ص ۲۴۸) .

مسئله : تر کښيناستلو وړاندی تحية المسجد کول افضل دي خو په کښيناستلو سره نه ساقطيږی که له کښيناستلو سره سم دجماعت لمونځ پيل کيږی همدا فرض دتحية المسجد ځای هم نيسي که جماعت وروسته کيده ولاړ دي سي اوتحية المسجد دي وکړي . (احسن الفتاوی ج ۳ ص ۴۸۲) .

مسئله : دسنتو اونفلو کول په کور کښی غوره دي ، خو که داويره وه چې په کور يا لاره کښی پريشاني پيداکيږي ، خشوع اوخضوع نه حاصليده بيا په مسجد کښی کول يي غوره دي که په غير ضروري خبرو اخته کيده بيا دي هم په مسجد کښی کوي که هرځای خشوع اوخضوع زياته پيداکيدله سنت او نوافل هلته کول غوره دي .

(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۴۷ ددرمختار باب الوتر ج ۱ ص ۲۳۸ په حواله) .

مسئله : دمسجد دننه اوبهر فضيلت سره برابر دي .

(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۲۴۲) .

دتحية المسجد حکم

مسئله : مسجد ته په ورننوتلو دوه رکعته لمونځ کول دتحية الوضوء اوتحية المسجد دواړو ځاى نيسى بلکي مسجد ته په ننوتلو که هر لمونځ وشي تحية المسجد اداء کيږى . که داوداسه داندامو تر وچوالى وړاندي دوه رکعته لمونځ کيږى هغه تحية الوضوء بلل کيږي .

(احسن الفتاوى ج ۳ ص ۴۸۱).

مسئله : دمازيگر له لمانځه تر ماښام پوري کوم نفل لمونځ روانه دي خو دلمر ترډوبيدلو وروسته دماښام تر لمانځه وړاندى دوه لنډ رکعته کول روا دي خو غوره دادي چي دماښام تر لمانځه وړاندى نفل ونشى ، په دي نوافلو کښى دکوم سورت اختصاص نشته .

(احسن الفتاوى ج ۳ ص ۴۸۰ دردالمحتار ج ۱ ص ۳۴۹ په حواله)

مسئله : له مکروه وخت څخه پرته که سړى هر وخت مسجد ته ننوزى تحية المسجد سنت دي له پنځه وخته لمونځونو سره هيڅ اړيکي نلرى که دپنځگونو لمونځونه لپاره مسجدته ننوزى تر کښيناستلو وړاندي يا وروسته فرض يا سنت لمونځ پيل کيده دتحية المسجد لمونځ ورباندي ادا کيږى دتحية المسجد مستقل دوه رکعته کيږي .

(احسن الفتاوى ج ۳ ص ۴۸۳).

مسئله : که مکروه وخت نه وو ترجماعت وړاندى مسجد ته په ورتلو تحية المسجد لمونځ کيږى که جماعت لمونځ پيل کيده داتحيه ساقطيږى که ځوځله مسجد ته ننوت او راوت يوزاى يوځل دي تحية المسجد وکړي .

(فتاوى رحيميه ج ۱ ص ۲۲۲ کتاب الفقه ۱، ۵۲۷).

په مسجد کښې دجنازې لمونځ

مسئله : په مدينه منوره کښې دجنازې دلمانځه لپاره دنبوي مسجد ختيز لور ته ځای دې دپنځه وخت لمونځونو لپاره په جوړ شوي مسجد کښې دجنازې لمونځ البته پرته له عذره له کراهت څخه خالي نه دې که يې کراهت نه درلودلای ، رسول الله ﷺ به بيل ځای نه ورته غوره کاوو . مسجد به کافي وو خو رسول الله ﷺ ورته بيل ځای جوړ کړ .
(فتاوی محموديه ج۲ ص۳۸۷ دفتح الباری ص۱۲۰ ج ۳۰ په حواله).

مسئله : دجنازې لمونځ که په مسجد کښې کيده داصلاح لپاره له جماعت څخه يې گوښه کيدل غوره دي .

مسئله : سره له دې چې خلگ پوهيږي اوپه رواجي ډول دجنازې لمونځ دمسجد په دننه کښې کوي نو له جماعت اوامامت سره دې معذوري ښکاره کړي. (فتاوی محموديه ج۱۰ ص۲۹۸).

مسئله : بې عذره اوپرته له مجبوری ،مسجد ته دجنازې دننه کول منع دي اومکروه دي ځکه دناولتيا ويره يې ده ځکه کله ورڅخه وينه يانور څه ترې خارجيږي .

(فتاوی رحيميه ج۵ ص۱۰۵ بخاری ج۱ ص۱۷۷ مسلم ص ،۳۱۹ ج۱).

جنازه بهر خو امام اومقتديان دننه

پوښتنه : که جنازې بهر کښيښودله شي له مسجد څخه دقبلې په لوری يوه کړکۍ وي . امام او مقتديان دننه ولاړ وي نو حکم يې څه دي ؟

ځواب : په دې صورت کښې درمختار کراهت ښودلی دې خو شامي دخيني فقهي جزياتو له امله پکښې وسعت ښودلی دې .

(امداد الاحکام ج۱ ص ۴۵۷).

،، په نبوي مسجد کښې هم جنازه له مسجد څخه دقبلې لورته ږدي امام اوځو تنه مقتديان بهر او نور دننه دريږي د جنازې لمونځ کوي دحرام په مسجد کښې جنازه دکعبې له ديوار سره ږدي خو هلته مجبوري ده ځکه که جنازه بهر کښېږدي مقتديان تر امام وړاندي دريږي (محمد رفعت قاسمي).

دمسجد په ويرانه کور جوړول

مسئله : داسي ځمکه چي وقف اومسجد والي يي ثابت وي خو ډېر وخت لپاره هغه ځای وران اوځمکه يي خاره پاته شوي وي بيا هم هغه مسجد دي اوترقيامته مسجد دي له هغو ځايه دخوړلو ، بيده کيدلو يا نور کار اخستل حرام دي که چاد دغسې چا مرسته وکړه گنهکار دي .
(فتاوی رحيميه ج۶ ص۱۰۰).

دمسجد بيمه کول

پوښتنه : دمسجد بيمه کول څرنگه دي ؟ ځکه پخوا مسجد اودهغه لوازم سوځول شوي وو .

ځواب : که دمسجد دخوند يتوب بله لاره نه وي مجبورا يي بيمه کول صحيح دي . خوله هغه څخه کوم په سود پيسې چي تر لاسه کيږي په مسجد کښې دي نه لگيږي . (محموديه ج۱۵ ،ص۳۲۹).

مسئله : کوم مبلغ چي دبيمې په ترځ کښې ادا کيږي ، هغه دمسجد ، مدرسې او عبادت ځای کيږي اوزياتی دي په بي وزله خلگو وويشل شي .
(فتاوی رحيميه ج۶ ص۱۲۷).

دمسجد له خادم سره مراعات کول

پوښتنه : که دمسجد پخوانی خادم بوډا شو اوس يې کم کم کار کاوو هغه ته دمسجد له شتمني څخه پوره معاش ورکول کيدلای شي ؟

ځواب : هو دهغه دوس وړ کار دي ورته وسپارل شي همدومره گنجائش شته . (فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۲۲۹)

دمسجد دخادم داولاد دوراثت حق

پوښتنه : که دچا پلار اونيکه په کوم مسجد کښې امام يا مؤذن وو خو اوس يې لمسی هغه کار کولای نه شواي امام اومؤذن نور کسان وټاکل شول خو دپخوانی امام يا مؤذن لمسی ته هغه څه چي پلار اونيکه ته يې ورکول ورکول کيدل خو اوس کليوال دهغه دبي ځايه حرکتونه له امله هغه مراعات ورڅخه غوځوی شرعي حکم يې څه دي ؟

۲ : دهمدي شخص دپلار اونيکه چي کومه خونه وه اودمسجد دخدمت په بدل کښې ورکړل شوي وه اوس هم پکښې داشخص اوسيږی داشرعا جائز دي ؟

ځواب : ۱ : دمسجد کوم خادم (امام يا مؤذن) ته چي کوم مراعات ورکول کيږی هغه دهغه ترشخص پوري نه بلکې ترخدمت پوری اړه لري هلته وراثت پکښې نشته چي دخادم تر وفات وروسته يې ورثه دعوه وکړي .

۲ دادهستوگنې ځای (خونه يا کور) هم دهغه پلار اونيکه ته دخدمت په بدل کښې ورکړل شوي وو اوس چي خدمت ختم شوي دي اوخادم هم وفات شو دي نو اولنی اولاد ته يې دوراثت په دول حق نه رسيږی .

دمسجد ځمکه ،باغ ، دوکان ، کور چې دمسجد ملکیت وي که هغه ورته
چا وقف کړي وي یا مسجد اخستی وي په هغوی باندي هم دچا غاصبانه
قبضه روا نه ده . اوله هغه ځخه لاس اخستل ضروری دي
(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۱۷).

حدیث شریف لیکل او په مسجد کښې ځوړندکول

پوښتنه ::په توره تخته حدیث لیکل اوپه دروازه ځوړند کول ورسره دځان
لپاره دعا غوښتل څرنګه دي ؟
ځواب : دځان یا کومې ټولنې لپاره ددعا غوښتل منع نه دي حدیث لیکل
او ورسره دعا غوښتل هم منع نه دي نوم که وروسته وړاندې ولیکې هم څه
ستونزه نه ده خو دالیکنه یوازې دشهرت لپاره نه وي ، بلکې دالله ﷻ درضا
لپاره دحدیث او احکامو خپرول پکښې هدف وي .
(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۴۱).

دمسجد په دیوال اعلان ځوړند کول

دمسجد په دروازه یادیوال داعلانونو ځوړند کول له دوو وجهو ناروا دي
یوداچې دمسجد دیوال دشخصي مقصد لپاره استعمالول حرام دي ،
فقهاء لیکې چې چاته روانه دي چې دمسجد په دیوال دخپل کور پښتول (
شهتر ،ګادر) کښېږدي دوهمه وجه داده چې دمسجد پاك ساتل اواحترام
کول یو امر دي که یې په دروازه یا دیوال ، اعلانونه ځوړند کیږي ، دپاك
ساتلو او احترام خلاف کار به شوی وي .

ای خوك ديوه امير دكور په دروازه داعلان دلګولو جرئت كولای شي دخپل كور په دروازه اوديوالونو مختلف ډول اعلانونه ځوړندول زغملای شي

(ستاسومسائل ج ۲ ص ۱۴۲)

مسئله : دمسجد دننه دي دتجارت ځای نه جوړيږی ، دتجارت اوكاروبار شيان دي هلته نه اينبودل كيږی ، دسحر او افطار (پيش لمی او روژه ماتی) داسی نقشه چی ورسره دكوم دوكان هم ليكل شوی وي دمسجد په بهرنی دروازه كښی دي ځوړند كيږی له مسجد څخه دي دتلو راتلو لاره نه جوړيږی . نه دنارينو اونه دميرمنو لپاره ، ښځی دي هم مسجد ته له تللو څخه منع كيږي

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۲۰۹)

په مسجدكښی اعلان لرونكې جنتري ځوړندول

مسئله : نن سبا ځينی داسی جنتری ګانی خپريږی چی ، دلمانځه وختونه ، قرآنی آياتونه او يادديني مضمونونو برخی پكښی ليكل كيږی او ورسره تجارتی اعلان هم وي خو داعلان اندازه تر نورو شيانو كمه وي دداسی جنتری ګانو هدف چی اصل مقصد ددينی احكامو خپرول وي ورسره ضمنی اعلان څه اعتبار نلري . (فقهی مسائل اووم ټوك ۲۸۹ مخ).

« خو داخيال ساتل په كار دي چی په جنتری دژوند موجود انځور نه وي اودقبلی لور ته ځوړند نه وي چی دلمونځ كوونكو حضور خرابوي .

(رفعت)» .

که له غیر مسلم سره دمسجد امانت ضائع شي

پوښتنه : متولی له خان سره مسجد دپیسو ایښودل خوندی نه بللی کوه مسلمان هم هغه دامانت په توگه نه ساتلی ، متولی دکلیوالو په امر هغه پیسی له غیر مسلم شخص سره کښیښنودلی ، هغه مالدار وو عام اوخاصو ورسره پیسی ایښودلی خوکه هغه بی شتو شو دمسجد پیسی ورڅخه ضائع شوی ورسره هیڅ وجه نه وه چی داپیسی تری حصول کړی ، ددي زیان ضامن متولی دي که کلیوال ؟

ځواب : که له متولی سره دهغو پیسو دضائع کیدلو ویره وه ، دخوندی توب یي بله لاره هم نه وه اودکلیوالو په خبره یي هغه له غیر مسلم سره امانت کښیښنودلی اودهغو دبیاترلاسه کولو هیله یي غښتلی وه نوبیا نه په متولی ضمانت راځی اونه په کلیوالو.

(فتاوی محمودیه شپږم ټوک ۱۸۱ مخ).

که له مسجد څخه غلا وشوه ایا تاوان یي دمتولی په غاړه دي ؟

پوښتنه : دمسجد اړوند په خونه کښی سامان وو تاله ورته لگیدلی وه غله هغه سامان غلا کړ آیا متولی پکښی گرم دي ؟

ځواب : دمسجد په اصل دروازه کښی تاله (قلف) نه وي لگیدلی ترڅو هرڅوك عبادت ته راشی په مسجد کښی محافظ هم نه وي یوازی دلمونځونو په وخت مؤذن اوخادم راځی نو په داسی حال کښی دسامان دخونی دروازه تاله کول دحفاظت لپاره کافی دي اوپه متولی ضمانت نه اوړی اوکه هغه ځای بي امنه وو داسي غلاوی شوي وي بیا یوازی تاله لگول کافی نه دي اوبل حکم لري.

که دمسجد امانت شيان غلا کړای شي

پوښتنه : له يوه سړي سره دمسجد امانت شتمني ايښې ده هغه غلا شو، بيرته ترلاسه شوخو نور نه ، په دي صورت کښې مسجد ته يي ورکول لازم دي ؟

ځواب : که يي امانت مال له خپلې شتمني سره ګډ کړی وو دمسجد پورورړي دي او که يي بيل خوندي ساتلی وو ورباندي ورکړه يي نشته کومه غلاشوي شتمني چي بيرته ترلاسه شي هغه به ورکوي .

(فتاوی محمودیه ج۱۰ ص۱۷۱)

له مسجد څخه بهر دمسجد دشتمنی لګښت

پوښتنه : دجمة الوداع يا اخترونو په ورځو کې خلګ له مسجد څخه بهر په عمومی سړك لمونځونه کوي ، آيا دمسجد په پيسو هلته په کرايه فرش يا نور څه راوړل کيدلاي شي ؟

ځواب : داکار دمسجد دلمونځ کوونکو لپاره دي څه حرج پکښې نشته .

(فتاوی محمودیه ج۱۸ ص۱۸۱).

مسئله : که يوه زانيه مسجد ودان کړی حکما هغه مسجد دي دورڅه وو حق پکښې نشته دچا تصرف پکښې دوقف دحکم په خلاف پکښې ناجائز دي خوپکښې لمونځ کول پوره ثواب نلري فرض له غاړي اوړي .

(امدادالاحکام ج۱ ص۴۴۱ احسن الفتاوی ص ۴۳۳ ، ج۲).

دفاحشې شتمنې په مسجد کښې استعمالول

پوښتنه : یوه ښځه له حرامې لارې خوراك څښاك پیداکوي خو نور دلاس کارونه لکه اوبدل یا ګنډل هم کوي ، له همدې پیسو دمسجدلپاره فرش یا نور څه اخلې حکم یې څه دې ؟

ځواب : دهمداسې شیانو استعمال په مسجد کښې صحیح دې ځکه دایې په عین حرامه ګټه اخستې نه دې .

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۲۰۳ او کفایت المفتی ج ۳ ص ۱۱۱) .

معاش اخستل او په مسجد کښې تدریس کول

مسئله : که څوك دمسجد لپاره مثلا حفاظت ته یې په مسجد کښې کښیناست یا بل ځای نه وو په مسجد کښې یې درس درلود روا دې خو که یې همدا کسب وو بیا په مسجد کښې کښیناستل او تدریس کول دمسجد داحترام خلاف دې .

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۸۲ امداد الاحکام ۱،۴۴۱) .

دمسجد په پوړه برخه کښې درس ویل

پوښتنه : دمسجد په لاندې پوړ کښې لمونځونه کیږي په پورتنې پوړ کښې یې ماشومان زده کړه کوي دمسجد دودانولو په وخت کښې داخیال نه وو چې دلته به ماشومان زده کړه کوي هغه ځای مسجد په نظر کښې وو اوس پورته د جماعت لمونځ کیدلای شي ماشومانو ته زده کړه ورکول کیدلای شي ؟

ځواب : داسې چې لاندینې حصه مسجد وي پورتنې برخه یې هم مسجد ده دوهم ځل جماعت دې په پورتنې برخه کښې نه کیږي دماشومانو لپاره دې بل ځای ومومې که بل مناسب ځای نه وو مجبورا ماشومانو ته په

مسجد کښې زده کړه صحيح ده خو دومره واړه ماشومان نه چې هغوی دولي اوناولي توپير ونکړای شي ناپاکي راوړی بولي کوي داهم ضرور ده چې دمسجد احترام وساتل شي مثلا ماشومانو ته سخت الفاظ اوسپک الفاظ ونه ويل شي سزا ورنکړی شي ونه وهل شي .

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۳۰ اواحسن الفتاوی ج ۲ ص ۴۵۸).

مسئله : که دقران کريم اوديني زده کړو ته بل ځای نه وو نو په مسجد کښې جواز لري خو دمسجد احترام لازم دي هلته به شورا اوشغب نه وي داسي کار به نه کوي چې دمسجد داحترام خلاف وي دلمانځه په وخت کښې به زده کړه نه وي ترڅو خلکو ته په لمانځه کښې ضرر نه وي په مسجد کښې به داسي ماشومان زده کړه نه کوي چې په مسجد کښې بولي کوي ، داوبو لوښې ناولي کوي يانوز وراني رسوي .

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۳۸).

دمسجد داړوند قران کريم استعمال

که کوم قران کريم يا يي جزونه دمسجد لپاره وقف شوي وو ، په مسجد کښې هغه هرڅوك استعمالولای شي که لمونځ کوونکي وي اوکه دمدرسي طالبان (فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۳۸) «خو خپل کور مدرسي يا بل مسجد ته يي وړل جواز نلري ،محمد رفعت قاسمي» .

مسئله : قران کريم چې په مسجد کښې ايښی وي هغه وقف دي ، هرڅوك راځی هلته يي تلاوت کوي دکورته وړلو اجازه يي نشته بدليدل يي ناجائز دي وقف شوي شي په بدل ورکولو په ملکيت کي راتلاي نشي که دچا ورته ضرورت وي :هغه په ادرس دي بل ومومي .

(فتاوی محموديه ص ۲۹۲ ، ج ۱۲).

ئله : مسجد ته دوقف شوي قران کریم ورل جائز نه دي که ورته اړتیا نه
بل نژدې مسجد ته چي پکښي اړتیا وي ورکول يي صحيح دي
(فتاوی رحیمیه ص ۴ . ج ۷۷).

ښتنه : په مسجد کښي قران کريم په جزونو بیل . بیل وي . هغه کورته
ختم لپاره ورل کيدلاي شي ؟
ځواب : که داپاري اوجزونه ددي لپاره ورکړل شوي وو چي خلګ دي
ختم لپاره کورونو ته وړي بیا څه ممانعت نشته .
(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۲۵۲).

دمسجد قرآن کریم زده کوونکو ته ورکول

پوښتنه : په مسجدونو کښي خلګ پرته له اجازې قران کريم ږدي ، شمير يي زيات وي څوك يي نه تلاوت کوي او اخر خرابيږي او بیا يي خلګ خښوي که داسي قران کريم يي شتو زده کوونکو ته ورکړل شي اوهغوئ يي په ښوونځي کښي يا بل ځاي ولولي جواز لري ؟

ځواب : چاته په ملکيت کښي ورکول يي جواز نلري ، نه مدرسي ته ورکول کيدلاي شي څو که زيات وي ورته اړتيا نه وي بل نژدې مسجد ته چي ورته ضرورت لري ورکول کيدلاي شي که ترمسجد بهر ليکل شوي وو چي دلته پرته له اجازې قران کريم مه ږدي خوبيا هم چا کښيښود نو هغه مدرس يا کوم بي شتو سړي ته ورکول کيدلاي شي .
احسن الفتاوی ج ۲ ص ۴۵۲).

په مسجد کښې له اجازې پرته دولتي برېښنا استعمالول

پوښتنه: پرته له اجازې، دقدر په شپه یابل وخت لـه دولتي برېښنا ګټه اخستل څرنګه دي؟

ځواب: داسي کول غلا ده، ناروا ده مسجد داسي روښانه کول ګناه ده که داکار دمسجد اداري خلګ کوي اوکه نور توپير نلري که څومره برېښنا همداسي مصرف شوي وه پيسي دي دبرېښنا دفترته ورکړي.

(نظام الفتاوی ج۱ص۲۰۴)

«بده معامله غير قانوني کړه وړه تل عزت تـه زيان رسوي، عزت ساتل واجب دي ترک دواجب بله ګناه ده، نو ځان ورڅخه ساتل ضروري ده.

(محمدرفعت قاسمی).

مسئله: په مسجدونو کښې زيات ګروپونه لګول، داسراف په حکم کښې دي دارتيا په اندازه لګول يي جائزدي.

(نظام الفتاوی ج۱ص۳۱۴ دشامي ج۱ص۴۴۲ په حواله).

دمسجدعوايد داوقافو له اداري پټول

پوښتنه: که داوقافو اداره دمسجدونو اوهديرو يا نورو ځايونو دخوندي توب لپاره دمسجدله عايدڅخه په فيصدي حساب پيسي ګرځوي که څوک دمسجد اړوند دوکانونو يا نورجايداد په واسطه راغلي عايد داوقـافو له اداري څخه پټ وساتي آيا داسي کارغلا ده؟ همدا زياتي شوي پيسي په مسجد کښې مصرف کيدلاي شي؟

ځواب: داسي پيسي پـه مسجد کښې مصرف کول مباح دي خو داسي معامله کول قانوني غلا ده، ځان ورڅخه ساتل واجب دي نو دمباح لپاره خوبه واجب نه پرېښودل کيږي اوداسي څه ته دي اجازه نه ورکوي.

(نظام الفتاوی توک۱ص۲۰۳)

دخاورو تیل په مسجدکښي لګول

مسئله : دخاوروتیل په مسجد کښی لګول منع دي خوکه نور تیل نه وو دخاورو نیل داسي پاك شوي وو چي بوی يي نه درلود بیا دي وسوزو شي جواز لري .

(فتاوی محمودیه ج۲ ص ۴۲۰ او ج ۲ ص ۱۲۳

په مسجد کښي به څراغ ترڅو پورې بلیږي

مسئله : چي دخلګو دراتللو نوره توقع نه وي څراغ دي لري کیږي .

(فتاوی محمودیه ج۲ ص ۴۲۲ ، امداد الاحکام ج۱ ص ۴۴۷)

مسئله : که چا مسجد ته شمع یا نور څه ورکړل که هغوئ ته په مسجد کښی ضرورت نه وو اودوقف کوونکي اجازه وه هغوی دي خرڅ کړي اوپه بیه دي دمسجد نور ضروریات پوره کړي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۷۲ او ج۱ ص ۴۷۱).

مسئله : په مسجد کښی ناپاکه تیل لګول مکروه دي .

• (رد المحتار ج۱ ص ۶۱۹).

مسئله : دمسجد څراغ کورته وړل ناجائز دي خو دکور څراغ مسجد ته وړل جواز لري . (عالمګیري ج۱ ص ۱۷۰) .

مسئله : ترڅو عام خلګ لمونځونه کوي په مسجد کښی دي څراغ لګیږي داوداسه اوغسل په ځایونو اولاره کښی هم څراغ لګول کیدلاي شي البته دضرورت په اندازه .

(فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۴۹ اوعالمګیري ج۱ ص ۱۷۰).

مسئله : ترلمانځه وروسته که څوك دمسجد دڅراغ رڼا ته کتاب ګوري یا چاته درس وایي دشپي تر دریمي برخي جواز لري اوزیات نه .

(بحر الرائق ج ۵ ص ۲۵۰).

مسئله : دمسجد فرش دلمانځه اوجماعت لپاره هوارول صحیح دي که فرش تل هماروي هلته که کوم دطریقه مرشد اومریدان یي کښیني باك نلري خو که فرش تولیږي بیا یي دکښیناستلو لپاره مستقل استعمال بند نه دي .

(فتاوی محمودیه ج۱۰ ص ۱۴۹).

دمسجد دتیلو خرڅول

مسئله : که څوك مسجد ته تیل ، پکې یابل څه ورکړي اودخرڅولو اجازه ي وي هغه خرڅول کیدلاي شي . (فتاوی محمودیه ج۲ ص ۲۰۴).

دمسجد تیل اونورڅه دامام په استعمال کښي

مسئله : که څوك څۀ شی مسجد ته ورکوي او امام ته وایي داشیان مي تاته درکړل ، خپل کورته یي یوسه استعمال یي کړه نو امام ته یي استعمال صحیح دي خو له ورکوونکی پرته که بل څوك اجازه کوي صحیح نه دي . داچي څوك څه مسجد ته ورکړي اوداسي وانګیرله شي چي داورکړه یي امام ته په کور کښی داستعمال اجازه ده داخیال غلط دي .

(فتاوی محمودیه ج۲ ص۲۰۵ امداد الاحکام۱، ۴۴۷).

دمسجد سامان خرڅول

پوښتنه : که په مسجد کښی سطل (بوکه) فرش یا نور ترضرورت زیات وي که هغه خرڅ شي اوپیسی یي دمسجد په ضروریاتو مصرف شي جواز لري ؟

ځواب :: کوم شیان چي دمسجد داړتیا دپوره کولو لپاره اخستل شوي ، که هغوئ وپلورل شی او پیسی یي په مسجد ولګول شي صحیح دي،

خو هغه شی چي دمسجد په پیسو اخستل شوي نه وي او چا ورکړي وي ک
ورکوونکی دخرڅولو اجازه ورکړي وه بیا يي خرڅول صحیح دي
(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۳۰۴)

مسئله : کوم شیان چي مسجد ته وقف شوي دي پلورل يي ناجائز دي کوم شیان چي وقف شوي نه دي خودعا دي جاري ضرورتو نو لپاره اخستل شوي وي ، که يي اړتیا پوره شوه خرڅول يي صحیح دي ، که مسجد وران شي سامان دي نژدي مسجد ته ورکړي اوځمکه دي وساتله شي چي بي احترامي يي ونشي.

(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۱۹۹ درد المحتار ج ۳ ص ۵۷۵ په حواله).

مسئله : که شرعی مسجد وي ، هغه دتل لپاره وقف دي دهغه ځمکه خرڅول یا په عاریت سره ووکول ناروا ده .

(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۱۱).

دمسجد زوړ سامان اخستل

پوښتنه : که یو خادم ودان شوي مسجد دپاخه جوړښت په هیله وران کړي ، دهغه سامان په بل مسجد خرڅیدلای شی یا يي څوك اخستلای شي ؟

ځواب : غوره داده چي همهغه سامان په همدي نوی مسجد کښی بیا استعمال شی که يي هلته استعمال مشکل وي دکلیوالو یا حاکم په رایه دي خرڅ اوپیسی دي په مسجد مصرف شی په اخبستونکی قید نشته اختیارلری دبل مسجد لپاره يي اخلی که دخپل کور لپاره .

(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۰۸ کفایت المفتی ج ۳ ص ۱۲۳).

دوران شوي مسجد سامان مدرسي يامسافر خانې ته ورکول

مسئله : که کوم مسجد وران وي دلمونځ کولو پکښې هيڅ صورت نه وي هغه ځاى دي خوندي وساتل شي اتفاقي خبره داده چي هغه تل مسجد دي سامان دي بل مسجد ته ورکړل شي که هلته ورته اړتيا نه وه داهل حل اوعقد کسانو په رايه دي وپلورل شي قيمت دي بل نژدي مسجد ته ورکړل شي خودمسجدسامان پرته له قيمت څخه په مدرسه يامسافرخانه يا بل ځاى مصرف کول صحيح نه دي که څه هم دي مسجد ته نژدي هم وي .

(فتاوى محموديه ج۱ص۵۰۴).

وران مسجد خرڅول يا په کرايه ورکول

پوښتنه : که کوم ځاى خلګ تللي وي مسجد همدغسې وران پاته وي هغه خرڅيدلاي شي ؟

ځواب : دوقف خرڅول ناروا دي وقف مالك نلري چي هغه وپلوري ، که هلته مسلمانان نه وي بيا هم دخرڅولو اختيار يي څوك نلري خوندي ساتل يي بهتر دي که يي څوك په زور غصب کړي اوبيا يي په بدل کښې پيسى ورکړي په هغو پيسو بل مسجد ودانول صحيح دي دوران مسجد سامان دي همدي دوهم مسجد ته ورکړي .

(فتاوى محموديه ج۱۵ص ۱۸۳).

مسئله : که دزاړه مسجد دودانولو کوم صورت نه وي اوسامان يي ضايع کيده سامان دي بل مسجد ته ورکړل شي اوځمکه دي په ديوال احاطه شي که دديوال دجوړولو پيسى نه وي دمسجد په لرګيو دي هغه ځمکه وساتله شي يا دي هغه خرڅ اوپه پيسو دي دمسجد حفاظت وشي په بل شي دي پيسى نه لګيږي دمسجد ځمکه په کرايه هم نه ورکوله کيږي دساتلو هڅه دي وشي .

دمسجد دمصرف لپاره دوقف شوي ځمکې خرڅول

مسئله : کومه ځمکه چې دمسجد دلګښت لپاره وقف شوې وي دهغې خرڅولو اجازه نشته ، که څه هم دهغې په زياته ګټه نوره ځمکه واخستله شي خو که چا دمسجد ځمکه په زرو غصب کړه لاس ته کول يې ممکن نه وي بدل دي ومنې او په هغه دي بل ځاى ځمکه واخلې دمسجد دلګښت لپاره دي وقف کړي که کومه وقف شوي ځمکه بې ګټې وه ، دهغې خرڅولوهم اجازه شته چې په پيسو يې نوره ځمکه واخستله شي او وقف دې نو ځمکه ، ځاى يا دوکان چې دمسجد دمصرف لپاره وقف شوي وي دمجبوريت له امله خرڅه شي او بيا له اخستونکي څخه کوم غير حرکت کښې وليدل شي په خپله هغه يې ذمه واري نه دمسجد اهل يا مشران .

(فتاوى محموديه ج ۱۵ ص ٦۱۹ دشامي ج ۳ ص ۵۰۷ په حواله).

دمسجد په پيسو داوداسه اوبه تودول (ګرمول)

مسئله : کومې پيسې چې دمسجد دضرورياتو دپوره کولو لپاره ټولې شوي وي په هغو پيسو ديخنې په وخت کښې دلمونځ کوونکو لپاره اوبه تودول جائز دي ترڅو په اسانې سره اودس وکړاى شي .

(فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۱۹۰).

مسئله : که دڅت لرګي لويدلي اودکار وړنه وي په هغوى داودس کولو اوداوبو تودول روا دي . (فتاوى محموديه ج ۱۵ ص ۲۰۴).

دمسجد تودې اوبه که لمونځ نه کوونکی استعمال کړي

مسئله: کومې اوبه چې داودس کوونکو لپاره تودیږي، هغه دهغه لپاره چې لمونځونه نه کوي روانه دي چې په جامو پریمنځولو یا نورځای استعمال کړی کورته دمسجد دتودو اوبو وړل هم صحیح نه دي دمسجد په انګړ کښې دي اودس کوي که تودي اوبهٔ ماخستن پاتـه کیږي او سهار پورې سړیږی بیا یي هم بل ځای استعمال روا نه دي.

په تودو اوبو اودس کول یا که په کومه جامـه نجاست وي هغه پریمنځل جائز دي خو یوازي دجامو پریمنځل صحیح نه دي.

غوره خبره داده چي په کور کښې اودس وکړای شي او مسجد تـه راشي خو هرچاته دااسانه نه ده داعرف هم عام شوي دي چي په مسجد کښې داودس اوغسل انتظام کیږي نو که مسجدونه داکار کوی غلط کار نـه دي دلمونځ کوونکو لپاره سهولت دي اودجماعت دلمانځه پابندي ورسره زیاتیږي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۰۳)

دمسجدتودې اوبه کورته وړل

پوښتنه: که چا په خپلو پیسو مسجد ودان کړ اودهغه دنورو اړتیاوو دپوره کولو لپاره یي دوکان یا کوم ځای وقف کړ په هغو پیسو یي دلمونځ کوونکو لپاره اوبه هم تودولی آیا هغه څوك چې لمونځ نه کوی دلتـه غسل کولای شي یا هغه اوبه کورته څوك وړلاي شي؟

ځواب: که وقف کوونکی داوبو دتودولو اجازه نه وه کړی دااوبه تودول روا نه دي که یي دهرچا دغسل لپاره اجازه ورکړی وه هم صحیح دي داچې دااوبه دمسجد په روپو نه تودیږي بلکې کلیوال یي تودوي نو استعمال یي هم دهغوی په اجازه پورې اړه لري.

دمسجد داوبو له ذخیري (ټانکۍ) څخه کور ته اوبه وړل

پوښتنه : دمسجد داوبو له ذخیرې څخه کور ته اوبه وړل څرنګه دي ؟

ځواب : دااوبه دڅ داوبو په څیر نه دي چي هرڅوك يې كورته يوسى بلكې دادمنګې داوبو حكم لرى . چې هغه يي مالك دي څوك داحق نلرى چي پرته له اجازې څخه يي كورته يوسي

(فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۱۲۷ احسن الفتاوى ج ۲ ص ۴۴۷).

په تودوخه او اورښت كښي دمسجد بهرنى غولى خالي پاته كيدل

پوښتنه : كه ديوه مسجد بهرنى غولى ډير لوى وي په تودوخه او اورښت كښي هلته دريدل مشكل وي كه دهمديغولى شمال يا جنوب لورى . څه برخه لوړه اوپټه كړي اوخلګ هلته لمونځونه كوي ، نور غولى خالى وي ايا داسي لمونځونه كول جواز لري ؟

ځواب : كه داسى لوړ اوپټ ځاى په مشوره سره جوړيږى څه ستونزه نلرى دمسجد دننه صفونه اودلته صفونه بايدسره متصل وي كه غولى پاته دي باك نلرى كه تودوخه زياته وي اوټول خلګ په همداسى ګوښه كښى دريږى هم څه حرج نشته . (فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۲۳۳).

په مسجد كښي ګرځيدل او وظيفه كول

مسئله : سهار اوماز يګر وظيفه كوونكى په مسجد كښى ګرځى او وظيفه كوى ،ګرځيدل دوظفى جز نه دي . افضل او غوره دادى چي په يوه ګوښه كښى كښيني اووظيفه وكړى كه دجماعت وخت نژدي وو اووربادنى خوب راغى بيا ولاړيدل وګرځيدل باك نلرى خو مستقل ګرځيدل ، كه سهار وي كه ماز يګر يابل وخت دمسجد له مقصد او حال سره خلاف كار دي .

(فتاوى محموديه ج ۱ ص ۴۸۴).

مسئله : تسبیح ویل په ناسته ولاړه هرډول صحیح دي خو بي ضرورته په مسجد کښی گرځیدل نشته .

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۰۷ احکام القران ج ۲ ص ۲۲۳).

مسئله : په بازار او دلغو په نورو ځایونو کښی چي خلگ په خپلو کارونو لگیا وي اوتلاوت نه اوری هلته په لوړ اواز تلاوت کول منع دي ورو ورو پرته له غږ ځخه دي تلاوت اوذکر کوي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۸۲).

په مسجد کښي د باد وتل

مسئله : احتیاط اوادب دادي چي په مسجد کښی په قصدی توگه باد ونه ایستل شی که بیده وي یا غیر ارادي ووزی داخونو عذر دي هغه ځوك چي دخوب بل ځای لری په مسجد کښی ورته بیده کیدل مکروه دي دجاهلانو داخبره چي که دچا په مسجد کښی باد ووزی هغه ملایکییی په خوله کښی بهر باسی بالکل غلطه ده له مبارك حدیث ځخه ښکاره ده چی ملایکو ته له بدبوی ځخه زیان او اذیت رسیږي .

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۲۰۷ در مختار ج ۱ ص ۲۸۷ په حواله).

مسئله : دفقهاوو په نظر په مسجد کښی دباد ایستل منع دي که ځوك دناروغی ستونزه لری یا ژر ژر بهر وزی یا همداسی مکروه کار کوي احتیاط ورته دادي چي همداسی شخص په مسجد کښی اعتکاف ونکړی دعا وکړی اوددي هیلی اجر دالله ﷻ ځخه وغواړي .

(فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۴۸۰).

مسئله : درمضان له میاشتی پرته هم په مسجد کښی نفلی اعتکاف کیدلای شي اوهمداسي معتکف په مسجد کښی اوسیدلای شي .

(فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۴۸۲)

دمسجد خوا کښې په سړک موسيقۍ غږول

مسئله : په عام سړک (لاره) تيريدل دهر چا حق دي خوداسي کار کول چې دمحلې ، کلي اومسجد خلګو ته يې ضرر وي يا دلمانځه په وخت کښې اخلال پيښوي منع دي که کوم بانفوذه شخص دموسيقۍ غږول دمسجد په قرب کښې منع کړي . خو غوره خبره ده کنه له فساد څخه ځان ساتل پکار دي (فتاوى محموديه ج۱ص ۴۸۲).

مسئله : که غير مسلم خلګ له داسې کار څخه نه منع کيدل نو مسلمانان دي يوازې په زړه کښې هغه بدوګڼي . له چاسره دي مقابله نه کوي (امدادالاحکام ج۱ص ۴۵۲).

ناولې جامې په مسجد کښې ايښودل

مسئله : ناپاکې جامې دي په مسجد کښې نه ړدي که بهر يې ايښودل مشکل وو يا ورکيدلې نو مجبورا دي داسې ايښودلې کيږي چې ځاى ناولى نه کړي . (فتاوى محموديه ج۲ ص ۶۸ کتاب الفقه۱، ۴۵۷)

دمسجد فرش ته نږدې دجامومينځل

هغه ځاى چې مسجد نه دي يعنى لمونځ ورباندې نه کيږي هلته داسې جامې مينځل چې نورو ته ضرر نه وي يا فرش استعمال نشى بيا صحيح دي په دې کښې امام او نور برابر دي خوڅوك چې په مسجد کښې هستوګنه لري . بل ځاى ته تګ يې مشکل وي ، دهغه لپاره وسعت دې ځکه دهغه په تللو دمسجد په نګرانۍ کښې خلل پيښيږي او دنورو په څير يې بل ځاى پريمنځلاى نشي .

(فتاوى محموديه ج۲ ص ۳۶۸).

مسئله : دمسجد دننه په غولي یا دیوال دجامو وچول ناروا دي مؤذن یا خادم ته که بل ځای دوچولو نه وو له مسجد څخه بهر په متصل ځای کښې یي وچولای شي (احسن الفتاوی ۲، ۴۴۵)

له مسجد څخه بهر پیرل او پلورل کول

مسئله : په مسجد کښې خرید اوفروخت کول دمسجد داحترام خلاف کار دي خو هلته چې هغه ځای دمسجد حکم نلري لکه دبوټ ایستلو ځای . دغسل کولو ځای ، حجره یاداسې بل ځای چې دمسجد دمصلحت لپاره ودان شوي وي هلته په دي شرط روا دي چې نورو خلګو ته زیان نه رسیږي (فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۳۲۱).

په مسجد کښې تجارت کول

مسئله : کوم ځای چې دمسجد لپاره ځانګړی شوي وي هلته هیڅکله تجارت روانه دي کوم ځای چې شرعي مسجد نه دي یا بل دوقف ځای چې دمسجد لپاره وقف شوي وي هلته دوکان ودانول چې دمسجد په احترام یا ځای کښې فرق نه راځي هغه دمسجد دګټې لپاره په کرایه ورکول پروا نلري دمسجد دننه برخه یا بهرني غولي ټول یو حکم لري هلته تجارت کول یا په کرایه ورکول شرعا ښه نه دي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۳۰۳).

دغیر مسلم لباس اغوستل اومسجد ته تلل

مسجد دخدای ﷻ دربار دي اولمونځ عبادت دي په دربار کښې دعبادت لپاره داسې لباس اغوستل اوحاضریدل ښه دي چې دالله ﷻ خوښ دي اوهغه مسنون لباس دي درسول الله غوره کړی لباس دي داسي لباس دي

دلمانځه لپاره نه اغوندی چې الله ﷺ ته خوښ نه وي يعنى هغه لباس چى رسول الله ﷺ منع کړى دي اوهغه دکفارو اوفساقو لباس دي .

(فتاوى محموديه ج ٦ص ١٧٢).

په مسجد کښې ونې ايښودل

مسئله : په مسجد کښى دونى ايښودل که لمونځ کوونکو ته ګټور وو صحيح دي اوکه له کفارو سره شباهت وو يا ضرر وو ايښودل يې صحيح نه دي (فتاوى محموديه ج١ص ۴٧٠ ردالمحتار ١،٦١۵).

مسئله : که ميوه لرونکى ونه په مسجد کښى دلمونځ کوونکو دراحت لپاره ايښودله شوي وي ميوه دي بهر نه وړله کيږى هلته دي مصرف کيږي . (فتاوى محموديه ج ١۵ص ٢٠۴).

مسئله : که په مسجد کښى ګوښه ځاى وي هلته ميوه لرونکى ونه ايښودل يا دښه بوى لپاره ګلان کرل صحيح دي خو کوم ځاى چى دلمانځه لپاره ځانګړى شوي وي هغه ځاى دي په ونو نه نيسي .

(فتاوى محموديه ج١ص ۴٩٠).

دمسجد دضرورت دپوره کولو لپاره دهغه دغولي ونې وهل

مسئله : دمسجد غولى دلمونځ کولو لپاره دي هلته دي ونى ايښودل ښه نه دي خو که دمسجد په ګټه وي ، هغه بله خبره ده ، لکه داچې که په مسجد کښى لمروالى وو اوهغه ونو وچولاى شواى که دمسجد په ګټه داوو چى انګړى له ونو خلاص شى ، شرعا اجازه ده ، څوك دي ورسره مخالفت نه کوي .

(فتاوى محموديه ج ١٨ص ١٩٢ رحيميه ۴، ٧٢).

مسئله : دمسجد دونو بیع په مسجد کښې جائزه نه ده ځکه مسجد دلمانځه اوجماعت لپاره ځانګړی دي نو هلته خرید اوفروخت صحیح نه دي بهر دي کوی که څه هم هغه دمسجد ونې وي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۹۵).

دمسجد ښکلی کول

پوښتنه : دبرات یاقدر په شپه مسجد په ګروپونو یا ګلانو ښکلی کول څرنګه دي که یې نیت هم بدعت نه بلکه دهغې شپې داحترام اوخوشحالی په خاطر وي ؟

ځواب : دقدر اوبرآت په شپه په شریعت کښې دعبادت ، نفلونو ، تلاوت ، ذکر ، تسبیح دعا اواستغفار ترغیب ورکړل شوي دي ، په ګلانو یا نور څه زینت ورکولو ترغیب ورکړل شوي نه دي په تیره له داسې مراسمو ځان ساتل ضروري دي چې دغیر مسلمو له رواجونو سره ورته وي ځکه رسول الله ﷺ فرمایي « من تشبه بقوم فهو منهم » «ابوداؤد » . خو دمسجد دخوشبویه کولو ترغیب ورکړل شوي دي . چې لمونځ کوونکو ته اذیت نه وي . په همداسې ځانګړو اومتبرکه شپو کښې په مسجد کښې راټولیدل مکروه اومنع دي

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۴۱۳).

دمحرم دمیاشتې په لسمه نیته په مسجد کښې شریني ویشل

مسئله : دا سوم شرعی اصل نلری نه په قرآن اوحدیث کښې ثابت دي هغه شرعی بلل غلط دي خو له ځینو روایتونو څخه داسې ښکاري چې دمحرم په لسمه نیته روژه نیول خورا ثواب لری اوپه هغه ورځ په خوړو کښې زیاتوالی کول دبرکت سبب دي .



(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۴۱۳).

پوښتنه : درجب په میاشت کښې چې ځینې خلګ په کومو لوښو کښې شیریني یا شیدي ویشي هغه متبرك بولې په کورونو کښې یي نه استعمالوي بلکې مسجد ته یي ورکوي آیا هغه څوك خرڅولاي اوبیه یي په مصرف لګولای شی ؟

ځواب :ددي لوښو خو په شریعت کښې کوم اصل نشته که یي دثواب په نیت ورکړی نو دورکوونکی په نیت یي په مسجد کښې استعمال صحیح دي .

(فتاوی محمودیه ج۱۰ص ۱۵۸).

دنژدي مسجدونو داذان حکم

مسئله : که دوه مسجدونه سره نژدي وي په دواړو کښې بیل بیل اذان مسنون دي په یوه باندي اکتفا کول دسنت خلاف عمل دي که څوك داسې کوی هغوی دسنتو تارکین دي .

(فتاوی محمودیه ج۲ ص۲۱او ج۱۵ ص ۱۹۵).

مسئله : که په ډیرو مسجدونو کښې اذان کیده دلومړی اذان ځواب ورکول ضروري دي دنورو ځواب ورکول غوره دي که دځپلی کلی وي اوکه دبل کلي .

(فتاوی رحیمیه ج۴ ص ۲۸۹ دمراقی الفلاح ۱۱۷ص په حواله).

تراذان وروسته له مسجدڅخه وتل

پوښتنه : تراذان وروسته پرته له ضرورته بل مسجد ته تلل اوهلته لمونځ کول جائز دي ؟

ځواب :که دي شخص ته په بل مسجد کښې دجماعت معطلی وي که دي ورنشی هغه جماعت نه کوی نوبیا یي تلل اوهلته لمونځ کول مکروه

نه دي لاړ دي شي هلته دي لمونځ وکړي که ورته معطله نه وي نو پرته له ضرورته په داسې حال کښې تلل مکروه دي .

(فتاوى محموديه ج ۲ ص ۱۲۸ احسن الفتاوی ج ۶ ص ۴۵۰).

دنژدې مسجد حکم

مسئله : که سره نژدې څو مسجدونه وو نو چې کوم نژدې دې تلل ورته افضل دي ضرور دي هلته لمونځ کوي که ټول په يوه محله کښې وو نو کوم چې پخوانی دي هلته تلل غوره دي که په قدامت کښې هم سره برابر وو يا يې وخت معلوم نه وو نو چې ډير نژدې وي هلته تګ بهتر دي .

(امداد الاحکام ج ۱ ص ۴۵۹).

مسئله : اصل دادې چې که په کلي او محله کښې کوم مسجد چاته نژدې وي . دهغه حق زيات دي هغه پريښودل اوبې عذره لرې مسجد ته تلل جائز نه دي

(امداد الاحکام ج ۱ ص ۴۵۳ فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۵۱ درمختار ج ۱ ص ...).

مسئله : پنځه وخته لمونځونه دکلي په مسجد کښې کول افضل دي هغه پريښودل قصدا (جامع) مسجد ته دزيات ثواب په هيله تلل غوره نه دي خو هغه لورته که بل کار ولري دلمانځه وخت ورباندې راشي اوهلته په جامع مسجد کښې لمونځ وکړي ثواب يې ترډي زيات دي دجمعې لمونځ په جامع مسجد کښې افضل دي اوداخترونو لمونځونه په دښته (ځنګل) کښې غوره دي .

(امداد الاحکام ج ۱ ص ۴۴۴).

له شاهي مسجد څخه تفريح ځای جوړول

پوښتنه : شاهي مسجد دتعمير دفن په لحاظ خورا ښه جوړشوي وي هغه دتفريح په ځای بدلول چې مسلم اوغيرمسلم وقت بې وقته هلته ورځي شرعا جائز دي ؟

ځواب: داسې کار دمسجد داحترام خورا خلاف کار دي
(فتاوی محمودیه ج ۱۰ص ۱۹۲ دمشکوة ۱،۲۸ په حواله)

مسئله: له مسجد څخه دتفریح ځای یا دسیر او سیاحت موضوع جوړول جائز نه دي اوپه مسجد کښې عکس اخستل ترډي هم ناوړه کار دي دادحرامو کارونو ټولګه ده دمسجد داداب خلاف کار دي په مسئولینو لازم دي ترځو يې مخنیوی وکړی.
(آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۴۷).

مسئله: په مسجد کښې عکسونه ځوړند کول، اخبارونه لوستل، ټیلیوژیونونو لپاره فلمونه جوړول ناري وهل ټول حرام دي.
(آپ کی مسائل ج ۳ ص ۱۵۸).

مسئله: مسجد ته دهندو عیسایي او نورو غیر مسلمانانو خلګو ننوتل منع دي. (کفایت المفتی ۳،۱۳۲).

تبلیغي جماعت اودمسجد لوازم

مسئله: داخلګ ددیني امورو لپاره وتلی وي، په مسجد کښې هستوګنه کوي، دهغوی دکار ډیره ګټه رسیږي اوله دي څخه څوك انکار کولای نشي هغوی ته په مسجد کښې دهستوګنې ناستی ولاړی اجازه ورکوی ورسره مرسته کوی دهغوی هدف لمونځ دي بل مقصد نلری له همدی امله که دمسجد لوازم بوکه، پري، نل، بدنی هرڅه استعمالوی ممانعت يي مه کوی. (فتاوی محمودیه ج ۱۲ص ۲۲۸).

په مسجد کښې دي تبلیغي زده کړه چیري کیږي ؟

مسئله: که په لمانځه اووظیفه کښې خلل پیدا کیده داسې تبلیغ او زده کړه منع دي خودتعلیم سلسله هم خورا مهمه ده نو ددواړو جاری ساتل په کار دي که مسجد لوی وو یوی ګوښی ته یاپه برنده یا بهرنی غولی

کنبی دي تبلیغی زده کړه کیږي یعنی داسي ځای چي دلمونځ کوونکو لپاره مزاحمت نه وي

په تعلیم کنبی دي دفضایلو ترځنگ داودس ، لمونځ ، روژی او نورو احکام هم بیانیږي یوازي په فضایلو دي اکتفا نه کیږي .

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۰۱ کفایت المفتی ۳.۱۳۷).

دمسجد دحوض اندازه

پوښتنه : کوم حوضونه چي دمسجدونو لپاره جوړیږي دهغه اوږدوالی، سورا اوگډوالی به دمروجه متر په حساب څومره ، څومره وي ؟

ځواب :لس گزه اوږد اولس گزه یي سور کافی دي دلته مقصد شرعی گز دي چي په عربی کنبی ورته ذراع وایي ، رسمی گز دوه ذراع کیږي یعنی په رسمی گز اوږدوالی او سور پنځه ، پنځه گزه .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۹۲).

دزاړه مسجد په ځای دحوض جوړول

مسئله : که کوم ځای یوځل مسجد وو بیا دیوه ضرورت په اساس رنگ کړای شو اومسجد توی ودانیده ، کوم ځای چي پخوا مسجد وو ترهغه ځای لاندی ، باندي ، کومه خونه یاحوض جوړول جائز نه دي که مسجد بالکل نوي جوړیده یا کوم ځای له مسجد څخه بهر وو او اوس یي په شرعی مسجد کنبی داخلاوو نودمسجد په گټه پکنبی حوض یا خونه جوړول گنجائش لري .

(فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۲۴۱ ددرمختار ج ۳ ص ۵۱۳ په حواله).

په حوض کښي دڅه شي مینځل

هغه حوض چي لس په لس شرعي کز کښي دي هغه نه ناولي کیږي خو ادب اوسليقه داده چي خپلې پانور شیان دي له حوض څخه بهر په څنډه کښي ومینځل شي مسواك دي هم په حوض کښي نه ډوبوي ، بلکي په لاس دي اوبه ورته رااخلې.

(فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۵۰).

مسئله : دمسجد له نل څخه کلیوال اوبه وړلای شي خو که خراب شي دهغه مرمت دي دوی کوی داسی نه چي اوبه کلیوال وړي اودنل مرمت دمسجد په پیسو کوي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۷۸).

دمسجدپه ځای کي دموټورونوځای ودانول

پوښتنه : که په مسجد کښی حوض وو اوس یوه ټانکی جوړه شي اودحوض په ځمکه یوه خونه جوړه کړي ، هغه په کرایه ورکړي اوپیسی یي په مسجد لګولی آیا متولی داحق لري ؟

ځواب که دلمونځ کوونکو داوداسه ځای نه تنګیږي ، دمسجد دهوا اورڼا مانع نه ګرځي ،بیا دمسجد دګټی په خاطر دپوهو خلګو په مشوره داسی څه کول روا دي.

دجماعت ترځای لاندي دحوض جوړول

پوښتنه : که دنوی مسجد دجوړولو پروګرام اودقانون مطابق دمسجد په ځمکه دموټرونو تم ځاي جوړول لازمی وو اوداځای دمسجد ددیوال په خوا کښی جوړیده که هغه جوړنشی دمسجد دجوړولو اجازه نه ورکوی سوال دلته دي چي کومی پیسی په بانك کښی دمسجد لپاره ایښی دي دهغوئ په سود دموټرونو تم ځاي جوړیدلای شی ؟

خواب :دلته چې دلمونځ کوونکو دموټرانو لپاره ځای پریښودل حتمي دي نو شتمن اشخاص دي داځای په خپل حلال مال ودان کړي

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۲۵).

په مسجد باندي دحکومت قبضه

پوښتنه : ایاحکومت ته داحق شته چې کوم مسجد په زور ونیسي بیا یا نغدی روپي واخلي یا شرائط کښېږدي او دحکومت تسلط ورباندي وي ؟

خواب :مسجد دخدای تعالی کور دي خدای تعالی یې څښتن دي دکوم انسان په ملکیت کښې نه دي الله تعالی فرمایي «وان المساجد لله » (په تحقیق مساجد خدای لره دي ») .

نو چې دخدای تعالی ملکیت دي اودهغه دعبادت لپاره ځانګړی دي نو دحکومت ورباندي دقبضې اوتسلط نشته که په زور ورباندي قبضه کوي شرعا ناروا ده پرېښودل یې لازم دي دپرېښودلو په صورت کښې په بدل کښې پیسې اخستل یا شرائط اېښودل هم دحکومت حق نه دي .

(کفایت المفتی ج ۷ ص ۷۱).

مسجد ورانول او لاره جوړول

پوښتنه : که په کوم ښار کښې حکومت دلاري دجوړولو لپاره کورونه ، دنورو مذهبونو عبادت ځایونه اودمسلمانانو مسجدونه ټول نړوي اوبل ځای ورته ځمکه ورکوي دهغه بدل بل ځای اخستل روا دي ؟

خواب :کوم ځای چې یوځل مسجد شوي وي هغه ترقیامة مسجد دي که هغه ودان شوي وي اوکه نه وي که لمونځ پکښې شوي وي اوکه نه وي حکم ي یو دي هغه ځای پرته له عبادت څخه دبل شی لپاره استعمالیدلاي نشي دهغه ځای دخرڅولو ، کرایه ورکولو ، په ګروي ورکولو یا بیرته دوقف کوونکي ورثې ته ورکول جواز نلري .

په همدي پوښتل شوي صورت کښی دمسجد ځمکه په لاره کښی رانیوله کیدلای نشي

(فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ٩١ ج ٢ ص ١٧٧ بحر الرائق ٢ـ ٧٤).

،، دمسجد دخوندي کولو هڅه دي وشی خو که حکومت داکار کا وو ورسره مقابله دي نه کوي ځکه هغه اسانه نه ده که بل ځای ورته ورکوی تري وادي خلی او کوشش دی وشی دپخوانی مسجد پاته شیان په نوی مسجد کښی استعمال شی ترڅو یي بي عزتي ونشی (والله اعلم)

((محمد رفعت قاسمی)).

لاره په مسجد کښي رانیول

مسئله : که لاره پراخه وي اونه تنګیدله په مشوره سره دي دضرورت په اندازه هغه پکښی ونیوله شی شرعا روا ده دخلګو خوښه به وي اولاره به نه تنګوي. (فتاوی محمودیه ج ١٨ ص ١٢٧).

مسئله : که هغه لاره دچا ملکیت نه وه دعامو خلګو وه مسجد تنګ وو دپراخولو ضرورت وو په پراخولو يي دخلګو لاره نه تنګیدله نه ورته ستونزه پیښیدله نو مسجد دضرورت په اندازه پکښی پراخیدلا شی که هغه دچا مملوك ځمکه وي اوپرته له بیعی يي نه ورکوله په بیه دي واخستله شی اوپه مسجد کښی دي ورګډه شي.

(فتاوی محمودیه ج ١٨ ص ١٧٥).

دلمانځه لپاره مسجد ته دمیرمنو تلل

مسئله : درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښی مسجد ته دمیرمنو دتلو اجازه وه خو ورسره داارشاد هم وو « بیوتهن خیر لهن » یعنی هغوئ ته تر مسجدونو کورونه غوره دي «مشکوة ص ٩٦».

« ام حمید رضی الله عنها یوې صحابی عرض وکړ چي یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په تاپسی لمونځ کولو ته زموږ ډیر شوق دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (ته رښتیا وایي خو تاسو ته ترڅگر دننه لمونځ غوره دي او تر لوړ ځای درته دغولی لمونځ بهتر دي) .

ترهغه وروسته ام حمید رضی الله عنها دننه ځای دلمانځه لپاره ځانگړی کړ او تروفات پوري مسجد ته نه لاړه . «ترغیب ج١ص ١٨٠ ».

دحضرت عمر ﷺ په دوره کښی دمیرمنو په وضع کښی تغیر راغلی وو (لباس یې ښکلی شوي وو خوشبویي یې استعمالوله او ...) عمر رضی الله عنه چي هغه حالت ولید میرمنی یې له مسجد ته تللو څخه منع کړی نور صحابه وو هم داکار خوښ کړ چا مخالفت ونکړ خو ځینو بیبیانو عایشی (رضی الله عنها) ته شکایت وکړ خوهغې هم دعمر ﷺ رایه غوره وبلله اووې ویل « که رسول الله صلی الله علیه هم میرمنی داسی لیدای لکه اوس چي دي نو هغوی به یې له مسجد تللو څخه منع کړی وای »
(صحیح بخاری ج١ص ١٢٠ مسلم ج١ص ١٨٣).

دادهغه وخت خبره ده چي میرمنو تقوی ، شرم اوحیا زیات درلودل اوخلگ هم اکثر نیک وو هغه یوه زرینه دوره وه دنبوی مسجد په فضیلت اودجماعت په لمانځه هم په شریعت کښی خورا زیات تاکید دي بیا هم هغه وخت میرمنی له مسجد تللو څخه منع شوي وي نو اوس به څرنگه حکم وي ؟

په درمختار شامی ج ١ ص ٥٢٩ کښی وایي : دمیرمنو تگ اوپه جماعت کښی شریکیدل که دجمعی اواخترونو لمونځونه وي ، که دوعظ مجلس وي که میرمنی زړی وي که ځوانی ، که شپه وي که ورځ دزمانی داهل دفساد له امله مکروه دي او دااتفاقی فتوی ده .



(فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۲۳۲ عالمګیری ج ۱ ص ۵۲ کفایت المفتی ج ۵ ص ۲۹۲ اواحسن الفتاوی ج ۲ ص ۴۲۵)

په مسجد کښي غږ لرونکي ساعتونه

مسئله : دداسی ساعتونو مقصد خو وخت معلومول وي ، دموسیقی دالاتو او ازونه یي مقصد نه وي ، خو داچی ساز او اواز عام شوي دي په ساعتونو کښی دالحاظ ساتل شوي دي که دموسیقي الاتو غږ پکښی وو بالکل ناروا خونه ده خو ورسره مشابهت دي نو دداسی ساعتونو په ځای که هغه ساعتونه کښیښنودل شی چي اواز نلری غوره دي . (فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۴۹).

مسئله : ځینی ساعتونه په هرو پنځلسو دقیقو کښی دټنګ ټنګ غږ کوی دادهغه چا لپاره سهولت دي چي یا لیري وي یا یي سترګی کمزوري وي په همدي اساس همدا سی ساعتونه ایښودل جائز دي .
(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۳۱ امداد الفتاوی ۷۴۳-۲)

دلمانځه دمهال ویش نقشه بل مسجد ته وړل

مسئله : که اصل مالك دادوخت نقشه وقف کړی وه اووقف یي صحیح وو بیا بل مسجد ته دنقشی نقل کول جائز نه دي خو که مسجد ودان نه وي بیا بل مسجد ته دنقشی ورکول صحیح دي که دانقشه وقف نه وه بیاخو یي بل مسجد ته وړل څه مشکل نه دي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۵۹).

دمسجد ځمکه پرته له کرایې چاته ورکول

مسئله : دمسجد لپاره وقف شوي ځمکه دمسجد لپاره ده کومی اداري ته یي پرته له کرایي ورکول جائز نه دي کرایه دي پري واخستل شی اوهغه دي دمسجد په ګټه استعمال شی . (فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۷۲).

دمسجد کومه خونه په کرایه ورکول

مسئله : دمسجدپه احاطه کښې که حجرې وي هغه دمسجد دامام یا نورو خدمت کوونکو لپاره وي همدا کار دي ترې اخستل کیږي اوپه کرایه دي نه ورکوي که زیاتې خوني وي زده کړه دي پکښې وشي که جوړوونکي یاوقف کوونکي هغه دکرایي لپاره جوړې کړې وي ترڅو يي عاید مسجد ته ورکړي په کرایه ورکول کیدلاي شي خوپه دي شرط چې مسجدته زیان نه وي دمسجد بي حرمتی نه وي لمونځ کوونکو ته تشویش نه وي اولاره يي له مسجد څخه بیله وي .

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۹۹).

مسئله : دمسجد دعایداتو دزیاتولو لپاره دمسجد دقبلې لوري دیوال رنګول او دوکانونه جوړول جائز نه دي دمسجد دقبلې لوري دیوال دمسجد حکم لري .

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۷۲ دبحرالرائق ۵-۲۵۱ په حواله).

دمسجد په ځمکه لوبي کول

مسئله : مسجد یاقبرستان ته وقف شوي ځمکه داحترام په لحاظ دمسجد په حیثیت کښې نه ده ترڅو چې قبر شوي نه وي یا مسجد ورباندي ودان شوي نه وي هر روا کار پکښې روا دي اوهرناروا کار پکښې ناروا دي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۰۲).

مسئله : ترمسجد بهر دمسجد ځمکه پرته له کرایي دکوم کار لپاره ورکول جائز نه دي په کرایه دي ورکړل شي خوچې مسجد ورته اړتیا نه وي اودمسجد بي حرمتی پکښې ونشی کنه په کرایه ورکول یي هم جائز نه دي .

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۹۸).

دمسجد زینی یا نور څه استعمالول

پوښتنه : دمسجد دمتولی په اجازه دمسجد زینی یا بل شی کورته وړل کیدلای او هلته استعمالیدلای شی ؟

ځواب :کوم شی چی دمسجد په پیسو اخستل شوی وي اونور خلګ بي دضرورت لپاره له مسجد څخه غواړی ، هغه دي نه ورکول کیږی ، هرکه دمسجد دښیګڼی تقاضا وه ورکول کیږي دي

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۰۷).

دمسجد لوازم غوښتل

پوښتنه : دمسجد اړوند توکې لکه سمڅ ، تیل یانور کمه اندازه غوښتل جائز دي ؟

ځواب :دمسجد اړوندتوکی بي اجوری اوبي بیعی وړل دهیچا حق نه دي نه په اجازه سره اونه پرته له اجازی کوم شی چي په اجوره ورکول کیږی هغه دي په اجوره وړل کیږی اوکوم شی چي په بیه ورکول کیږی هغه دي په بیه وړل کیږي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۳۲).

دمسجد سامان په کرایه ورکول

پوښتنه : که دمسجد دخادمانو دمصارفو دپوره کولو یا نورو احتیاجاتو لپاره دمسجد په پیسو څه لوښی یا بل څه واخستل شی هغه په کرایه ورکوي اوپیسی یي په همدي اړتیا وو کښی لګوي شرعی جواز لري ؟

ځواب :په شرعی لحاظ په دي کار کښی کومه بدي نشته اوکرایه اخستل یي په ضروریاتو کښی لګول صحیح دي .

ن ۱۳ ص ۲۲۸

په مسجد کښي بیده کیدل

مسئله : که امام وي یا بل څوک چي دخوب دپاره بل ځای ولري په مسجد کښی هره ورځ بیده کیدل ورته مکروه دي.

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۵۲ ، عالمگیری ج ۵ ص ۳۲۰ . فیض الباری ج ۲ ص ۴۹).

مسئله : په مسجد کښی بیده کیدل مکروه دي چاته دمتولی له لوري دبیده کیدلو داجازی حق هم نشته یوازی دمعتکف اومسافر لپاره گنجائش اوجواز شته

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۲۴ ، کفایت المفتی ۱۱۳-۳).

مسئله : مسجد دلمانځه ځای دي دخوب او ارام ځای نه دي مسافر یامعتکف پکښی بیده کیدلاي شی تبلیغی گروپونه عموما مسافر وي یا شپه په تسبیح او نفلونو تیروي اوضمنا پکښی بیده کیږی نوځه مشکل نلري که کوم کلیوال ورسره په مسجدکښی شپه تیروي داعتکاف نیت دي کوي.

(فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۲۲ درمختار مع شامی ج ۱ ص ۴۱۹).

مسئله : لمونځ کوونکي که دلمانځه له وخت څخه پرته کله ناکله په مسجد کښی پریوزي یا بیده کیږي . باك نه لري خو له مسجد څخه خوب ځای جوړول صحیح نه دي.

(کفایت المفتی ج ۳ ص ۱۱۴ امداد الاحکام ج ۱ ص ۴۳۲).

مسئله : دتبلیغی جماعت کسان که مسافر وو اودمسجد دپاکوالی اواحترام خیال یي ساتلای شوای نو په مسجد کښی ورته خوب کول صحیح دي که له مسجد څخه بهر ځای وو هلته یي بیده کیدل ، خوړل څښل غوره دي

(فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۲۱ عالمگیری ۱۲۵-۲).

مسئله : له مسجد څخه کور جوړول . هلته هستوګنه کول بنه نه دي مکروه دي اودمسجد دادب خلاف کار دي خوکه په چا خوب غلبه وکړه جماعت تیریده یا لمونځ قضا کیده یا په مسجدکښې بیده کیدل ورته په جماعت پابندي وه یا تهجد ته دبیداری په نیت وو یا دمسجد ساتل يي په غاړه وو یابل داسی دیني ضرورت وو چي پرته له مسجدڅخه نه پوره کیده بیا پکښې بیده کیدل اجازه ده ځینی صحابه کرام هم ددینی ضرورتونو په خاطر په مسجد کښې بیده کیدل

(فتاوی محمودیه ج۱ص۴۸۰ دشامي ج۱ص ۴۴۴ په حواله)

مسئله : په مسجد کښې بیده کیدل دمعتکف اومسافر لپاره روا دي نورو ته مکروه خوکه څوك په مسجد کښې بیده کیدل ترڅان لاندي دي کومه جامه غوړوي ترڅو یي خوله فرش خراب نکړی یا په خوب کښې دفرش دناولتیا ویره نه وي (آپ کی مسائل ج ۳ ص۱۴۱).

مسئله : په مسجد کښې خوب کول روا دي خو دفضیلت خلاف دي که څوك بیده شی دخوب حالت کښې که بادتری ووزی ګناه نه ده .

(امداد الاحکام ج۱ص ۴۲۳ احسن الفتاوی ۴۴۷-۲).

په مسجد کښي ناولې خوله

له بدن اوجامو سره خوله هم بایدپاکه وي داسی نه وي چي دغړیدلو په وخت کښې یي له خولی څخه بوی ولاړیږی اولمونځ کوونکو ته زیان رسیږی مسجدته ترتللو وړاندي خوله ومینځل شی داسی څه دي نه خوری چی بدبوی ولري .

په حدیث شریف کښې په مسواك تاکید اودهغه دفضیلت دبیان لویه وجه داده چي دالله ﷻ په دربار کښې حاضری له پاکی سره وي ترڅو ددعا اوزاریو ادب بشپړوساتل شی رسول الله ﷺ دخولی دپاك ساتلو

خورا اهتمام کاوو رسول الله ﷺ کوم اودس له مسواك څخه پرته نه کاوو اوامت ته يي هم دمسواك وهلو ډيرترغيب کړی دي يوځل يي وفرمايل « که زما په امت شاق نه وای له هرلمانځه سره به مي دمسواك امر کړی وو » په يوه بل حديث کښی راځی « مسواك دخولی پاکوالی اودالله ﷻ دخوشحالی سبب دي » رسول الله ﷺ به داسی څه خوړل چی بوی يي ژرنه ختميږی دمسجد تللو په وخت کښی منع کول لکه پياز ، ملی ، اوږه اوداسی نور

(په اسلام کښی دمسجدونو نظام ۲۱۹).

مسجد ته دهغه چاتلل چی زخم يي بوی کوي

مسئله : هغه څوك چی زخم يي بوی درلود اوخلگو ته تری ضرر رسيده مسجد ته يي تلل منع دي .

(فتاوی محموديه ج۶ ص ۱۷۳ دشامي ج۱ ص۲۹۱).

« اصل خبره داده چی مسجد ته دي سړی په داسی حال کښی نه ځی چی خوله يا دبدن بل ځای يي بوی کوی ، که هغه دخوراك څښناك وي اوکه دبدن يا جامو دناولتيا

« رفعت » .

که دچا پوزه بدبويه وه

پوښتنه : که دچا مور زاده په پوزه کښی ناروغی وه علاج اودرملنی گټه نه رسوله اوبدبوی تري ولاړيده داسی څوك مسجد ته تللای شی ؟

ځواب :په حديث شريف کښی دي « څوك که له بدبويه ونی (ميوی) څخه خوړل وکړی زموږ مسجد ته دي نه راځی له هغو څخه ملايکو ته داسی ضرر رسيږی لکه انسانانو ته چی رسيږی «بخاری شريف اونور» .

په حدیث کښې دملایکې اوانسان دضرر خبره ده نوکه دجسم دکومې برخې له بوی څخه خلګ ناخوښه او ورته ضرر رسیده هغه دي مسجدته نه ځي په اعتکاف کښې دي نه کښینې فقها وایي هغه شخص چې له بدن څخه يي مضر بوی راځي هغه دي له مسجد څخه وایستل شي

((داسلام دمسجدونو نظام ۲۹)).

مسجد دملایکو ځای دي ، ددي لپاره چې ضرر نه رسوي له بوی سره دي مسجد ته نه ځي خو که بوی کم وي دخوشبوی اوعطرو په واسطه دي دفع اوچاره کوي .

(فتاوی رحیمیه ج۱۰ ص۴۴۵).

مسئله : ده هوږی (سر) اوپیاز په هکله رسول الله ﷺ فرمايي « که يي خوري نو هغوی پاخه کړی ترڅو يي بوی مړ شي .

((ابوداؤد ج۲ ص۱۸۰)).

« دپیاز اوسر په څیر چلم ، سګرت ، نسوار ، دخاورو تیل اوهربدبوی لرونکې شی همداسې حکم لري دچلم ، سګرت اونسوار استعمالوونکې دي ترمسجد ته تللو وړاندې خوله سمه مينځي ، مسواك دي وهي ترڅو يي په حدیث شریف عمل کړی وي

((رفعت قاسمی)).

مسئله : مسجد په داسې رنګ ، رنګول چې بوی ولري مکروه دي مسجد دي له هربدبوی څخه وساتل شي و داچې رسول الله ﷺ منع کړی ده چې دپیاز یا هوږی ترخوړولو که خوله نه وی مینځل شوی مسجد ته دي نه ځي فقهاوو هم مکروه بللی دي .

(فتاوی محمودیه ۱۵-۲۰۲).

« داچې له بدبوی سره مسجد ته ننوتل منع دي نوهلته سګرت ، چلم څکول ، به څومره ګناه وي .

((رفعت)).

دمنفور ناروغ مسجد ته تلل

مسئله : کوم مرض متعدی گڼل شوی نه دي . رسول الله ﷺ ورڅخه منع کړی ده خوکه څوك په داسي ناروغی اخته وي . چی خلگ ورڅخه کرکه کوي یا یي عقیده بدلیږی یا یي غلطه عقیده ټینگیږي هغسي شخص دي کور اودس کوي . که یي مسجد ته تللو هم نفرت پیدا کاوو لمونځ دي کور کوي جماعت ورڅخه ساقط دي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۲۸).

مسئله : که په زخم کښی وینه نه وي اوبه نه وي ، بدبوی نه وي ، خوبیا هم خلگ ورڅخه کرکه کوی اودي پوهیږی چي خلگ له مسجد څخه منع کیږی . همدا بیمار دي مسجد ته نه ځي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۳۱۴).

مسجد ته دغیرمسلم ننوتل

مسئله : که دهغه دناولتیا علم دچا نه وو بل کوم ضرر یي نه وو کوم فساد پکښی نه وو نو مسجد ته دغیر مسلم دننوتلو اجازه شته دمسجد په اهل باندي گناه نشته .

((فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۵۱ ، بحرالرایق ج ۵ ص ۲۵۱).

مسجد ته دماشومانو راوړل

مسئله : مسجد ته دوړو ماشومانو وړل اجازه نشته ، په هغه صورت کښی دمسجد ادب اواحترام خوندي نه پاته کیږی راوړونکی ته هم دزړه داډ نه پاته کیږی په لمانځه بهٔ ولاړ وي خو خضوع اوخشوع به یي نه وي زړه به یي دماشومانو لورته ختلی وي درسول الله ﷺ ارشاد دي چی ((خپل مسجدونه له ماشومانو اولیونیانو وساتی))

مسئله : که داویره وه چې ماشوم به مسجد ناولې کړې نو وروړل یې حرام او کنده نو مکروه دي «الاشباه ۵۵۷».

مسئله : که ماشوم پوهیده ، لمونځ یې کولای شوای دمسجد ادب او احترام یې ساتلای شوای بیا څه حرج نشته . غالبا په حدیث شریف کښې اوه کاله قید شته نابالغ هلك له لویانو سره په صف کښې دریدلای شی که یو وو مکروه هم نه دي
((فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۱۹ آپ کی مسائل ۱۴۳-۳)).

مسئله : کله چې ماشوم دڅلویښتو ورځو شی ځینې خلګ یې مسجد ته راوړی اوبیا شیرینی یانور څه ویشی دارسم دي بې اصله ، لغو او دپریښودلو وړ دي .
(فتاوی محمودیه ج۱ص۲۰۸)).

دمسجد دروازه بندول

پوښتنه : که دیوه مسجد دروازه دماخستن ترلمانځه وروسته بندیږي او که کوم لمونځ کوونکی راشی مؤذن یا خادم یې نه ورته خلاصوی ، داکار شرعا څرنګه دي ؟

ځواب :په درمختار کښې دي چې دمسجد دروازه بندول مکروه دي خوکه دمسجد دسامان دورکیدلو اندیښنه وه نودلمانځه له وخت څخه پرته یې بندول باك نلری په شامی کښې وایي « داخبره تر کلیوالو پوری اړه لرې چې دلمانځه له وخت څخه پرته یې څه وخت بنده ساتی خو په دي مورد کښې چې پوښتنه شوی ده دلمانځه لپاره دروازه نه خلاصول دشریعت خلاف خبره ده داچې دروازه وتړله شی بیا لمونځ کوونکی ته نه خلاصیږی ثابت نه ده .
((فتاوای دارالعلوم ج ۴ ص ۱۴۹ دد، مختار ج۱ ص ۶۱۴ به حواله)

مسئله : که دلمانځه په وخت کښې داويره وه چې ځاروي مسجد ته راځي : مسجد دروازه دي داسې تړله کیږي چې لمونځ کوونکي يې په خپله خلاصولای شي اوشکايت يې راجګ نه شي .

((فتاوی رحيميه ج ٦ ص ١٠٤))

((نني حالات خراب دي غلا ، قتل اوغارت ډير دي که چيرې همداسې وي نو ترجماعت وروسته دي دروازه بنديږي لمونځ کوونکي دي هم وپوهول شي چې دجماعت دوخت خيال وساتي ترڅو هم لمونځ په جماعت وشي اوهم سر اومال خوندي وي. ((محمد رفعت قاسمی))

مسئله : که دکوم مسجد سامان خوندی نه وو دهغه دروازه بندول شرعاجائز دي خو دلمانځه په وخت کښې به دهر چا تګ راتګ ته اجازه وي

((فتاوی محموديه ج ١٥ ص ١٩٥ آپ کی مسائل ٣-١٤٠)).

مسئله : که کوم کلي په اوبو کښې ډوب شو اودبيا ډوبيدلو له ويرې ورته حکومت بل ځاى ورکړ دهغه زاړه کلي مسجد چې وران شوى وي سامان به بل مسجد ته ورکوي خو په دي شرط چې دلته يې دبيا ودانولو هيله نه وي که نژدې مسجدونه دوه درې وو په مشوره دي يوه مسجد ته ورکړي اوکه مشوره نه راتله بيا دي سره وويشي البته که لوازم وي اوکه يې بيه

(فتاوی محموديه ج ١٨ ص ٢٤٤).

مسئله : که کوم دمسجد اودبو دراتلو له امله دورانيدلو په حال کښې وو اوبيا: خوندي توب احتمال يي هم نه کيده دهغه لرګي (ګاډر) دي وکاږي بل ځاى : دمسجد جوړولو جواز شته

(فتاوی محموديه ج ١٥ ص ٢٢٨).

دمسجد په پیسو بدنی اخستل

مسئله : کوم شی چی دمسجد لپاره وقف شوی وي په هغوی باندی دمسجد داړوند غسل ځای لپاره بدنی یا بل لوښی اخستلای شی همداسی که څوك بدنی واخلی اودمسجد دغسل په ځای کښی یي داستعمال لپاره کښیږدی صحیح دي.

(فتاوی محمودیه ۲۲۷-۱۵).

دمسجد په عوایدو دجنازی کټ اخستل

پوښتنه : دمسجد په عوایدو دجنازی لپاره کټ اخستل کیدلای یا جوړیدلای شی ؟دمسجد لپاره وقف خو دمسجد دمصلحت لپاره دي اوکټ دعامو مسلمانانو لپاره.

ځواب :جواز نلري.

(فتاوی محمودیه ج۱۵ ص۲۳۱ دعالمگیری ج۲ ص۴۶۲ په حواله).

دمسجد په غسل ځای اولاره کښي دوکان جوړول

مسئله : دځمکی هغه ټوټه چی یوځل مسجد شوه ، هغه تل مسجد ده هغه له مسجد څخه ایستل ورباندی دوکان جوړول جواز نلری.

دبوټونو دایستلو برخه چی دمسجد ځمکه نه وي دمسجد په پاخه غولی کښی داخلول که دوقف کوونکی یا دهغه دنماینده په اجازه نه وي شرعی مسجد نه دي.

دبوټونو دایستلو په ځای که مشوره راغله دمسجد دګټی لپاره دوکان نه بیلول چی دمسجد عایدو وربانديډیر شی صحیح دي.

(فتاوی محمودیه ج۱۸ ص ۱۸۹).

دغسل او اوداسه دځای دبام حکم

مسئله : دمسجد هغه غولی چی دلمانځه لپاره ځانګړی شوی دي پاس بام يي مسجد دي خو داوداسه دځای بام مسجد نه دي په هغه دمسجد حکم نه جاری کیږی ، که څوك له سفر څخه راشی اوجماعت شوی وي په غه ځای جماعت کولای شی خوداسی عادت دي نه جوړوي .

کله چی مسجد بشپړ ودان شو بيا دلاندی زيرخانه يا داودس ځای يا خونه جوړول جواز نلري .

((فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۳۴۵)

دمسجد دبهرنی غولي (انګړ) احترام

پوښتنه : دمسجد دانګړ چی کوم ځای ترميم اوهموار شوی نه وي ، په منظمه توګه پکښی لمونځ نه کیږی آیا دهغه ځای احترام ضروری دي ؟

ځواب :کوم ځای چی مسجد بلل شوی وي ، که هغه هموار شوی اوجوړشوی نه وي هم دمسجد حکم لری ، هلته دي داسی کارنه کیږی چی دمسجد دادب اواحترام خلاف دي .

((فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۲۰۴).

دمسجد لړوند بيت الخلاء جوړول

مسئله : درسول الله ﷺ په وخت کښی په مسجد کښی وياله ، بدنی ، حوض ، څاه ، دنل اوبه ، دغسل ځای ، کړکی ، پکه ، برق او نورهيڅ نه وو دمسجد بام به هم داسی وو چی تودوخه اوباران به تر تيريدل ، دير ساده جوړښت وو هلته پزی اودری هم نه وي داتول شیان ورو وروله مسجد سره یوځای شول ، آن نن لا په ځینو سیمو کښی میلمستون هم له مسجد سره تړاو لری هلته بستری او نور لوازم ږدي دمسجد دامام او مؤذن لپاره خونی وي . دماشومانو درس ځایونه وي ځینی ځایونه دبرلو ... بيت الخلا دسهولت لپاره جوړ وي په تيره په سترو ښارو ...

کښې چې خلګ ورته ډېر راځي که دضرورت درفع ځای نه وي نو خورا ستونزې وي که کوم مسجدونه يوازې دمحلي دخلګو لپاره وي هغوی کورونه لري نو يوازې دبنودنې لپاره دي نه جوړ وي که بيت الخلاء جوړېږي داسې ځای دی نه جوړېږي چې بدبوی يي مسجد ته راشي لمونځ کوونکو ته اذيت ورسوي.

((فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۱۹۷ احسن الفتاوی ۴۷۴ ۲)

که دغسل ځای لاره په مسجد کښې وي

مسئله : که دغسل لاره په مسجد کښې وه او دتيريدلو بله چاره نه و ناولي سړی دي تيمم کوی بيا دي تيرېږي خو کوشش دي وشی چې دغسل دځای لاره دي په مسجد کښې نه جوړوي.

(فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۱۹۸)

دمسجد په پيسو بيت الخلاء جوړول

مسئله : لکه دغسل او اودس ځايونه چې دمسجد په پيسو جوړيدلای شي همداسې دامام اومؤذن لپاره بيت الخلاء هم دمسجد په پيسو جوړيدلای شي داودس اوغسل لپاره داوبو انتظام هم دمسجد په اوبو کيدلای شي. ((فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۲۴۷).

دمسجد څنګ ته بيت الخلاء

مسئله : ترمسجدبهر بيت الخلاء جوړول روا ده چې ديوال ترمنځ وي لمونځ نه زيانمن کيږي خوداسې ځای چې بدبوی يي مسجد ته ځي يا لمونځ کوونکي ورڅخه په تکليف کيږي يا يي دريڅه دمسجد لورته خلاصول دمسجد دادب اواحترام خلاف ده غوره داده چې بيت الخلاء بيله جوړه شي او دريڅه هم دمسجد لور ته خلاصه نشي

((فتاوی محمود[illegible] ۲ ۳

مسئله : داسی ځای بیت الخلآء جوړول شرعا جواز لري چې دمسجد بي احترامي ونشي اوبوی یي مسجد ته ونه رسیږي .

((فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۹۲)).

مسئله : که دمسجد دپاکوالی لپاره دغسل ځایونه له مسجد څخه بهر نقل کیږي جائز دي او دمسجد پیسی ورباندي لګول جواز لري .

((فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۹۲)).

مسئله : دغسل په ځای کښی ضرورت رفع کول ناروا دي .

((فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۱۲۵)).

داودس دځای دپاسه دبولو ځای جوړول

مسئله : دادلمونځ کوونکو اړتیا ده که څه لري وي صحیح دي خو یي بولې مسجد ته نه ورسیږي او اودس کوونکی ونه کړیږي اواړتیا هم پوره شي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۴۵).

مسئله : دغسل دځای اوبه دي داسی ځای نه وزی چې لاره چکړي کوي اوخلګو ته ضرر رسوی ، دلاری خونی دی کول ضرور دي .

((فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۲۱۵)).

که مسجد ته څه شی ورکړل شي هغه دچا حق دي

مسئله : که مسجد ته دخوړلو څښلو څه شی ورکړل شی هغه دامام اومؤذن حق دي او که نور شیان لکه بدنۍ ، دری ، جای نماز اویا بل ورکړی شی هغه دمسجد حق دي .

((فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۷۷)).

مسئله : که دماشوم دسنت کولو یا په بل مورد کښی درواج په توګه مسجد ته څه شی ورکول هغه دي نه اخلی اوکه دخوشحالی په خاطر امام یا مؤذن ته څه ورکول کیږی اخستل یي حرج نه دي هغه چې دوی ته

دمسجد حق دي

((فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۴۰۱)

دمسجد پکه دامام په خونه کښي

پوښتنه : که چا مسجد ته یوه پکه ورکړه دامام دهستوګنی په ځای کښي بي لګول څرنګه دي ؟

ځواب :که يي په مسجد کښي دننه دلګولو په نوم ورکړی وه بهر ورل یي جواز نلری او که يي مطلق دمسجد په نوم ورکړی وه بیا روا ده

((احسن الفتاوی ۴۲۳. ۲).

دیوه مسجد لوازم بل مسجد ته ورکول

مسئله : که په یوه مسجد کښی لوازم لکه داوبو منګی زیات وو . دساتلو ځای يي نه وو ضایع کیدل ، داسی مسجد ته يي ورکول ضرور دي چی ورته اړتیا وي خو په مشوره دي ورکړي چی فتنه را ولاړه نشي .

((فتاوی محمودیه ۱۸۲-۱۵ فتاوی رحیمیه ۱۲۳-۳).

دمسجد کوم شی په عاریت ورکول

مسئله : دمسجد سامان لکه بدنی ، ګیلاس ، پکی ، چترۍ ، یا نور څه دغم اوبنیادي مراسمو لپاره امانت ورکول ناجائز دي .

(فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۰۴ احسن الفتاوی ۴۵۰. ۲).

مسئله : که يي دمسجد چتری دساز او اواز مجلس ته امانت ورکړی وو ترهغه لاندی لمونځ کول روا دي ، په ګرمی کښی يي په مسجد کښی لګولای شوای خو بیا دي دساز اورقص مجلس ته نه ورکوي .

((فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۱۱۵)).

مسئله : ناروا عوايد ، چي په كرايه كښې راځي هغه دي په مسجد كښې نه مصرفيږي دمسجد سامان لكه ديگ يابل څه دي ناروا مراسمو ته په كرايه نه وركول كيږي

((فتاوى محموديه ج ٨ ص ١٧٥).

مسئله : دمسجد ملكيت دي داسې چاته په كرايه نه وركول كيږي چې هغه ورته زيان رسوى لكه زرنده گرى يا پښ چې ماشين پكښې اينبودل يابتې پكښې زيان رسوى چت او ديوال يي ورانوي .

((فتاوى محموديه ج ٧ ص ١٩٩ دعالمگيرى ج ۴ ص ۴٣۵ په حواله).

مسئله : داجائز نه دي چې دمسجد دوكان څوك قبضه كړي اوكرايه مسجد ته وركوى بلكې دمتولي په خوښه به يي خالي كوى او كرايه به هم مناسب وربانډى وركوله كيږي

((فتاوى محموديه ۱۵۴-۱۵).

مسئله : دمسجد ملكيت څمكه سينما ته په كرايه وركول ناروا ده .

(فتاوى محموديه ج ١۵ ص ٣١٨).

دمسجد دوكان سود خور ته په كرايه وركول

مسئله : كه څوك دمسجد دوكان دسود دكاروبار له پاره په كرايه غواړي وركول يي جواز نلري .

(فتاوى محموديه ج ١۵ ص ٢٢٦).

له ويرې كوم مسجد پرېښودل

مسئله : كه چاته په يوه مسجد كښې دځان ياعزت ويره وه ، نورو مسجدونو ته تلاى اولمونځ كولاى شي دجمعې دلمانځه لپاره هم بل مسجد ته تلاى شي .

((فتاوى محموديه ج ١٨ ص ٢٣٨).

مسئله : كه دځپلې محلې امام صحيح العقيده شخص وو بل شرعي مانع هم نه وو نو ځپل مسجد پريښودل بل ته تلل ناجائز دي .

((احسن الفتاوى ج ٦ ص ۴۴٩).

دمسجد پنجره

مسئله : که دپنجري او سپنی دمسجد له ځمکې څخه یولاس « نیم گز » لوړی وي او پنډوالی یي یوه گوته وي .که هلته څوك په لمانځه هم ولاړ وي سړی او میرمنی که تیریږی جواز لری خوکه پنجري یولاس لوړی نه وي بیا نژدي تیریدل گناه ده .
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۲۱۳ دبحرالرائق ۱۵-۱ په حواله).

مسئله : په صحراء یا لوی مسجد کښی ، له لمونځ کوونکی څخه په دومره واټن تیریدل جائز دي چی که لمونځ کوونکی دسجدی ځای ته گوری مانع نشی ستر مسجد هغه دي چي لږ ترلږ څلویښت لاسه « شل گزه » وي .
(امدادالاحکام ج ۱ ص ۴۵۲).

په مسجد کښي برقي پکه لگول

مسئله : په مسجد کښی دتودوخی په وخت کښی ، دلمونځ کوونکو دراحت لپاره برقی پکه لگول شرعاممنوع نه ده ځکه لمانځه ته خلل وربانډی نه راځی اودبرق په روښانتیا هم لمونځ نه خرابیږی .

مسئله : که څوك پکه وقف کړی ، په مسجد کښی دي ولگوی اوبل مسجد ته یي وړل جواز نلري .
(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۹۷ فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۱۲).

دمسجد په رڼا کښي خپله وظیفه کول

مسئله : دلمانځه لپاره چی څومره وخت په مسجد کښی رڼاوی ، هغه مهال دقران کریم تلاوت اووظیفه کول روا دي ، خو ترهغه وخت وروسته که تیل ورکوونکی اجازه وکړی روا اوکنه بیا جواز نلری ،که تیل دوقف په پیسو وو که وقف کوونکی دااجازه ورکړی نه وه چی له

(فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۲۰ دبحر ۲۵۹_۴ په حواله)

مسئله : منتظمین یا عام لمونځ کوونکی دي دضرورت په وخت کښی دمسجد بخاری لګوی خو کوم خاص ځوك دي دتلاوت لپاره دکښیناستلو په وخت کښی هغه نه بلوي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۰۲).

مسئله : دمسجد بریښنا یا نورځه دلمانځه په وخت استعمال کیدلای شی خو ترهغه وخته وروسته یي مرسته (چنده) ورکوونکی منع کولای شي

(آپ کی مسائل ۱۴۱_۳).

دیوه مسجد پایپ بل ته ورکول

مسئله : که پایپ دمسجد لپاره وقف وو دوقف کوونکی اختیار دي که دهمدی مسجد ورته اړتیا نه وه اوپایپ خرابیده اوهغه یي خرڅا وه دبل مسجد اهل هغه تری اخستلای شي .

(فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۲۴۱).

دمسجد عواید که زیات شول

مسئله : دمسجد عواید دي په هغه مصرف شی که ددي مسجد ورته اړتیا نه وه اوساتل یي هم ګران کار وو اودضایع کیدلو احتمال یي وو نو نژدی مسجد ته دي دهغه دودانولو اوبو . رڼا ، دامام یا مؤذن دمعاش په برخه کښی دمصرف لپاره ورکړل شی ، که هغه مسجد هم اړتیا نه درلوده دي پیسو ته اړتیا وه نو په مدرسه ،مکتب کښی دی نه مصرف کیږی که دمسجدونو ورته اړتیا نه وه بیا دي دمدرسی په اړتیا کښی مصرف شي

(فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۲۵۱ فتاوی رحیمیه ۱۸۷-۲).

مسئله : غوره داده چیزیات مبلغ ددي مسجد اړوند مدرسې په جوړولو کښې ولګيږي دمسجد اهل به زيات شي او پيسې به له ضائع کېدلو خوندي وي يا دي نژدي اړ مسجد ته په مشوره ورکړل شي
(فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۲۴۲ دشامی ج ۳ ص ۵۱۴ په حواله).

دمسجد له دالان څخه دفتر جوړول

مسئله : داچې دالان دمسجد دګټې لپاره وقف دی نودهغه کومه حصه دبل کار لپاره استعمالول جوازنلري ، که دکوم اسلامی دین انجمن لپاره ورکول کیږي کرایه دي تري واخستله شي جواز لري.
((فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۳۸)

دزده کړي لپاره په مسجد کښي دمیرمنو تلل راتلل

پوښتنه : که دمسجد دریو لورو ته دالانونه وو ، یوه لوری ته پکښي دمیرمنو دزده کړې ځای وو آیا میرمنې په مسجد کښي ورتیریدلای شي ؟
ځواب : داچې دناولتیا (حیض) په وخت کښي يي له مسجد څخه تیریدل صحیح نه دي نو ضروري خبره داده چې لاره يي له مسجد څخه بهر جوړه شي ترڅو دمسجد بي احترامي ونشي. (فتاوی محمودیه ۱۵- ۲۳۸).

دمسجدعواید په زده کړه لګول

مسئله : که مدرسه دمسجد تابع وه یعنی دمسجد جوړوونکی ورسره مدرسه هم جوړه کړه اوویي ویل چې دامدرسه دمسجد مربوطه ده مصارف دي دمسجد له عوایدو کیږي جواز لري.
(فتاوی محمودیه ۱۴۸-۱۴).

په مسجد کښې دلمانځه لپاره ځای نیول

مسئله : که څوك راغی په مسجد کښې کښیناست بیا ورته یو عاجل ضرورت پیښ شو دتللو په وخت کښې یې په ځای څادر پریښود ځه حرج پکښې نشته اوبل شخص ته هم مناسب نه ده چی هغه ځای ونیسی که یي له اوله لاڅادر اچولی وو بیا په خپل کاروبار لګیا وو دلمانځه وخت راغی او هغه ځای نیول شوی وو دانیك کار نه دي په دي حالت کښې که ځای تنګ وو اوبل څوك راغی هغه قادر لیرې کولای شي اوهلته دي کښینی که ځای تنګ نه وو بل ځای دي کښیني .

(فتاوی محمودیه ۱۹۵ ج ۲ دمراقی الفلاح ۳۵۹ په حواله).

مسئله : دامیر یا بل چا لپاره په عیدګاه یا مسجد کښې په اول صف کښې دځای پریښودلو حق نشته څوك چی لومړی راغلل هلته کښیناستل دهغه حق دی دهغه ولاړول هم دچا حق نه دی .

(فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۵۳ احسن الفتاوی ۴۵۷-۲).

مسئله : په مسجد کښې هرچا ته په هره بدنی داودس کولو حق دی همداسی هرڅوك دمسجد په هره برخه کښي لمونځ کولای شي څوك دکوم امتیاز له امله بل شخص دکومي بدنې له استعمال یا دکوم ځای له لمونځ کولو څخه منع کولای نشی خوداځه ستونزه نه ده چی څوك په خپله په یوه بدنی دلویوالی یابل صفت له امله اودس کوی اوپه بله یي نه کوی که کوم شرعی عذر نه وو دلمانځه لپاره یوځانګړی ځای مشخص کول منع دی .

(فتاوی محمودیه ۲۲۰-۲).

مسئله : دمسجد بدنی دي څوك بهرنه وړی دمسجد دلمانځه فرش دي هم ترمسجد بهر نه استعمالوی په تیره بیا دکښیناستلو اوخبرو کولو لپاره

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ - ۲۰۲).

په مسجد کښې روژه ماتی کول

مسئله : په مسجد کښې خوړل ، څښل مکروه دي ، خو دضرورت په وخت کښې جائز دي که له چا څخه دجماعت لمونځ تیریده داهم عذر دي که له مسجد څخه بهر داسې ځای نه وو چې روژه ماتی وکړی نو په مسجد کښې ورته روژه ماتی صحیح دی خو چې دمسجد دپاکوالی خیال وساتل شی ددي لپاره دي کومه ټوټه هموار وي ترڅو مسجد له ناولتیا څخه وساتل شی غوره داده چې تر روژه ماتی لږ مهال وړاندی داعتکاف نیت وکړی اومسجد ته دی ننوزی ځکه دامام محمد رحمه الله په نزد دیوه ساعت لپاره هم اعتکاف صحیح دی .

(امداد الاحکام ۴۵۴-۱ احسن الفتاوی ۴۵۷-۲).

دمسجد له عوایدو روژه ماتی کول

مسئله : په روژه کښې دمسجد له عوایدو « موقوفه دوکانونو یا کورونو کرایه » لمونځ کوونکو ته هغه وخت روژ مات جواز لري چې وقف کوونکی اجازه کړی وي پرته له اجازې جواز نلری خو که دوقف کوونکی له وخت څخه همداسې عادت پاته وو بیاهم صحیح دي .

(فتاوی محمودیه ۱۸۰-۱۸).

مسئله : په مسجد کښې په خپل مصرف روژه ماتی اوپیش لمی صحیح دی خو چې مسجد ناولی نشی که مسجد ته نژدی وي نو روژه ماتی که بهر وي ورته غوره دي خو داحکم د معتکف لپاره نه دي .

(فتاوی محمودیه ۵۰۹-۱).

دمسجد له شتمنې څخه حافظ ته انعام ورکول

پوښتنه : که دتراويح په ختم يا نورو شپو کښی دمسجد له عوايدو څخه په حافظانو انعامونه وويشل شی خودوقف کوونکی له لوری داسې اشارد نه وي جواز لری ؟

ځواب : په تراويح کښی دقران کريم دويلو له امله چاته روپی ورکول صحيح نه دي خو که همدا حافظ ددي مسجد هميش امام وو بيا په روزانه کښی ورته په معاش کښی د مسجد له شتمنی څخه زياتوالی کول جائز دي

(فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۱۸۰)

په مسجد کښي کښيناستل اوپکه لګول

پوښتنه : په مسجد کښی څوك هستوګنه کولای شی ؟ په مسجد کښی څوك ټوله شپه پکه لګولای شی ؟

ځواب : که څوك معتکف وي يا مسافر وي چې بل ځای ونلری نو هغوی ته په مسجد کښی دهستوګنی جواز شته که څوك دتهجد يا دسهار دلمانځه لپاره په مسجد کښی اوسی هغوی ته هم اجازه شته خو له مسجد څخه دځان لپاره خوب ځای جوړول ښه نه دي .

دمسجد پکه اورڼا په اصل کښی دلمانځه لپاره دي ترڅو عام خلګ لمونځ کوی ترهغه دي استعمالوی که يي دلمانځه دوخت څخه هاخوا استعمالوی په بدل کښی به يي دمسجد خدمت کوي .

(فتاوی محموديه ۱۰-۲۰۱ ،کتاب الفقه ۴۲۰-۱).



دمسجد په بام باندي لمونځ کول

پوښتنه : په ځینی مسجدونو کښی دماښښین اومازیگر لمونځونه دلاندی کوی خو دتودوخی له امله دماښام اوماخستن لمونځونه پاس په بام کوی اوهلته په بام محراب نه وی

ځواب : اصل مسجد لاندی دي اوچت بي تابع دي په بام پرته له ضرورت څخه گرځیدل مکروه دي مسجد پریښودل اوپاس امونځ کول دسنت خلاف دي که ځای تنگ وي بیا په بام دریدل څه خبره نه ده اوکه تودوخه دزغم ورنه وي بیاهم په بام لمونځ کول کراهت نلری .دمحراب نه شتون باك نلري.
(فتاوی‌محمودیه‌ج۱۰ص۲۰۱).

مسئله : دگرمي له امله دمسجد په بام لمونځ کول مکروه دي که دلمونځ کوونکو دزیاتوالی له امله دلاندی ځای نه وو نو زیات خلگ پورته دریدلای شی په دي صورت کښی کراهت نشته څکه مجبوري ده .
(فتاوی‌محمودیه۲-۴۴۹ احسن الفتاوی۴۲۲-۲

مسئله : مسجد هغه دی چی وقف وي کوم ځای چی وقف نه وی هغه مسجد نه دی نو ځکه هلته دجماعت ثواب ترلاسه کیږی خودمسجد ثواب ورته نه رسیږی پرته له وقف څخه په کوم ځای کښی لمونځ کولو نه اجازه ورکول ، نه مسجد کیږی که پرته له مسجد څخه دجماعت لمونځ وشی ورته داوه ویشتو لمونځونو ثواب ورکول کیږی اودمسجدثواب تردي زیات دي . (امداد الاحکام‌ج۱ص۴۴۸).

دمسجد په انګړ کښي دجماعت حکم

پوښتنه : دمسجد په انګړ کښی دګرمی له امله دجماعت لمونځ کيدا[illegible] شی ؟ ځکه ځوك وايي چی رسول الله ﷺ کله هم دمسجد په انګړ کښ[illegible] لمونځ کړی نه دي

ځواب : دچاهمدااوينانا سمه ده مسجد دوه برخی لری پټه برخه اولو ځ[illegible] برخه په دواړو کښی لمونځ په جماعت سره جائز دي فقها همدا برخ[illegible] دصيفي اوشتوی (اوړی اوژمی) مسجدونه يادوی اوپه دواړو کښ[illegible] جماعت کول پرته له کراهته جائز دي .

همدانومونه په خپله دليل دي، چی په لوڅ مسجد کښی په اوړی اوپه پټ[illegible] مسجد کښی په ژمی کښی لمونځ کيږي .

(فتاوی دارالعلوم ج۴ ص۱۲۵ . درد المحتار ج۱ ص۵۳۱ په حواله).

مسئله : دلمانځه په حال کښی دمسجد له انګړ څخه دننه تلل لمونځ فاسد وي ځکه داعمل کثير دي

((فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۵۷ دردالمحتار ج۱ ص ۵۸۴ په حواله)).

مسئله : په مسجد کښی دننه دوه دری کسان دريدل صف جوړول صحيح دی خو يو تن دريدل مکروه دي .


(فتاوی محموديه ج ۲ ص ۲۴۲).

که امام ديو، دوو صفونو ځای پريږدي اوشاته ودريږی

پوښتنه که مسجد زيات ستر وو او لمونځ کوونکی ديو دوو صفونو په اندازه وو امام کولای شی يو دوه صفه ترمحراب شاته ودريږی ؟

ځواب دجماعت ټول ځای يو ځای دي يو حکم لری . نو امام که ديو [illegible] دوو صفونو په اندازه له محراب څخه شاته ودريږی باك نلری

([illegible] ج ۱۰ ص ۲۴۸)



مسئله : که په مسجد کښې ځای تنګ وو دامام ښي اوکيڼ لور ته مقتديان دريدلای شي چې دامام پښې ترمقتديانو وړاندې وي
(فتاوی محموديه ۲۴۳-۲).

په مسجد کښې په لوړ اواز ذکر کول

مسئله : که چاله کوم ربنتونی مرشد سره بيعت وکړ اوهغه ورته دجهر د ذکر کولو وويل هغه دي له لار ښوونی سره سم « بيل بيل . په لوړ اواز (جهر) سره خپل ذکر کوی خو که په مسجد کښې په جهريه ذکر سره لمونځ کوونکو ته تشويش پيدا کيږی بيا په مسجد کښې جائز نه دي .
(فتاوی رحيميه ج۱۰ص ۲۳۸).

مسئله : که دلمونځ کوونکو اوبيدو خلګو لپاره ضرر اومزاحمت نه وو نو په جهر سره ذکر کول بهتر دي له هغه څخه زړه بيداريږی خوب ځی اوداسی اطاعت لپاره بدنی ځالاکی پيدا کيږي .
(کتاب الفقه ج۱ص ۴۵۵).

دمسجد په ديوالونو قراني ايت ليکل

مسئله : دمسجد په دننه اوبهر کښې قرآنی آيتونه او نور دتعظيم وړ عبارات ليکل منع دي دبي ادبی داحتمال له امله فقهاوو دليکلو اجازه ورکړی نه ده .

(فتاوی رحيميه ۲۴۳-۱۰ درمختار ۴۴۰ اوشامی ۲۲۰-۱ په حواله).

په مسجد کښې سیاسي وینا کول

زموږ په زمانه کښې په مسجدونو کښې سیاسي وینا کول عام شوي دي اودمسجد دادب اواحترام لحاظ هم نه ساتي دایو خوښ عمل نه دی داسي بي مسئولیته وینا به په مسجدونو کښې څرنگه جائزه وي په حدیث شریف کښې راځي « مسجدونه له ماشومانو، جگړو ، لوړغږ ، دحدودو تطبیق ، دتورو له کښلو وساتي » (ابن ماجه باب مایکره فی المساجد »

که دیني خبرې په مسجد کښې کیږي څه مشکل نلري بلکې دادمسجد په مقصد اوهدف کښې راځي یا داسي سیاسي خبرې چې له دین سره تړ ولرې په نبوي دور کښې نبوي مسجد دهمداسي خبرو مرکز وو خودمسجد اداب . احترام او اکرام په هرحال کښې لازمي دي .

دابن ماجه په روایت شوي حدیث کښې ولیدل شول چې په مسجد کښې به اواز نه لوړوي صحابه کرام په دې لار کښې زموږ دلارې څراغونه دي اودنبوي دربار اطاعت کوونکي سائب بن یزید ﷺ وایي « یوه ورځ دمسجد دره ووهل شوه غږ مو واورید ومولیدل عمر ﷺ وو دوو کسانو ته یي اشاره وکړه چې په مسجد کښې یي شور جوړ کړی وو ویي ویل : هغه دواړه راولې دامر مطابق مو هغه دواړه وروستل ،عمر ﷺ ورڅخه وپوښتل دکوم خای یاست ؟ هغوی دطائف نوم واخیست دایي واوریدل ویي ویل که دمدینې هستوگنه وایي سزامي درکوله ، تاسو درسول الله ﷺ په مسجد کښې شر اوشور کوی څې نن په دي معاف یاست چې دبهر هستوگن یاست ((بخاري ج۱ ص ۶۷) .

عمر ﷺ په دي کار کښې ډير سخت وو دمسجد مره بي حرمتي به يي زغملای نه شوای که به ماشومانو لوبې کولې ، په دره به يي پوهول ، ترماخستن وروسته به يي دمسجد حال معلوماوو

په نسائي کښې روايت دي چې يوه ورځ يي لوړ غږ واوريد ، گرندی راغی ويي ويل : پوهيږئ تاسو چيري ياست ؟

(تفسير ابن کثير ج ۳ ص ۲۹۳).

په دي هکله اختلاف دي چې لوړ غږ مطلقا حرام دي او که په مقيد ډول؟ داکثريت رايه داده چې که ديني يا دنياې ضرورت وو يا دمسلمانانو په گټه وو نو روا ده او کنه نو ناروا ده.

(په اسلام کښې دمسجدونو نظام ۱۹۷).

مسئله : دمسجد دادب او احترام په هکله خلگ ډير بي پروا دي داسې کارونه په مسجد کښې ورته دي له ديني مجلسونو پرته نور سياسي ناستې چې له شرعي مسجد څخه بهر بل ځای کيږي خورا غوره دي.

عمر ﷺ له مسجد څخه بهر په يوه څنډه کښې يوه چوتره (صفه) جوړه کړه اوخلگو ته يي وويل که شعرونه واياست په لوړغږ غږيږئ يا بل کار کوی چوترې ته ځئ.

(عالمگيری ۲۵۱-۲ فتاوی رحيميه ج ۲ ص ۱۰۵ دمشکوة شريف ج ۱ ص ۷۱ په حواله).

مسئله : مسجدونو نه دنيا يي انتخاباتو ته جوړشوی نه دي داسې کار په مسجد کښې کوی ، که يي څوك کوي ، په غلطه روان دي.

(فتاوی محموديه ج ۱۵ ص ۱۸۷).

مسئله : په مسجد کښې دتبليغ او وعظ لپاره جلسه يا مشوره کول او ورته راغونډيدل جائز دي.

(کفايت المفتی ج ۳ ص ۱۴۴).

په مسجد کښي په چوکۍ کښيناستل او وعظ کول

پوښتنه : اکثر علماء په مسجد کښی په چوکی کښيني او وعظ کوی . آيا داروا ده؟

ځواب : دمسلم شريف لومړی ټوک ۲۸۷ مخ کښی روايت شته چی رسول الله ﷺ په مسجد کښی په چوکۍ کښيناستلی او وعظ يي کړی دي .
په الادب المفرد ۲۱۰ مخ کښی هم امام بخاری داياد ونه کړی ده ، هغه څه چی له حديث څخه ثابت دي اعتراض ورباندي دنه معلومات له امله ده .
(فتاوی محموديه ج۱ ص ۴۸۹) .

مسئله : دمسجد ټاټ ، دری ، سطرنجی يانورڅه بهر وړل اوپه کومه جلسه کښی استعمالول جائز نه دي .

(کفايت المفتی ج ۳ ص ۱۰۷) .

په مسجد کښی دمسجد لپاره چنده کول (مرسته غوښتل)

پوښتنه : آيا په مسجد کښی دمسجد لپاره مرسته غوښتل اوټولول جائز دي ؟

ځواب : غوره صورت يي دادي چي ترمسجد بهر چنده ټوله شي ياپه مسجد کښی په يوه تخته باندي دمرستی غوښتنه وليکل شي که په داسی طريقه سره دچندی په اندازه کښی نيمګړتيا وه نوبيا دجمعی په ورځ دمسجد لپاره په مسجد کښی دچندی ټولول روا دي چی لمونځ کوونکو ته تکليف نه وي دلمانځه ترمخ تير نشی شور اوغالمغال نه وي . دمسجد دادب خلاف کار پکښی نه وي داسی مرسته ونه غوښتله شی حی دچا دخجالت سبب وګرځی يا په زور واخستله شی .
ددی نسانو مراعات ضروري دي که داسی احتياط کيدلای نشی په [illegible] چنده ټولول جواز نلري



په مسجد کښي قضائي لمونځ کول

قضا شوی لمونځ په مسجد کښی راګرځول مکروه تحریمی شوی دي دلیل یي دادی چی لمونځ ځنډول معصیت دي نو هغه باید ښکاره نشی شامی په دي هکله لیکی چی دقضا لمانځه اظهار دي څوك نه کوی قضا دلمونځ دي داسی وکړی چی څوك ورباندی ونه پوهیږی که یي په مسجد کښی قضا دلمونځ کاوو خلګ باید ونه پوهیږی چی نفل لمونځ کوی که قضای په همدی شکل بیاپه مسجد کښی هم صحیح دي عرض دادی چی قضای لمونځ دي داسی را وګر ځول شی چی تر ممکن حده څوك ورباندی ونه پوهیږي .

(فتاوی دارالعلوم ۴-۳۲۹ ددرمختار باب القضاء ۲۹۵-۱ په حواله).

په مسجد کښی قربانی کول

مسئله : کومه برخه چی مسجد ده یعنی دلمانځه لپاره وقف ده اوهلته لمونځ کیږی په هغه ځای (دمسجد دننه) قربانی کول حرام دی ځکه په ناپاکه وینه مسجد ناولی کیږی په احاطه کښی چیری چی بوټونه ایښودل کیږی هم ذبح کول جائز نه دي ځکه هغه ځای دذبح کولو لپاره وقف شوی نه دي بل ځای دي ذبح (حلاله ، قربانی) وشي .

(فتاوی محمودیه ج۱۲ ص ۲۹۵).

مسئله : دقرباني په وخت کښی دمسجد بوریا استعمالول جائز نه دي داسي دي کوي چي دمسجد زړه بوریا دي دنوی په بدل کښی له متولی څخه واخلی او هغه زړه بوریا به بیا دده په ملکیت کښي وي

(امداد الاحکام ج۱ ص ۴۵۵).

مسئله : دمحرم په لسمه کښې راټولیدل اونفلونه کول له رسول الله ﷺ
څخه ثابت نه دي (فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۱۹۱).

مسجد ته ورکړل شوي شیان لیلام کول

پوښتنه : مسجد ته خلګ چرګان ، هګی ، جامی اونور څۀ دخدای ﷻ په نوم ورکوی هغه بیا لیلامیږی ، داصحیح دي ؟ داسی هم کیږی چی لیلام شی واخلی بیرته یي مسجد ته ورکوی .

ځواب : که داسی لیلام دمسجد دګټی لپاره وي صحیح دي ، که پکښی نوم اوشهرت مقصد وي صحیح نه دي. (فتاوی محمودیه ۲۱۸-۱۵).

مسئله : که مسجد ته ځوك څه شی اوصدقه ورکوی هغه دبی وزلو حق دي اوکه یي دمؤذن یا نورو په نوم ورو‌ړی هغه دهغوی حق دي .
(فتاوی محمودیه ۱۵-۲۰۴).

دمسجد واړه شیان لیلام کول

پوښتنه : که دمسجد فرش زوړ شوی وي هغه اړوی اونوی فرش اچوی .ایا دزاړه سمتی توتی دخرڅلاو لپاره لیلام کیدلای شی ؟ اواخستونکی یي بیا دخپلی ودانۍ په تهداب کښی اینښودلای شی ؟
ځواب هغه اخستل ،په تهدابونو کښی اینښودل شرعا جائز دي .
(فتاوی محمودیه ۲۴۸-۱۵کفایت المفتی ۳- ۱۲۳).

مسئله : همداشیان اخستل کیدلای شی اودقیمت یي دمسجد په وقف کښی شامل کیدلای شی یا مسجد ته بل دضرورت وړشی ورباندی اخستل کیدلای شوای دزاړه مسجد همداسی توتی په نوی مسجد کښی استعمالیدلای شی خو له ناولتیا څخه یي ساتل ضروري دي یعنی همدا سمتی توتی یا نور څه دي په بیت الخلاء داودس کولو په ځای یادغسل کولو په ځای کښی نه لګول کیږي .

دکورونو خرڅول اودمسجد ورانې

پوښتنه : که څوکاله . کلي اومسجد ودان وو . خو له کومه مجبوريته همدی کليوالو په غير مسلمه خلکو خپل کورونه خرڅول . دمسجد خيال بي نه ساته . څو مسجد هم وران پاته شو داسی خرڅول څرنګه دي ؟

ځواب : چيري چی خبره دکورونو دخرڅولو ده هغه دمالك حق دي په شرعی ډول ايجاب اوقبول سره بيع صحيح ده خو حالات دي وګوری که مجبوريت نه وي داسی دي نه کوی اوکه مجبوريت وي بيا خو هجرت هم ثابت دي .

(فتاوی محمود يه ۱۵-۲۳۵)

دمسجد په پيسو دبل چا دکور ديوال جوړول

مسئله : دمسجد په پيسو دپردي په مقصد دبل چا ديوال ودانول جوازنلری خو دمسجد په ديوال يي بناء کول جواز لری که دمسجد په ديوال پرده نه راتلونو که دبل ديوال ښنبتن بي وزله وي کليوال دي ورسره مرسته وکړی ترڅو يي په ديوال سره پرده وشي .

(کفايت المفتی ج ۳ ص ۱۳۱).

په مسجد کښي دنکاح يا نورو مراسمو په وخت دبرق استعمال

مسئله : اصل خبره داده چی دداسی کارونو لپاره دي دبرق انتظام په خپله خلګ کوی دمسجد برق اوپکه دي نه استعمالوی حد او اندازه خوداده چی دلمانځه لپاره دمعمول وخت په زيات وخت کښی که څوك تلاوت کوی يا کوم دينی کتاب ګوری هم ورته دمسجد دبرق اوپکی

اوپکې په ممانعت فساد اوجګړه پېښيږي نو که همداسې احتمال وو بيا دي دزيات وخت دبرق داستعمال مصرف مسجد ته ورکړل شي .

(فتاوی رحيميه ۱۰۷-۲) .

مسئله : په مسجد کښې دنکاح تړل مستحب دي .

(کتاب الفقه ۴۵۶-۱ ردالمحتار ۷۱۹-۱) .

مسئله : دمسجد برق مسجد ته ځانګړی دي په داسې کارونو کښې يې استعمال جواز نلري چې په هغه کښې دمسجد خير اومصلحت نه وي ديوه مسجد دشيانو استعمال په بل مسجد کښې جواز نلري نو په عامو موارد و کښې به څرنګه جواز ولري دمسجد دمشرانو داجازې په داسې خلاف الشرع کار کښې هيڅ رول نشته .


مسئله : دامام او مؤذن خونې چې دمسجد اړوند دي هغوی ته له مسجد څخه برق ورکول جائز دي که مدرسه دمسجد مربوط وه ورکول کيدلای شي خو خلګ به خبر وي اوداسې ممانعت به يې کړي نه وي چې زموږ مرسته دي مدرسې ته نه ورکوله کيږي که مدرسه دمسجد مربوط نه وي دمسجد برق ورکول جواز نلري خوکه بيه ورکړي جواز لري دمسجد اړوند شيان بل ځای حتی بل مسجد ته ورکول ناروا دي .

(احسن الفتاوی ۴۴۶-۲) .

که غيرمسلم مسجد ته بدنۍ يا روژه ماتې واستوي

مسئله : که کوم غيرمسلم دثواب په نيت بدنۍ ورکړي دمصلحت خلاف نه وي داوږدمې کولو لپاره هغه اخستل روا دي همداسې که روژه ماتې دثواب په نيت واستوي او دبل مصلحت خلاف نه وي اخستل يې جواز لري

(فتاوی محموديه ۴۶۲-۲) .



دمسجد بدنۍ خپل کار ته ورل

مسئله : دمسجد بدنۍ دټولو کارونو لپاره استعمالول جائز نه دي بوازې داودس استنجاء اوغسل لپاره استعمالیدلای شي داوبو ځنبلو یا دجامی کوم ځای دلمانځه لپاره ورباندې مینځل جواز لری له مسجد څخه بهر ورل کوریي استعمالول جواز نلري .

(فتاویمحمودیه ۱۳۲-۱۰).

دمسجد په فرش (غولي) اودس کول

مسئله : دمسجد دغولی په هغه برخه چی دلمانځه لپاره ځانګړی شوی وي داوداسه لپاره نه وي که داوداسه لپاره ځای معلوم وي هلته دي اودس وشی کنه له غولی څخه لری دي وشی داودس مستعملی اوبه په غولی تویول منع دي .

(فتاوی محمودیه ۱۰-۱۳۷ کتاب الفقه ۴۲۱-۱).

دمسجد ترودانولو وروسته داودس کولو ځای جوړول

پوښتنه : په مسجد کښی دننه داودس کولو هیڅ ځای نشته ، وروسته مسجد جوړوونکی دمسجد پـه غـولی داودس کولـو ځـای جوړ کړ ، داجواز لري ؟

ځواب : کوم ځای چی دلمانځه لپاره ځانګړی شوي دي که هلته داودس کولو لپاره ځای جوړیږی اوهغه ځای له لمونځ کولو وزګي ، جواز نلري .

(فتاوی محمودیه ۲۵۷-۱۲).

په مسجد لوحه ځوړندول اوکرایه وربانديِ اخستل

پوښتنه : که مسجد په عامه لار کښې وو هلته په مسجد باندې داعلان په خاطر بورډ (لوحه) ځوړند کول جواز لری ؟ داکار په دې غرض کیږی چې وربانډې دمسجد لپاره کرایه اخلی.

ځواب : دمسجد دضروریاتو دپوره کولو لپاره دوکانونه جوړیدلای شی چې ور باندې کرایه واخلی خو په خپله په مسجد کرایه اخیستل ناروادی داسې کار دې هیڅکله نه کیږي.

(فتاوی محمودیه لسم ټوک۱۷۲مخ فتاوی رحیمیه ۹.۲۵)

په مخلوط شتمنې مسجدجوړول

پوښتنه : په یوه محله کښې داسې پیښنه شوه چې زوړ مسجد یې وران کړ دنوی کولو لپاره یې په اعانه کښې دیرش،دیرش زره تر لاسه شوی هغه روپې په بانك کښې ایښې وی ور سره دبانك سود هم پنځلس زره شو دسود پیسې ترې بیلې نه شوی اوټولې پنځه اویا زره روپې پکښې ولګیدې نو له شپیتو زرو اعانې سره پنځلس زره دسود رقم هم پکښې مصرف شو له همدې امله څو کسان دمسجد ورتلو څخه منع شول شرعی مسئله څرنګه ده؟

ځواب : دبینك دسود شرعی حکم داسې دی چې پرته دثواب له نیت څخه دې بیوزلو خلکو ته ورکړل شي(رد المحتار) دداسې رقم مصرف کول په مسجد کښې جواز نلری ځکه « طیب لایقبل الاالطیب » اوس چې کومې پیسې په هرمسجد کښې مصرف شوی دي دهغه تلافی اوجبیره داده چې دمسجد په نوم پنځلس زره روپې ټولې شی اوبیاً په اړو مسلمانانو وویشلې شی مسجد دې په خپل ځای پاته شی اولمونځ

پکښې پرته له کراهت څخه صحیح دي مسجد ته کوم زیان رسول یا پکښې لمونځ نه کول صحیح کار نه دي

مسئله : په حرامو پیسې څه اخیستل څه تفصیل غواړي څینې صورتونه دي چې بیع یې بالکل ناروا ده اوهلته پکښې حرمت پیښیږي څینې ځایونه حرمت نه راځي اوبیع روا وي که په حرامو معلومو پیسو څمکه واخستله شوه اومسجد یې جوړ کړ داچې هغه څمکه دده په ملکیت کښې نه ده نو هغه هم مسجد نه بلل کیږي خوکه یې پیسې مشخصې نکړي په ناروا پیسو یې واخستله خو وروسته یې له حلالو پیسو هغه بیه ورکړه اوبیا یې ورباندې مسجد جوړ کړ صحیح دي وقف دي اومسجد بلل کیږي لمونځ پکښې صحیح دي اوکه لومړی صورت وو بیا هم له هغه مسجد سره بې احترامي کول ناجائز دي خو لمونځ پکښې مکروه دي تر څو یې پوره تحقیق شوی نه وي مسجد بلل کیږي

((فتاوی محمودیه ص ۱۷۰ - ۲ اودرمختار ۱۴۲-۵ په حواله).

یوسل او دیرش مسئلې

مسئله : له دولتې ټانکۍ څخه که دقانون خلاف نه وواودنبار والي اجازه وه مسجد ته اوبه راوړل روا دي . (محمودیه ۱۸۸-۱۵)

مسئله : په مسجد کښې په لوړ اواز تلاوت کول چې لمونځ کوونکی ته ضرروي جائز نه دي. (احسن الفتاوی ۴۵۸-۲).

مسئله : په مسجد کښې دکور سامان مه ږدي داداعتراض وړ خبره ده . که په مسجد کښې داوداسه ځای ، برنډه یابل ځای وو هلته یې کښیږدي داسې کتابونه چې لمونځ کوونکي تری ګټه اخستلای شي په مسجد کښې یې ایښودل حرج نه دي .

مسئله : په مسجد کښی دینی کتابونه لوستل ، ددینی معلومات لپاره څه لیکل صحیح دي . (فتاوی محمودیه ۱۹۸-۱۵)

مسئله : دمسافر لپاره دمسجد لوازم استعمالول دفتوی له رویه صحیح دي خو دتقوی له مخی احتیاط پکښی غوره دي حرام نه دي .

(فتاوی محمودیه ج۱ ص ۴۷۹)

مسئله : که دمسجد کتابونه امام کورته یوسی اومطالعه کوی یي هلته جائز دي چی دمرسته ورکوونکو خلګو وربانديٍ علم وي که دهغوی اعتراض نه وو نو کافی ده که دمرسته کوونکو له لوری امام دمسجد دپیسو مالك پیژندل شوی وو بیا هم اعتراض نشته .

(محمودیه ۱۹۸-۱۵)

مسئله : دمسجد کومه برخه دځانی ضرورت لپاره ځانګړی کول روا نه دي تر دي چی دلمانځه لپاره کوم ځای ځان ته مشخص کول جائز نه دي داسی چی له هغه ځایه څوك منع کړای شي .

(فتاوی محمودیه ۱۳۲-۱۵)

مسئله : دمسجدلپاره وقف شوی ځمکه که په کرایه ورکړل شی یا وکرله شی اوپیسی یي په مسجد مصرف شی جائز دي که ونی وربانډی کښینېودل شی اومیوه یي خرڅه شی پیسی یي په مسجد مصرف شی روا دي

مسئله : کومه ځمکه چی دلمانځه لپاره مشخصه شوی ده هلته امام یا بل چالپاره خونه جوړول جواز نلري .

مسئله : کومه ځمکه چی دمسجد لپاره وقف شوی ده هلته دبل مسجد ودانول جائز نه دي نه به په بل مسجد خرڅیږی ، نه به یي پیسی ورکول کیږی خو که زوړ مسجد ورانیږی اوهلته مسلمانان نه پاته کیږی اوله

موقوفه ځمکې سره مسلمانان وي اومسجد ته اړتيا ولرى بيا دبل مسجد بنا ورباندي صحيح ده اولمونځ پکښې جائز.
(محموديه ۱۷۲-۱۵).

مسئله : دمسجد دننه ناوړى توکول پوزه سوغ وهل حرام دي له ناړو ، دېزى له اوبو او بلغمو مسجد پاك ساتل واجب دي غولى اوديوال يو حکم لرى که په فرش دپاسه وي که دلاندي که څوك داسې وکړى پاکول بې واجب دي دافرق نه کوى چې دمسجد غولى دختى دي دډبرو دي اوکه دبل څه.
(کتاب الفقه ۱-۴۵۸).

مسئله : پوزه پاکول اوگوتې په ديوال پسې موښل دتهذيب خلاف خبره ده دنورو خلگو داذيت سبب او له مسجد سره بې پروايي ده.
(فتاوى محموديه ۱۵-۲۰۲).

مسئله : په مسجد کښې وينښتان اخستل روا دي خو چې وينښتان تيت نه شي.
(محموديه ۴۸۱-۱).

مسئله : که دمسجد پيسې د نصاب حد ته ورسيدلى زکات ورباندي نشته ناروا شتمنى په مدرسه اومسجد کښې لگول جائز نه دي دهمداسې شتمنى صدقه کول ضروري ده.
(فتاوى محموديه ۱۴۲-۱۴).

مسئله : دمسجد پيسې چې ددکانونو دکرايې يا په کومه خوشحالى کښې ترلاسه شوى وي که ورڅخه دامام معاش ورکړى يا دغسل په ځاى ولگيږى جائز دي.
(فتاوى محموديه ۲۲۱-۱۴).

مسئله : که په مسجد کښې څه شي وموندل شو ، په مسجد کښې دي دومره اعلان کړى چې دمالك دپيداکيدلو توقع بې نشته ، داسې بې وزله ته دي ورکړى چې دزکات اخستلو مستحق وي.
(فتاوى محموديه ۱۵۵-۱۰).

مسئله : دمسجد د مسجد صف (دری ، سطرنجی) چی لمونځ ورباندی شوی وي په لاس دي غوړیږی په پښو یي تولول او هموارول بي ادبي ده .

(فتاوی رحیمیه ۱۲۵-۲)

مسئله : ناولی او حایضه مسجد ته دننه تلل جائز نه دي .

(فتاوی محمودیه ۱۵۸-۱۰ شامی ۴۴۱-۱)

مسئله : دمسجد توهین کول ، ورته ښکنځل کول ډیره خطرناکه خبره ده ، ایمان سلامت نه پاته کیږی داسی سړی ته توبه لازمه ده بیا دي داسي لفظ نه وایي چي دمسجد اهانت پکښي وي .

(فتاوی محمودیه ۴۲۹-۱۷)

مسئله : که حوض لس په لس لاسه (ذراع) وي ناولی نه وي ، دهغه خته ناولی نه ده ، هغه په مسجد کښی کارول کیدلای شي .

(محمودیه ۲۱۲-۱۷)

مسئله : دمسجد په دیوال تیمم کول مکروه دي ځکه دوقف مال ده اوبي ځایه تصرف پکښی کیږی خو که وشی صحیح دي که له مسجد څخه توږل شوی چینه یاخته وه صحیح دی خوچي پاکه وي .

(امداد الاحکام ۴۴۰-۱)

مسئله : په مسجد کښی نسوار کول ، تنباکو څکول خلاف اولی عمل دي ځکه له تنزیهی مکروه څخه خلاص نه دي . (امداد الاحکام ۴۲۲-۱)

مسئله : دخلگو دډیروالی له امله که ترمسجد بهر په امام پسی اقتداء وشی ، دمسجد ثواب نه کمیږی خو چی صفونه ترهغه ځایه متصل وي .

(امداد الاحکام ۴۵۷-۱)

مسئله : په مسجد کښی دخلگو دخښلو داوبو انتظام کول کوم حرج نه دي

مسئله : په مسجد کښې دهوا لپاره کړکې پرېښودل روا دي خو دکنيسي او گرجي په توگه به نه وي بلکې دمسجد په ډول به وي
(امداد الاحکام ج۱ص۴۵۲).

مسئله : که څوك دجماعت په نيت مسجد ته راغی خوجماعت ورڅخه تيرشوی وو الله ﷻ ورته دجماعت ثواب ورکوی خو په دي شرط چې هغه به په قصدی توگه ځنډيدلی نه وي
(مظاهر حق۱۰۴ج۲ حديث ۱۰).

مسئله : په کوم مسجد کښې که دجماعت دلمانځه انتظام وو وخت يي معلوم وو ، امام ټاکلی وو ، په هغه مسجد کښې دوهم جماعت مکروه دي.
(کفايت المفتی ج ۳ ص ۱۰۲).

مسئله : داقتداء په لحاظ عيدگاه اودجنازی دلمونځ ځای حکم دمسجد په څير دي.
(عالمگيری۷۰ص).

مسئله : که امام په لاندی پوړ کښې وي اومقتديان په پاسنی پوړ کښې ولاړ وي دالمونځ جائز دي خو په دي شرط چې مقتديان تر امام وړاندی ولاړ نه وي دامام وړاندي والی ضروری دي.
(ردالمحتار ج۱ص۲۱۴).

مسئله : دکلي په مسجد کښې که مؤذن نه وو لمونځ کوونکی دي اذان وکړی بيادي لمونځ وکړی ، که تنها هم وي ځکه دادمسجد حق دي.
(غاية الاوطار ۳۰۳-۱).

مسئله : که په يوه کلی کښې څومسجدونه وو که يي فاصله برابره وه په پخوانی کښې دي لمونځ کوی اوکه فاصله يو برابر نه وه بيا دي نژدي مسجد ته ورځي (پخوانی ماخذ).

مسئله : دعیدګاه اودجنازی دلمانځه دځای دي احترام دمسجد
کیږی له بولو ګنګی اوجماع څخه دي خوندي ساتل کیږي .
(طحطاوی علی الدرج۱ص۱

مسئله : دمصیبت له امله په مسجد کښی اوپه بام یي کښینا
مکروه دي .
(رد المحتار۶۱۹

مسئله : دمسجد پناه هغه ځای دي چی دهغه ځای اومسجد تر
کومه لاره نه وي داقتدا په هکله دمسجد پناه دمسجد حکم لري .
(پخواني ماخذ

مسئله : دعامی لاري مسجد چی دجماعت پابندي پکښی نه ری
دمسجدحکم لری خو اعتکاف پکښی جائز نه دي .
(رد المحتارج۱ص۶۱۹)

مسئله : دمسجد پناه ، خانقاه ، دمدرسی مسجد چی کومه خونه یي
دلمانځه لپاره ځانګړی کړی وي ، دحوض په غاړه چی لمونځ کولو ته یي
ټاکلی وي په بازار کښی چوتره چی دلمانځه لپاره معلومه شوی وي
داټول دمسجد حکم نلری حایضه میرمن اونور ورتللای شي .
(رد المحتارج۱ص۶۱۵)

مسئله : په مسجد کښی ناوړه شعرونه ویل مکروه دي خو حمد ، نعت ا
اودنصیحت وړ اشعار ویل جواز لری خو چی لمونځ کوونکی یا ذکر
کوونکی ته تکلیف نه وي .
(رد المحتار ۶۱۹-۱)

مسئله : په لوړ غږ په مسجد کښی ذکر مکروه دي خو دفقه درس ویلای
شی ، چی لمونځ کوونکو ته ضرر نه وي همداسی دتفسیر اوحدیث
درس هم جواز لري .
(رد المحتار۱-۶۱۸)

مسئله : دضرورت په وخت کښې مسافر او کوږ والا په مسجد کښې بيده کيدلاى شي خو ځان ساتل ورته غوره دي
(عالمگيري ج ۲ ص ۶۵)

مسئله : کوم کار چې ددنيا دي هغه په مسجد کښې مکروه دي
(پورتنى ماخذ)

مسئله : که څوك ملى ، هوږه پياز يا بل بدبوى لرونکي شى وخوري ، خوله پاکه نکړي مسجد ته تلل يي مکروه دي (پورتنى ماخذ)

مسئله : که چا دجامو ، بغل يانور ځان بد بوى ولاړيده اونوروته يي ضرر رسيده له مسجد څخه منع کيدلاى شي (پورتنى ماخذ)

مسئله : که دچا وصيت کړى وو چې داپيسى په فلانى مسجد ولگولى غوره دادى چې هلته ولگول شي خو که يي په بل مسجد ولگوى هم جواز لري (فتاوى عبدالحى ج ۳ ص ۱۰۳ دسراجيه په حواله)

مسئله : که څوك هميشنى سود خوروي که مسجد ودان کړى هلته لمونځ کول مکروه دي (فتاوى عبدالحى ج۱ ص ۷۳)

مسئله : دکفارو شتمنى که چا په مکر، چل اوغلاترلاسه کړه مسجد ورباندي جوړول جواز نلري..

مسئله : دروافضو په مسجد کښې لمونځ کول صحيح دي
(فتاوى عبدالحى ج۱ ص ۷۲)

مسئله : په جوړشوى مسجد کښې سامان اينبودل يا پکښې هستوگنه کول جائز نه دي (فتاوى عبدالحى ۲۹۵-۱)

مسئله : که امام په مسجد کښې وو له مسجد څخه بهر په بام يا څنگ ته چې له مسجد سره لاره ونه لرى اقتداء صحيح ده.
(... ج۱ ص ۳۰)

مسئله : له خپله شخصي مال څخه دمسجد په ديوالونو سره زر وهل يا ملمع «ځلند» کول روا دي خو غوره نه دي . (عالمگيری ج ۲ ص ۲۱۴).

مسئله : که له وقف شوی کور څخه مسجد ته لاره وه ، امام وربانديې ننوتلای شي . (عالمگيری ۲۱۴-۲).

مسئله : مؤذن ته جواز شته چي دمسجد په موقوفه خونه کښې هستوگنه وکړي . (تيرشوی ماخذ).

مسئله : که دمسجد ترڅنگ دامام خپل يا کرايي کور وو غوښتل يې دمسجد په ديوال کښی لاره پرانيزی ورته جواز نلري . (تيرشوی ماخذ).

مسئله : په مسجد کښی تدريس روا دي که څه هم دمسجد دری اوشطرنجی استعمال کړي . (پورتنی ماخذ).

مسئله : ديوه مسجد اهل دکومی شرعی مجبوری له مخی مسجد بيل کړی ديوال يې پکښی جوړ کړ ، دوه امامان يې وټاکل خو مؤذن يې يو وو جواز لری خو غوره داده چی مؤذنان هم دوه وي خو کليوالو لپاره دمسجد دوه ځايه کول بد دي . (تير ماخذ ۲۱۵-۲).

مسئله : دجماعت دزياتوالی په نيت کليوال اختيار لری چی دوه مسجدونه سره يو کړي . (تير ماخذ).

مسئله : دذکر اوتدريس لپاره دوه مسجدونه يو کول جائز نه دي . (عالمگيری ج۲ص۲۱۵).

مسئله : په مسجد کښی دبادوتل نشته ادب دادی چی همداسی وخت بهر ووزي . (تير ماخذ).

مسئله : بې اودسه مسجد ته ننوتل روا دي . (عالمگيری ج ۲ ص ۲۱۵).

مسئله : دمحراب دننه دمسجد حکم لري . (پورتنی ماخذ).

مسئله : که څوك په يخني کښې راغلل ، دهلاکت ويره يې وه داسې يې محسوس کړه چې که اور بل نکړي دځان يا دکوم اندام خطر يې شته بيا دمسجد لرګي دګرمي لپاره لګولای شي

مسئله : دعامي فتنې په خطره کښې غله اودکور نور لوازم په مسجد کښې ساتلای شي . (تير ماخذ)

مسئله : په مسجد کښې کښيناستل ، تعويذ خرڅول چې دقران کريم، تورات يا انجيل اياتونه ليکې جواز نلري . (تير شوی ماخذ).

مسئله : دګرمي له امله دمسجد په بام جماعت کول مکروه دي خو که دلاندې ځای نه وو په بام اقتدا کولای شي . (پورتنی ماخذ).

مسئله : دوقف له شتمنی هغه مهال داذان لپاره منارجوړول صحيح دي چې ضرور وي مثلا کليوال له تيټ ځای څخه داذان غږ نه اوری که ضرور نه وو جواز نلري . (پورتنی ماخذ).

مسئله : که دمسجد لپاره پيسې ټولې شوې وي چا په دي هيله مصرف کړي چې بيرته به يې ورکړم ورېي نه کړی يو ملګرې دي خبر کړي چې بيا بي ورکړی که يې په پټه خو له مصرف کړي قاضي دي خبر کړي اوکه هغه هم نه وو نوبيا دي په خپله پرې کړی) (فيما بينه وبين الله) غاړي يې خلاصيږي . (بحر الرائق۲۵۱-۵).

مسئله : دکليوال لپاره هغه وخت مسجد ورانول اوکلك جوړول جواز لري چې دمسجد لومړنی جوړوونکی يې کليوال وي اوکه نه وو ، جواز نلري. (بحر جلد ۵ ص۲۵۱).

مسئله : مسجد ته وقف شوی شيان په مدرسه کښې لګول جواز نلري . (فتاوی عبدالحی ج۲ ص ۱۳۲).

مسئله : که دمسجد دجوړوونکی او کلیوالو تر مینځ دامام اومؤذن په هکله اختلاف پیداشو که دکلیوالو خوښ کړی شوی امام اومؤذن بهتر وو هغه دي منتخب کړای شي .ځکه کلیوالو ته دامام او مؤذن گټه او زیان رسیږي .

(کبیری ۵۷).

مسئله : دمسجد لپاره دتیلو او فرشونو (دری ، شطرنجی) داخستلو ثواب سره برابر دي خو چی کوم ته دمسجد اړتیا زیاته وي دهغه په اخستلو ثواب زیات دي .

(تیر ماخذ).

مسئله : که په خپل مسجد کښی جماعت تیر شوی وو دجماعت په هیله بل مسجد ته تلل دانیك کار دي خو مسجد حرام ، مسجد نبوی اومسجد اقصی په خپله غوره دي ورځخه تلل غوره نه دي .

(کبیری ۵۷۹).

مسئله : که بل مسجدته دجماعت لپاره ځوك لاړ شی هلته هم جماعت تیر شوی وو بیاخپل مسجدافضل دي .

مسئله : که مؤذن اذان وکړ بل ځوك جماعت ته نه راغلل ، مؤذن دي دجماعت لپاره بل مسجد ته نه ځی یوازی دي همدلته لمونځ وکړي .

(کبیری).

مسئله : که اذان وشو ، امام نه راغی یو کلیوال دي امامت وکړي بل مسجد ته دي خلگ نه ځي

(کبیری).

مسئله : که تکبیر اولی (لومړی تکبیر) یا یو دوه رکعته تیر وو اوپه بل مسجد کښی دجماعت دنیولو هیله وه ، تلل جواز نلری ،که په خپل مسجد کښی دجماعت یوه برخه هم ونیسی بهتر دي .

(کبیری).

مسئله : که دچا دخپل کلی دمسجد امام زانی یا سود خور وو ، خپل مسجد پریښودلای او بل ته تری تلای شی که همداسی بل ناخوښه فعل یاعادت یي امام درلود تلای شي . (کبیری ۵۷۹).

مسئله : له هرډول بدبویی څخه دمسجد ساتل واجب دي . (کبیری).

مسئله : که غیر مقلدو خلګو دفساد ، دمخنیوی په خاطر بل مسجد ودان کړ دهغه رنګول صحیح نه دي ځکه هغه دضرار دمسجد حکم نلري خو که مقصد ورڅخه بیلولای اوفساد وو نو هغه دمسجد ضرار حکم لري . (فتاوی عبدالحی ج۲ ص ۱۵۹).

مسئله : که چا نشې شیان وڅکول ، نشه نه وو اومسجد ته لاړ دامنع دي له مسجد څخه ایستل یي صحیح دي . (فتاوی عبدالحی ج۲ ص ۱۷۲).

مسئله : له سفر څخه دراتلو په وخت کښی دي مسافر مسجد ته ځی دوه رکعته لمونځ دي کوي . (کبیری ۴۱۰).

مسئله : دمسجد بانی دترمیم ، تعمیر ، دری ، ګروپونو ، اذان،اقامت او امامت تر نورو حقدار دي بیا یي اولاد اوبیا یي کورنی .. (کبیری ۵۷۱).

مسئله : بانی همداحق له صلاحیت سره لری که یی اهلیت نه درلود حقدار نه دي . (عالمګیری ۷۰-۱)

مسئله : دمسجد په دیوال اوبام تمیم جائز دي خو بي ادبي ده . (عالمګیری ج ۳ ص ۱۳۴)

مسئله : زکوة مال په مسجد کښی لګول صحیح نه دي . (عالمګیری ج ۳ ص ۲۴۳)

مسئله : دمسجد هیڅ برخه دي نه دعاید ذریعه جوړیږی اونه

مسئله : كه څوك په مزدورى ليكنه كوى ، په مسجد كښى ورته مكروه ده ،دځان لپاره يا پرته له مزدورى جواز لري . (عالمگيرى ٧٠-١).

مسئله :دمسجد په ديوالونو اومحراب باندى دقرآنى ايتونو ليكل تنزيهى مكروه دي ځكه دمسجد دديوال دلويدلو په صورت كښى داهانت احتمال وي . (عالمگيرى ٧٠-١).

همداشان دمسجد په دروازه دكاغذ دټوټو ليكل يا سرښول مكروه دي . (پورتنى ماخذ)

مسئله :دمسجد دسامان داينبودلو لپاره دمسجد ترڅنگ حجره جوړول جائز دي . (عالمگيرى ٧٠-١).

مسئله :كوم ښوونكى كه په مزدورى باندي ماشومانو ته زده كړى كوي دتودوخى يا بلي مجبوري له امله كه په مسجد كښى كښينى مكروه نه ده (عالمگيري) خو ځينى خلگ يي دكاتب په څير كښيناستل مكروه گڼي . (عالمگيرى).


مسئله :په مسجد كښى له لمونځ كولو سره سره دنورو دينى كارونو لپاره كښيناستل جائز دي خو له همدي امله كه څه شى ورك شى دتاوان ضامن دي . (عالمگيرى).

مسئله :په مسجد كښى يوځاى ځان ته ځانگړى كول مكروه دي . (رد المحتار ٢٢٠-١).

مسئله :كه په مسجد كښى كوم لمونځ كوونكى كښيناست پرته له شرعى ضرورته يي ولاړول جائز نه دي خو كه عامولمونځ كوونكو ته ورڅخه تكليف وو بيا يي ولاړول روا دي . (عالمگيري).

مسئله :نن سبا له پاكو بوټونو سره مسجد ته ننوتل هم بي ادبي ده . (عالمگيرى)





مسئله: په مسجد کښې دنیائې خبرې کول نیکې داسې خوري لکه اور چې لرګي خوري.
(کشاف ۱-۳۸۷).

مسئله: ددنیادخبرو لپاره په مسجد کښې کښیناستل جائز نه دي.
(عالمګیری ۵-۳۶۵).

مسئله: څوك چې له مسجد څخه په غلا کولو روږد وي . هغه ته سزا ورکول ضروري ده. او تر هغه دي بندي کړای شي ترڅو توبه وباسي.
(عالمګیری ۷-۱۰۷).

په مسجد کښې دجنازې دلمانځه لپاره ځای بیلول

مسئله: کومه برخه چې له اوله لامسجد وي هلته دوهم جماعت او دجنازې لمونځ مکروه دي که يي وروسته يوه برخه اضافه کړي ، که هغه دمسجد په نیت اضافه شوی وي دمسجد احکام وربانډی جاری کیږي یعنی دناولی سړي ورتګ منع اودوهم جماعت مکروه دي ، که دمسجد په نیت نه وي اضافه شوي بلکه ددي لپاره اضافه شوی وي چې هلته کښینني ، ماشومان زده کړه وکړي یا دجماعت زیات خلګ هلته ودریږي دابرخه مسجد نه دي دمسجد احکام وربانډی نه جاری کیږي هلته ناولی کسان ورتلای شي دوهم جماعت کولای شي ، دجنازې لمونځ پکښې کیدلای شي ددې برخې مقصد له وقف کوونکي یابانی څخه معلومیدلای شي.

(فتاوی محمودیه ۲-۴۷۱).

په مسجد کښې د قبرونو داخلول

مسئله:دقبرونو ځمکه مملوك وي ياوقف ، قبرونه زاړه وي يا نوي چې مړي بالکل خاوری شوي دی که ځمکه دچاملکيت وي قبرونه زاړه وي دمالك په اجازه هغه په مسجد کښې شامليدلای شی که قبرونه دومره زاړه نه وو خوچې مړی خاوری شوی وي بيا يي په مسجد کښې داخلول صحيح نه دي ځکه دقبرونو او مړيو سپکاوی وي اودمړی لورته سجده کيږی ، که ځمکه وقف وي اوقبرونه خورا زاړه نه وي بيا يي هم داخلول ناروا دي که قبرونه خورا زاړه وي مړی خاوری شوی وي بيا دي هم هلته مړی نه خښيږی خوپه مسجد کښې شامليدلای شي .


(فتاوی محموديه۱-۴۸۹ ،رحيميه۴-۸۴-۲).

مسئله :کومه ځمکه چې پکښې قبرونه وي هغه دچا ملکيت وي دمالك په اجازه هغه هواريدلای اوځمکه په مسجد کښې شامليدلای شي اودقبرونو تيږی هم دمالك په اجازه دمسجد په ودانۍ کښې بيا استعماليدلای شي خو داپه دي شرط چې قبرونه زاړه او مړی خاوری شوی وي : که هغه ځمکه دقبرونو لپاره وقف وي نو بيا يي په مسجد کښې شاملول صحيح نه دي .

(فتاوی محموديه ج۱۰ ص ۱۷۳).

مسئله :دمسجد په انګړ کښې مسجد ته په وقف شوی ځمکه کښې دمړی خښول صحيح نه دي ، ځکه هغه ځمکه دمسجد لپاره وقف شوی ده دمسجد له بنيګڼی پرته دبل څه تصرف پکښې جواز نلري .

(فتاوی رحيميه ج۲ ص ۹۳ ،کفايت المفتی ۸-۱۰۸-۳).



دمسجد په پیسو دهدیري لپاره ځمکه اخستل

پوښتنه : که څوك دمسجد په پیسو مسجد ته نژدي ځمکه دهدیری لپاره واخلی جواز نلري ؟

ځواب : داپیسې خو مسلمانانو دمسجد لپاره مرسته کړی ده چاته په مفو روپو دهدیری لپاره دځمکی اخستلوحق نشته

(فتاوی محمودیه ج۱۲ ص ۲۵۷).

دمسجد په چاپیریال کښی تر مسجد لوړ کورونه جوړول

پوښتنه : دمسجد دقبلی لورته ترمسجد لوړ کور جوړیدلاي شي ؟

ځواب : دمسجدخواوشا کښی ترمسجد لوړی ودانۍ جوړیدلای شي ، دادمسجدبی احترامی نه ده .

(فتاوی رحیمیه ج۱۰ ص۲۴۱).

دمسجد په احاطه کښي دهدیري په ځمکه دامام لپاره خونه جوړول

پوښتنه : دمسجد په انګړ کښی زړه هدیره ده نژدي دیرش کاله څوك پکښی خښ شوی نه دي ، که دهمدي هدیری په ځمکه کښی دمسجد دامام لپاره خونه جوړه شی جواز لري ؟

ځواب : دمسجد په انګړ کښی دهدیری توته وقف ده دچاملکیت نه ده ،هلته دامام لپاره خونه ، دبولوځای ، داودس کولو دځای جوړول جواز نلری ، دهغوی جوړوونکی اوهستوګنی سخت په ګناه اخته کیږي .

(فتاوی رحیمیه ص ۲۴۸ ج۱۰).

زړه هديره په مسجد بدلول

مسئله: که هغه ځمکه مملوکه وي ، هديره زړه وي ، مړي خاوري شوي وي ، قبرونه هموارول هلته مسجد ، مدرسه ، دوکانونه جوړول جائز دي.

کله چې مړي خاوري شي دقبر احکام بدليږي خو که مړي خاوره شوي نه وي هلته قبرهموارول مسجد يابل شي جوړول جائز نه دي په داسې حال کښې دقبر احترام ضرور دي او له قبر سره لمونځ کول جواز نلري ، له هغه سره نژدې له لمونځ کولو سره احتياط په کار دي په ځينو صورتونو کښې کراهت زيات وي .

که هغه زړه هديره وقف وي ،مړي پکښې نه ښخيږي ، بل هديره وي دااحتمال وي چې خلګ به يې قبضه کړي يا بيکار پاته کيږي اودمسجد اړتيا وي که دمسلمانانو ورباندې مشوره راغله مسجد جوړولورباندې جواز لري .

(فتاوی محموديه ۱۹۸-۲دتبيين الحقايق ۲۴۲ ج۱په حواله).

مسئله: که دلمونځ کوونکي دقبلې لورته قبر نه وو لمونځ کول يې پرته له کراهته جائز دي .

(فتاوی دارالعلوم ۱۴۹-۴ ددرمختار ۳۵۳-۱ په حواله).

دمسجدو راسته فرشونه په قبر کښې ايښودل

په قبر کښې تر مړي لاندي ، فرش غوړول مکروه دي ، که مسجد ته نوی فرشونه (دری ، شطرنجی) راوړی ، زاړه خراب شوی وي ، داصل مالك اختيار دي چې څه يې کوی ، که دمسجد په پيسو اخستل شوی وو دمسجد په ګټه دي استعمال کړی يا دي خرڅ کړی پيسی دي په مسجد ولګوي.

(فتاوی محمودیه ۱۴ ـ ۲۸۵).

دهدیري دخالي ځمکي عاید په مسجد لګول

پوښتنه : که دهدیری ځمکه ډیره وه او خالي ځمکه يي چا وکرله آیا حاصل يي مسجد ته ورکولای شي؟

ځواب : که هغه وخت چې دا ځمکه هدیری ته وقف کیدله دا اجازه ورکړل شوی وه چې دزیاتی ځمکی حاصل دي مسجد ته ورکړل شی اجازه ده که يي داسی اجازه نه وه ورکړی بیا دي حاصل دهدیری په بنیګنو مصرف کړی که هدیری ورته اړتیا نه درلوده ، بله هدیره هم نه وه چې څه کمبود ولری بیا دي په مشوره مسجد ته ورکړی خو دا خیال ساتل په کار دي چې دهدیری دازیاته ځمکه په کرلو سره دچاقبضه او ملکیت نشي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۱۲).

په زاړه مسجد کښي دمړي خښول

مسئله :که یو مسجد اوس وران شوی وو ، لمونځ پکښي نه کیده . بیا هم دهغه مسجد والي ختم نه دي. نو مړی پکښی خښول جواز نلري ځکه داکار دبانی اووقف کوونکی دمقصد خلاف اودمسجدادب ضد کار دي خو که څوك خبر نه وو په مسجد کښی يي مړی خښ کړ دهغه مړی بیرته کښل نشته ځکه دمړی توهین کیږی ،په مسجد کښی اوس لمونځ نه کیږی نو دخوندي ساتلو دپاره دي دبل مړی خښولو ته اجازه نه ورکوله کیږی که لمونځ پکښی کیږی ، قبر دي هموار کړی ، لمونځ پکښی جواز لری ،که يي ځمکه نه تنګوله څه موده دي پاته وي ترڅو خاوری شی خو دلمانځه په وخت کښی چې دمخ لورته نه وي .

(فتاوی محمودیه ۱۷۲-۲ ددرمختار ۲۰۲-۱ په حواله).

مسئله :که دمسجد قبلي لورته خو دديوال بل طرف ته قبر وو ، لمونځ مکروه نه دي ځکه ديوال حايل دي .

(فتاوی دارالعلوم ۴-۱۰۷ دغنیه ۳۵۰ په حواله).

دمسجددننه مړی ښخول

مسئله :چې يو ځلي يو ځای مسجد وبلل شو ، بيا په هغه کښې هيڅ ډول تصرف جواز نلري داچې دجنازې لمونځ دي له مسجد څخه بهر کيږي نو هلته به دمړی ښخول څرنګه جواز ولري په هيڅ صورت دمسجد دننه دمړی ښخول جواز نلري .

(نظام الفتاوی ۴-۳۰۴-۱ ،شامی ۳۷۲-۱ په حواله)

دالهي دربار اداب

تراوسه چې دخدای ﷻ دکور (مسجد) په هکله څه وويل شول ، داخبره څرګنده شوه چې ددربار خصوصيات بالکل نور دي ، دځانګړتيا نښې يي خورا لوړی دي ،مسجد دخدای ﷻ دکور په صفت لوړ حيثيت اوشان لري له همدی امله يي اداب هم خورا درانه او لوړ دي اودهغوی په ځای کول هم خورا ضروري دي .

ددنيا دمعمولي دربارونو حال تاسی ته معلوم دي چې هر يو ځانته ، ځانته اداب او مقررات لري هرڅوك چې هلته ورځي هغه به ترسره کوي دپاچا اودهغه داميرانو داجلاس قوانين چې يوځل تثبيت شي ،تخلف ورڅخه دجزائيت وي ددنياى اميرانو دجلسو اداب چې تل مو ورسره سروکار وي په نظر کښې ولرو اوبيا فکر وکړو چې دهغه دربار به څه حال وي چې دانسانانو دربار نه دي بلکې هغه دانسانانو دخالق اومالك کور دي هغه داحکم الحاکمين مخامخ دربار دي اوهغه زموږ دسجدي کولو لپاره ځانګړی شوی دي .

په قران كريم كښې ددي كور يادونه په غټ عنوان شوى ده دلوړوالى او سپيځلتيا ستاينه يې شوى ده دپاك ساتلو په وار وار تاكيد يې شوى دي دهغه دادابودساتلو لور ته اشارى شوى دي رسول الله ﷺ يې يو يو بيان په خورا تفصيل سره كړى دي دهغه داحكامو په خلاف ورزى يې وعيد ويلى دي .

په مسجد كښې حضور ، دالهي رحمت ذريعه ده

رسول الله ﷺ وفرمايل : اوه كسه به داخرت په ورځ دهغه (رحمت) په سيورى كښې چې بل سيورى به نه وي ، ناست وي په هغوى كښې به يو شخص هغه څوك وي چې له مسجد څخه ووزى تربيا راتلو يې دزړه ميلان دمسجد لورته وي » .

په يوه حديث شريف كښې راځى « څوك چې مسجد ته ننوت ، هغه دالله ﷻ په پناه (ساتنه) كښې وي ، الله ﷻ يې له زيان اونقصان څخه ساتى) .

په يوه روايت كښې راځى رسول الله ﷺ وفرمايل (څوك چې ونيئ له مسجد سره مينه لرى اودهغه خدمت كوى دهغه په مؤمن والى بشارت وركړى » مشكوة باب المساجد » .

په حديث كښې د « تعاهد » لفظ راغلى دي چې معنى يې دمسجد ساتنه اوخبراخستل دهغه ساتنه ترميم ، پاكول ، لمونځ كول ، په عبادت پكښې مشغوليدل ، ذكر كول په دينې زده كړه مشغول كيدل دي .

(فتاوى عبدالحى ج ۳ ص ۴۱)

رسول الله ﷺ دلمونځ كوونكو په هكله وفرمايل :دوى دخداى ﷻ په رحمت كښې غوټه وهونكى دي » .

په بل حديث كښې راځى چې (هغوى فى سبيل الله مجاهدين دي) .

(كنز العمال ۱۱۰-۳) .

رسول الله ﷺ هغو خلګو ته چې په تیاره کښې مسجد ته ځی په بشپړ نور سره زیرې ورکړ «بشر المشائین فی الظلم الی المساجد بالنور التام یوم القیامة»

رواه الترمذی

مسجد ته نژدېوالی

ددې ستر کور داحال دی چې ګاونډی یې هم له فیض اوبرکت څخه بې برخې نه دي ، درحمت نزول چې وشی ، په هغه هم توېږی اوله هغه څخه به یې درجه څومره لوړېږی نبوی ارشاد دی «فضل الدار القریبة من المسجد علی کفضل الغازی علی القاعد» کنز العمال ج۴ ص ۱۳۸) .

(کوم کور چې مسجد ته نژدې دي .دهغه فضیلت په لیرې کور باندې دومره دی لکه دمجاهد فضیلت چې په ناست شخص دی) .

ګوری ورسره دګاونډی مرتبه لوړېږی ،ورته نژدې او خو اوشاخایونه په نورو څومره مخته دي او ولی به نه وي چیرې چې دالهی رحمت باران وي ، دالهی انوارو دځلیدلو ځای وي اوهغه ددنیا جنت بلل کیږی ، په یقینی توګه به یې ګاونډیانو ته یودول نه یودول ګټه رسیږي .

له دې سره سره دقدرت داانصاف ګوری چې له مسجد څخه لرې کسان یې هم ندې بې برخې کړی هغوی ته یې هم هغسې برخه ورکړې ده ، درسول الله ﷺ ارشاد دي «ان اعظم الناس اجرا فی الصلاة ابعدهم الیها ممشی فابعدهم والذی ینتظر الصلاة حتی یصلیها مع الامام اعظم اجرا من الذی یصلیها ثم ینام»

(مسلم) ۲۳۰) .

(ډیر اجر هغه چاته دی چې له لیرې راځي ، په مسجد کښې منتظر وي ترڅو په جماعت لمونځ وکړي هم دي ترهغه چې یوازې لمونځ وکړي ، بیده شي غوره دي) .

په دې حدیث شریف کښې دهغو خلګو لپاره دتسلي ځای دي چې له مسجد څخه لیرې دي او دمسجد دنژدیوالی په بدل کښې یي په لیروالی کښې ثواب ښودلی دي ددي ثواب دکثرت او زیاتوالی داحال دي چې هیڅ قدم یي له اجر څخه خالی نه دي).

مسجد ته دراتلو ثواب

دحضرت جابر ابن عبدالله ﷺ بیان دي (زموږ کور له نبوی مسجد څخه لیرې وو ما اراده وکړه چې څومره ممکن وي نبوی مسجد ته نژدي هستوګنی شم خو رسول الله ﷺ له دي ارادي څخه منع کړم او ویې فرمایل (ان لکم فی کل خطوة درجة) (په رښتیا تاسو ته په هر قدم یوه درجه ده). (مسلم باب کثرت الخطآء الی المساجد ۱۳۳۵-۱).

دجابر ﷺ بیان دي دنبوی مسجد خواکښی خالی ځای وو بنو سلمة چې له مسجد څخه لیرې هستوګن وو غوښتل یي نبوي مسجد ته نژدي واړوی او پخوانی ځای پریږدی.

داخبره رسول الله ﷺ ته ورسیدله، له هغوی څخه یي په دي هکله پوښتنه وکړه هغوی ورته مثبت ځواب ورکړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

(ما بنی سلمة دیارکم تکتب اثارکم) (تیر ماخذ).

اي بنی سلمة! خپل ځایونه مه پریږدي ستاسو پلونه (دپښو نښی) لیکل کیږی له دي حدیثونو څخه ښکاری چې رسول الله ﷺ تر غیبول ترڅو چې چیری وي هلته واوسی اوله لیری والی څخه ونه ویریږی، دالیری والی هم ثواب لری داچې مسجد ته په تلو راتلو په هر قدم نیکی لیکله کیږی نو څومره چې لیری وي هغومره یي ثواب زیات وي څوك چې اودس وکړی مسجد ته روان شی ګواکی لمونځ کوی، تردي زیات ثواب چیری دی.

رسول الله ﷺ وفرمایل: «الا بعد فالابعد من المسجد اعظم اجرا» (ابوداؤد).
(له مسجد څخه چې څومره لیرې وی او راځی هغومره زیات ثواب مومي).
یو ځل رسول الله ﷺ وفرمایل: «څوك چې پاك وي اودس وکړي دفریضې د اداء لپاره مسجد ته ځي ددې سرې یو قدم گناه پاکوي اوبل یې درجه لوړوي» (مسلم ص.۲۳۵ ج ۱).

دمسجد ته دتللو مسنونه طریقه

له کور څخه چې روانیږی اودس دې وکړی، داسنت طریقه ده پیغمبر ﷺ چې دجماعت دلمانځه دثواب دزیاتوالی بیان کوی، داپکښې څرگند دې چې اودس وکړی اوبیا په خالص نیت سره مسجد ته روان شی له ادابو سره لاړ شی نو ددرجی دلوړوالی اودگناه دمعافی بشارت شوی دي. (بخاری ج۱ ص ۲۹).
اړتیا هم داده چې الهی دربار ته له پوره تیاری سره لاړشی، جامې پاکې، بدن پاك، اودس کړی اوهلته په مناجاتو دعا خبرې اظهار وکړی.
دروانیدلو په وخت ځان ته وگوری چې یوه عظیم الشان دربار ته روان یم، هغه دربار که ددنیا جنت وبلل شی مبالغه نه ده پورته چې حدیث تیر شو پکښې دادربارونه دجنت باغونه بلل شوی دي له همدي امله له دوول حکمی او حقیقی نجاست څخه به پاك ورته حاضریږي.
په ظاهری جوړښت کی به هم خورا سمبال وي هسې چې دشریعت غوښتنه ده له خپله وسه سره سم جامې پاکې که توان وو عطر ووهل شی ترڅو دخولو او نورو بوی ورك شی اوداذیت سبب ونه گرځی، ربانی ارشاد دی «یا بنی آدم خذوا زینتکم عند کل مسجد» (اعراف ۳).
ژباړه: ای دادم اولاده. مسجد ته د تلو ...

يعنى داچى دمناجات او زاريو لپاره الهى دربار ته راځى پاكى جامى واغوندى چى په شرعى حد كښى وي چى داحكم الحاكمين دربار ته راځى ظاهرى اداب پوره مراعات كړى ترڅو دكومى بي ادبي شاييه پكښى نه وي صحيح ده چى دزړه كومى ته وكتل شى خو دزړه دصفاى اثر په جسم هم بايد ښكاره وي:
په دي كښى نشته چى له وران زړه سره ظاهرى ښكلا اوسمبالښت مطلوب نه دي خو په اوسنى زمانه كښى له دين سره دزړه له مينى سره دلباس بى پروايى كوم خوښ كار نه دي له دي ايت څخه دبدن ظاهرى سمبالتياهم معلوميږى چى هغه دمسجد داحترام لپاره يوه په زړه پورى طريقه ده دابن كثير په تفسير كښى دي چى : له دي ايت څخه داخبره جوړيږى چى دلمانځه په وخت كښى ظاهرى حالت خورا سمبال اوښكلى وي. (ابن كثير ۲۱۰-۱۲)

مسجد ته په وقار اوداډ سره راتلل

مسجد ته په ورتلو دافكر كول چى دستر عبادت لپاره ستر كور ته روان يم ،له همدي امله به يي په تگ كښى وقار او اعتدال ښكاره وي داسى رفتار اوتگ به نه كوى چى وربانـدى سپك ښكاره شى ياپه عام نظر كښى دخندا وړ وي:
داخيال ساتل ضرورى دي چى دلمانځه اراده كول دلمانځه حكم لرى نو په لاره دي له لهو ، عبثياتو ، خندا او ناروا شيانو ځان ساتى هغه څه چى دلمانځه مناسب نه دي له هغوى پرهيز كول ورته ضرورى دي په زړه كښى دمينى او ويرى اميد او خشيت حالت پيدا كول ، په څهره كه دتواضع اثار راتلل ، داهرڅه داسى چى يوازى دالله ﷻ لپاره وي (نبوى ارشاد دي).

« اذا سمعتم الاقامة فامشوا الى الصلاة وعليكم بالسكينة والوقار ولاتسرعوا» «دباب ماادركتم فصلوا» « چې اقامت واورۍ لمانځه ته په وقار سره ځی منډې مه وهی» .

« واتوها وعليكم السكينة فما ادركتم فصلوا ومافاتكم فاتموا فان احدكم اذا كان يعمدالى الصلاة فهو فى الصلاة»

(مسلم باب استحباب اتيان الصلاة).

« لمانځه ته په وقار سره ځی ، کوم چې مو ونيو ويې کړی چې پاته شو پوره يې کړی که له تاسو کوم يوه دلمانځه اراده وکړه نو هغه په لمانځه کښې دی» .

مسجد ته پياده راتلل

مسجد ته تلل پياده دي که کوم شرعی عذر نه وو نو سپور راتلل ښه نه دي ترڅو په هر قدم کښې ورته اجر وي او وليکل شی هغه چې پورته يې يادونه وشوه درسول الله ﷺ له ارشاداتو داسی ښکاری چې مسجد ته پياده راتلل دګناهونو کفاره ده .

مسجد ته لوړي ښې پښه دننه کول

په لاره دافکر کول ضرور دي چې خورا ستر دربار ته ننوزم ، دپخوانيو علماوو اوصوفيانو داسی پيښې زما نظر ته راځی چې هغوی به مسجد ته ننوتل رنګ به يې ليده او څهره کښې به يې يو بيل کيفيت ښکاره کيده

په هر حال کله چې مسجد ته ننوزی لوړي دي ښی پښه ږدي بيا چپه ، خو دوتلو په وخت ددې په خلاف لوړي کينه اوبيا ښی پښه بهر شی

خوبوتونه یا بل څه پښو کول لومړی په ښی پښه وي چی دامسنونه طریقه ده.

انس ﷺ وایي: سنت دادي چی کله مسجد ته ننوزی لومړی ښی پښه دننه شی او چی بهر تری وزی لومړی کینه پښه بهر کړی.

(فتح الباری ۳۵۳-۱).

صحابه وو ﷺ همداسی عمل کړی دي اوادب تقاضا هم داده چی ښی لورته په کیڼ لور فضیلت دي دښی پښی په دننه کولو سره دادعا ویله کیږی «اللهم افتح لی ابواب رحتمک» (ای الله موږ ته ستا درحمت دروازه پرانیزه).

کله چي بیا بهر وتل، کینه پښه بهر کړی او دادعا ویله کیږی «اللهم انی اسئلک من فضلک» (ای الله موږ له تاسو څخه ستا فضل غواړو).

مسجد تـه پـه ننوتلو کـه خلـګ وو سلام اچـول کیـږی او کـه څوک نـه وو داسی ویل کیږی!

((السلام علینا من ربنا وعلی عبادالله الصالحین)) « داسلام دمسجدونو نظام ،ددیوبند دمفتی محمد ظفیر الدین لیکنه).

دالهی دربار پاک ساتل

انسان طبعا پـاکی خوښوی ، هرڅوک پـوهیږی چی څومره پـاك واوسي کور یي پاك اوهر څۀ پکښی سنبال وي

له همدي امله پـه دي خبره سـړی پوهیـدلای شـي ، داالهـی دربـار چی مسجد دي پاك ساتل څومره ضرور دي څکه داهغه ځای دي چی دخدای ﷻ په نزد محترم دي اوهلته هم د هغه الله ﷻ عبادت کیږی ،هلته په پاکی سره راتول شي اندامونـه یـي پریمنځلي وي چي دناولتیا ، ګرد اوغبـار

په قران کریم کښي دپاکي ثبوت

داخبره ضروری ده چی په پاکوالی کښی دنورو امورو په څیر اعتدال ساتل ضروری دي ایت کریم دي ((وعهدنا الی ابراهیم واسمعیل ان طهرا بیتی للطایفین والعاکفین والرکع السجود))بقرة ۱۲۵).

(له ابراهیم او اسماعیل څخه موعهد واخست چی زما کور دطواف کوونکو ، اعتکاف کوونکو رکوع کوونکو او سجده کوونکو لپاره پاك وساتی).

که څه هم ددي آیت شان نزول خاص دي خو داحکامو په باب کښی یي حکم عام دي مفسرین ددي آیت دتفسیر په ترڅ کښی لیکی چی دمسجد پاك ساتل ضروری دي ظاهری ، باطنی ، اعتقادی ، معنوی اوپه هراعتبار یي پاکی بشپړه وي نه پکښی نجاست اوبتان وي اونه پکښی عصیان اوطغیان.

داچی دخدای دکور دپاکی حکم الله ﷻ جلیل القدر انبیاوو ته کوی له همدی څخه دمسجدونو عظمت اوشان ښکاره دي اوپاك ساتل یي ضرور.

دمسجد دپاک ساتلو فضایل

دمسجد دپاك ساتلو فضایل په حدیثونو کښی بی شمیره دي دلته به څو احادیث رانقل کړو چی ددي خبری دثبوت لپاره بس دي.

رسول الله ﷺ وفرمایل: ((عرضت علی اجور امتی حتی القذاة یخرجهاالرجل من المسجد)) (مشکوة عن الترمذی وابی داؤد ۲۹-۱).

((راته دامت اجرونه وړاندی شول حتی هغه ذره چی څوك یي له مسجد څخه وباسی).

ځوك چي په عربي پوهيږي ، ورته معلوميږي چي د قذاة په لفظ كښي

څومره فصاحت او بلاغت دي قذاه هغي خاشې ته ويل كيږي چي په

سترګه كښي لويږي دا چي له هغي خاشې ځوك په تكليف كيږي هر ځوك

پوهيږي د هغي د ژر ايستلو هڅه يي خورا ژر كوي ، د دي لفظ راوړل دي

ته اشاره ده چي په مسجد كښي كمه ناپاكي داسي مضره ده لكه په

سترګه كښي خاشه چي ژر بايد ليري شي او بل دا چي معمولي ناپاكي هم

بايد په مسجد كښي نه وي .

رسول الله ﷺ او دمسجد خدمت

د رسول الله ﷺ خادم ، انس رضي الله عنه وايي « رسول الله ﷺ وليدل چي په مسجد

كښي د قبلې لور ته چا بلغم توكړى وو خورا په تكليف شو دناخوښى

نښي يي په څهره كښي ښكاره شوى په خپله ولاړ شو په خپل مبارك لاس

يي هغه پاك كړل بيا يي صحابهٔ وو ته وويل : « خلګو اپه تاسو كښي چي

ځوك په لمانځه ولاړ وي ګواكي له الله ﷻ سره پټي خبري كوي ، د هغه

او قبلې تر منځ د الله ﷻ رحمت او رضا ښكاره كيږي نو له همدي امله

وړاندي مه توكوى كه ورته مجبور شوى كيڼ لورته يي توكړى يا يي

تر پښو لاندي توكاني ،بيا يي د څادر يو څنډه راواخستله ناړى يي پري

پاكي كړى او سره ويي مروړه ويي ويل داسي وكړى .

(بخاري ۱- ۵۸)

په مسجد کښې ناړي توکول ګناه ده

په یوه بل روایت کښې داالفاظ راغلی دي (البزاق خطیئة وکفارتها دفنها) (بخاری ۵۹-۱) (ناړي توکول ګناه ده کفاره يې پټول (تر خاورو لاندي کول دي) .

معنی داچې په مسجد کښې ناړی توکل ګناه ده که په ناپوهی کښې چا داخطا وکړه نو ورته ودي ویل شی چې پټه يې کړه ، نو وي (رح) وايي په مسجد کښې دي په هیڅ صورت نه توکی بلکی ناړی توکول ګناه ده .
دقبلی دلووی احترام نسبتا زیات دي نو هغه لورته توکول زیات بد دي که داقبله دمسجد وي یا بل ځای هرځای داحترام وړ دي چیری چې څوك لمونځ کوی هلته په لمانځه کښې دقبلی لور ته ناړی توکول منع دي ((ان الله جمیل یحب الجمال)) که چالمونځ کاوو ، ناړی توکول يې ضرورت شو دجامی په څنډه دي پاکی کړی ترڅو دمسجد احترام خوندي وي اوناپاکه نشی ،بهر که څوك لمونځ کوی ، چپ لورته یا ترپښو لاندی يې دمجبوری په حال کښې تو کوی څه حرج نشته لنډه داچی په مسجد کښې توکول مناسب نه دي .

(فتح الباری ۳۴۴-۱).

له مسجد څخه ناپاکې لیرې کول

که په مسجد کښې ناړې ولیدل شوې خاوره دې پرې واچوي که غولې
پوخ وي پاك دې کړي ودې منبل شي یا دې په جامه پاکې کړای شي ،
ځکه په غولې نوره ناپاکې ورباندې زیاتیږي ، داخیال ساتل ضرور دي
چې دناپاکې اثر پاته نشي . (تیر ماخذ)

نقال په خپله فتاوا کښې لیکي : د خنبولو حکم دساده ناړو ده که بلغم
وي هغه نجاست دې په هیڅ حال دې په مسجد کښې نه پټوي ، بهر دې
باسي . (فتح الباری ۳۴۲-۱) .

ددفن (خنبولو ، پټولو) معنی عامه ده یعنی هغه دې پاکې شي چې په
ښکاره یې کوم اثر پاته نشي ، شکل یې بیخي ختم شي خوخنبول په
مسجد کښې ښه نه ښکاري دابوعبیده بن الجراح ﷺ په هکله روایت
راغلی دې چې هغه په مسجد کښې ناړې تو کړې هغه یې پاکې کړې ویې
منبلې کورته لاړ بیا ورته یا دې شوې څراغ یې راواخست بیا یې پاکې
کړي . (فتح الباری ۳۴۲-۱) .

په فتح الباری کښې له ابوذر ﷺ څخه روایت رانقل شوی دې چې رسول
الله ﷺ وفرمایل « وجدت فی مساوی اعمال امتی النخاعة تکون فی
المسجد لاتدفن » (۳۴۵-۱) . « دامت بد اعمال مې وموندل په مسجد
کښې ناړې تو کول هم پکښې وو پاکې شوې نه وي » .

له دې حدیث شریف څخه دامعلومیږي چې په مسجد کښې دناپاکې
اچولو گناه داعمالو انه کښې ثبتیږي اودقیامت په ورځ هغه هم په
حساب کښې راځو ـ مر مسلمان ته ښایي په مسجد کښې داسې خاشه
وانه چوي چې دن لتیا گمان پرې کیږي که دغسلي څه ووینی ژر دې

پاك كړئ، دامام يوه ځانګړتيا داده چې دمسجد دپاك ساتلو څارنه وكړي ،رسول الله ﷺ په خپله داڅارنه كړې ده. (فتح الباري ۳۴۶-۱).

دمسجد دناولي كوونكي سزا

حضرت سائب بن فدارد ﷜ وايي ((يوه سړي دقوم امامت كاوو دقبلې لور ته يې ناړې تو كړې رسول الله ﷺ په خپله وليد ، ددې څه په ليدلو خورا په تكليف شو او ويې ويل داسړى دې امامت نه كوي خلګو ورته بيا امامت ورنكړ هغه درسول الله ﷺ حضور ته ورغى اوخپل اوريدلې يې ورته بيان كړې رسول الله ﷺ هغه خبرى واوريدلې او ويې وفرمايل : ((هودا سمه ده ماهغوى منع كړل ځكه تا په مسجد كښې ناړې تو (تُف) كړې خداى اورسول ته دې اذيت ورساوو .


(مشكوة شريف باب المساجد).

له دې پيښې څخه اندازه لګيږي چې دمسجد بې احترامي څۀ معمولي جرم نه دې داهغه لوى جرم دې چې خداى او رسول ته يې اذيت رسيږي او په دې جرم كه څوك له خپلې دندې څخه معزول شي په ځاى كار دې بلكې هغه ددې وړ دې چې ددې جرم سزا ووينى .

درسول الله ﷺ په نظر جارو كوونكى

له يوه لورى دمسجد دناولي كولو سخته سزا پورته يا ده شوه له بلې خوا يې دپاكولو معاوضه په اخرت كښې خورا ستره وښودله شوه .

ابوهريرة ﷜ بيان كوي يوه تور پوستى شخص مسـ جارو كاوو ،هغه وفات شو رسول الله ﷺ ته چا دهغې دمړينې خبر ور سول الله ﷺ چې بله ورځ هغه ونه ليد پوښتنه يې وكړه خلګو وويل هغه فات شو رسول الله ﷺ وويل زه مو ولې خبر نكړم ؟ بيا وفرمايل قبر يې راوښياست ، رسول الله ﷺ يې قبر ته ورغى او دمغفرت دعا يې ورته وكړه راوي په دې



هکله شك ښکاره کړي چي هغه کس سړی وو که ميرمن خو درواياتونو پلټنه ښيي چي هغه ميرمن وه او نوم يي ام محجن وه.

(فتح الباري۱-۳۷۱).

خلگو دومره پوهيدل چي رسول الله ﷺ ديو معمولي شخص لپاره دومره تکليف وکړ خو درسول الله ﷺ په نظر دهغه حيثيت ځکه ستر وو چي دمسجد دخدمت شرف ورته حاصل وو.

دمسجد خدمت دايمان نښه ده

له ابو سعيد خدری ﷺ روايت کوی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ((کله چي مو ځوك وليد چي دمسجد خدمت کوی شاهدی ورکړی چي هغه مؤمن دي))

[اذا رايتم الرجل يتعاهد المسجد فا شهدوا له بالايمان] (مشکوة ۶۹-۱)

(تعاهد په ډيرو معناوو کښي يوه جارو کول دي.

عمر ﷺ به د دوشنبه او پنجشنبه په ورځو کښي دقبا مسجدته ورته يوه ورځ يي وليدل چي مسجد جارو شوی نه وو. په خپله يي دخرما دوی ځانگه راواخيستی او مسجدي جارو کړ، بيايي خلگو ته په تاکيد سره وويل چي دمسجد دعنکبوت له تارونو اونورو شيانو پاك ساتي.

يو ځلی يي وويل((دادمسجد له هرډول ناولو څخه پاك ساتي ځکه دالله ﷻ ذکر او قرانکريم پکښي تلاوت کيږی))

دمسجد دصفاکولو بدله

په پای کښې همدا حدیث شریف چې دمسجد دخادم اجر څومره ستر پکښې ښودل شوی دی [من اخرج اذی من المسجد بنی الله له بیتا في الجنة] (ابن ماجه باب تطهیر المساجد)

ژباړه: (څوك چې دمسجد څخه مضر (ناولی) توکی لری کړی الله ﷻ به ورته په جنت کښې کور جوړ کړي)

ددی حدیث په لوستو دهر مسلمان په زړه کښېدمسجد دخدمت او پاکولو جذبه پیداکیږي چې په داسې معمولی خدمت ورته څومره ستر اجر ورکول کیږي.

ددی تفصیل پایله داده مسجد چې الهی دربار دی دهر ډول ناولتیا خش او خاشاك ناوړو بلغمو اوهر هغه شی چې په شریعت کښې ناولی ښودل شوی دی اوهر شی چې تکلیف رسوی پاك ساتل ضروری دی څوك چې داخدمت کوی اللهﷻ ورته لوی اجر ورکړي داهم ښکاره دی چې داخدمت دذلت سبب نه دی بلکه دعزت او داللهﷻ درضا سبب دی داهغه ستر خدمت دی چې رسول اللهﷺ په خپله اولويو صحابه وو کړی دی

داذیت رسولو په ډله کښې دتنا و کښې (عنکبوت) تارونه هم دی چې انسان ورڅخه طبعا په تکلیف کیږي په دی هکله دعمرﷺ وینا تیره شوه چې دمسجد قبا په هکله یې ویلی وو چې له همدی تارونو یې پاك ساتی داچې باداېستل هم بدبوي لری اواذیت دی علماوو په مسجد کښې دباد ایستل تحریمی مکروه بللی دی البته معتکف معذور دی خو ځان ساتل ورڅخه په هر حال غوره دی

په یوه حدیث شریف کښې راځي چې ملائکی لمونځ کونکوته تر هغه وخته دعاکوی ترڅو بی اودسه نه شي. (مسلم شریف مخ ۲۳۴)



خوش بوي تيتول

يوازې داخبره نه ده چې مسجد له بدبويي اوناولو شيانو څخه ساتل ضروري دي بلکه دتطهير اوتنظيف سره سره تطييب هم مطلوب دي دیوه حديث يوه ټوټه ده:

(اتخذوا على ابوابها المطاهر وجمروهافي الجُمع) (ابن ماجه ۵۵-۱)

ژباړه: (ددوی(مسجدونو)په دروازو کښې داودس کولو ځايونه جوړ کړی اودجمعې په ورځو کښې يي دننه خوشبويي ولګوی)

دادرسول الله ﷺ امر دی چې په مسجدونو کښې داودس ځايونه جوړ اوخوشبوی ولګوی عمر ﷺ به دهری جمعې په ورځ غرمه دمسجددننه خوشبوی تيتوله ورسره يي داامر وکړ چې دهر ښار په مسجدونوکښې دی دجمعې په ورځې په غرمه خوشبوی لګيږی.

حضرت عائشی رضي الله عنها په يوه روايت شوی حديث کښې راځی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

(مسجدونه جوړ کړی هغه پاك او معطر وساتی)

له دی حديثو څخه څرګنديږی چې په مسجدونوکښې خوشبويي ولګوی اودجمعې په ورځ ورباندی زيات اهتمام وکړي .

(په اسلام کښې دمسجدونو نظام له ۲۱۱تر ۲۲۱مخه پوری)

په برس باندي مسجد پاكول

پوښتنه : که مسجد دجارو په ځای په هغه برس پاك شي چې له ويښتانو څخه جوړ شوی وی پروا لری؟

ځواب : که برس دخنزير له ويښتانو څخه جوړ شوی وی هغه ناپاکه دی اومسجد ته دننه کول يې منع دی که دخنزير څخه پرته دبل کوم حيوان له ويښتانو څخه جوړ شوی وو نوناپاکه نه دی او مسجد ته دننه کول يې جواز لری که پکښې اشتباه وه پرې دی ږدی .

(فتاوی محموديه ۵۰۵-۱ دشامی ۱-۲۸۲ په حواله)

مسئله :که دبی ستری بدی نه وه ميرمن کولای شی دمسجد دپاکولو نيکمرغې ترلاسه کړي . (فتاوی رحيميه ۱۱۲-۲)

دقيامت په ورځ چې الهی ديدار پکښې ستر نعمت دی هلته چې انسانان سره راټوليږی چاچې په پابندی سره په مسجد کښې دجماعت لمونځ کړی وی ځانګړی ځاي به لري . (زاد المعاد ۱۳-۱)

وقف اوتوليت

که مسجد ته کومه ځمکه يا بل څه وقف کونکی ملکيت بالکل پکښې ختميږی نو دوقف يو شرط دادی چې لاره به يي دوقف کونکی له ملکيت څخه بيليږی ترڅو خلګوته عامه اجازه وی که تر دی اجازه وروسته يو شخص هم پکښې لمونځ وکړی هغه مسجد بلل کيږی . دبيلوالی ګټه يي داده چې همدا ملکيت خدايي ملکيت ګرځی او په يقينی توګه مسجد ته سپارل کيږي.

ځيني امامان وايي چې تروقف کولو وروسته دوقف قبضه هغه وخت ثابتيږی چې دجماعت لمونځ پکښې وشي ځکه له مسجد څخه مقصد جماعت دی په انفرادی ډول خو هر ځای لمونځ کيدلای شي لکه اذان او

اقامت څخه چې جماعت مقصد دی نو که یو سړی لمونځ وکړي خو له اذان او اقامت سره هم دقبضې لپاره کافي دی

تولیت: دتولیت (سرپرستي) په مسئله کښې وقف کونکي ته دااختیار دی چې له خانه سره یا په خپله کورنۍ کښې یې پریږدي او که یې بل چا ته سپاري خو که شرعي عذر ورته پیداشو بیا ترې لرې کیږي مثلا امین نه وي عاجز وي فاسق یافاجر وي چې دشرابو عادت ولري یانورې ګناوې کوي نو په دې صورت کښې یې دمسجد له تولیت څخه لرې کول ضروري دي.

کوم متولي که خائن وي قاضي یې له دندې ګوښه کولای شي که لیونی وي په خپله لیرې کیږي خو که جوړ شو بیا متولي کیدلای شي.

مسئله :که وقف کونکي داشرط کښیښودی چې تولیت به دده په اولاد کښې وي ترڅو چې په هغې کورنۍ کښې خیانت ثابت نشي یادمعزولې بل عذر پیدانشي چې معزول کوي یې وربانديروا کیږي قاضي بل څوك متولي کولای نشوای که څه عذر پیداشي بیا یې له تولیت څخه ګوښه کولای شي

مسئله :که دکوم وقف دتولیت لپاره څوك مشخص نه وي دهغه غوراوی دمسجد داهل حق دی هغوی دی داسې شخص غوره کړي چې په خپله یې نه غواړي څوك چې همدا دنده په خپله غواړي هغه ددندې داجر احساس نلري بلکه په فاسد نیت یې غواړي .

دغور والي حق

مسئله :دمتولی انتخاب حق دوقف کونکی دی بیا دحاکم اوقاضی دی چی څوك غوره کوی که اسلامی حکومت نه وو هلته هم که واقف چاته ورکړی وی صحیح ده اویا دی دمحلی خلگ غوره کړی.

مسئله :که متولی دوقف کوم شی خرڅ کړی یاځه شی گرو کړی داخیانت دی هغه دی معزول کړای شی یا دي یو باوري شخص ورسره په کار کښی شریك کړي. (عالمگیری باب تصرف القیم).

مسئله :څوك چی دڅووقفونو متولی وي ، که يي په يوه کښی خیانت ثابت شو له ټولو معزول کیدلای شي. (رد المحتار ۴۲۱-۳).

مسئله :که متولی ، وقف کوونکی وي یا بل څوك خو اطمنان ورباندی پاته نشی عاجز شی یا فاسق اوفاجر شی نو دتولیت له دندي څخه يي گوښه کول ضروري دي. (درمختار درد المحتار ۴۲۱-۳ په حاشیه).

مسئله :که متولی خاین وو قاضی ته جواز شته چی هغه معزول کړي. (پورتنی ماخذ).

مسئله :داسي څوك چي دتهمت لگولو په جرم کښی ورباندي حد جاري شوی وي ، بیا يي توبه کړی وي ،هغسی شخص متولی کیدل جواز لري. (تیز ماخذ).

دمتولي اوصاف

دمتولي لپاره ددي شيانو لحاظ ساتل ضروري دي :
امانت ساتونکی ، باوري اوباتقوی به وي ، خاين ، غل اومسرف دزيات خرڅ کوونکی به نه وي عقل اوبلوغ پکښې شرط دي خو داپروا نلری بنيادي که ړوند ، سړی دي اوکه ښځه ، ځکه ړوند اوښځه متولی کيدلای شي .

مسئله :متولی ته دااختيار نشته چی په خپله خوښه ، په ژوند کښې په خپل ځای بل څوك وټاکی خو که يې دکارونو اختيار ورته پريښود کولای شي .

دمتولي دندې: توليت داسی څه نه دي چی لامحدود واك ولری بلکی دهغه اختيارات دشريعت په چوکاټ کښې معلوم دي ،دندی يې بيان شوی دي چی پابندي يې ضرور ده له ورسپارل شوی خدمت څخه زيات دهغه اختيار نشته . .

مسئله :وقف کوونکی ،که ورته اجوره ټاکلی وي هغه دي اخلی اوکنه داجرت په اندازه ورته اجازه شته . (فتاوی عبدالحی ص۴۰۴)

مسئله :متولی ته اجازه ده چی دضرورت په صورت کښې دمسجد دپاکولو اوږنا کولو لپاره څوك وګماری او اجوره ورته دمعمول په څير ورکړی ، که ورته زيات ورکړی دي يې ضامن دي خوله خپله ځانه ورته زيات څه ورکولای شي .

(فتح القدير کشوري ۸۸۰-۲)

مسئله :متولی په اضافه شوی شتمنی يعنی چي له ضروري مصرف څخه وروسته پاته کيږی نوري دعوايدو منابع اخستلای شي چی وقف

شي خو دا اخستل شوی دوقف حکم نلري یعني دضرورت په وخت کښې بیرته خرڅیدلای شي.
(پورتنی ماخذ)

مسئله: که کوم کور وقف وو. که هلته چا دمتولی له اجازې پرته هستوګنه کوله دهغه اجوره ورباندې لازمه ده.
(تیر ماخذ).

مسئله: دضرورت په صورت کښې متولی خپل مال په وقف کښې لګولای شي، په دې دول چې که یې لرګی دمسجد په کار کښې ورکړي وو بیرته یې اخستلای شي.

(فتح القدیر کشوری ۸۸۰-۲)

مسئله: متولی دوقف له عوایدو څخه تیل، فرشونه یا دغولي لپاره سمټ اخستلای شي، په دې شرط چې دوقف کوونکي په اجازه کښې داخای وي، مثلا داسې اجازه شوی وي چې دمسجد په ښیګڼه یې لګولای شي خو که چا دیوه معلوم کار لپاره دوقف عاید، وقف کړی وي هغه پرته له هغه ځایه بل ځای استعمالیدلای نشي مثلا که دمسجد دودانولو لپاره وو په هغه فرش، جای نمازونه اخستل کیدلای نشي اونه ورڅخه دمسجد په رڼبانه کولو کښې ګټه اخستله کیدلای شي.
(تیر ماخذ).

مسئله: که متولی ته دوقف دلیکنې او اجازې معلومات نه وو دمخکنی مترلی په تقلید دې کارونه کوي.
(تیر ماخذ).

مسئله: تر څو زیاته اړتیا نه وي یا له متولی سره څه شی په لاس کښې وي تر هغه پورې به قرض نه کوی که یې دمجبوری له امله قرض اخست، قاضی به خبروي دهغه له اجازې پرته به قرض نه اخلي.

(فتح القدیر ۸۸۱-۲)

مسئله :که له متولی سره دوقف پیسی وي خو دوقف لپاره په خپلو پیسو څه شی واخستل دا ورته اتفاقی جواز دي چی دوقف له خزانی څخه خپلی پیسی بیرته واخلي. (تیر ماخذ).

مسئله :وقف شوی کور، متولی گرو کولای نشي، که یي په چاگرو کړ اوهغه پکښي هستوگنه غوره کړه نو مروجه کرایه به تري اخستله کیږي. (تیر ماخذ).

مسئله :که متولی دوقف له بودجی څخه دخپل ضرورت لپاره مصرف وکړ، بیا هغومره څه له خپلو پیسو دوقف په کارونو کښی خرڅی کړی یا دوقف خزانی ته ورکړی کوم ضمان وربانذی نشته. (تیرماخذ).

مسئله :دوقف پیسی وي کفارو په مسلمانانو برید وکړ یا یي له بل مصیبت سره مخامخ کړل پیسو ته اړتیا وه دامهال که مسجد ته فوری ضرورت نه وو حاکم ته جواز شته چی دوقف پیسی دقرض په ډول واخلی اوله هغه مصیبت څخه دمسلمانانو دخلاصون په لاره کښی یي ولگوي. (تیرماخذ).

مسئله :څه شی دمسجد ښیگڼی اومصلحت لپاره وقف دي له هغه څخه متولی دمسجد په دروازه کښی ظله (دسیوري لپاره بام) وربانذي جوړولای شي ترڅو دباران له زیان څخه خوندي وي خوکه دمسجد دودانولو لپاره وقف وو بیا وربانذی ظله جوړول اجازه نلری خو ظهیرالدین وایي وقف چی دمسجد تعمیر لپاره وي ظله هم دمسجد ښیگڼه اومصالح بلل کیږی او دالاصحیح ده اوجوړول یي جائز دي.
(تیرماخذ).

په اوسني وخت کښي متولي

ددي بحث تر ختمولو وړاندې په دي هکله چي متوليان په شعوري يا لاشعوري توگه په دندو کښې غفلت او کوتاهي وکوي ، څو خبري ليکم :
لومړي خو په دي خبره ځان پوهول ضروري ده چي وقف کوونکی داوقف په څه نيت کړی دي تول پوهيږي چي څوك دڅه لپاره څه شی وقف کوی دهغه سم سرته رسول غواړي ، دمسجد لپاره دڅه وقف کوونکی په يوه ژور فکر وقف کوی نيت يي هم دمسجد دښيگنو ښه سمبالتيا وي دالهی دربار صفايي ، دهغه روښانتيا ، لمونځ کوونکی پکښې اسوده او ارام دي ... داارادہ يي نه وي چي متولي هغه هسې ضائع کړی او يا يي په خپل عيش او ارام کښې ولگوی متولي دي هم داسې نه کوی چي وقف برباد کړی له همدې امله دوقف کوونکی په ليکنو کښې دمتولي په انتخاب کښې ډير قيدونه ليکل شوی وي .

دتوليت شرائط

کوم شرائط چی ليکل شوی وي دهغوی په پوره کولو متولي خپله وظيفه سرته رسوي ماداسې ليکنې ليدلی دي چي وقف کوونکی دوقف توليت (سرپرستی) په خپله کورنی کښې پري ايښې دي خو ورسره ليکلې يي دي چي که زما په کورنۍ کښې ددي کار اهل سړی نه وو برطرف دي کړای شي .
دمتولي شرايط دهر وقف په ليکنه کښې بيل بيل ليکل شوی وي په هغوی کی دعقل اوبلوغ ترځنگ ، امانتداری ، ديانتداری ، هوښيارتيا دعوايدو ذرايع ساتل ، هغوی ته وده ورکول اوپه څرگنده ليکل شوی



وي. څوک چې له دي ليکنې تخلف کوی دخدای ﷻ په لعنت دي اخته شي.

دمتولی غفلت

له دي سره سره له وقف اودهغه له اصلاح اوترقی څخه دمتولی سترګی پټول دافسوس خبره ده اوقصدا دوقف په امورو کښی کوتاهی کول له زغم څخه وتلی خبره ده عموما داحالت هرځای لږ اوډیر څرګند دي چی سره له پوره عوایدو او زیاتی شتمنی بیا هم دمسجد نظم خراب وي ناپاکی وي نه درنا انتظام ، غولی کنډ کپر وي دیوال لویدلی وی ، داودس کولو په ځای کښی اوبه نه وي ، امام اومؤذن دوخت پابندی نلری ،غضب خولاداوی چی دوقف پانی له صراحت سره ،سره دامام انتخاب دمعاش له وجهی نامعقول وي ،داسی امام راولی چی په خپله په ضروری مسائلو نه پوهیږی ،دنورو درهنما یي خو ورسره خیال نه وي.

متولی پوهیږی چیمری ، داعمالو اواخلاقو حساب به ورکوی ددندي اودکوتاهی ځواب به ورکوی دخپلی دندی دکوتاهی جرم خورا ستر دي اونیول یي هم سخت داظلم دي چی دوقف دمال نه حساب اوکتاب وي نه دمصارفو اصول او قوانین دادرك نه لګیږی چی څرنګه کار وشی چیری مصرف شی اوچیری نه ، که وقف داسی ځای مصرفیږی چی یوازی نوم اونښان پکښی مقصود وي اووقف ته پکښی کومه ګټه نه وي دانودخپلی دندي داحساس کمښت دي ، ځینی خولادوقف مال له خپل مال سره ګډ وي اوپه دي خیال وي چی داوقف دده لپاره دي.

خو یومؤمن انسان له دي بي انصافیو څخه ویریږی او ورته سپارل شوی خدمتونه په اخلاص اوښه توګه سرته رسوي هغه نو بيل متوليان دي.

وقف شوي کتابونه

په پای کښې مې يوه خبره بله را ياده شوه په ځينو مسجدونو کښې وقف شوي کتابونه هم وي دمتولي دنده ده چې هغوي وساتي خرابي ته يې ورنکړي او داهل علم دګټې اخستلو موقع ورکړي که په وقف کښې صراحت وونو زده کوونکو ته دي هم ورکړي يو تن دي دکتابونو دحفاظت او دهغوي دراکړي ورکړي لپاره وګماري .

چې دشريعت پابند نه وي ، دهغه متولي کيدل

پوښتنه : فاسق او هغه څوك چې دشريعت پابند نه وي متولي کيدلای شي ؟

ځواب : مسجد له اسلامي شعايرو څخه يو دي هغه څوك داسلامي شعايرو محافظ دشريعت پابند او زړه يې دخدای ﷻ دميني او ويری کور وي هغه يې محافظ او متولي کيدلای شي .

هغه څوك چې اسلامي شعاير نه مراعاتوي ، دشريعت پابند نه وي ، دجماعت دلمانځه پابند نه وي ،فاسق وي يعني يا دکبيره ګناه مرتکب ياپه صغيره ګناه اصرار کوونکی وي ، په شراب څښلو روږدي وي ، سود خور وي ، هغه دخدای ﷻ دکور متولي کيدلای نشي ، که فاسق اوبې دينه کس دخدای ﷻ دکور متولي مقرر کيږي ، دمسجد ، امام ، مؤذن او نورو لمونځ کوونکو توهين اوتحقير ورسره حتمي کيږي .

الله ﷻ فرمايي ((إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلاَّ اللَّهَ) سورة توبه) .

(دالله ﷻ كور (مسجدونه) هغه څوك ودانوي چې په الله ﷻ اوداخرت په ورځ ايمان لري، لمونځ كوي، زكوة ادا كوي اوپرته له الله ﷻ له چا څخه نه ويريږي).

ددي ايت شريف په تفسير كښې مولانا ابو الكلام ازاد رحمه الله ليكي:

«په دي ايت كښې داحقيقت څرګند دي چې دخداى ﷻ دعبادت ځاى، توليت متقي مسلمانانو ته رسيږي اوهغوى يې ودان ساتلاى شي.

له دي څخه داخبره معلوميږي چې فاسق اوفاجر سړى دمسجد متولي كيدلاى نشي ځكه دالله ﷻ دكور اوفاسق ترمنځ كوم مناسبت نشته بلكې متضاد دي، مسجد دخداى ﷻ دنمانځنې ځاى دي اوفاسق له دي كارڅخه كركه كوي. (ترجمان القرآن ۸۰-۲)».

دابن تيميه په فتاوا كښې راځي له دي سره چې نيك، متدين اومتقي شخص پيدا كيږي دفاسق سړى متولي كول صحيح نه دي. (۱-۱۵۰).

«په اسلام كښې دمسجدونو نظام» په كتاب كښې راځي: دخداى ﷻ دكور خدمت دي هغه څوك كوي چې دخداى ﷻ دوست وي دهغه زړه دخداى ﷻ دمينې او ويرې كور وي په ښكاره هم داسې وي چې خدا پرستي ورڅخه ښكاره وي. (۱۲۹)

په حديث شريف كښې دي: كه تولنه دكوم مهم كار لپاره داسي څوك وټاكي چې په تولنه كښې ترهغه غوره داسې څوك وي چې دخداى ﷻ رضا غواړي دخداى ﷻ داحكامو زيات پابند وي نو انتخاب كوونكو له خداى ﷻ، رسول اومسلمانانو سره خيانت كړى دى.

(ازالة الخفاء ۲۲-۲ اوفتاوى ابن تيميه ۱۰۰).

په درمختار، شامي او نورو كتابونو كښې راځي، كه په متولي كښې شرعي عذر او بدي پيدا شوه له دندي څخه دي ګوښه شي كه غير امين،

عاجز ، فاسق اوفاجر یا شراب څښل عادت شوی وو نو له تولیت څخه یې لیرې کول ضروري دي .

(په اسلام کښې دمسجدونو نظام ۲۴۲).

اومتولي دي داسې شخص غوره کیږي چې په خپله هغه دنده نه غواړي (تیر ماخذ).

لنډه خبره داده چې متولي دي داسې شخص وي چې ددي خبرو خیال پکښې ساتل شوی وي دینې زده کړه ولري ، دوقف احکام ورته معلوم وي ، امین اومتقي وي ، ژوند یې درسول الله له اسوه حسنه سره برابر وي ،خواوس یوازې شتمنې ته کتل کیږي نور که بې علمه ، بې عمله اوفاسق وو ، که دجماعت پابند نه وو خومتولي کیږي .
متولي په حقیقت کښې دخدای ﷻ نائب دي ،همداسې لوی منصب ته همداسې وړ شخص لازم دي په حدیث شریف کښې راځې چې دقیامت په علامو کښې یوه نښه داده چې لوی ،لوی کارونه به نااهله خلګو ته سپارل کیږي او دقومونو مشران به فاسقان وي .
(مشکوة ۴۷ فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۲۳۷ ،فتاوی محمودیه ۲۲۸-۱۸).

دمتولي دندې

پوښتنه : متولي ته دکومو کارونو ترسره کول ضروري دي ؟
ځواب : دمسجد دودانې اوټولو ضروریاتو انتظام کول ،حساب پاک ساتل ، په مسجد کښې بدکارونه ، نه پریښودل ، له امام اولمونځ کوونکو څخه دتکلیفونو لیرې کول دهره یوه له خپل شان سره یې برابر اکرام کول ،ځان لوړ او نور واړه نه بلل ، دنده نه غوښتل دشریعت په چوکاټ کښې خپل ځان عیارول .

کوم متولی چی داصفات لری هغه غوره دي خوکه بي کوم يونلری دحاصلولو کوشش دي وکړي

(فتاوی محمودیه ۱۸-۱۸۵ دبحر ۱۵۸-۲ په حواله).

مسئله :که دمسجد کارونه ډیر وو اوپه یوازی توګه بي ترسره کول ورته ستونزمن وو دخان نائب مقرر کولای شي. (فتاوی رحیمیه ۱۵۸-۲).

که متولی په خپله خپل نوم ثبت کړي

پوښتنه : دیوه مسجد متولی په څه ملحوظاتو بل څوك متولی وټاکه ، نوی متولی پرته له دي چی خلګو ته ووايي ، په دولتی دفترکښی يي خپل نوم درج کړ ، پنځه کاله هم په خپله دنده پاته شو آيا هغه متولی بلل کيږی ؟ داسی نوم ثبت کول يي شرعي دي ؟

ځواب : پخوانی متولی په خپله خوښه بل څوك متولی ټاکلی دي دايي غلطی کړي ده اودکليوالو دخواتوری سبب ګرځيدلی دي مسجد هم کومه جرګه ګی نه لری ، دنوی متولی له ثبت څخه پنځه کلونه هم تير شوی دي همدا يي دکار قانونيت دي خو همداسی ثبت کول او ځان نوی متولی جوړول جواز نلري.

(محمودیه ۱۸-۱۸۴).

غیر مسلم متولی کیدل

پوښتنه : که دکوم وقف اختيار مسلمان ته په ورکولو کښی دضايع کيدلو ويره وه خو غير مسلم هغه سم خوندی کولای شوای لکه اوس چی په جنوبی هند کښی همداسی غير مسلم متوليان شته اوهندوان دمسجدونو متوليان دي ، شرعا يي حکم څرنګه دي ؟

ځواب : دادافسوس خبره ده چی مسلمانان دومره بي صلاحيته شی چی دعبادت ځای تصرف ير لا دغير مسلم په واك کښي وي هغه غير مسلم

چې دې عبادت ځاى ته هيڅ قابل نه دي خو که دوقف دتحفظ او دنظام دخوندى کولو يوازينى لاره همداوه بيا دي وزغمل شي .

(فتاوى محموديه ۳۰۳-۱۵)

لمونځ نه کوونکى متولي کيدل

پوښتنه : که متولي لمونځ نه کاوو ، دهغه متولي پاته کيدل جواز لري ؟

ځواب : دمتولي اصل خدمت ، دمسجد انتظام او اهتمام دي ، مهارت بې ضروري دي خو له متولي کيدلو سره تدين او امانت دارى لازم دي ځوك چې لمونځ نه کوى هغه تاريك دفرايضو اوفاسق دي اودفاسق متولي کول جواز نلري .

(فتاوى محموديه ۴۵۲-۲ عالمگيرى ۹۹۲-۲ په حواله).

مسئله :بې لمانځه سرى دمسجد په جرگه گى کښي مشر کول يا غړيتوب ورکول ناجائز دي .

(آپ کى مسايل ۱۴۱-۳)

ايا متولي به دوقف کوونکى له کورنۍ څخه وي

پوښتنه : کومې کورنۍ چې مسجد جوړ کړى وي آيا دالازمه ده چې متولي به تل له هغې کورنۍ څخه وي که څه هم دوقف په ليك پانه کښې داسي کومه لارښوونه ، نه وي .

ځواب : که وقف کوونکى ځوك متولي کړى نه وو او اوسنى متولي وقف په صحيح ډول سمبال کولاى نه شواى نودحل اوعقد څښتنان کولاى شي دحاکم په واسطه دامتولي معزول اوبل متدين شخص متولي کړي .

(فتاوى محموديه ۱۸۰-۲)

مسئله :که واقف څوك متولی کړی وو اوهغه هم په دیانت سره وقف څوندی کولای شوای ،هغه اهل دي

(فتاوی محمودیه ۳۱۷-۱۵).

مسئله :دوقف دصحت لپاره ثبت اولیك ضرور نه دي ژبنی خبره بالکل سمه ده په هم دي صورت کښې په هغه مسجد کښې لمونځ صحیح دي .

مسئله : که وقف کوونکی په لیك پانه کښې یابې لیکنې څوك متولی کړی نه وو نو دمحلي یو متدین مشر دي دمسجد عواید په مسجد اودهغه په ښیگڼولگوی او دهغه محافظ دي وي.

(فتاوی محمودیه ۱۵۸-۲).

مسئله :ترڅو چی دمسجد جوړوونکی په کورنۍ کښې دمتولی کیدلو اهل موجود وي دنورو په پرتله هغه دمتولی کیدلو وړ اومستحق دي .

(فتاوی محمودیه ۱۲۵-۱۸).

دمسجد اضافه عواید دوقف کوونکی اولاد ته ورکول

مسئله :کوم جایداد چی دمسجد لپاره وقف شوی وي دهغه عواید دواقف په کورنۍ کښې صرف کول جواز نلري که دوقف عواید زیات شول په هغوی نور جایداد واخستل شی اووقف دي شی ، بیا به زیات عواید نور واړو مسجدونو ته دورکړی جوگه شي .

(فتاوی محمودیه ۲۱۴-۱۷).

دمسجد په تولیت کښې وراثت

پوښتنه : که چا په خپلو شخصي پیسو مسجد ودان کړ اودلمانځه کولو عامه اجازه یې ورکړه ،دهغه ترمړینې وروسته یې وارثان دااختیار لري چې نور خلگ له مسجد څخه منع کړي ؟

ځواب : که کومه ځمکه په شخصي روپو اخستله شوې وي ، مسجد ورباندې ودان شوی وي خلگو ته دلمونځ کولو اجازه ورکړل شوې وي پنځه وخته اذان اودجماعت لمونځونه پکښې شوې وي داوقافو په دفتر کښې یې دوقف ثبت شوی وي هغه شرعي مسجد دي په هغه کښې وراثت جاري کیدلای نشي نه یې دملکیت دعوه صحیح کیدلای شي ،نه څوك له لمونځ کولو منع کیدلای شي .

که مسجد دچاپه نوم نومول کیږي ،دشرعي مسجد په حکم کښې خلل نه پیښیږي لکه مسجد اکبري ، مسجد شاجهاني ، مسجد عالمگیري چې دپاچهانو په نومونو مشهور دي په بخاري شریف کښې په دې هکله مستقل بحث دي چې دچا په نوم مسجد مسمی کیدلای شي هغه چې په دې مسجد کښې لمونځ کوي یا یې کور ورته نژدې وي خو ددې مقصد هیڅکله دانه دي چې هغه یو مملوك مسجد دي چې دمسجد په وقف شوې ځمکه ودان شي ، کلیوال پکښې مرسته وکړي په هغه هیڅوك دملکیت دعوه کولای نشي .

(فتاوی محمودیه ۱۵۷-۱۵)

که متولي دواقف دشرائطو خلاف عمل وکړي

مسئله :په متولي باندي دواقف دشرائطو پابندي لازمه ده خو تر هغه چې هغه شرائط دشریعت موافق وي او وقف ته هم گټور وي ،که په دې صورت کښې متولي دواقف دشرائطو خلاف عمل کوي دلیري کولو وړ دي.
(محمودیه ۳۳۲-۱۵

دمتولي واک او اختیار

مسئله :هغه کارونه چې دوقف په گټه اودشرعي احکامو په چوکاټ کښې وي متولي هغه کولای شي که کوم کارونه ددي خلاف وو ورباندي اعتراض کیدلای شي .

(فتاوی محمودیه ۳۱۷-۱۵)

مسئله :په عامه مرسته (چنده) کښې متولي حق نه لري چې هغه بې ځایه اوپه ناوړه توگه ولگوي .

(فتاوی رحیمیه ۱۵۹-۳)

دمتولي دليرې کولو اسباب

مسئله : که دوقف دښیگڼو او گټو خیال ونه ساتي یا خلاف الشرع کارونه وکړي دمسجد منتظمین ، دوقف هیئت یا حکومت هغه معزول کولای شي .

(فتاوی محمودیه ۳۱۷-۱۵ احسن الفتاوی ۴۲۵-۲)

مسئله :که دمسجد متولي دمسجد انتظام نه کوي ، له تولیت څخه یې لیري کول واجب دي څوکسه متدین اوبارسوخه کسان دي جرگه گی جوړه کړي متولي دي لیري کړي او دوقف دفتر ته دي خبر ورکړي ، په

قانوني ډول يې دمسجد جايداد دهغه له لاسه وباسي دعايد اومصرف حساب دي سم کړي.

(فتاوی محمودیه ۱۸۴-۱۵)

دمسجد منتظم له مسجدڅخه معاش اخستلای شي ؟

پوښتنه : په يوه مسجد کښې دری څلور منتظمين وو مسجد ډير عوايد درلودل ، دهغې دکرايې دحصول لپاره يې يو ملازم نيولی وو هغه استعفی ورکړه ، اوس که له دي منتظيمنو څخه يو دملازم په ځای کرايه راټولوی شرعاً دمعاش اخستلوحق لري ؟

ځواب : که په وقف پانه کښې دمعاش يادونه شوی وه په هغې دي عمل وشي ، که دمعاش يا دونه شوی نه وه اوداکار چاته پرته له معاش څخه نه کاوو که همدی منتظم لکه څرنگه چی ور دي هغسی خدمت يې کاوو نو ورته مناسب معاش (تنخواه - اجوره) ورکول کيدلای شي .

(فتاوی رحيميه ۸۱-۲ دعالمگيری ۲۴۰-۳ په حواله)

دمتولی تبديلول

مسئله :مسجدونه دالله ﷻ دي هيڅ مسجد دچا شخصي ملکيت نه دي (وان المساجد لله)(الايــة) دمسجد دجوړونکي حق دي چی څوك دتوليت دسرپرستی ، لپاره ورته وړو بولی هغه متول کړيخوکه ديانت ونه لری يا صلاحيت ونه نلری متولي کول يې صحيح نه دي که يې متولی کړ ليری کولای يې شي خو بی سببه يې ليری کول هم صحيح نه دي.

(محمودیه ۱۲۴-۱۸)

مسئله :دمسجدمتولی اودمدرسي مهتمم به باعمله عالم وي که داسي څوك نه پيدا کيدل دلمانځه او روژی پابند ، امين ، دوقف په

مسايلو پوه ، دښو اخلاقو څښتن . علم دوست او دپوهانو عزت کوونکی شخص ورته په کار دي . په دي صفتونو کښې که هرڅوك وړاندي وو ،هغه ورته وړ دي .

(فتاوی رحيميه ۱۲۲-۲).

مسئله :که اهل تشيع خپل مسجد اهل سنتو ته ورکړ دمسجد انتظام دي له پخوانی شيعه منتظم څخه نه اخلی ځکه دپخوا يي لاانتظام په لاس کښې وو او کوم خيانت يي هم ليدل شوی نه وو له هغه سره مرسته په کار ده خو که په خپله يي لاس تری واخستل بيا بيله خبره ده .

(محمود يه ۱۲۲-۱۸).

دمسجد بانی (جوړوونکی)

که چا دمسجد جوړولو وصيت وکړ ، يوه زوی يي په وقف شوی ځمکه مسجد ودا ن کړ ، شل ديرش کاله وروسته يي بل زوی په خپلو روپو اودنورو خلگو په مرسته دهغه مسجد په ځای لوی مسجد جوړ کړ، دمسجدبانی (لومړی جوړوونکی) څوك بلل کيږی ؟

ځواب : کوم شخص چی کوم وخت مسجد جوړ کړی هغه ييموسس (بانی)بلل کيږی لومړی شخص لومړنی بانی او دوهم شخص دوهم بانی او چاچی ورسره کار کړی يا يي مرسته ورکړی ده هغوی يي په بنا او اساس کښې شريکان دي.

(فتاوی محمود يه ۱۹۲-۱۵).

مسئله :مسجد دهغه موسس ته منسوب کول څه مشکل نه دي جواز لری چی بانی ځمکه ورکړی او وربانـدی مصرف يي کړی وي خو که مؤسس په خپل ژوند کښې داسي نسبت نه خوښاوو بيا دي نورهم نه ورپسي تړي .

په خپلو پیسوجوړ شوی مسجد خپل بلل

مسئله :کوم مسجد چې وقف شی که دعامو خلګو په پیسو يې ودانی جوړه شوی وي يا ديوی کورنی په پیسو يا ديوه شخص په پیسو په هر صورت تر وقف کولو وروسته که څوك دهغه دملکيت دعوه کوی صحيح نه ده دالله ﷻ ارشاد دي ﴿ان المساجد لله﴾ که چا مسجد خپل ملکيت ګاڼه داغلط دي خلګ دي هلته لمونځ کول نه پريږدي له فتنی اوفساد څخه دي ځان ساتی که هغه شخص يا کورنی چی دمسجد د ملکيت دعوه کوی ، نور خلګ هلته له لمونځ کولو منع کوي ، هغه لوی ظالم دي الهی ارشاد دي: ﴿من اظلم ممن منع مساجد الله ان يذكر فيها اسمه﴾.

خو په داسی حرکت دي هم جنګ اوجدل نه کوي چي دعوی اودنګني به وي . (فتاوی محموديه ١٢٩-١٨).

متولی ته د مسجد دشيانو داستعمال حق

پوښتنه : دمسجد اړوند کورونه ، زينی يا نور شيان څوك استعمالولای شی ، امام مؤذن اوکه متولی ته ؟

ځواب : دمسجد داړوند کورونو داستعمال حق هيچا ته نشته ، که چا استعمال کړی بدل اوکرايه به ورکوي ، که امام يا مؤذن ته کور يا يوه خونه ورکول کيږی هغه دي دخدمت په حق کښی ورکول شی يعنی ورسره معامله دي وکړای شی چی په دومره معاش او کور ياخونه کاروکړه متولی يابل څوك هم که ورڅخه ګټه اخلي . کرايه دي ورکړي . دلرګي زينې يا نور شيان هم که څوك استعمالوي له عوض ورکولو پرته حق نلري .

(فتاوی محمود یه ۱۴۲-۱۸).

که دمتولی خیانت ثابت شي

مسئله :که دمسجد اړوند دمتولی خیانت ثابت شی ، دوخت حاکم ته دي وښودل شی اوله تولیت څخه دي لیری کړای شی ،که یوازی شك وو نه دي لری کیږی خو متولی ته لازم دي چی حساب کتاب پاك ولری یادي له کارپوهو کسانو څخه یوه جرګه ګی جوړه کړی چی شك اوشبه نه وي او اعتراض ځای ونلری . دمسجد پانګه له متولی سره امانت ده ، هغه په خپلو کارونو لګول یابل چاته قرض ورکول ورته جائز نه دي یوازی دمسجد په کارونو یي لګول صلاحیت دي که پکښی ناحقه تصرف وکړی ، دي ضامن دي .

(فتاوی محمود یه ۱۴۱-۱۰ عالمګیری ۲-۴۲۰).

مسئله ::متولی ته ښایی چی دمسجد عواید په مسجد ولګوی ، که زیات شول دمسجد لپاره دي کښیږدي په خپل شخصی مصرف یي لګول خیانت دي هغه باید معزول شی اوبل شخص دي متولی شی که دي دواقف له لوری تعین شوی وي او که وروسته ، خو معزول دي شی بل متولی دي تعین اوحساب دي ورڅخه واخستل شی په درمختار کښی دي چی که په خپله بانی هم داسی خیانت وکړی نو هغه معزول کیدلای شي .

(فتاوی دارالعلوم قدیم ۴۴۲-۵).

که متولی امام نوکر وګڼي

مسئله :دامام منصب خورا لوړ دي که متولی هغه نوکر وبولی اوذلت خبره ورته کوی یابده معامله کوی غلط اوناجائز دي .

(فتاوی محمودیه ۱۸۴-۱۸)

مسئله :دامام دي عزت کیږی ، دهغه بی عزتی اوبی احترامی ګناه ده .
(کفایت المفتی ۹۲-۳ رحیمیه ۳۵۵-۴).

دمتولی او امام مرورتیا (خفګان)

مسئله : دلوی غضب خبره ده چي ددوی ترمنځ خبري نه وي . ژر دي سره خبری پیل کړی ، نور خلګ دي دوی سره کښینوی څوسره پخلاشی کوم یو چی لومړی خبره وکړی دتحسین وړ دي ،که امام لومړیتوب وکړی ، لویوالی به یي ډیر شی که متولی لومړیتوب وکړی هغه یي نیك مرغی ده .

هغه امام چی په لمانځه کښی وړاندی ولاړ وي دالله ﷻ حق ادا کوی ،خپل اخرت سموی ، هغه ناراضه کول ، ورسره نه غږیدل ، هغه ذلیل کول ، غټه محرومی اوبدقسمتی ده.

(فتاوی محمودیه ۱۸۵-۱۸).

« داسی امام مقررول په کار دي چی دخلګو دینی اواخلاقی اصلاح وکړی، په شرعی امورو کښی خلګو ته لاره وښي ، په اختلافی مسائلو کښی پریکړی وکړای شی،په پوه کښی ددي منصب وړ وي .

امامت په اصل کښی یوه ستره ذمه واری ده هغه دنبوت وراثت ده داذمه واری هغه څوك سمبالولای شی چی اهل یي وي درسول الله ﷺ معمول داوو چی دلښکر مشر به یي مقرر کاوو په امامت به یي هم مامور کاوو



اوکه به يي څوك دکوم ښار حاکم گماره هغه به دلمانځه امامت کاوو او حدود به يي جاري کول.

امام ته به دمقتديانو حالات، مسائل، مشکلات اوضروريات تر يوه حده معلوم وي اوله خلګو سره به تعلق ساتی، دااندازه دابو مسعودٔ الانصاری ﷺ له روايت څخه معلوميږی يوسړی رسول الله ﷺ ته راغی اوعرض يي وکړ:

يارسول الله ﷺ! زه په جماعت لمونځ نه کوم ځکه فلانی صاحب اوږد لمونځ کوی رسول اللهﷺ په دي خبره خورا خواشينی شو او ويي فرمايل «تاسو (لمونځ کوونکی) خلګ ليری کوی».

څوك چی لمونځ ورکوی، هغه دي لنډ لمونځ ورکوی ځکه په جماعت کښی ناروغ کم وس او ضرورت والا اشخاص هم ولاړ وي.

له دي حديث شريف څخه معلوميږی چی کوم تعلق رسول اللهﷺ له امت سره درلود هغه دي اوس په امامانو کښی ليدل کيږي دتفصيل لپاره دامامت مسائل وګوره. (محمدرفعت قاسمی).

متولی دمسجد پيسی معاف کولای شی؟

پوښتنه: دمسجد متولی کولای شی امام يامؤذن ته دمسجد ورته پاته شوی پيسی وبخشی؟ هغه چی دمجبوری له امله يي نشي ادا کولای.

ځواب: داپيسی معاف کول دچا په واك کښی نه دي که يي څوك معاف کول غواړی هغوی دي ورسره مرسته وکړی اودارقم دي ورته پوره کړي.

(فتاوی محموديه ۲۵۷-۱۲).

مسئله: که په چا باندی دمسجد پيسی يا بل څه پاته وو، متولی ورته هغه معاف کولای نشي. (رحيميه ۱۵۲-۲).

که متولي امام ته تروخت وړاندي معاش ورکړي

پوښتنه : که امام کور جوړا وو ، دمسجد جرګه ګی هغه پیسی ورکولای شی چی بیا یي په معاش کښي ورسره مجرا کړی ؟

ځواب : له عام رواج سره سم ورته پیشکی معاش ورکول کیدلای شی په دي شرط چی دوظیفی دپرېښودلو په صورت کښی داداء کولو وس ولری او دوفات په وخت کښي يي له ترکی څخه دور کړی قدرت وي .

(احسن الفتاوی ۴۴۷-۴)

مسئله :دمسجد له عوایدو دامام اومؤذن دمعاش ورکول جواز لری ،زیاتول اوکمول يي دوقف په عاید ، دامام اومؤذن په لیاقت پوري اړه لري .

(کفایت المفتی ۲۲-۷).

که عوایدهم زیات وو خومتولی ، امام ته کم معاش ورکاوو

مسئله :که دمسجد عواید کافی وو ، امام اوخطیب له ډیر وخت څخه دمسجد په خدمت کښی ولاړ وو دجمعی په ورځ يي بیان هم کاوو نیك اومتقی کسان وو ، لاس تنګی هم وو ، دمسجد په متولیانو لازم دي چی داشیاوو له ګرانی سره سم په معاش کښی ورته زیاتوالی وکړی ،دمسجد له عوایدو سره سره دکور داحتیاجاتو دپوره کولو په اندازه امام ته معاش نه ورکول ظلم دي .

(فتاوی رحیمیه ۲۲۲، ۹).

مسئله :فقهاوو په دی خبره تصریح کړی ده دمسجد په متولی اومدرسی په مهتمم لازمه ده چی دمسجد اومدرسي خادمانو ته دهغوی ارتیا قابلیت اوتقوی لحاظ وساتی معاش (مشاهره ،تنخوا ،اجوره)

ورکړی سره لـه دی چې عوایـد وی اومعـاش کـم ورکـوی بـده خبـره ده اومتولی به خدایﷻ ته ځواب ورکونکی وي .

(درمختار اوشامی ۲۸۹-۳)

متولی او د وقف خرڅول

پوښتنه : که دوقف یوه برخه متولی خرڅه کړی اوپاته برخه وربانـدی ترمیم کړی ورته جواز لري؟

ځواب : دوقف کومه برخه خرڅول جواز نلري دوقف په کرایه ترمیم کول صحیح دی.

که دمسلمان حاکم په واسطه دمتولی لری کول مشکل وو دکلی اومحلی پوه خلگ دی هغه لرې کړي .

(فتاوی محمودیه۲۲۲-۲)

مسئله :اصل خبره داده چې که کوم شی په شرعی ډول وقف شو پلورل يي جواز نلری په کومه ځمکه چې مسجد جوړ شو دهغی خرڅول په هیڅ صورت جواز نلری هغه تل وقف اومسجد دی کوم منقول جائداد که دمسجد وو هغه دمسجد حکم نلری که کوم مسجد وران وو او دودانولو هیله يي نه کیدله جائداد يي ضائع کیده بیايي پلورل صحیح دی غوره داده چې عین همدا جایداد بل نژدی مسجد ته ورکړل شي که مشکل وو هغه جایداد دی خرڅ شي اوبیه دی بل مسجد تـه ورکړل شي خودوران مسجد احترام دی وساتل شي که يي دیوال نه درلود احاطه دی وربانـدی جوړه شي

کـه غیـر منقـول جایـداد لکـه ځمکـه دمـسجد لپـاره اخـستل شـوی وو ،مسجد وران وو یابل ضرورت وو دکلي اومحلی دمشرانو پـه رایـه هغـه جایداد خرڅیدلای شي خو که چا وقف کړی وو دهغـه خرڅول جواز نلری

که متولی امام ته تروخت وړاندي معاش ورکړي

پوښتنه : که امام کور جوړا وو ، دمسجد جرګه ګی هغه پیسی ورکولای شی چی بیا یي په معاش کښي ورسره مجرا کړی ؟

ځواب : له عام رواج سره سم ورته پیشکی معاش ورکول کیدلای شی په دي شرط چی دوظیفی دپریښودلو په صورت کښي داداء کولو وس ولری او دوفات په وخت کښي يي له ترکی څخه دور کړی قدرت وي .

(احسن الفتاوی ۴۴۷-۴)

مسئله :دمسجد له عوایدو دامام اومؤذن دمعاش ورکول جواز لری ،زیاتول اوکمول يي دوقف په عاید ، دامام اومؤذن په لیاقت پوري اړه لري .

(کفایت المفتی۲۲-۷).

که عوایدهم زیات وو خومتولی ، امام ته کم معاش ورکاوو

مسئله :که دمسجد عواید کافی وو ، امام اوخطیب له ډیر وخت څخه دمسجد په خدمت کښي ولاړ وو دجمعی په ورځ يي بیان هم کاوو نیك اومتقی کسان وو ، لاس تنګی هم وو ، دمسجد په متولیانو لازم دي چی داشیاوو له ګرانی سره سم په معاش کښي ورته زیاتوالی وکړی ،دمسجد له عوایدو سره سره دکور داحتیاجاتو دپوره کولو په اندازه امام ته معاش نه ورکول ظلم دي .

(فتاوی رحیمیه ۲۲۲، ۹).

مسئله :فقهاوو په دی خبره تصریح کړی ده دمسجد په متولی اومدرسی په مهتمم لازمه ده چی دمسجد اومدرسي خادمانو ته دهغوی اړتیا قابلیت اوتقوی لحاظ وساتی معاش (مشاهره ،تنخوا ،اجوره)

ورکړي سره لـه دي چـي عـوايـد وي او معـاش کـم ورکـوي بـده خبـره ده اومتولي به خداي ﷻ ته ځواب ورکونکي وي

(درمختار اوشامی ۲۸۹-۳)

متولي او د وقف خرڅول

پوښتنه : که دوقف يوه برخه متولي خرڅه کړي اوپاته برخه ورباندي ترميم کړي ورته جواز لري؟

ځواب : دوقف کومه برخه خرڅول جواز نلري دوقف په کرايه ترميم کول صحيح دي.

که دمسلمان حاکم په واسطه دمتولي لرې کول مشکل وو دکلي اومحلې پوه خلګ دي هغه لرې کړي.

(فتاوی محمودیه۲۲۲-۲)

مسئله :اصل خبره داده چي که کوم شی په شرعی ډول وقف شو پلورل يي جواز نلري په کومه ځمکه چي مسجد جوړ شو دهغی خرڅول په هيڅ صورت جواز نلري هغه تـل وقف اومسجد دی کوم منقول جائداد که دمسجد وو هغه دمسجد حکم نلري که کوم مسجد وران وو او دودانولو هيله يي نه کيدله جائداد يي ضائع کيده بيايي پلورل صحيح دی غوره داده چي عين همدا جايداد بل نژدې مسجد ته ورکړل شي که مشکل وو هغه جايداد دی خرڅ شي اوبيه دی بل مسجد تـه ورکړل شي خودوران مسجد احترام دی وساتل شي که يي ديوال نه درلود احاطه دی ورباندی جوړه شي

کـه غيـر منقـول جايـداد لکـه ځکـه دمسجد لپاره اخستل شوی وو ،مسجد وران وو يابل ضرورت وو دکلي اومحلې دمشرانو پـه رايـه هغه جايداد خرڅيدلای شي خوکه چا وقف کړی وو دهغـه خرڅول جواز نلري

دمسجد دوراني په صورت کښې دی عوايد بل نژدی مسجد ته ورکول کيږي .

.(فتاوى محموديه ۱۹۱-۲)

که متولي خلک له مسجد څخه منع کول

پوښتنه : که په کوم مسجد کښې عامه اجازه نه وه متولي لمونځ کونکي منع کول اوويل يي په ښار کښې نور مسجدونه هم شته ايا په داسې مسجد کښې لمونځ کيدلای شي؟

ځواب : په شرعي مسجد کښې له لمونځ کولو دچا منع کول جواز نلری که څوك داکار کوي هغه غلطي کوي په دی منع کولو هغه دده ملکيت نه گرځي او لمونځ پکښې صحيح دی .

(محموديه ۱۹۹-۱۰)

مسئله :که څوك په خپله ځمکه مسجد جوړ کړی يا دمسجد جوړولو لپاره ځمکه ورکړی هغه بيا داحق نه لري چې هلته له لمونځ کولو څخه څوك منع کړی له لمونځ کولو څخه منع کول لويه گناه ده .

[ومن اظلم ممن منع مساجد الله] الايه بقره)

(فتاوی محموديه ۱۹۷-۱۰کفايت المفتی ۱۲۱-۳)

په مسجدونو کښې له لمونځ کولو ممانعت

[وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَا أُولَٰئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ]

ددی ايت شان نزول خو دمفسرينو په نزد له دوو پيښو څخه کومه ځانگړی پيښه ده.

خو بيان يي په عامو تورو کښي يوه مستقله قانوني ضابطه ده الفاظ داسې دی چې حکم يي ترنصاراوو يا مشرکينو پوری ځانگړی نشي .

بلکه دنړۍ تر ټولو قومونو پوری عام شي همدا وجه ده چې په دی ایت کښې یې دبیت المقدس په ځای د«مساجد الله» ذکر وکړ ترڅو په مسجدونو داحکم عام شي او د ایت شریف مضمون به داسي شي څوك چې دالله له مسجد څخه خلگ څوك چې هلته پکښې ذکر کوی ،منع کوی یا داسی کار کوی چې له هغه څخه مسجد وران شي هغه لوی ظالم دی.
دخدای ﷻ دمساجدو دعظمت غوښتنه داده چې کله هلته څوك ننوزی له هیبت،عظمت خشوع اوخضوع سره ورننوزی لکه څرنگه چې یوه شاهی دربار ته ننوزی.
ددی ایت څخه څو ضروری احکام راوزی .
لومړی داچې ټول مسجدونه دمسجد دادابو په لحاظ سره برابر دی لکه چې دبیت المقدس ،مسجد حرام یانبوی مسجد بي حرمتی ستر ظلم دی ، دنورو مسجدونو حکم هم داسی دی که څه هم دې دریو مسجدونو ته ځانگړې عظمت ورپه برخه دی . اوهغه یو منلی حقیقت دی.
په مسجد حرام کښې دیوه لمانځه ثواب دیو لك(سلو زرو) دلمونځو نو له ثواب سره برابر دی چې نبوی مسجد اوبیت المقدس کښې دپنځوسو زرو لمونځونو له ثواب سره برابردی.
په دی دریو مسجدونو کښې دلمونځ دکولو په نیت له لری ځایونو څخه هلته ورتلل ډیر ثواب لری خوله دی مسجدونو څخه پرته نورو مسجدونوته له لری ځای څخه ورتلل رسول الله ﷺ منع کړی ده
دوهمه مسئله داده چې په مسجد کښې له لمونځ کولو اوذکر کولو څخه څوك منع کول په هر صورت ناروا او حرام دی دادوه صورتونه لری : یو داچې هغه په صراحت اوڅرگنده توگه منع کړای شي اوبل داچې په مسجد کښې شر اوشور کوي یا دمسجد خواوشامو سیقي غږول او

دخلگو په لمانځه او ذکر کښې خلل واردول دی داهم دالله ﷻ له ذکر څخه منع کول دی.


همداسې که څوک په لمانځه تسبیح یاتلاوت لګیاوی په مسجد کښې په لوړ غږ تلاوت یا په زوره ذکر کوی چې دنورو لمونځونو ذکر او تلاوت ته زیان رسیږی داهم بل صورت دی چې دالله ﷻ له ذکر څخه خلك منع کوی فقهاوو داډول ذکر هم ناروا بللی دی خو که مسجد خالی وی بیا ستونزه نلري.

له دی څخه داهم څرګندیږی چې خلك په لمانځه یاذکر مصروف وو دځان لپاره سوال کول یاددینیکارونو لپاره مرسته غوښتل هم په داسی وخت کی منع ده.

دریم مسئله: دمسجدونوورانول که په هر صورت وی ناروا ده که هغه دمسجد انهدام یاورانول وی یاکه داسی اسباب مسجد ته ورل وی چې مسجد وربانذی ورانیږی دمسجد ورانول دادی چې هغه خلګ دانشی یاکم شی څکه دمسجد ودانی دهغه دیوال نقش اونګار نه بلکه دهغه ودانی دالله ﷻ دذکر کونکو په موجودیت کښې دی قرانی ارشاد دی

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللهَ (بقره)

یعنی دمسجد اصل ودانی له هغو خلګو څخه ده چې په الله ﷻ اوقیامت په ورځ ایمان لری، لمونځ ادا کوی، زکات ورکوی اوله الله ﷻ څخه پرته له بل چا څخه نه ویریږی، درسول الله ﷺ په حدیث شریف کښې راغلی چې «دقیامت په نږدې وخت کښې به دمسلمانانو مسجدونه په ظاهره ودان اوښکلي وي خوپه حقیقت کښې به وران وي، لمونځ کوونکی، پکښې کم وي که څه هم دوراندنی آیت شان نزول



دحدیبي پیبنه ده چې مشرکانو ، مسلمانان و مسجد حرام ته له ورتلو څخه منع کړل ، خو له دي ایت څخه ښکاري چې دمسجد ودانی یوازی دانه ده چې رنګ شی بلکی مسجد چې دکوم مقصد لپاره جوړشوی دي لمونځ اوذکر) که هغه پکښی نه وي نو هم مسجد وران بلل کیږي .
علی ﷺ دمسجدونو دودانی مطلب داښیي چې هلته خلګ له خشوع اوخضوع سره حاضر شي ، هلته په ذکر اوتلاوت مصروف وي .
اودمسجد وراني يي دلمونځ کوونکو نیشتوالی اوکموالی بللی دي .
(معارف القرآن ج۱ص ۲۴۳ مغ بقره)

دعیدګاه په نوم دمسجدونو بل نظام

دجمعی دلمانځه له اجتماع سره ،سره په کال کښی دوه نوری ځانګړی ټولنی ، دعید الفطر او عید الاضحی دلمونځونو دي ، دهغوی هم له مسجدونو سره ژوری اړیکی دي اودمسجدونو له نظام څخه بیلیدلای نشي .
عیدګاه په ډیرو شرعی احکامو کښی دمسجدتابع ده خویوازی داده چې داختر لمونځونه په پنځو لمونځونو کښی شامل نه دي بیل دي خو په کال کښی دوه ځله دورځی په لمونځونو زیاتیږی په شریعت کښی دادوه لمونځونه واجب دي له همدی امله نه ورته اذان شته اونه تکبیر نور شرائط يي دجمعی دلمانځه دي داټولنه دجمعی تر اجتماع څه شانداره اوستره ده ،اهتمام پکښی زیات او اداييي دمسجد په ځای په بهر کښی ده .

په یوه کښی دفطر دصدقی حکم دي اوپه بله کښی دقربانی ترڅو له بی وزلو سره څه مرسته شوی وي اوهغوی هم په دي خوشحالی کښی شراکت وکړای شی .

که دحدیثونو په ذخیره کښې غور وشي معلومیږي چې په دوی کښې ډیری ګټې مقصود دي داسلام شوکت اودمسلمانانو دشان اظهار هم دي اوغالبا له همدی وجی په یوه لاره ورتلل دي اوپه بله راتلل ، په یوه کښې لاپه لوړ اواز تکبیرونه ویل هم شته.
دحدیثو په کتابو کښې داخبره هم ښکاره ده چې رسول الله ﷺ به داختر په ورځ میرمنو ته هم امرکاوو چې هغوی هم راووزی آن هغوی چې لمونځونه هم نه کوی له همدی امله ځینی پوهان وایي چې داسلام په پیل کښې داحرکت داسلام دشان اوشوکت څرګندونه وه اوس چې هغه ضرورت په هغی اندازه پاته نه دي نو دمیرمنو غونډه پکښې ناخوښه وګڼله شوه .
داخترونو داجتماع اهمیت
داخترونو له ټولنو څخه په خیرالقرون کښې غټه ګټه اخستله شوی ده او اوس هم اخستله کیدلای شی دابیله خبره ده چې موږ ددین په حکمتونو نه پوهیږو اوله داسی اجتماع څخه دګټه اخستلو کارمو پری ایښی دي نن هم که پوهان دي لوری ته پاملرنه وکړی دیوه سترکنفرانس کار تری اخستلای شی ،ددین دخبرو خپریدل پکښې اسانه دي هغه خلګ چې له دینی زده کړو سره نابلده دي ورته زده کړه کیدلای شي .
په هرحال موږ چې دخپل غفلت له امله هرڅه کوو خوله احادیثو څخه معلومیږی چې رسول الله ﷺ له دي غونډو څخه ستره ګټه اوډیر کار اخست ،دتبلیغ اوخپرولو په لاره کښې رسول الله ﷺ ته ورڅخه مرسته رسیدله ، دجهاد کار چې خورا مهم دي له همدي غونډی به پیل کیده ، په حدیث کښې داخانګړتیا یاده شوی ده .

ابو سعید خدری ﷺ وایي «رسول الله ﷺ به په واړه اولوی اختر کښې عیدګاه ته تشریف راوړ ترهر څه وړاندی به یي لمونځ ادا کړ بیا به یي خلګو ته نصیحت کاوو ، که به داسلام دلښکر دروانولو اراده وه هغه به بي روان کړ ، که به کوم کار کول لازم وو دهغه په هکله به یي حکم صادر کړ اوبیا به بیرته کورته ګرځیدو.

(بخاری باب الخروج الی المصلی).

ملکي اودیني کارونه

داحدیث څومره واضح دي دحدیث په الفاظو کښې ددي غونډی اهتمام معلومیږی دمجاهدینو لیږدول څه وړه خبره نه ده کاشکې موله هغه څخه سبق اخستی وای اوکه دینی اوحکومتی کارونه چی موپه وړاندی وایي پکښې مرسته موتری اخستی وای اجتماعی کارونه هم آسانه نه دي غالبا ترلمانځه وروسته دخطبی ویلو حکمت هم داوی چی په داډ سره ددین دتبلیغ کاروشی خو جمعه چی ژر ژر راځی خطبه ترلمانځه وړاندی ده ترجمعه وروسته سنت اونوافل شته خو داخترونو ترلمانځه وروسته نشته.

دتبلیغ او د دیني احکامو د خپرولو موقع

نن هم له داسی اجتماع څخه دینی اودنیایي ګټه ترلاسه کیدلای شی ، ځکه ددین دتبلیغ ښه موقع ده خلګ له هرڅه ګوښه شوی یوازی ددین لپاره راټول شوی وي دیوه مقصد له پاره له لیری او نژدی څخه راغلی وي خدای ﷻ دي وکړی چی مسلمانان ورڅخه ګټه واخلي . اودمسجدد نظام په دي برخه کښي غور اوفکر وکړي .

(په اسلام کښی دمسجدونو نظام له ۸۲ تر ۸۸).

دمسجد اوعیدگاه تر مینځ فرق

پوښتنه : دعیدگاه حکم دمسجد په څیر دي که څه توپیر لری؟ دعیدگاه په حدود کښی مکتب یا دینی مدرسه فعالول څرنګه دي ؟ دانسانانو اوځاروو لاره تری تیریدل ؟ دماشومانو بولی پکښی څرنګه دي ؟ که دعیدګاه څنګ ته پرته له حایله هدیره وي لمونځ پکښی څرنګه دي ؟

ځواب : داقتداء دجواز په هکله دعیدګاه حکم دمسجد دي په نورو احکامو کښی دمسجد په څیر نه دي بلکې دمسجد دپناه اومدرسی په حکم کښی دي کوم شیان چی هلته جائز دي دلته هم جائز دي هغه چی هلته ناروا دي دلته هم ناروا دي ښکاره ده چی په مدرسه اودمسجد په پناه کښی لاره نه وي نوعیدګاه هم ورځخه خوندی ساتل په کار دي دماشومانو دلوبو پکښی ګنجائش شته خو داسی نه چی په منظم ډول پکښی لوبی کیږی یا دلوبو میدان شي .

که قبرونه لګیدلی وي اودسجدی له ځای سره نژدی وي لمونځ پکښی تحریمی مکروه ده خوکه ښئ ،کیڼ یاشاته وي په کراهت کښی یي کمول راځی که فاصله زیاته وي کراهت نشته .

(فتاوی محمودیه ۳۱۲-۸ کفایت المفتی ۱۲۹-۳ احسن الفتاوی ۲۲۸-۲).

مسئله :په عیدګاه کښی دجنازی لمونځ جائز دي .

(کفایت المفتی ۱۴۳-۳).

مسئله :داقتداء په جواز کښی عیدګاه دمسجد حکم لری په نورو امورو کښی ورسره فرق لری مسجد ته دجنابت په حال کښی ننوتل منع دي خوعیدګاه ته منع نه دي . .

(در مختار ۲۸۴-۱).

مسئله :په عیدگاه کښې دشکر دلمانځه لپاره راغونډیدل صحیح دي داختر او داخترونو دلمونځونو احکام بیانیدلای شي خو داغوره ده چې سیاسي غونډې پکښې ونشي.

مسئله :دفوټبال لوبه چې دواقف دنیت اوغرض خلاف ده. ځان ورڅخه ساتل ضروري دی. (فتاوی محمودیه ۱۲۱-۱۰ فتاوی رحیمیه ۳۵۷-۲).

مسئله :په عیدگاه کښې دلوبو منظره کول. خواوی نیول، موسیقی غږول اونور محرمه امور حرام دي، متولی دي دداسې شیانو اجازه نه ورکوي، دمتولی په اجازه یا بی اجازې داسې کارونه په عیدگاه کښې جواز نلري.

(فتاوی دارالعلوم ۲۱۵-۵).

له مسجد څخه عیدگاه جوړول

پوښتنه : که په یوه کلی کښې یومسجد وو ،خلګو بل مسجد دضرورت په خاطر جوړ کړ او زوړ مسجد یي پراخ کړ عیدگاه یي کړه، آیا داجواز لري؟

ځواب : چیرې چې داختر لمونځ روا وي هلته په مسجد کښې هم روا دي خو که عذر ستر نه وي نو.عیدگاه ته تلل سنت دي که داکلی دومره ستر وي چې دجمعې او اخترونو لمونځونه پکښې صحیح وي یعنی خلګ یي ډیر وي، بازار ولری، دخلګو شمیر یي نژدې دری زره تنه وي هلته په مسجد اوعیدگاه دواړو کښې لمونځ صحیح دي که کلی وړوکی وي نو داختر لمونځ نه په مسجد کښې صحیح دي اونه هم په عیدگاه کښې،

مسجد په عیدگاه بدلول، که مطلب داوي چې هلته به پنځه لمونځونه هم کیږي اوپراخ به شي چې دضرورت په وخت کښې داختر لمونځ هم پکښې وشي نو کومه ستونزه نشته خو چې کلی لوی اوداختر لمونځ

پکښې کیږي او که مطلب داوي چې مسجد یوازي عیدګاه شي او نور پنځه وخته لمونځونه پکښې نه کیږي داپه هیڅ صورت جواز نلري ،ځکه هغه ځمکه چې په اصل کښې مسجد وه معطله پاته کیږي ،لمونځونه پکښې نه کیږي.

(فتاوی محمودیه ۴۶۹-۲).

دفساد دمخنیوې په خاطر بله عیدګاه جوړول

مسئله :دفساد اوتفرق لپاره دوهم عیدګاه جوړول ناروا ده ، خو که فساد پیداشوی وو اودفع یې دبلې عیدګاه له جوړولو پرته نه کیدله نو بیا بله عیدګاه جوړول صحیح دي کله چې بله عیدګاه جوړه شوه اووقف شوه نوبیا په دواړو عیدګاه وو کښې لمونځ جواز لري.

(فتاوی محمودیه ۴۷۰-۲).

مسئله :که یوه عیدګاه کافي وه پرته له شرعي ضرورت بله عیدګاه جوړول دشریعت دمنشاء خلاف ده .

(رحیمیه ۳۵۲-۲).

په واړه کلي کښې عیدګاه جوړول

مسئله : که کلي دومره وړوکی وو چې هلته دجمعې دلمونځ د کولو شرائط برابر نه وو . نودعیدګاه جوړول هم ضرور نه دي ، نوهمدا دواړه کلي هستوګنې دسنت تارکین نه دي خو په قصبه (لوی کلي) کښې چې دجمعې لمونځ پکښې کیږي اوعیدګاه پکښې نه وه جوړول یې ضروري دي کنه اهل یې دسنت تارکین دي .

(فتاوی رحیمیه ۳۵۲-۲).

دعیدګاه دجوړولو ضرورت

مسئله :له ودانیوبهر صحرا اوځنګله ته وتل اوداخترونو لمونځ کول افضل اوسنت دي که عیدګاه وه که نه وه ، عیدګاه جوړول مصلحت ته نژدی ده څو خلګ اعتراض ونکړی چې زموږ په ځمکه اوکښت کښی ولی لمونځ کوی ،یا کیدلای شی دلمانځه لپاره خالی ځای ونه موندل شی کښتونه شوي وي .

(فتاوی محمودیه ۵۳۰-۱۲).

دعیدګاه خرڅول

پوښتنه : که عیدګاه دودانیو په منځ کښی راغله ، هغه خلګو پرینبودله اوبهر یي بله جوړه کړه ، آیا دازړه عیدګاه ددوکانونو یا کورونو دجوړولو لپاره خرڅولای شي ؟

ځواب : که هغه عیدګاه وقف وه خرڅول یي جواز نلری ، یوازی دودانیو په زیاتیدلویي تغیر ته اړتیا نشته ، هغه دي په خپل حال وساتله شي .

مسئله :که موجوده عیدګاه کافی نه وه اوبهر دبلی عیدګاه دجوړولو ضرورت وو نودبلی عیدګاه جوړول ممانعت نلری جوړه دي شی خو دکمزوری اوناروغو کسانو لپاره دي زړه عیدګاه په خپل حال پریږدي هلته پنځه ګونی لمونځونه پکښی کول هم صحیح دي .

دعیدګاه ځمکه چی وقف وي ، دهغی خرڅول جائز نه دي ، دوقف ځمکه له ملکیت څخه وتلی ده ،خرڅول په ملکیت کښی کیدلای شی ځکه یي خرڅول صحیح نه دي .

(فتاوی محمودیه ۵۳۷-۱۲).

مسئله :که دچندی (مرستی) په پیسو ځمکه واخلی ، داخترونو دلمونځونو لپاره یي وقف کړی ، داختر لمونځ پکښې کوی ، دهغی خرڅول جائز نه دي .

که یي وقف کړی نه وه خو دوقف اراده یي وه اوپه عارضی ډول یي پکښې لمونځونه کړی وو بیا دچندی دورکوونکو په اجازه هلته کورونه . دوکانونه یاباغ جوړولای شی خرڅول یي هم صحیح دي خو غوره داده چې بیه یا عاید زړی عیدګاه یا مسجد اویا هم په دینی کارونو کښې په مشوره سره مصرف شي .

(فتاوی محمودیه ۳۱۰-۱۵).

دشهرت لپاره عیدګاه جوړول

پوښتنه : متولی وایي زه به په خپلو پیسو عیدګاه جوړه کړم خوزما نوم به ورباندی لیکی ، نوپه عیدګاه باندی دجوړوونکی نوم لیکل څرنګه دي ؟

ځواب : عیدګاه دالله ﷻ درضا لپاره جوړول دثواب کار دي نوم ورباندی لیکل اوداقید اینښودل دشهرت لپاره ده ، ثواب ختموی ، متولی دي داسی نه کوی له دي ارادي لرلو څخه دي توبه وکاړی استغفار دي ووایي ، په کوم کار کښې چې اخلاص نه وي دالله ﷻ په دربار کښې نه قبلیږي .

(فتاوی محمودیه ۱۷۸-۱۵).

له عیدګاه څخه هدیره جوړول

مسئله :که کومه ځمکه دلمانځه لپاره وقف وي هغه رنګول اوهلته مړی ښخول صحیح نه دي هغه دي عیدګاه پاته شی. که هغه ځای تنګ وو خواوشا یې هدیره وه ، هغه زړه شوی وه هلته دي نور مړی نه ښخوی ځکه دعیدګاه لپاره له هدیری استفاده کیدلای شی .که مړی خاوری شی په هغی هدیره کښې عیدګاه پراخیدلای شی ،داهم صحیح ده چې بل ځای هم عیدګاه جوړه شی او دواړه ځایه داختر لمونځ وشی یا دوهم ځای عیدګاه شی او زړه عیدګاه دپنځه وخته لمونځونو لپاره پاته شي .
لنډه داچې موجوده عیدګاه رنګول اوله لمانځه پرته دبل کار لپاره استعمالیدلای نشي .

(فتاوی محمودیه۱۵-۳۰۱)

دهدیري عواید په عیدګاه کښې لګول

مسئله :دوقف شوی هدیری عواید په نوروځایونو لکه مدرسه یا عیدګاه کښې صرفول جواز نلري. خوکه هدیره ته یې اړتیا نه وه مثلاً: احاطه یې نه غوښته ، محافظ یې نه غوښت یا نور ضروریات یې پوره وو بیا په مشوره سره دمدرسی یا عیدګاه که دودانولو ، معاش ، دکتابونو اخستل یابل څه ته اړتیا وه مصرف کیدلای شي. ترڅوعوایدضائع نه شی. اودچا په غاصبانه قبضه کښې ورنشي .
مسئله :داختر لمونځ غوره داسی ده چې یوځای وشی خوکه عوارض وو مثلا ځای تنګ وو ، په امامت کښې اختلاف وو یا نورڅه بیا په ډیرو ځایونو کښې کول څه حرج نه دي . که په یوه ځای کښې دفتنی اوفساد ویره وه نو غوره داده چې بیل بیل وشی . داسی وخت دافضل کمول

واجب دي او دمسلمانانو ترمنځ تفرقه اچول ګناه ده ځان ورڅخه ساتل لازم دي .

(فتاوی محمودیه ٢١٢-٢ درمختار ١١٢-١).

دوه پوړيزه عيدګاه

پوښتنه : که عيدګاه تنګه وه ، بهر بله عيدګاه جوړول غوره دي که همدا دوه پوړه کول ؟

ځواب : که عيدګاه دوه منزله کيږي کيدلای شي . که بهر بله جوړوي همدا دي دپنځه وختـه لمونځونـو لپاره پريږدي . يا دي زړه عيدګاه دمعذورو خلګو داختر دلمانځه کولو ته هم هغسی عيدګاه پاته شي .

(فتاوی محمودیه ٢١٢-١٧ امداد الاحکام١-٤٥٤).

په عيدګاه بام اوپه زياته برخه روغتون يا بل څه جوړول

پوښتنه : ١- آيا عيدګاه مسجد دي ؟

٢- آيا عيدګاه يوازی هغه وخت دمسجد په حکم کښی چی هلته داختر دلمانځه دادا لپاره خلګ راغونډ وي ؟

٣- داخترد لمانځه لپاره له غونډو سره سره دعيدګاه مقام اوحيثيت څه دي ؟

ځواب : داخترونو لمونځونه تر ودانيو بهر په خلاص ډګر کښی اداء کول مسنون او مستحب کار دي . په دي توګه داسلام اومسلمانانو شوکت ښه ځرګنديږي . دتودوخی تر زياتيدلو دي وړاندی لمونځ وشی . دزيات اوربنت په وخت کښی دي په جامع مسجد کښی ادا کړای شی که زيات اوربنت يابل څه مشکل وو دوړوکی اختر لمونځ په دوهمه ورځ اودلوی اختر لمونځ په يوولسمه او دوو لسمه نيټه هم صحيح دي .

په عیدگاه باندي بام جوړول پخوا نه وو اوس هم عموما نه جوړیږي .
دعیدگاه دمیدان حکم په ادب اواحترام کښې دمسجد نه دي . هلته
دجنازې لمونځ مکروه نه دي . خوکه داختر دلمانځه لپاره وقف شوی وي
دبل کار داستعمال جواز پکښې نشته . اوکومه ځمکه چې دعیدگاه
لپاره وقف شوی وي ، دهغې مصرف بل څه ته بدلول حق نه دي . له دي
سره ، سره به په نورو قومونو باندي ناوړه اغیزه کوي وایي به چې
مسلمانان خپل عبادت ځایونه په کورونو ، دفترونو یا روغتون بدلوي
گواکي دایي په مذهب کښې دداسې تصرف اجازه ده . نو وران
مسجدونه ولې دبل څه لپاره مجاز نه دي . تراوسه حکومت ته
دامعلومات شته چې عبادت ځایونه دبل څه لپاره استعمالیدلای نشي .
خوکه یوخل داسې کاروشي نوبیا به مثال گرځي اودفتنو دروازې به
خلاصیږي . حکومت به هم داجتماعي ضروریاتو په اساس قبضه کول
پیل کړي او ددي کار مخالفت به مذهبې مخالفت نه بولي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۲۳).

په گروشوي ځمکه کښې مسجد جوړول .

پوښتنه : که چا دڅه وخت لپاره ځمکه خرڅه کړه ،هغه وخت پوره شو خو
اخستونکی ورباندې عیدگاه جوړه کړې وه .مالك څوځو ځله ورته وویل
چې عیدگاه ړنگه کړه .آیا داسې کول جائز دي ؟

ځواب : داسې بیع شرعا گروی ده ورځخه گټه اخستل جواز نلري ، هغه
وقف کول اوعیدگاه ورباندې جوړول صحیح نه دي . مالك ته ورکول یې
ضروري دي.

(فتاوی محمودیه ۱۵-۳۰۱ دمجمع الانهر ۷۳۸-۱ په حواله).

عیدگاه رنګول هلته ښوونځې جوړول

مسئله : عیدگاه رنګول او هلته ښوونځې جوړول هیڅکله هم روانه دي دادوقف کوونکي د مقصد خلاف کار دي . (مشروط الواقف کنص الشارع)

(درمختار)(فتاوی محمودیه ۳۰۷-۱۵ احسن الفتاوی ۴۲۴-۲) .

د عیدگاه د ځمکي بدلول

پوښتنه : زړی عیدگاه ته نژدي یوه ټوټه ځمکه ده اندازه یي د عیدگاه دری برابره ده . سرپه سریي بدلوی که هلته نوی عیدگاه جوړه شی هر ډول سهولتونه به پکښې وي آیا د ځمکی بدلول یي جواز لری ؟

ځواب : که د پخوانی عیدگاه ځمکه وقف وه تبادله یي جواز نلری . که نوی عیدگاه ودانوی دا زړه عیدگاه دي همدغسې وقف پاته شی . باغ دي پکښې کښیږدي او د نوی عیدگاه ضروریات دي ورباندی پوره کوي .

(فتاوی محمودیه ۳۲۴-۱۵) .

(یادي د کمزورو او ناروغانو لپاره عیدگاه پریږدي یا دي د پنځه وخته لمونځونو د ادا لپاره مسجد کړی او که بیا هم ضرورت نه وو باغ دي کړی او عاید دي په نوي عیدگاه ولګوي . (رفعت قاسمی) .

داختر لمونځ په عیدگاه کښې سنت دی

مسئله : عیدگاه ته په تلوراتلو کښیتکبیرونه ویل مستحب دي عیدگاه ته په رسیدلو دي تکبیرونه بس کړی خو که یي ورور ورو ویل جواز شته (فتاوی رحیمیه ۱۲۴ ج۱۰).

مسئله :که څه هم جامع مسجد پراخ وي خو په عیدگاه کښی داختر لمونځ کول مندوب دي

(طحطاوی ۲۹۰).

مسئله :که عیدگاه ته خلګ لاړل لمونځ یي هلته وکړ اوځینو په ښار کښی په جامع مسجد کښی وکړ نودملامتی خبره نه ده. که ټول خلګ په مسجد کښی لمونځونه وکړی بیا دمندوب خلاف ده.

(محمودیه ۵۳۵-۱۲).

مسئله :داخترونو لمونځونه په عیدگاه کښی کول مؤکد متوارث سنت دي رسول الله ﷺ دنبوی مسجد له فضیلت سره ،سره په مواظب دول دلمانځه لپاره عیدگاه ته تشریف وړو یوازی یوځل یي داوربښت له کبله په مسجد کښی ادا کړی دي.

په اخترونو کښی عیدگاه ته تلل سنت دي که پرته له عذر څخه څوك پاته شي دسنتوتارك اودملامتی وړ دي اوپه پریښودلو یي عادی کیدل گنهگار دي.

په درمختار کښی راځی چی دتحریمی مکروه مرتکب گنهگار دي لکه دواجب په ترك چی گنهگار کیږی اودمؤکد سنتو هم داحکم دي..

(شامی ۲۹۵-۵).

مسئله :که عیدگاه له ښارڅخه لیری وه اوناروغان اوکمزوری کسان په تکلیف کیدل. په مسجد کښی دي داخترونو لمونځونه ادا کوي.

(فتاوی رحیمیه ۱۲۴-۱۰کفایت المفتی ۲۴۹-۳).

له عیدگاه څخه مسجد جوړول

مسئله :دښار له ودانیو بهر عیدگاه لرل ضروري ده ځکه په عیدگاه کښې داخترونو لمونځ کول مؤکد سنت دي. نو دعیدگاه دپاته کیدلو لپاره دي مسجدبل خای جوړکړی. که عیدگاه په ودانیو کښې راغلـه نو کـه دخلگو اتفاق وو هغه په مسجد بدلولای شی خو دعیدگاه دجوړولو ذمه واری ورباندی پاته ده .

دبانی اومؤسس څخه مقصد هغه شخص دي چی مسجد تـه یي ځمکه وقف کړی وي .کـه څو کسانو سره مرسته وکړه اوځمکـه یي واخستله اودمسجدلپاره یي وقف کوله دټولو نیت معتبر دي .

(فتاوی رحیمیه ٨٣-٢).

دمسجد فرش اومنبر عیدگاه ته وړل

دمسجد فرش عیدگاه ته وړل صحیح نه دي . په یوه روایت کښې دمنبر دوړلو جواز راغلی دي . په بل کښې مکروه بلل شوی دي نو غوره داده چی منبر هم نه یووړل شی .

(امدادا لاحکام ٤٢٢-١).

مسئله :که عیدگاه ته دلمانځه فرشونه په دي نیت ورکړل شی چی داختر دلمانځه لپاره په عیدگاه کښې استعمال شی او نور په مسجد کښې بیا څه ستونزه نشته .

همدا سي که یي دمسجد دفرشونو دورکولو په وخت کښې ویلی وو چی داختر په لمانځه کښې دي عیدگاه ته ورکول کیږی بیاهم ممانعت نشته .

(فتاوی رحیمیه ١١٠-٢).

مسئله :په عیدگاه کښې په ګډ اواز سره تکبیر ویل صحیح نه دي .

(فتاوی دارالعلوم ٢٧٧-٥).

مسئله :که دایقین وو چی سیلابونه به عیدگاه ړنگه کړی لوازم دي نقل اوبل ځای دي عیدگاه جوړه کړی که پخوانی عیدگاه وساتل شوه وقف پاته کیږی. هیڅ ډول تصرف پکښی جواز نلری.

(فتاوی دارالعلوم ۲۲۴-۵ ردالمحتار ۵۱۴-۳).

مسئله :په جامع مسجد کښی هم داخترونو لمونځونه ادا کیدلای شی خو سنت اوافضل ځای یې صحرا (ځنګل) دي.

(فتاوی دارالعلوم ۲۲۹-۵).

که احتجاجاً په عیدگاه کښی لمونځ ونشي

پوښتنه : که دحکومت یا غیرمسلم خلګو دبدی رویي له امله ، خلګ داحتجاج په توګه پکښی لمونځ ونکړی آیا داکار سم دي ؟

ځواب ::که کومه خطره وه یا پکښی دښځو ، ماشومانو ، ناروغانو اوکمزور لپاره پریشانی پیدا کیدله بیا عیدگاه پریښودل صحیح دي. یوازی داحتجاج په توګه عیدگاه پریښودل صحیح نه ده. داحتیاج لپاره دي بله مناسبه لاره غوره کړی.خپله ناخوښی دي په بله توګه ښکاره کړی.توره پټی تړل اوبیا لمونځ کول هم له نورو سره مشابهت دي.

(فتاوی رحیمیه ۳۵۷-۲).

مسئله :چیری چی داجازی اړتیا معلومیږی ، هلته پرته له اجازی داختر لمونځ کول مکروه دي خو که په کومه ځمکه یې مالك داسی ښکاره کیده چی خوشحاله کیږی یا نه خفه کیږی هلته پرته له اجازی هم کیدلای شي.

(فتاوی رحیمیه ۳۵۷-۲).

دعیدګاه په ځمکه مدرسه جوړول

پوښتنه : دعیدګاه ځمکه زیاته ده آیا هلته مدرسه جوړیدلای شي ؟

ځواب : که هغه ځمکه دعیدګاه وي اودعیدګاه ورته اړتیا نه وي.مدرسه دي ورباندیجوړه شي خومناسبه کرایه دي عیدګاه ته ورکوی . ځمکه به دعیدګاه او ودانۍ به دمدرسي وي.

(فتاوی محمودیه ۵۴-۱۴ احسن الفتاوی ۴۳۳-۲)

مسئله :دمسجدلپاره په وقف شویو پیسو عیدګاه اودعیدګاه لپاره په وقف شویو پیسو مسجد جوړول جائز نه دي. دعیدګاه اومسجد پیسی پور ورکول جواز نلري ځکه هغه امانت دي.

(فتاوی محمودیه ۱۳۹-۱۰)

په زړه عیدګاه مدرسه جوړول

پوښتنه : دنوی عیدګاه ترجوړولو وروسته که زړه عیدګاه بالکل ورانه شوه آیا هغه وریا یاپه بیه مدرسی ته ورکول کیدلای شي ؟

ځواب : په دي کښی اختلاف دي چی عیدګاه دمسجد حکم لري اوکه نه . دضرورت پـه بنا دوهمه خبره مناسب ده اولـه مسجد ځخه . تـه نور
وقفونه که معطله پاته کیږی دقاضی به ... لوا
له تحقیق ځخه داسی ښکاري ...
وخت مدرسه جوړیدلا ...
دښار ترځنګ ځمک ... ی
دقاضی په ... دلول به
اتفاق ک ... یوی دلی په

(... سن الفتاوی ۴۲۱-۲)

مسئله :په عيدگاه کښې دوهم جماعت مکروه دي که له چاڅخه داختر لمونځ پاته شو .هغوی دي هغه مسجد ته لاړ شي او ادا دي کړي چې هلته داختر لمونځ شوی نه وي

په عيدگاه کښې دامام لپاره چنده ټولول

داختر په ورځ دامام لپاره چنده ورکول صحيح کار دي. اوداکار په عيدگاه کښې هم جواز لري خو دخطبې په وخت کښې دي نه ټولوی ځوهغه اخلال نشي ځکه دخطبې اوريدل واجب دي . په مدرسه کښې دمدرسې يابل ديني ضرورت لپاره مرسته غوښتل صحيح دي خوچې لمونځ کوونکو ته تشويش پيدا نشي .دهغوی لحاظ ساتل ضروري دي اوله شور او شر څخه ځان ساتل لازم دي.

(فتاوی محموديه ۵۲۸-۱۲ فتاوی رحيميه ۸۸-۵).


مسئله :دخطبې په دوران کښې خلگ خطيب ته پيسې ورکوی خلگ ورلاړ وي هغه ټولوی ، دخطبې په دوران کښې داکار جواز نلري ، په ادب سره کښيناستل او خطبه اوريدل لازم دي .

(فتاوی محموديه ۵۳۱-۱۲).

دعيدگاه ونې په مسجد کښې صرف کول

مسئله :کوم باغ چې دعيدگاه لپاره وقف شوی وي. دهغه ونې دي نه وهلی کيږي خو که کومه ونه وچه وه ، هغه دي ووهله شي اودعيدگاه په ودانی دي واچوله شي يا څه شي ترې جوړ شي. که عيدگاه ورته اړتيا نه درلوده اونه ورته بيا اړتيا محسوس کيدله . بيا دي دمسجد ودانی ته ورکړله شي .څومره اړتيا چې وي هغه دي په چنده پوره کړای شي.

(فتاوی محموديه ۲۴۷-۱۵).



(وقف کوونکی که کوم شی دځه لپاره وقف کړی وو، هلته دي صرف شي)

(محمدرفعت قاسمی).

په عیدګاه کښې دلمونځ کوونکو لپاره انتظار کول

۱: داختر دلمانځه وخت هغه دي چی دسهار ترلمانځه وروسته خلګ په مسنونه طریقه تیاری ونیسی اوعیدګاه ته ورسیږي.

۲: که دنورو خلګو درارسیدو هیله وه نو امام اوحاضرین دي بیړه نه کوی ترمعلوم وخت دي هم زیات ۷-۶ دقیقی انتظار وباسي.

حاضرینو ته په داسی موقع ځه صبر په کار دي. امام ته مشوره ورکولای شی خودلمانځه دپیل کولو ټینګار دي وربانـدی نـه کـوی. امام دي هم دخلګو دستونزی خیال وساتی. ځوك چی وروسته راځی مراعات دي وکړی اوپه قرائت اوخطبه کښی ددي انتظار په بدل کښی لنډون مراعات کړی. په کال کښی همدا دوه ورځی دي چی لمونځ نه کوونکی خلګ هم لمانځه ته راځی ناروغان اوکمزوری هم پکښی وي. که لمونځ ورځخه تیرشی له ډیرو برکتونو ځخه به بي برخی وي نو ځه انتظار دي ورته وکړی. خوځوك چی په ناوخته راتلو عادی دي، هغوی دحاضری اودخپل لمانځه په فکر کښی نه وي. دداسی غافل، کاهل اوسستو خلګو انتظار کول دهغوی عادت زیاتول دي.

(فتاوی رحیمیه ۷۴-۳).

دعیدګاه اړوند مسئلې

مسئله: دعیدګاه لپاره دلورې ځانګړتیا نشته دښاربنې، کین یابل لورې نه ده ویل شوې. سنت یوازې دادې چي له ښار څخه بهر لاړ شي اوداخترلمونځ ادا کړي. داهم ضرور نه ده چي عیدګاه جوړه شي، هرځای اودښار هر لورې ته که موقع وه اواسانې وه هلته دي عیدګاه جوړه یا داخترونو لمونځونه وشي.

(فتاوی دارالعلوم ۲۳۳-۲۳۰ ج ۵ دمشکوة شریف ۱۲۵-۱ په حواله).

مسئله: که دعیدګاه په کوم ځای کښې حرامې پیسې لګیدلې وي هلته لمونځ کول مکروه دي .غوره داده چي په بل کښې داخترونو لمونځ وکړې. (عزیز الفتاوی ۵۷۹-۱).

مسئله: دعیدګاه ځمکه خرڅیدلای نشي، وقف ده اودمسجد حکم لري.

(فتاوی دارالعلوم ۲۱۴-۵ درد المحتار کتاب الوقف ۵۰۷-۱ په حواله).

مسئله: عیدګاه وقف ده، تصرف پکښې کیدلای نشي. کور یابل څه پکښې جوړیدلای نشي خوکه دخلګو دهوساینې لپاره یي کومه برخه دمسجد په څیر پټیږی ترڅو له تودوخې او اوربښت څخه خوندي وي بیا حرج اومشکل نشته.

(فتاوی دارالعلوم ۲۱۴-۵).

مسئله: په یوه ښار کښې دوه عیدګاوې یا دوه ځایه لمونځ کول ممانعت نلري.

(فتاوی دارالعلوم ۲۰۸-۵ درد المحتار ۷۸۳-۱ په حواله).

مسئله: داخترونو لمونځونه په مختلفو مسجدونو کښې ادا کیدلای شي. مسئله داده: په کوم ښار ګوټي کښې چي دجمعې اواخترونو لمونځونه یوځای کیدلای شي، نور ځایونه هم جائز دي .خوغوره داده

چې يو ځاى وكړاى شي خو داخترونو لمونځ په صحرا او له ښار څخه بهر سنت دي. « لنډه خبره داده كه ضرورت وو، ځاى تنګ وو، ليرى وو يافساد يا كومه بله وجه وه نو ځوځايونه جواز لري.

(محمد رفعت قاسمى).

مسئله :كه دعيدګاه امام بدعتى وو. بهر دي بل ځاى لمونځ وشي.

(فتاوى دار العلوم ۵-۲۲۹)

مسئله :: په مشتركه ځمكه دمالكانو له خوښى پرته عيدګاه جوړول ناجائز ده.په واړه كلى كښى (چيرى چې دجمعى لمونځ نه كيږى) داخترونو لمونځونه كول اوعيدګاه جوړول جواز نلري.

(عزيز الفتاوى ۱-۵۷۹).

مسئله :كه ځوك دنشې په حالت كښى عيدګاه ته راشى اوخلكو ته يې له بدبوى څخه تكليف پيښيده شرعا روا ده چې هغه له عيدګاه څخه وباسي.

(عزيز الفتاوى ۱-۳۰۸)

مسئله :په عيدګاه كښى دجنازى لمونځ كول جائز دي.

(فتاوى محموديه ۲-۳۷۵)

مسئله :عيدګاه ته په تللو سره داسى تكبيرونه ويل چې يو ځل يې يو ووايي بيايي نور په شريكه سره ووايي اوترلمانځه پورى همداسى كول دامكروه دي.

(فتاوى دار العلوم ۵-۲۱۷)

مسئله :په هغه عيدګاه كښى چې قصابانو جوړه كړې وي دنورو لپاره داختر لمونځ پكښى صحيح دي.

(فتاوى دار العلوم ۵-۲۰۸)

مسئله :دمیرمنو تلل مسجد او عیدګاه ته مکروه دي او دامما نعت صحابه کرامو په زمانه کښې راغلي وو
(الدر المختار ۸۳-۱)

په هغوورو کلیو کښې چې دجمعې لمونځ نه کیږي هلته داختر لمونځ تحریمي مکروه دي. ځکه داختر لمونځونو ته ښار شرط دي .اوپه کلیو کښې صحیح نه دي.
(درمختار ۷۸۵-۱) .

مسئله :که عیدګاه دودانیو په منځ کښې راغله هغه دصحرا حکم نلري .
(فتاوی دارالعلوم ۲۲۴-۵)

مسئله :که په هدیره کي عیدګاه وي هلته پکښي لمونځ کول جواز لري .
(فتاوي دارالعلوم ۱۹۵، (۵)

مسئله :که په عیدګاه کښې ددوو صفونو په اندازه یا زیاته فاصله وي اقتداء صحیح ده.
(عالمګیری ۲۲-۱)

مسئله :داختر دلمونځ ترکولو په هم هغې ورځ تر زوال وروسته دجمعې لمونځ صحیح دي خو غوره داده چې حسب معمول دجمعیلمونځ په جامع مسجد کښې وشي ،ځکه عیدګاه ته تلل اوهلته لمونځ کول یوازې داخترونو دلمانځه لپاره یوخاص مستحب دي.
(عزیز الفتاوی ۴۵-۳)

مسئله :دجامع مسجدفرش او نور څه عیدګاه ته وړل ښه نه دي.
(عزیز الفتاوی ۵۹۲-۱)

مسئله :کوم ځای چې داخترونو دلمونځونو دکولو لپاره وقف دي ،کوم ځای چې دعیدګاه په نوم یادیږي هلته تصرف کول ، ودانۍ جوړول

مدرسه ، کتابتون یا نور څه جوړول ، لوبې کول ، بدنی روزنه (ورزش) کول دخوړلو څښلو مجلس جوړول جائز نه دي .

(عزیز الفتاوی۷۹۱-۱).

مسئله :پرته له ضرورت څخه یوازې په شخصي ناخوالو بله عیدگا جوړول اسراف او دتفرقې اساس اینبودل دي .

.(عزیز الفتاوی۴۰۸-۲).

مسئله :ښار ، ښارګوټی اوستر کلي چې دښار ګوټي په څیر وي علماوورته دجمعې او داخترونو دلمونځونو اجازه ورکړې وي. هلته له ودانیو بهر عیدګاه جوړول ضروري دي خوترهغو دي بهر دلمانځه لپاره یوځای وټاکی. ژر دي عیدګاه جوړه کړی ترڅو هلته په لمونځ کولو دلوی اجر وړوګرځي .

(فتاوی رحیمیه۷۲-۳).

رب اوزعنی ان اشکرنعمتک التی انعمت علی وعلی والدی وان اعمل صالحا ترضاه واصلح لی فی ذریتی انی تبت الیک وانی من المسلمین وتقبل منی هذا العمل وجنبنی فیه عن الخطاء والنسیان واجعله ذریعة للفلاح والنجاح فی الدنیا ووسیلة للنجاة في الاخرة .

محمدرفعت قاسمي مدرس دارالعلوم دیوبند
شوال ۱۴۲۱ هـ ج اول جنوری ۲۰۰۱
ع - ریان، ژباره
۲۳ ربیع الاخر ۱۴۲۷ ق ماثور ۱۳۸۵ هـ ل .

د دعا محتاج (ابوخالد)